MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

از: عبدان عابد

الا ان اولیاء اللہ لا خوف علیہم و لا ہم یحزنون

# تسہیل المنتوی

تالیف

شیخ القرآن
محمد افضل خان

ناشر
مکتبہ صالحیہ شاہ پور
شانگلہ (سوات)

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احایث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الا ان اولیاء اللہ لا خوف علیہم ولا ہم یحزنون

# تسہیل المثنوی

تالیف

شیخ القرآن

محمد افضل خان

ناشر

مکتبہ فضلیہ شاہ پور

شانگلہ (سوات)

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فہرست مضامین تسہیل المثنوی


| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمۃ الکتاب | ر |
| ۲ | شروع دفتر اول | ۱ |
| ۳ | قصہ دعشق دبادشاہ په وینځه | |
| | باندے او اغستل دهغے اوناجوړ کیدل دهغے | ۱۶ |
| ۴ | بیان د وسیلے | ۲۴ |
| ۵ | فوختل دتوفیق د ادب، اوبیان د | |
| | نقصان د بے ادبۍ ۔ | ۳۱ |
| ۶ | بوتلل دبادشاہ طبیب غیبي لره | |
| | مریض ته ۔ | ۳۸ |
| ۷ | خلوت طلب کول دطبیب دبادشاہ نه | |
| | دپاره دمرض معلومولود وینځے ۔ | ۴۹ |
| ۸ | معلومول دطبیب الهی رنج ددغه وینځے | |
| ۹ | لره اوبادشاہ ته حال وئیل ۔ | ۵۸ |
| ۹ | لیکل دبادشاہ دوکه استاذی سمرقند | |
| | ته دپاره د طلب کولو دزرګر | ۶۰ |
| ۱۰ | بیان ددے چه مرګ د دغه زرګر | |
| | په الهام دباری تعالیٰ سره ووَ | ۶۹ |
| ۱۱ | قصه د دکاندار اود طوطی | ۷۲ |
| ۱۲ | بیان دفرق په مینځ دسحر اومعجزے | ۸۴ |
| ۱۳ | بیان دفرق په مینځ دحقیقت اودمدعی | |
| | اود محقق اود مبطل بے | ۹۴ |
| ۱۴ | قصه دیهودی بادشاہ چه نصرانیان | |
| | ۓ مړه کول د وجے د تعصب نه | ۹۶ |
| ۱۵ | قصه دوزیر اود مکر دهغه | ۱۰۰ |

| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۱۶ | ګډکول دوزیر دنصارٰوو اومکر دهغه | ۱۰۳ |
| ۱۷ | جمع کیدل دنصارٰوو دوزیر سره او | |
| | راز وئیل دهغه دویته | ۱۰۷ |
| ۱۸ | سوال کول دخلیفه دلیلیٰ نه اودهغے جواب | ۱۱۸ |
| ۱۹ | بیان دمه په ترغیب دمتابعت دولی | |
| | مرشد کښے ۔ | ۱۲۱ |
| ۲۰ | بیان د حسد کولو دیهودی وزیر کښے | ۱۲۵ |
| ۲۱ | معلومول دعاقلانو نصارٰوو فریب د | |
| | وزیر لره | ۱۲۷ |
| ۲۲ | پیغام دبادشاہ پټ وزیرته ددرغونه پرے | ۱۳۱ |
| ۲۳ | ګډوډ کول دوزیر احکامو دانجیل | |
| | لره او فریب دهغه | ۱۳۴ |
| ۲۴ | په بیان ددے کښے چه اختلاف په | |
| | ظاهر کښے دے نه په حقیقی لاړے کښے | ۱۴۵ |
| ۲۵ | بیان دتاوان دوزیر په دغه دهوکه | |
| | او مکر کښے ۔ | ۱۵۱ |
| ۲۶ | فریب دوزیر او په خلوه کښے کیناستل | |
| | او شور غورځول په قوم کښے ۔ | ۱۶۰ |
| ۲۷ | دفع کول دوزیر مریدانو لره | ۱۶۴ |
| ۲۸ | تاکید کول دمریدانو چه خلوه پریږدی | ۱۶۷ |
| ۲۹ | جواب دوزیر چه خلوت نه پریږدم | ۱۷۱ |
| ۳۰ | اعتراض کول په وزیر دمریدانو دوباره | ۱۷۲ |
| ۳۱ | نا امیده کول دوزیر مریدانو لره | |
| | په ما تولو د خلوت کښے | ۱۸۳ |

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۳۱ | د هوکه کول د وزیر امیرانو لره هر یو په خاص قسم سر ه | ۱۸۵ |
| ۳۲ | مړ کول د وزیر خان لره په خلوتکښې | ۱۸۷ |
| ۳۳ | طلب کول د اُمت د عیسیٰؑ چه وَلی عهد په څوک وی۔ | ۱۸۹ |
| ۳۴ | په بیان د دے کښے چه ټول پیغمبران حق دی۔ | ۱۹۰ |
| ۳۵ | خلقو سره خبرے کوئ مناسب د عقل د هغوئ۔ | ۱۹۶ |
| ۳۶ | جګړه کول د امیرانو د یوبل سره۔ | ۱۹۸ |
| ۳۷ | بیان د تعظیم د نبی علیه السلام په انجیل کښے | ۲۰۵ |
| ۳۸ | قصه د بل یهودی بادشاه چه د نصارو دشمن وَو۔ | ۲۰۸ |
| ۳۹ | اُور بلول د بادشاه اوبت په ډډه د اُور کښے اودرول۔ | ۲۱۷ |
| ۴۰ | راوستل د یهودی بادشاه بنځے لره سړ د بچی نه او بچے اُورته غورځول۔ | ۲۲۱ |
| ۴۱ | غورځول د خلقو خپل خان لره په اُور کښے د شوق نه۔ | ۲۲۸ |
| ۴۲ | کښ کا پاتے کیدل خله د هغه سړی چه د نبیؑ ئے په توقو سره اغستو۔ | ۲۳۰ |
| ۴۳ | زورنه کول د یهودی بادشاه اُورته | ۲۳۲ |
| ۴۴ | قصه د هلاکولو د بادقوم هودؑ لره | ۲۴۰ |
| ۴۵ | زورنه کول د بادشاه یهودی نصیحت دنا صحانو ته | ۲۴۲ |

| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۴۶ | قصه د سلطان محمود غزنویؒ | ۲۵۱ |
| ۴۷ | ذکر د حضرت جعفر رضی اللہ عنہ | ۲۵۴ |
| ۴۸ | قصه د یو عاشق نقاش پوش برنګ | ۲۵۵ |
| ۴۹ | قصه د ابراهیم بن ادهمؒ | ۲۵۶ |
| ۵۰ | قصه د پیر چینګیؒ | ۲۶۱ |
| ۵۱ | قصه د شپونکی او د موسیٰ علیه السلام | ۲۶۳ |
| ۵۲ | قصه د لقمان علیه السلام | ۲۶۵ |
| ۵۳ | قصه د زاهد د غره | ۲۶۶ |
| ۵۴ | قصه د حضرت بلال رضی اللہ عنہ | ۲۶۸ |
| ۵۵ | قصه د سلطان محمود او د آیاز | ۲۷۱ |
| ۵۶ | قصه د ذوالنّون مصریؒ | ۲۷۳ |
| ۵۷ | قصه د علاج د عشق ظاهری | ۲۷۴ |
| ۵۸ | قصه د ابوالحسن حرقانی | ۲۷۵ |
| ۵۹ | قصه د عمرؓ او د قاصد د روم | ۲۷۶ |
| ۶۰ | قصه د تاج د سلیمان علیه السلام | ۲۷۹ |
| ۶۱ | قصه د هغه سړی چه د هغه خله کښ شوے وو۔ | ۲۸۰ |
| ۶۲ | قصه د ملغلرے او د بحری غوا | ۲۸۳ |
| ۶۳ | قصه د صبر د موسیٰ علیه السلام | ۲۸۶ |
| ۶۴ | قصه د بی بی د موسیٰ علیه السلام | ۲۸۸ |
| ۶۵ | قصه د دوستیٔ د منګوک او د چیندے | ۲۹۰ |
| ۶۶ | قصه د طوطی او د دکاندار | ۲۹۳ |
| ۶۷ | قصه د کفران د نمرود | ۲۹۴ |
| ۶۸ | قصه د عقل د لقمان علیه السلام | ۲۹۶ |
| ۶۹ | قصه د مقبولیت د آ کا۔ | ۲۹۷ |

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۶۰ | قصہ پہ اختلاف دہاتی کښے | ۲۹۹ |
| ۶۱ | قصہ دکچہ خیال دہاتی مچ | ۳۰۰ |
| ۶۲ | قصہ د دیّاغ او دعلاج دھغہ | ۳۰۱ |
| ۶۳ | قصہ د شہمزاد کہ چہ سحر پہ شوے او | ۳۰۲ |
| ۶۴ | قصہ د اخلاص دعلی کرم اللہ وجہہ | ۳۰۳ |
| ۶۵ | قصہ دکاندار او دطوطی محبوس | ۳۰۷ |
| ۶۶ | قصہ د رومیانو او د چینیا نو | ۳۱۱ |
| ۶۷ | قصہ د صادقے توبے دنصوحا | ۳۱۱ |
| ۶۸ | مکالمہ دیہودی دعلی کرم اللہ وجہہ سرہ | ۳۱۶ |
| ۶۹ | قصہ دکفتکو دمعاویہؓ او دابلیس | ۳۱۸ |
| ۷۰ | قصہ د نحوی او دکشتی بان | ۳۲۱ |
| ۷۱ | قصہ د انکار دفلسفی دقدرکا الٰہی نہ | ۳۲۳ |
| ۷۲ | قصہ د حکیم جالینوس | ۳۲۴ |
| ۷۳ | قصہ د عیادت دنبیؐ دیو صحابیؓ | ۳۲۶ |
| ۷۴ | قصہ د بازشاھی او دبوڑیٔ | ۳۲۸ |
| ۷۵ | قصہ د بان او دکونگیانو | ۳۳۰ |
| ۷۶ | قصہ د طاؤس او دحکیم | ۳۳۲ |
| ۷۷ | قصہ د انس بن مالک رضی اللہ عنہ | ۳۳۳ |
| ۷۸ | قصہ دغل پہ زمانہ دعمر رضی اللہ عنہ | ۳۳۵ |
| ۷۹ | قصہ دموسیٰؑ او عیادت دمریض | ۳۳۶ |
| ۸۰ | قصہ د وینے د آب حیوٰۃ | ۳۳۷ |
| ۸۱ | قصہ دعزرائیلؑ چہ دھغہ یوسړی تہ کتلی وو | ۳۳۸ |
| ۸۲ | قصہ دتگی پہ سر د دیوال | ۳۴۰ |
| ۸۳ | قصہ د رانبکلو د منډک مھار د اوبنی | ۳۴۱ |
| ۸۴ | قصہ دقتل دیہاتی او دھغے انجام | ۳۴۲ |

| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۸۵ | فضیلت د دعا د خلے دغیر نہ | ۳۴۳ |
| ۸۶ | اللہ ویل دالبیک دباری تعالیٰ دے | ۳۴۴ |
| ۸۷ | قصہ د محبت دمجنون دکوٹے دلیلیٰ سرہ | ۳۴۵ |
| ۸۸ | قصہ د لیلیٰ او دخلیفہ د بغداد | ۳۴۶ |
| ۸۹ | قصہ دنوم د لیلیٰ او مجنون | ۳۴۷ |
| ۹۰ | قصہ د توحید د موسیٰ علیہ السلام | ۳۴۸ |
| ۹۱ | قصہ د دعوت دسلیمانؑ بلقیس تہ | ۳۴۹ |
| ۹۲ | دعوۃ دموسیٰؑ فرعون تہ۔ | ۳۵۰ |
| ۹۳ | قصہ د مجنون او د ناقے د ھغہ | ۳۵۱ |
| ۹۴ | قصہ دھغہ سړی چہ ھغہ دورکے پہ لاسہ بلہ کړے وہ۔ | ۳۵۱ |
| ۹۵ | قصہ دھغہ غلام چہ د مسجد نہ شراوتو | ۳۵۴ |
| ۹۶ | قصہ د عیسیٰؑ چہ د احمق نہ تمنیدو | ۳۵۵ |
| ۹۷ | قصہ د دوو میاشتو د بچی۔۔ | ۳۵۶ |
| ۹۸ | قصہ د باتور چہ د نبیؐ موزے تمنولے وہ | ۳۵۸ |
| ۹۹ | قصہ د ھغہ بنځے چہ شل بچی ے مړہ وو | ۳۵۹ |
| ۱۰۰ | قصہ د ھلاکو لو د باد قوم ھودؑ لہ | ۳۶۰ |
| ۱۰۱ | قصہ د فریاد د ماشی سلیمانؑ تہ | ۳۶۱ |
| ۱۰۲ | قصہ د ستنے د حنانے | ۳۶۲ |
| ۱۰۳ | قصہ د معجزے د کتو | ۳۶۴ |
| ۱۰۴ | قصہ د ھغہ سړی چہ پہ سپی پسے جرل | ۳۶۵ |
| ۱۰۵ | قصہ د آیان او د حاسد انو د ھغہ | ۳۶۶ |
| ۱۰۶ | قصہ د ھغہ سړی چہ ھغہ خان مجبور کنړو پہ خیر او پہ شر کښے۔ | ۳۶۸ |
| ۱۰۷ | قصہ د نقش جوړولو پہ لاس | ۳۶۹ |

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| نمبر شمار | مضمون | صفحہ |
|---|---|---|
| ۱۰۸ | قصہ د بنامار چہ د بے خودہ وو | ۳۷۰ |
| ۱۰۹ | متابعت د ولی مرشد | ۳۷۳ |
| ۱۱۰ | صفت د نبي علیہ السلام | ۳۷۵ |
| ۱۱۱ | صفت د صحابہ کرامو | ۳۷۷ |
| ۱۱۲ | مسائل د تصوّف | ۳۷۹ |
| ۱۱۳ | نبوۃ او وحي . | ۳۸۱ |
| ۱۱۴ | بیان د معجزے | ۳۸۲ |
| ۱۱۵ | بیان د تقدیر | ۳۸۴ |
| ۱۱۶ | د خیر او د شر بیان | ۳۸۵ |
| ۱۱۷ | بیان د موت او د معاد | ۳۸۶ |
| ۱۱۸ | قیاس پہ مقابلہ د نص کینے غلط دے | ۳۸۷ |
| ۱۱۹ | فوائد د صُحبت | ۳۸۹ |
| ۱۲۰ | اجتناب د بد صحبت نہ | ۳۹۱ |
| ۱۲۱ | کامل پیر نیول | ۳۹۳ |
| ۱۲۲ | خان ہیچ کول د غلطو پیرانو نہ | ۳۹۴ |
| ۱۲۳ | بیان د مجاهدے | ۳۹۵ |
| ۱۲۴ | بیان د تضرع او د جہر | ۳۹۶ |
| ۱۲۵ | **مثنوی د مولانا نعمت علی غریب** | ۴۰۱ |
| ۱۲۶ | اول شرط د ولایت | ۴۰۳ |
| ۱۲۷ | دویم شرط د ولایت | ۴۰۳ |
| ۱۲۸ | عصمت شرط د ولایت نہ دے | ۴۰۴ |
| ۱۲۹ | د خپل خان اصلاح | ۴۰۴ |
| ۱۳۰ | صحبت صالح ضروری دے | ۴۰۴ |
| ۱۳۱ | د ما شیخ | ۴۰۵ |
| ۱۳۲ | پہ تشو خبرو کار نہ کیږی | ۴۰۵ |
| ۱۳۳ | د غیر د مینے نقصان | ۴۰۶ |
| ۱۳۴ | د اللہ د محبت بیان | ۴۰۶ |
| ۱۳۵ | محبت د غیر اللہ د خدائے عذاب دے | ۴۰۷ |
| ۱۳۶ | د اللہ د محبت اثر | ۴۰۸ |
| ۱۳۷ | اللہُ مَعی | ۴۰۸ |
| ۱۳۸ | د زړہ ارمان | ۴۰۹ |
| ۱۳۹ | هُوَ مَعَكُم اَيْنَمَا كُنتُم | ۴۰۹ |
| ۱۴۰ | اللہُ سمیعٌ ، اللہُ بَصیرٌ | ۴۰۹ |

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

# مقدمہ

اَلحمد للّٰہِ ربّ العٰلمین، الرَّحمٰن الرَّحیم، مَالکِ یَوم الدّین وَالصَّلوٰۃ وَالسَّلام عَلیٰ سیّد المُرسَلِیْنَ، وعلیٰ والہٖ واَصحابہٖ الطیّبین الطّاھرین۔

**باعث علی التالیف** دپیرے مدے نہ د مثنوی درس کوم نو ارادہ مِ اوکړہ چہ د طالب علمانُو د فائدے دپارہ د مثنوئ ترجمہ او تشریح پہ پښتو ژبہ کښے اوکیکم، باری تعالیٰ دے دا کار ماتہ آسان کړی۔

**حالات د مصنف د مثنوی** د مصنف نوم محمد او لقب ئے جلال الدین دے، او نسب ئے حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ تہ رسیدلے دے، ددہ نیکہ حسین بلخی لوئے صوفی ووَ۔

مولانا صاحب ابتدائی تعلیم د خپل والد صاحب نہ حاصل کړو۔ د والد صاحب د وفات نہ بعد شام تہ لاړو، دپنځویشت کالو پہ عمر کښے د حلب پہ مدرسہ کښے فنون پورہ کړل۔

پہ وطن کښے ددہ د والد شیخ بہاؤالدین پہ اشارہ سرہ دھغہ شاگرد برھان الدین ددہ تربیت کوو، کلہ چہ برھان الدین شام تہ راغے نو مولانا صاحب سرہ ئے ملاقات اوشو، نو ھغہ ئے کامل بیا موندو، نو ھغہ اوفرمائیل چہ اوس تاتہ د علم باطنی ضرورۃ دے، نو دہ تہ ئے اووے چہ د خپل پلار امانت دِ واخلہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو په علم باطن کښے هم کامل شو، نو بیائے د شمس الدین تبریزی سره ملاقات اوشو، کله چه هغه الله پاک ته سوال اوکړو، چه الله یو نیک انسان ماته ملاوَ کړه چه دا د تصوف امانت ورته (یعنی مسئله د وحدة الوجود) ورته اوښائم ، نو الله تعالیٰ ورته مولانا صاحب انعام کړو۔

د مولانا صاحب عادت دا وَو چه کله به په کور کښے څه نه وَو، نو دے به خوشحاله وَو چه نن همونږ کور د درویشانو دے ، په دیکښے اتباع سنت دے۔

په شام کښے زلزله راغله نو مولانا صاحب اووے چه زمکه غوړه نوره غواړی نو دے وفات شو، په وخت د غروب شمس دیک شنبے په ورځ ، پنځم جمادی اخیر ۶۷۲ھ ۔

## د علم تصوّف مقصد

د علم تصوّف مقصد اصلی تعلق بالله دے نو دا یو علم دے چه بیانیږی پکښے اسباب د تعلق بِالله ، او غرض د دے علم تعلق بِالله د دے ۔ او په دے علم کښے ډیر زور دے په مسئله د وحدة الوجود باندے ، یعنی نزد د وجود د واجب الوجود ممکن کالعدم دے لکه د نمر په مخکښے ستوری کالعدم وی۔ ځکه تعلق د غیر الله هند د تعلق باللهِ دے ، او تعلق د غیر الله وجود د غیر الله غواړی نو ځکه صوفیائے کرام زور لګوی چه وجود د ممکن کالعدم دے ۔

فائده : صوفی منسوب دے صوف ته ، یعنی د صوف استعمال کونکے ۔ یعنی په ادنیٰ څیز باندے کفایت کوی ۔

## فرق د شریعت، طریقت، معرفت او حقیقت

شریعت علم د قرآن ۔ طریقت عمل

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بالقرآن دے ، وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۔(انعام ع۱۵۳) دا حمالار دہ برابر یعنی قرآن ، دا شریعت دے نو په دے روان شئ دا طریقت شو۔

۳: معرفت : حق معلومول دی ، وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۔(آخر عنکبوت) یعنی کوم خلق چه کوشش حما دپاره (یعنی په طریقت عمل کوی) نو حق ورته نمایان شی بیا نه کمراه کیږی۔

۴: حقیقت : مصداق دبیان دقرآن یعنی جنت ۔ یوم یأتی تأویلہ (اعراف ع۵۳) حاصل دا دے چه شریعت علم دقرآن ۔ ۲: طریقت عمل په قرآن ۔ ۳: معرفت اثر دعمل په وینا کښے ۔ ۴: حقیقت اثر دعمل په عقبیٰ کښے ۔

او په تصوف کښے دنیا بے قدره کوی حکه دنیا د ټولو کناهونو جړپه ده ۔ ددنیا کمال دے بے قدره شئ قدرمنه کول ، لکه دلرګی نه کرسئ جوړول ۔ او ددین کمال دے قدرمنه شئ بے عزته بنکاره کول دی نبي علیه السلام فرمائی : لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَزِنُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى مِنْهَا كَافِرًا شَرْبَةً اَبَدًا ۔ که ددنیا قدر د الله تعالیٰ په نزد دماشی دوزر په مقدار وے نو کافر له به ئے ترینه یو ګوټ نه وے ورکړے ۔

فائده : دا هغه دنیا ده چه د تعلق بالله د ختمیدو ذریعه ده ، او که په دنیا سره د الله سبحانه وتعالیٰ محبت طلب شی نو دا دنیا بیا فضل الٰهی ده ۔ لکه باری تعالیٰ فرمائی : فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۔(جمعه ع۱) کله موږ ختم شی نو خواره شئ په زمکه کښے او طلب کړئ فضل دحق سبحانه وتعالیٰ په تصوف کښے ټول کوشش دهغے دزړه دے د تصور دغیر الله نه تصور دغیر الله ته صوفیائے کرام شرک وائی ، په دے شرک سره کمال فوت کیږی ، که په شرک بالله سره ایمان ختمیږی ۔ دا تزکیه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دانبیاؑ دعوة دے ۔ دادِ باری تعالیٰ حمونږ ته نصیب کړی۔ امین

## ترجمة المؤلف

جناب شیخ القرآن صاحب په ۱۳۴۵ھ کښے دکانا په یوکلی اولندر کښے پیدا شوید ے۔ دپلار نوم ئے دوست محمد خان دے چه دخپلے علاقے یومعزز شخص وو۔ څه موده پس په ۱۳۶۰ھ کښے شاه پور ته راغلل، اوشیخ القرآن صاحب ئے دسکول سبق ته کینولو، او دځلورم جماعت پورے سبق اووے شیخ القرآن صاحب ډیر قابل وو په دے وجه د استانو ورسره ډیر محبت وو۔ آخر شیخ القرآن صاحب د سکول تعلیم پریښودو او ددین علم ئے شروع کړو، نظم ئے د اجمیر مولوی صاحب نه اووے چه هغه په اشاړ جماعت کښے پیش امام وو۔ انشاٰت فارسی او خوشخطی ئے د جلندر مرزا صاحب نه ازده کړه، او د قاضی میرافضل نه ئے د فقهے، صرف او نحوے کتابونه اووئیل، اوترجمه د قرآن ئے هم دهغوی نه اوکړه ۔ بیا ئے د بلکانئ مولانا مختار کل صاحب نه مثنوی، طریقه محمدیه، شاطبی او دلائل الخیرات اووے، او طریقه قادریه ئے ترے نه هم شروع کړه ۔

بیا دارالعلوم اسلامیه چارباغ ته راغے اوهلته ته ئے مختلف کتابونه د مختلفو استاذانونه اووے، او په خارج کښے ئے څه کتابونه پخپله هم طالبانو ته لوستل ۔ په ۱۳۲۸ھ کښے د چارباغ نه سند حاصل کړو۔ اوبیا دارالعلوم اسلامیه سیدو شریف ته لاړو، اوهلته ئے هم مختلف کتابونه د مختلفو استاذانونه اووئیل ۔

په ۱۳۷۲ھ کښے دعلم د تحصیل نه ورته فراغت وشو، او بل سند ئے حاصل کړو، او اذن ورته په طریقه قادریه کښے ملاوشو، سره د محبت د استاذانونه ۔

بیا ئے د فنون درس په شاه پور کښے شروع کړو، اوپه دے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کال کښے ے د دار العلوم بنیاد هم کیخودو۔

په ۱۳۷۴ھ کښے د قرآن مجید دورے دپاره پنډۍ ته لاړو او د شیخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحب نه ے د قرآن سند حاصل کړو۔

او په ۱۳۸۲ھ کښے ے په رمضان المبارک کښے د قرآن دوره هم شروع کړه۔

په ۱۳۸۳ھ کښے حج ته لاړو، او په ۱۳۹۳ھ کښے پنج پیر ته ورپے دورے له لاړو او سند د قرآن ور نه د شیخ القرآن مولانا محمد طاهرؒ نه ملاوَ شو۔ او طریقه نقشبندیه ے هم د هغوی نه شروع کړه۔

---

## د شیخ القرآن صاحب تصانیف

۱ **تفسیر افضل التراجم**: چه په اسانه پښتو کښے ے لیکلے دے او د پیر خلق ترنه فائدے اخلی۔

۲ **نشر المرجان**: په دیکښے د قرآن د کرانو او مشکلو ځایونو د پاره په آسانه حل شویدے۔

۳ **افضل اللطائف**: په دیکښے مختلف مضامین دی، او اختلافی مسائل پکښے هم په ښکلی انداز لیکلے شوی دی

۴ **المنهاج الواضح**: په دے کتاب کښے د کتاب العقائد نه تر کتاب المیراث پورے مسائل لیکلے شوی دی، او د تصوف مسائل پکښے هم شته۔

۵ **تسهیل المثنوی**: په دے کتاب کښے د مثنوی د مولانا روم څه حصے ترجمه او تشریح په پښتو ژبه کښے لیکلے شوے دے۔ او بیا انتخاب دے۔

۶ **نماز مترجم او ضروری مسائل**: په کتاب کښے د ماشومانو د پوهه کولو دپاره په آسانه طریقه د مانځه ترجمه او ضروری مسائل لیکلے شویدی۔

بخت علی غریب غفرله

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## اغاز شرح مثنوی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ۵

○ بشنو از نے چوں حکایت میکند ۔ وز جدائیہا شکایت میکند

ترجمہ : واورہ د شپیلئ نہ چہ څنګہ قصہ کوی ، د جدائے خپلے نہ کیلہ کوی

تشریح : روح د عارف چہ د عالم ارواح نہ راغے بدن تہ نو دلتہ د ما دے اوخواهشاتو سرہ یو ځائے شو ، او هغہ صفات د کمال او د تجرد ترینہ ختمیدل ، نو دکہ فریاد شروع کړو ، د خواهشاتو نہ بیا تجرد غواړی .

○ کز نیستاں تا مرا ببریدہ اند ۔ از نفیرم مرد و زن نالیدہ اند

اصل کے گراز جدا

ترجمہ :۔ چہ د نیستان نہ ئے مالرہ جدا کړو ، دفریاد حما نہ سړی او ښځے جاړی

تشریح : یعنی د عالم ارواح نہ ئے مالرہ بدن تہ راوستو ، نو حکہ اوس جارم اصلی مقام پسے ، نو حما پہ جرا کینے اثر دے نو حکہ سړی او ښځے چہ حما جرا واوری نو هغوی جاړی ۔ حما دجرا دو ډے نہ ۔

○ سینہ خواہم شرحہ شرحہ از فراق ۔ تا بگویم شرح درد اشتیاق

د سینے دمانہ ټکړ ټکړ قدر د لمحہ سرہ وی
کسی شے دل کی بے چینی کسی کے دل کے بے تابی

جی سینہ لے جانا ہے باد فراق کی
وہی محسوس کرتا ہے جو خود بے تاب ہوتا ہے

ترجمہ : سینہ غواړم ټکړے ټکړے دفراق نہ ، چہ ورتہ اووایم درد دفراق د عشق خپل

تشریح :۔ یعنی هغہ چا تہ خپل بیان د شوق کوم چہ هغہ هم عاشق وی پہ خپل مولی باندے نو هغہ حما پہ خبرہ پوهیږی ، او هغہ تہ حما بیان درد خہ معلومیږی ، نور خلق پے نہ پوهیږی

○ ہر کسے کو دور ماند از اصل خویش ۔ باز جوید روزگار وصل خویش ←

ترجمہ : هر څوک چہ لرے پاتے شی د اصلی حائے نہ نو بیا طلب کوی زمانہ د وصل وطن تہ

تشریح : نو حکہ فریاد کوی عارف چہ تہ بیا تجرد حاصل شی د علائقو د دنیا نہ او دے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بیا یوحائے شی د صفات د کمال سرہ ، چہ د دہ تعلق د خپل ارحم الراحمین سرہ برقرار پاتے شی ، چہ لوئے مقصد د مسلمان دے ۔

○ من بہر جمعیتے نالاں شدم ۔ جفت خوشحالاں و بد حالاں شدم

ت : ما پہ هر مجلس کښے ژړلی دی د بد حالو او خوس حالو خلقو سرہ یوحائے شوے یم ۔

ش : یعنی پہ هر حائے کښے ما ژړلی دی ، او د عارفانو او د غیر عارفانو کلام مې اوریدلے دے او د هغوی سره مې ملاقات کړے دے ۔

ت :

○ ہر کسے از ظنِ خود شد یار من وز درونِ من نہ جست اسرار من

(د سپرلی د ما ټیکر قدر د هغو سره دے چې سپرلے دی یا ټاټوبی او زمستان نه ۔)

ت : هر سړے چہ پہ خپل سره شوے دے یار حما ، او حما د زړہ نه چا حما ران نه دے طلب کړے ۔

ش : هر سړے چہ پہ کوم غم کښے مبتلا دے نو پہ ما هم دغه گمان کوی ، او حما نه څوک تپوس نه کوی چہ څه ولے ژاړم ؟ څه خو د خپل مولیٰ تعلق پسے ژاړم ۔

○ سر من از نالہ من دور نیست لیک چشم و گوش را آں نور نیست

ت : راز حما حما د ژړا نه لرے نه دے ، بلکہ ستر گے او غوږونه حما ران نشی معلومولے ۔

ش : یعنی عوام کله معلومولے شی چہ حما ژړا د دنیا د غم دوجے نه نده بلکه حما ژړا د حق سبحانه و تعالیٰ پسے ده ۔

○ تن ز جان و جان ز تن مستور نیست لیک کس را دید جان دستور نیست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- تن د رُوح نه او روح د تن نه پټ ندے لیکن چالرہ دُروح د لیدلو طریقه نشته

ش :- د امثال دے ددے چه رُوح د بدن نه پټ ندے او لیدلے نشی نو دغسے خلق غافل حُما آواز اوری او حُما مقصد نشی معلومولے چه تعلق باللہ دے .

(۱) ت آتش ست ایں بانگِ نائے و نیست باد - ہر کہ ایں آتش ندارد نیست باد

ش :- یعنی دا آواز د شپیلئ اُور دے او باد ندے خوک چه دا اُور نه لری هغه ډیے ورک شی

(۲) ش آتش عشق ست کاندر نے فتاد - جوشش عشق ست کاندر مے فتاد

ت :- اُور د عشق په شپیلئ کښے اثر کړیدے او جُوش د عشق دے په شرابو کښے اثر کړیدے

ش :- یعنی د عشق اثر دے په عاشق کښے چه فریاد کوی د شپیلئ پشان او د عشق اثر په معشوق کښے هم وی یعنی څنګه چه عاشق طالب دے نو دغسے معشوقه هم طلب کوی د عاشق اَلْحُبُّ مِنَ الْجَانِبَيْنِ وَالْبُغْضُ هٰكَذَا . یعنی محبت او بغض د جانبین نه دی ، حدیث قدسی دے یعنی باری تعالیٰ بمنلے فرمائی مَنْ ذَكَرَنِيْ فِيْ نَفْسِهٖ ذَكَرْتُهٗ فِيْ نَفْسِيْ مَنْ اَتَانِيْ يَمْشِيْ اَتَيْتُهٗ هَرْوَلَتَهٗ - (بخاری) خوک چه ما یاد وی حُه هغه یاد وم یعنی د هغه سره محبت کوم خوک چه پما سے په قدم راځی حُه هغه پسے مندہ وهم . فَاذْكُرُوْنِيْ اَذْكُرْكُمْ . (بقرہ ع۱۵۲) ما یاد وئ حُه به تاسو یاد وم په محبت سره

ت نے حریف ہر کہ از یارے بُرید - پردہ ہائش پردہ ہائے ما درید

ش :- شپیلئ هر چا چه د یار نه جدا شوی وی د هغه پردے پاره پاره شوے دی

ت دل سے جو بات نکلتی ہے اثر رکھتی ہے

پر نہیں طاقتِ پرواز مگر رکھتی ہے ۔ (اقبال)

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :۔ شپیلئ مګرے د هغه چا ده چه هغه د خپل یار نه جدا شو ده ده ما ئر آوازونو حمونږه پرده ده خړپه کړه ۔

ش :۔ یعنی عارف کامل د هغه چا مګرے دے چه هغه عاشق وی او د معشوقے نه جدا وی ۔ یعنی معشوقے پسے کړپږی، نو مولانا فرمائی چه دده عاشق مائر گفتار حمونږه پرده د غفلت ختم کړه، یعنی مونږ ته هم دغه عشق حاصل شو کوم چه هغته حاصل وو ۔

○ همچونے زهرے وتریاقے کہ دید؟ همچونے دمساز و مشتاقے کہ دید

ت :۔ پشان د شپیلئ زهر او تریاق چالیدلی دی، پشان د شپیلئ واصل او مشتاق چالیدلے دے ۔

ش :۔ یعنی عارف دیدن دپاره زهر او دروح دپاره اعلیٰ علاج دے، او دے د خپلے معشوقے سره واصل دے او بیا هم مشتاق دے که مے په اوبو کښے تکے دے یعنی دده عشق دیر زیات دے ۔ الله تعالیٰ دے حمونږه نصیب کړی ۔ آمین

○ نے حدیث راہ پر خوں میکند قصہ ہائے عشق مجنوں میکند

ت :۔ شپیلئ خبرے دلارے کوی چه په که ده د وینو نه او قصے د عشق د مجنون کوی

ش :۔ یعنی د عشق لار سکرانه ده، مرګ د دنیا آسان شے نه عارف دے لارے خبرے کوی یعنی ترغیب ورکوی عشق ته او د عاشقانو قصے کوی ۔

○ دو دہاں داریم گویا همچونے یک دہاں پنہاں درست لبہائے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- دوه خولے لرو ویونکے پشان د شپیلئ یو خولہ پتہ دہ پہ شوندو ودہ کښے ۔

(۱) یک دہاں نالاں شدہ سوئے شما ہائے وہوئے زنگندہ در سما

ت :- یوخولہ جاپی ستاسو پہ طرف، شورِ جور کړیدے پہ آسمان کښے ۔

ش :- د عارف افادہ او استفادہ بیانوی لکہ څنګہ چہ د شپیلئ دوہ خولے دی پہ یوہ خولہ کښ هغہ وښونکے پوکے کوی او پہ بلہ خولہ سرہ آواز اُوچئ خلقوتہ ۔ نو د غسے عارف د خپل مولیٰ نہ استفادہ کوی الہامونہ ورتہ کیږی د معرفت الٰہی، او هغہ نورونہ دعوۃ ورکوی د تعلق باللہ ۔

(۲) لیک داند ہر کہ او را منظر ست کایں فغانِ ایں سرے ہم زاں سر ست

ت :- لیکن پوهیږی هغہ څوک چہ د هغہ بصیرت وی چہ دا شور د دے سرہ هم د هغہ سر ندے ۔

ش :- یعنی پوهہ خلق معلومہ وی چہ دا افادہ خلقوتہ اثر د استفادے دے یعنی د خپل مولیٰ نہ فیوضات د معرفت حاصلہ وی او هغہ خلقوتہ رسوی ۔

(۳) دمدمہ ایں نائے از دمہائے اوست ہائے وہوئے روح از ہیہائے اوست

ت :- آواز دہ شپیلئ پوکے د هغہ دے شور د روح فیوضات د هغہ دی ۔

ش :- یعنی عارف خلقوتہ دعوۃ د تعلق باللہ ورکوی د افیض د حق سبحانہ وتعالیٰ دے ۔ د باری تعالیٰ د طرفہ الہامونہ کیږی او د وی خلقوتہ وائی ۔

(۴) محرم ایں ہوش جز بیہوش نیست مر زبانرا مشتری جز گوش نیست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- راز دار ده دے هوش بے هوشه د دنیا دے لکه چه د چبے خریدار صرف غوږ دے -

ش :- یعنی د باری تعالیٰ محبت هغه څوک کوی چه د دنیا محبت پریدی لکه د چبے خبرے صرف غوږ اوری نه لاس او خپے -

(۱) گر بنودے نالۂ نے را ثمر نے جہانرا پر نکردے از شکر

(اثر د یارہ دا دبس انی دے) (مسلول دوافر دربعہ)

ت :- که نه وی آواز د نے پیلی لره فائده - نو شپیلی به جهان د میوونه نه وړک کړے

ش :- یعنی د عارف کامل د هدایت که اثر نه وے نو دده هدایت به ولے د دومره دیر کاملان تیاره ولے نو معلومه شوه چه دا د عارفانو د هدایت غیبی اثر دے - هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۲ د هدایت د قران نه جماعت د متقیانو نو تیار شویدے دا دلیل دے د اثر نه په ماثر باندے - دا دلیل اِنّی دے -

(۲) در غمِ ما روزہا بیگاہ شد روزہا با سوزہا ہمراہ شد

ت :- په غم زما کښے زمانه څنګه ختم شوه او زمانه د غمونو سره یو ځای شوه -

ش :- دا تأسف دے چه زمانه بے فائدے ختم شوه، یعنی چه د الله تعالیٰ تعلق نه وی، نو زمانه بیکاره ده او د غم نه پرته وی او چه ده الله تعالیٰ تعلق وی نو د زړه خوشحالی وی - الاَ بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ (رعد ۲۸) تسلی د زړه صرف د باری تعالیٰ په ذکر کښے ده، یعنی چه چاته الله سبحانه وتعالیٰ یاد وی او د هغه په قدرة کامله او علم محیط او رحمة واسعه د خپل مولیٰ یقین وی، او د دے یقین موافق عمل کوی چه صرف د باری تعالیٰ نه طمعه لری او صرف د هغه حاجات غواړی او د هغه سره ے محبت وی، نو هغه بختور انسان کامیاب او خوشحاله دے فی الدارین ورنه خساره ده فی الدارین -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



(۱) روز ہا گر رفت گو رو باک نیست ۔ تو بماں ای آنکہ چونتو پاک نیست

ت :۔ زمانہ کہ لاړہ نو لاړہ دِ شی پروا نیشتے ، تہ موجودے اے ھغہ مولیٰ چہ ستا پشان پاک نیشتے ۔

ش :۔ پدیکښ رجا دہ دخپل مھربان مولیٰ نہ ۔ پدیکښ دیاس او د کفران نعمت علاج دے ۔ او مخکښ بیت کښے د عجب اصلاح وہ ، یعنی کہ زمانہ لاړہ نو پروا نیشتے حکہ تہ خو ئی ستا پشان پاک مولیٰ او رحمٰن مولیٰ بل نیشتے ، تو مونږ لہ تہ پورہ ئے ، حسبنا اللہ وَنِعْمَ الوکیل ۔ اللہ تعالیٰ مونږ لرہ پورہ دے او دے خہ کارسان دے ۔

(۲) ہر کہ جز ماہی ز آبش سیر شد ۔ ہر کہ بیروزی ست روزی دیر شد

ت :۔ ھر څوک چہ مھے ند ے نو ھغہ مور شود اُبونہ او ھر څوک چہ بے حصے دے نو زمانہ د ھغہ ھلاکہ شوہ ۔

ش :۔ درے قسمہ انسان دے یو عارف دویم مسلم دریم کافر دے ۔ عارف مھے دے د باری تعالیٰ پہ محبت نہ مرپیږی لکہ مھے پہ اُوبو کښے تلے دے ، او مسلم تہ لږہ حصہ د معرفت ملاوشوچہ ایمان دے نو دے پہ ھغہ باندے مور شو ، او نورہ ترقی نہ غواړی پہ معرفت الٰہی کښے او کافر بنو غرق دے فی النّارین

(۳) در نیا بد حال پختہ ہیچ خام ۔ پس سخن کوتاہ باید والسّلام

ت :۔ کہ نشی معلومولے حال د کامل کچہ سړے ، نو خبرہ ختم کړہ او سلام رُخصتانہ ورتہ اوکړہ ۔

ش :۔ یعنی کچہ خلق چہ صرف پہ اِسلام کفایت او نورہ ترقی پہ مدارج د معرفت کښے نہ غواړی او نہ دویتہ د سلوک لار معلومہ دہ ، دوی پدنیا کښے مبتلا دی ذٰلِکَ مَبْلَغُھُم مِنَ العِلم ۔ (نجم ع۱) نو دویتہ سلام درخصت اوکړہ او کلام تر ہیتہ ختم کړہ اِذَا خَاطَبَھُم

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الجاهلون قالوا سلاما ۔ فرقان ع ۶۳ کله چه خبرے کوی دے باد الرحمٰن سره جاهلان نو دوی ورته سلام وکړی او مخ ترینه واړوی ۔

○ بادہ در جوشش گدائے جوشِ ماست ۔ چرخ در گردش اسیر ہوشِ ماست

شراب ہم خپل جوش کښے — آسمان ہم حرکت کښے — ہیڅ غوښتلی دا خو زمونږ جوش دے — بقدر دنا دا ہوش دے ۔

ت :۔ شراب په جوش کښے فقیر د جوش څمونږه دی، او آسمان په حرکت کښے تابع د ہوش څمونږه دے ۔

ش :۔ دا حدیث د نِعمة دے وَاَمَّا بِنِعمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّث ، ضحیٰ ع ۱۱ نعمة درب بیانوه ، یعنی د شرابو نشه څمونږه د عارفانو د نشے نه کمه ده او د آسمان حرکت او اتباع د یارئ هم څمونږه د اتباع نه کمه ده ، د آسمان اتباع غیر اختیاری ده او د عارفانو اتباع اختیاری ده ۔

○ بر سماعِ راست ہر کس چیز نیست ۔ طعمۂ ہر مرغکے انجیر نیست

په اصیل لور د هر شیا هر سړے قادر نه دی ۔ — فوائد د هر مرغه — انجیر نه دی ۔

ت :۔ په اوریدو د حق هر څوک غالب نه دے ، خوراک د هر مارغه اینځر نه دے ۔

الحق مر — د هر چا منه نه نگی ۔ — څیز هر چا نه خوښ نه نگی ۔

ش :۔ یعنی د عارفانو حال څوک نشی معلومولے ، او که هغوی ته د معرفت خبرے وشی نو هغوی پے خه خسرابیږی لکه هر مارغه اینځر نشی خوړے په بعض مارغانو دا بدلگی نو په بیان کښے رعایت د مخاطب پکار دے ۔

○ بندِ گسل باش آزاد اے پسر ۔ چند باشی بندِ سیم و بندِ زر

د نیا ده تعلق اوسپنه د نیا د تعلق نه آزاد — تر سره پوره — د سر د اوسپنو غلامی ۔

ت :۔ تعلق د دنیا او شلوه وسه آزاد اے بچیه اخو به ے پابند د سپینو او د سرو

ش :۔ دا د پوخ والی او د معرفت د باری تعالیٰ اصول دی یعنی د دنیا تعلق پریږده ته به څو د سرو د سپینو غلامی کوے تَعِسَ عَبْدُ الدُّنْیَا وَعَبْدُ الدِّرْهَم ، (حدیث) یعنی د اشرفئ او د روپئ غلام د باری تعالیٰ هلاک کړ ۔۔۔ چه د مال په محبت کښے دین پریږدی نفس تعس و انتقش ۔۔۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دنیا ښوبه نړده ۔

## ○ گربریزی بحر را در کوزۂ چند گنجد ہ قسمت یک روزۂ

ت :۔ که ته اوغورځوے دریاب لره په کوزه کښے نو څو به پکښے ځائیږی صرف د یوے ورځے حصه ۔

ش :۔ پدیکښے مذمت د حرص دے، یعنی که په یرمال جمع کړے نو ستا گذاره ښو په لږ مال کیږی نکه چه په کوزه کښے نکے اوبه ځائیږی یَقُوْلُ الْاِنْسَانُ مَالِیْ مَالِیْ فَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ اِلَّا مَا اَكَلْتَ فَاَفْنَيْتَ اَوْ لَبِسْتَ فَاَبْلَيْتَ اَوْ تَصَدَّقْتَ فَاَمْضَيْتَ (حدیث) بنده وائی چه حما مال دے حما مال دے ستا مال خو صرف هغه دے چه تا اوخوړو اوختم دکړو یا دِ واغستو اَوْ زوړ دِکړو (دا دنیا مال دے) یا دِ خیراتی ورکړو ، او خیرات دِ خراب نه کړو (په ریا یا په ملازمے سره) دا د آخرة دے ۔

## ○ کوزه چشم حریصاں پر نشد تا صدف قانع نشد پر دُر نشد

ت :۔ کوزه د سترګو د حریصانو نو په که نشوه ، تر څو چه صیغیٔ صابره نشی نو د ملغلرو نړ نه پکیږی ۔

ش :۔ دا مثال دے د مذمت د حرص اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۔ تکاثر ځه مشغول کړیدی تاسولره کثرت د مال چه دیوبل نه ځے زیاته وَلَی تړدے چه ملاقات وکړیٔ د مقبرو سره یعنی تر مرګه پورے ۔ صیغیٔ چه کله خوله بنده کړی نو د دغه څا څکی د باران نه ملغلره جوړه شی اوُ چه خوله بیرته وی نو دغه څا څکے وچ شی د کرمیٔ د وجے نه ، صدف بو میدان دے په دریاب کښے ملغلرے پکښے جوړیږی ، نو ده حرص په ترک سره کمال حاصلیږی ۔ باری تعالیٰ د مونږه صابر کړی ۔ امین

## ○ ہر کرا جامه ز عشقے چاک شد ۔ او ز حرص و عیب کلی پاک شد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- چالره چه جامه د عشق څیری شی هغه د حرص او د تول عیب نه پاک شی

ش :- دا تعلق بالله ظاهری سبب دے، یعنی د عشق الٰهی دوجے نه به انسان د حرص او د عیب نه کامل پاک شی بیا به دنیا ته وزکار نه وی۔

○ شاد باش اے عشق خوش سودائے ما۔ اے طبیب جملہ علتہائے ما

د محبت بیمار د

ت :- خوشحاله ووسله اے عشقه ته خه خریدارئ حمار، اے طبیبه د تولو مرضونو حما۔

ش :- دا د عشق صفت دے، یعنی د دنیا په عوض کښے ما عشق واغستو او دا عشق حما د تولو مرضونو علاج دے او ډکنا هونو طبیب دے۔

○ اے دوائے نخوت و ناموسِ ما اے تو افلاطون و جالینوسِ ما

ت :- اے عشقه ته حما د تکبر او د عزت دارو ئے او حما د پاره افلاطون او جالینوس ئے۔

ش :- دا تخصیص بعد تعمیم دے یعنی عشق د تولو مرضونو علاج دے او خصوصًا د تکبر او د طلب د عزت د پاره خو کامل حکیم دے، افلاطون او جالینوس خو حکیمان وو پخپله زمانه کښے۔ مَنْ تَکَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ، مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ (حدیث) هوکی چه تکبر کوی نو باری تعالیٰ هغه خکته کوی، او څوک چه تواضع کوی نو حق تعالیٰ هغه پورته کوی۔ نو په عشق سره تکبر ختم شی، او تواضع پکښے پیدا شی چه سبب د کمالاتو دے۔ مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ اُرْسِلَا فِي غَنَمٍ اَحَدُكُمْ بِاَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالْجَاهِ لِدِيْنِهٖ (حدیث) نه دی دوه ووکی شرمخان چه پریخودے شی په بیزو د یوستا سو کښے دومره بربادونکی دغه بیزو لره د حرص د سرې نه په مال او په مرتبه باندے۔ نو د عشق د وجے نه دا طلب د عزت ختم شی نو کمال حاصل شی۔

○ جسم خاک از عشق بر افلاک شد کوه در رقص آمد و چالاک شد

د محبت دوهمی د څلمند د انسان آسمان کښے لاړو او د عزت تخت یې ډنډول شو

بیا د دنیا څخه کی او د محبت د کمال آسمان کښے څومره رنځ اثر۔ او کوه طور د تجلی او سکره نو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- جسم د خاورو د عشق دوجے نه آسمانونو تله لاړ غږ په کډ کښے راغے او چالاکه شو۔

ش :- دا بیان د طاقت د عشق دے یعنی نبي علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام د باری تعالیٰ د محبت دوجے نه آسمان ته لاړل او کوه طور د باری تعالیٰ دنور دوجے نه په حرکت کښے راغے فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا۔ اعراف ۱۴۳

هر کله چه نور شکاره شو د رب د موسیٰؑ غره ته نو کړۀ هغه؛ او ارتاؤ شو موسیٰؑ بے خوده

ذرے ذرے

① عشق جان طور آمد عاشقا ۔ طور مست و خر موسیٰ صعقا

روح رقص

ت :- عشق روح د کوه طور راغے اے عاشقه، کوه طور مست شو او موسیٰ بے خوده

ممکن شے التغیر رفع لہ واجب شے لتحقہ رائے۔

② سر پنهاں ست اندر زیر و بم ۔ فاش اگر گویم جهاں ما برهم زنم

سر مخفی ہے اندر زیر و بم ہے فاش اگر گویم جهاں ما برهم زنم

ت :- راز پناه دے په نری اوغټ آواز کښے، ظاهر که وویم نو د جهان خلق په لاندے باندے شی۔

د موسیٰ بے ہوشی۔ حقائقہ د وحدۃ الوجود دہ۔ نفر مطلق

ش :- زیر و بم نه رنګارنګ مضامین مراد دی، یعنی د وحدة الوجود مسئله کنایه کوم وکوره عزمات شو او موسیٰ علیه السلام بے خوده شو، د ممکنات دی تغیر قبلوی او واجب الوجود ماتر حقیقی بلا تغیر دے، نو معلومه شوه داخبره چه وجود د ممکن کالعدم دے په نسبت د وجود د باری تعالیٰ عز اسمه وجلّ جلاله وعظم شانه وَلَا اِلٰه غیره، دا سنده چه وجود د ممکن فی نفسه نیشته۔ مولانا رومی فرمائی نو که حقه صراحةً ووایم چه وجود د ممکن نیشته نو خلق به شور جوړ کړی چه داخود خلاف ده او داخود جنت او د دوزخ نه انکار دے او داخو پیغمبران نه منل دی۔ او دیته نه کوری چه مراد دا دے چه وجود د ممکن په نسبت د وجود ده واجب الوجود کالعدم دے۔ کله وجود د ستورو په مقابله د نور کښے پټ وی۔ او مقصود د صوفیانو دا دے چه تعلق د غیر الله ختم شی۔ دا الله د وجود نخ د زره د یکتا د وجود عکسے زے ۔ الوجود بین العدمین ظلمۃ

MAKTABA TUL-ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


○ آنچہ نے میگوید اندر ایں دوباب ۔ گر بگویم من جہاں گردد خراب

ت :۔ هغه چه وائی شپیلئ پدے دوو بابونو کښے نو که څه اووایم نو جهان به لاندے باندے شی۔

ش :۔ یعنی یا به د عقائدو حقّونه خلاف وکړی چه پیغمبران نیشتے۔ او جنت نیشتے وغیره او یا به ددے مسئلے د وحدت الوجود نه خلاف وکړی دا دواړه افراط وتفریط دے

○ ہر کہ او از ہمزبانِ شد جدا ۔ بے نوا شد گرچہ دارد صد نوا

ت :۔ هر څوک چه د هم زمانے نه جدا شی نو هغه بے سامانه شی اګرچه لری پرین سامان۔

ش :۔ یعنی مسئله د وحدة الوجود کرانه مسئله دے ددے دپاره لائق سامع پکار دے او په کلام کښے رعایت د مخاطب پکار دے، نو کچرے د متکلم سامع قابل نه وی نو متکلم چه هر څومره لائق وی لیکن ددے لیاقت بیکاره وی ځکه چه چا ته خپل لیاقت ښکاره کړی، سامع خو قابل ندے نو مولانا رومی فرمائی چه د مسئلے د وحدة الوجود دپاره لائق سامع نیشتے نو ځکه دا مسئله څه واضح نشم کولے۔

○ بالب و مساز خود گر جفتے ۔ ہمچو نے من گفتنیہا گفتے

ت :۔ د همزبان سره که څه یو ځای شوے وے نو مابه هم دنے پشان کلام کړے وے

ش :۔ یعنی د عارف مخاطب لائق وو نو هغه مسئله په وضاحت سره وکړه او که مخاطب که لائق وے نو مابه هم دا مسئله په وضاحت سره کړے وے۔

○ چونکہ گل رفت و گلستان در گذشت ۔ نشنوی زیں پس ز بلبل سرگذشت

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت:۔ هر کله چه موسم ډکل ختم شو او دباغ موسم لاړ نو ته به د سرنه نه اورے د دینه روسته د بلبل خبرے۔

ش:۔ یعنی د مسئلے د وحدة الوجود سامعان ختم شو نو عارفان به چاته مسئله اوکړي۔

(۱۰) چونکه گل رفت و گلستان شد خراب ۔ بوئے گل را از که جوئیم؟ از گلاب

ت: هر کله چه موسم ډکل لاړ او گلستان ختم شو، بوئے ډکل به د چا نه غواړم حُه د عرق گلاب نه۔

ش:۔ یعنی عرق گلاب ډکل کار نه ورکوی نو د غسے جعلی ملګان قابل نه دی چه عارفان هغوی ته مسئله د وحدة الوجود وکړی، یعنی مخاطب د مسئلے اصلی خلق کیږے شی نو جعلی

(۱۱) جملہ معشوق ست و عاشق پردہ ۔ زندہ معشوق و عاشق مردہ

ت:۔ تولے معشوقه ده او عاشق پرده ده، جوندے معشوق دے او عاشق مړ دے۔

ش:۔ دا د خواص د پاره د مسئلے د وحدة الوجود بیان دے کنایةً۔ د معشوق نه مراد حق سبحانه وتعالیٰ وعزَّ اِسمهٗ وجلَّ جَلالُهٗ وَعَظم شَانُهٗ دے اود عاشق نه مراد مخلوق دے، او اَسماء د باری تعالیٰ په مذهب غیر منصور باندے توقیفی ندے۔ یعنی وجود د حق سبحانه وتعالیٰ حقیقی وجود غیر فانی اَبدی او اَزلی او سَرمدی دے او وجود د مخلوق عارضی او فانی دے کُل شیءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَه۔ قصص ۸۸ هر شئ فانی دے بے د ذات د باری تعالیٰ نه۔ د مسئلے د وحدة الوجود آسان او اتفاقی تعبیر دا دے چه په مقابله د وجود د واجب الوجود کښے وجود د ممکن کالعدم دے۔ بیت،

من روز شب نخفتم تا خورشید پیدا نیم ۔ ولے پیش خورشید پیدا نیم

د شیخ سعدیؒ د پیود چینجی قصه کوی، او یا لکه ستوری په نزد د نور، نو انسان ولے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چون نباشد عشق را پروائے او  او چو مرغے ماند بے پر، وائے او

ت:۔ هر کله چه نه وی حق سُبحانه لا پروا دده نو دا انسان به پاتے شی بے وزره پده افسوس دے۔

ش:۔ دا سبب حقیقی د تعلق بالله دے یعنی د هر کمال علت حقیقی فضل الهی دے لَن یُنجِیَ اَحدا منکم عمله قالوا وَلَا اَنتَ یَا رَسولَ الله قال وَلَا اَنَا اِلَّا اَن یَتَغَمَّدَنِی الله بِرَحمَته۔ هیڅ کله نشی بچ کولے چا لره عمل دده، نو اصحابؓ درخواست اوکړو چه تا لره هم ستا عمل نشی بچ کولے ؟ د الله تعالیٰ رسولؐ، نو ارشاد وشو چه ما لره هم هُما عمل نه شی بچ کولے مګر چه ما لره پټ کړی باری تعالیٰ په خپل رحمة کښے۔ هر ثواب د دنیا او د آخرة د باری تعالیٰ فضل بِلا عوضه دے، او هر عذاب د انسان د عمل بدله ده، او هر عبادة د باری تعالیٰ خان له مستقل فضل دے، د باری تعالیٰ لوئے فضل دے چه د هرے نیکئ بدله یو په لس یا زیاته ورکوی، او په اِراده هم ثواب ورکوی او د بدئ بدله یو په یو ده او په اراده د بدئ بدله نه ورکوی، البته عمل سبب دے تفضلاً بِمَا کنتم تَکسِبونَ۔ (اعراف ۳۹) بدله ده په سبب د کسب ستاسو سره ده۔

پر و بال ما کمندِ عشق اوست  مو کشانش میکشد تا کوئے دوست

ت:۔ لوئے او واړه وَزر حُمونږه رسئ د عشق د الله تعالیٰ ده د وِیختونه نیولی مونږه دلبار د ارحم الرّاحمین ته۔

ش:۔ یعنی د حق سبحانه و تعالیٰ فضل حُمونږه د تعلق بالله علت دے اِبلیس خو په ډیر علم او عبادة والا وَو خو فضل الٰهی نه محروم وَو نو مردود شو۔

مَن چه گونه هوش دارم پیش ولیس۔ چون نباشد نور یارم پیش ولیس

ت:۔ حُکله به څنګه هوش لَرم مخکښ او رُوسته خپل، چه نوی نُور د الله تعالیٰ مخکښ او رُوسته حُما۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش:۔ دا تفصیل دمخکښ شعر دے، یعنی هر څه دباری تعالیٰ په فضل کیږی۔

○ نورِ او در یمن و یُسر و تحت و فوق ۔ بر سر و بر گردنم مانند طوق

ت:۔ نور د هغهٔ نبی طرف او کښ طرف اولاندے او باندے او په سر حما او په څټ حما پشان د طوق دے۔

ش:۔ یعنی هر طرف ته چه دباری تعالیٰ نور او فضل یې نوکار به حما کیږی۔ اللّٰھم اجعل مِنْ فَوْقِی نُوْرًا وَمِنْ تَحْتِی نُوْرًا وَعِنْ یَمِیْنِی نُوْرًا وَعَنْ شِمَالِی نُوْرًا۔ اے مولیٰ حما دپاسه اولاندے او څی طرف او کښ طرف رنړا کړه۔ یعنی هر طرف نه په ما فضل وکړے۔

○ عشق خواهد کایں سخن بیروں رود ۔ آئینات غماز نبود چوں بود؟

ت:۔ عشق غواړی چه دا مسئله ظاهره شی آئینه د زړه ستا صافه نده نو دا بیان به څنګه وشی۔

ش:۔ یعنی جوش د زړه غواړی چه مسئله د وحدة الوجود صافه بیان شی لیکن د مخاطب زړه صاف ندے نو دا بیان به څنګه وکړم

○ آئینه کز زنگ و آلایش جداست ۔ پرتوِ عکسِ نورِ خورشید خداست

ت:۔ آئینه د زړه چه د زنګ او د خیرې نه صافه شی نو په که د شُغلود نُور د الله تعالیٰ شی۔

ش:۔ یعنی تعلق بِالله هله حاصلیږی چه تعلق د غیر الله او معاصی ختم شی

○ رو تو زنگار از رخِ او پاک کن ۔ بعد ازاں آں نور را ادراک کن

ت:۔ لاړ شه زنګونه د مخ د زړه نه پاک کړه روسته د هغے نه د غه نُور بیا مومه۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش:۔ یعنی مخکښے تخلیه ده د غلطونه بیا تحلیه ده په انوار و سره

○ ایں حقیقت را شنو از گوش دل ۔ تا بروں آید ز کلی زاب و گل ۔

ت:۔ دا رښتینے خبره واوره په غوږ د زړه چه ته بهر شے تمام د اوبو او دخټو نه

ش:۔ یعنی ده دے صداقت واتباع دو ے نه به ته د تولو تعلقات د غیرالله نه بچ شے ۔

○ فہم گر دارید جان را ره دهید ۔ بعد ازاں از شوق یاد ره نهید

ت:۔ فهم جمع کړئ او رُوح لره لار ورکړی پس دهغے نه په شوق سره خپه په لارے کښے کیدئ ۔

ش:۔ یعنی پحضور سره حق واوری او بیا پے عمل وکړئ چه تعلق بالله حاصل شی ۔

## حکایت عاشق شدن بادشاه بر کنیزک و خریدن او آن کنیزک را و بیمار شدن کنیزک و درمان بیماری او

ت:۔ قصه دعشق دبادشاه په وِینځه او اغستل دهغه لره اوناجوړه کیدو دوینځے او علاج د هغے ۔

ش:۔ د دے قصے تعلق د دے بیت سره دے چه

اجمالی قصه : یو بادشاه په وینځه مین شو، نو هغه ئے واغسته ،نو هغه مریضه شوه نو طبیبانو علاج وکړو،خو جینئ خه ناجوړه شوه او بادشاه خفه ووَ،نو غیبي طبیب دجینئ مرض د عشق معلوم کړو چه په زړګی مینه وه ، نو زړګی ئے راوستو، دګالو جوړولو په بهانه اوجینئ ورته په نکاح ورکړه ، نو جینئ خه شوه ، بیا ئے هغه ته دزهر و دارو ورکړه نو هغه خوار شو، او د جینئ زړه ترینه تور شو ، بیا هغه زړګی مړ شو نو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



جینئ بادشاہ تہ جوړہ پاتے شوہ، دغسے روح کمالات حاصلوی د بدن پہ واسطہ او بدن پہ خواہشاتو مبتلا دے، نوناقص پیران خہ بدن پہ خواہشاتو کرفتاروی او کامل پیر د بدن تعلق د خواہشاتو نہ کتې کړی نو بدن روح تہ وزګارشی نوروح د باری تعالیٰ تعلق حاصلوی پہ نیکوکارونو سرہ ۔ حاصل دا چہ بادشاہ روح، او بدن وِینځہ، او خواہشات زرکر ۔ طبیب ناقص پیرناقص، او طبیب کامل پیرکامل دے مثلاً روح پہ جبہ ذکر اللہ غواړی لیکن جبہ بے فائدے خبرے کول کنزل، او دروغ وغیرہ غواړی نو پیرناقص دے خہ پہ دروغو او بدعاتو اولبن وو، او پیرکامل چیے تہ دروغ وغیرہ بد منکارہ کړہ نو جبہ د رُوح خدمت تہ وزګارہ شوہ نو روح کامل شو او تعلق باللہ ورتہ حاصل شو۔

○ بشنو یداے دوستاں ایں داستاں ۔ خود حقیقت نقدِ حال ماست آں۔

ت:۔ واورئ اے دوستانو دا قصہ دا واقعی فوټو د موجودہ حال څونبہ دے۔

ش:۔ یعنی د تعلق باللہ او د تعلق د غیر اللہ واقعی نقشہ دہ ۔

○ نقد حالِ خویش را گر پے بریم ہم ز دنیا ہم ز عقبےٰ برخوریم

ت:۔ کہ موجودہ حال مونبِ معلوم کړو نو هم بہ د دنیا نہ او هم بہ د اخرۃ نہ فائدہ حاصل کړو۔

ش:۔ یعنی کہ مونبہ معلوم کړو چہ فی الحال مونبِ لرہ څہ پکار دی او پہ هغے عمل وکړو یعنی چہ کوم کار پکار دے پہ هغے عمل وکړو او کوم چہ پکار دے د هغے نہ ځان بچ کړو نو مونبہ بہ د دواړو جهانونہ فائدہ حاصلہ کړو، دا انتقال دے مقصود تہ دقصے نہ ۔ او پدے کتاب کښے دا انتقالات مقصود دی، قصہ مقصود نہ دہ بلکہ د قصے غرض مقصود دے، نو پدے قصو کرفت بے فائدے دے، قصے خو پہ درجہ د لا نصدق ولا نکذب کښے وی لکہ غلہ مقصود وی نہ اُوکے د دکاندار ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بود شاہے در زمانے پیش ازیں ۔ ملک دنیا بودش و ہم ملک دیں

ت :۔ وو یو بادشاہ په زمانه کښے مخکښے دَ دینه ملک د دنیا او ملک د دین وو هغه لړ

ش :۔ یعنی نیک بادشاہ وو په مخکښے زمانه کښے د زمانے د نبي علیه السلام نه ۔

اتفاقاً شاہ روزے شد سوار ۔ با خواص خویش از بہر شکار

ت :۔ ناڅاپه بادشاه یوه ور ځے سُور شو د خپلو خاصانو سره لپاره د ښکار ۔

بہر صیدے میشد او بر کوہ و دشت ۔ ناگہاں در دام عشق او صید گشت

ت :۔ د پاره د ښکار روان شو په بیابان او په غره باندے ناڅاپه په دام د عشق کښے پخپله ښکار شو ۔

یک کنیزک دید او بر شاہراہ ۔ شد غلام آں کنیزک جان شاہ

ت :۔ یوه وینځه ده وُلیده په عام سړک کښے، شو غلام دَ دغه وینځے رُوح د بادشاه ۔

مرغ جانش در قفس چوں در طپید ۔ داد مال و آں کنیزک را خرید

ت :۔ مارغهٔ د روح د ده چه کله په پنجره کښے بے قراره شو نو مالِ ور کړو او دغه وینځه ځے واخسته

چوں خرید او را برخوردار شد آں کنیزک از قضا بیمار شد

ت :۔ هر کله چه هغه وینځه ځے واخسته او نفع مند شو نو دغه وینځه په حکم د الله سره ناجوړه شوه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ آں یکے خر داشت پالانش نبود۔ یافت پالاں گرگ خر را در ربود

ت :۔ هغه یو سړی خر لرو خو کته دخر ورسره نه وه، نو کته ئے بیا مونده خو شړ مخ خر او تخته

ش :۔ دا انتقال چه دنیا نیمګړے ده نه پوره کیږی پوره مقام صرف جنت دے ۔

○ کوزه بود شش آب مے نامد بدست۔ آب را چوں یافت خود کوزه شکست

ت :۔ کوزه ورسره وه خو اوبه نه راتلے لاس ته اوبه ئے بیا مونده خو کوزه ماته شوه

○ شبه طبیباں جمع کرد از چپ و راست۔ گفت جان ہر دو در دست شماست

ت :۔ بادشاه طبیبان جمع کړه دکښې طرف او دځی طرف نه، اووے هغه چه روح ځمونږ ددوا پو ستاسو په لاس کښے دے ۔

ش :۔ یعنی که داجوړه شوه جوړیم او که دا مړه شوه نوزه هم مړیم ، دا تاکید دے په علاج کښے ۔ یعنی تاسو هم په علاج خه کوشش وکړی ، دده صحت ځما صحت دے

○ جان من سہل ست و جانانم اوسیت۔ دردمند و خستہ ام درمانم اوسیت

ت :۔ روح ځما آسان دے او روح دروح ځما داده، درمند اوزخمی یم علاج کوونکے م داده ۔

○ ہر کہ درماں کرد مر جانِ مرا۔ بر دو گنج درّ دمر جان مرا

ت :۔ چا چه علاج وکړو د روح ځما نو هغهٔ دِیوړه خزانه د ملغلرو اود

مر جان ځما

ښه هلته ځه ښیګنه دیه ده ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ جملہ کفتند ش کہ جانبازی کنیم۔ فہم گرد آریم وانبازی کنیم۔

ت:۔ ټولو اووے چه کوشش به کوو فهم به جمع کړو او اتفاق به کوو زړه علاج کښے

○ ہر یکے از ما مسیح عالمے ست۔ ہر آلم را در کف ما مرہمے ست

ت:۔ هر یو څونږه د عیسیٰؑ په شان عالم دے هر مرض لره په ورغوی څونږه کښے مرهم دی۔

○ گر خدا خواہد نہ گفتند از لطف۔ پس خدا بنمود شاں عجز البشر

ت:۔ که خدائے غواړی دوی اونه وے ده تکبر نو الله تعالیٰ وخودو دوینه عجز د بشر

ش:۔ د انتقال دے یعنی پکار وه چه دوی انشاء الله تعالیٰ ویلے وے خو دوی تکبر وکړو نو الله تعالیٰ دوینه عجز د دوی ښکاره کړو مَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ ۔(حدیث) څوک چه تکبر کوی نو خدائے تعالیٰ هغه ښکته کوی د غه د انسان حال دے چه عاجز دے نو انسان ولے د انسان عاجز نه طمعه کوی او قادر علیم رحیم بادشاه پریږدی۔ لویے سعادت دے د الله تعالیٰ نه طمعه او لوئے عذاب دے د غیر الله نه طمعه او د انسان مرور ویده، مرور تیا علامه د طمعے ده چه سبب د ذلت دے، باری تعالیٰ د مونږه ترینه اوساتی۔

○ ترک استثنا مرادم قصوے ست۔ نے ہمیں گفتن کہ عارض حالتے ست

ت:۔ ترک د انشاء الله تعالیٰ نه مراد حما د زړه سختی او غلط اعتقاد دے، نه صرف انشاء الله تعالیٰ ویل چه د خو عارضی حال دے۔

ش:۔ یعنی د انشآء الله تعالیٰ ویل نه مراد صحیح عقیده ده چه د هر څه کولو صرف باری تعالیٰ دے یواځے لفظ د انشاء الله نه کافی کیږی چه عقیده ئی غلطه وی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ اے بسا ناوردہ استثنا بگفت جان او با جان استثناست جفت

ت :۔ اے سړیه چې کسان دی چه هغو انشآء الله نده ویلے او روح د هغوی د روح د انشاء الله سره جوړ وی ۔

ش :۔ یعنی لفظ د انشاء الله هغوندے ویلے لیکن عقیده د هغوئ داده چه څه کوی نو یوازے الله تعالیٰ کوی ۔

○ هر چه کرند از علاج واز دوا ۔ گشت رنج افزون و حاجت ناروا

ت :۔ هر څه چه هغوی اوکړه د علاج او د دارو نه نو درد زیات او حاجت پوره نه شو ۔

ش :۔ دا عود دے قصے ته یعنی په علاج د طبیبانو اثر مرتب نه شو ۔

○ آں کنیزک از مرض چوں موئے شد ۔ چشم شاہ از اشک خوں چوں جوئے شد

ت :۔ د غه وینځه چه د مرض نه پشان د ویخته شوه نو ستر ګے د بادشاه د اوښکو د وینو نه

ش :۔ یعنی بادشاه پیر خفه وُو ۔

○ چوں قضا اید طبیب ابله شود ۔ ان دوا در نفع خود گمره شود

ت :۔ هر کله چه حکم الٰهی راشی نو طبیب کم عقل شی او دارو په نفع کښے خطا شی ۔

ش :۔ دا انتقال دے چه اسباب اثر مرتب کوی که الله تعالیٰ دے کله په اسباب اثر نه مرتب کوی ، نو طبیب حیران وی چه دا دوائی ولے کار نه کوی نو مؤثر حقیقی او موجد حقیقی صرف باری تعالیٰ دے او ممکنات کالعدم دی نود کالعدم نه طمعه کمراهی او شقاوت دے او د واجب الوجود نه طمعه سعادت دے او دارین فوز دے ۔ الله تعالیٰ د خمونږه نصیب کړی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ از قضا سرکنگبیں صفرا فزود ۔ روغن بادام خشکی مے نمود

ت :۔ دباری تعالیٰ په حکم سره سکنجبین صفرا زیاتوله او تیلود بادامو خشکی ښکاره کوله ۔

ش :۔ سکنجبین دسرکے او ډکبین نه جوړیږی یخ دارو دی صفرا کموی ، صفرا کرمه ده ۔ او دبادام تیل غوړ دی خوشکی ختمه وی ، لیکن دباری په حکم په اسباب اثر نه مرتب کیده ۔ معلومه شوه چه مؤثر حقیقی صرف باری تعالیٰ دے او پخپلو کارونو کښے اسباب ته محتاج ندے پوه پے مړوکے نه ده ۔ افرأیتم ما تحرثون ۔ أءنتم تزرعونه أم نحن الزارعون ۔ واقعه ع۶۴ آیا تاولیدو هغه تخم چه تاسوئے کرئ خه تاسو داقصل توکوئ یا حه فصل توکولے یم ، تیره چوړکئ دا سمعیل علیه السلام مرئ غوخه نه کړه ، اور ابراهیم علیه السلام لره او نه سیزو ، دریاب موسیٰ علیه السلام لره غرق نه کړو ۔

○ از هلیله قبض شد اطلاق رفت ۔ آب آتش را مدد شد هیچو نفت

ت :۔ د هریړے نه قبض پیدا کیده او دستونه خمیده ، اوبه اور لره مدد شوے پشان دخاورو دتیلو ۔

ش :۔ هریړه قبض ماتوی او اوبه اور مړ کوی لیکن کله باری تعالیٰ عکس کوی ۔ دلوئے طاقت والا الله دے ۔

○ سستیٔ دل شد فزوں و خواب کم ۔ سوزش چشم و دل پر درد و غم

ات :۔ سستی دجینئ دزړه ډیره شوه او خوب کم شو د سترګو سوزیدل شروع شو او زړه لئ درد او دغم نه پک وو ۔

○ شربت و ادویه و اسباب او ۔ از طبیباں برد یکسر ابرو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: شربت دارو او اسبابُ د مرض د طبیبانو نه ختم کړو تول عزت۔

ش: یعنی د طبیبانو علاج فیل شو نو دوی بے عزته شو بادشاه ته

○ عاجز شدن طبیبان از معالجہ کنیزک و ظاہر شدن بر بادشاہ و رو آوردن او بدرگاہ پادشاہ حقیقی

ت: عاجز کیده د طبیبانو د معالجے د وینځے نه او ظاهر کیده په بادشاه دغه عجز ددوی او مخ کول د بادشاه دلبار دبادشاه حقیقی ته۔

○ شه چوں عجز آن طبیبان را بدید  پا برهنه جانب مسجد دوید

ت:۔ بادشاه چه کله عجز د طبیبانو وليدو نو خپے اېلے لمرف دجمات ته په منډه شو۔

○ رفت در مسجد سوئے محراب شد۔ سجدہ گاہ از اشک شاہ پر آب شد

ت:۔ لاړو جمات ته بیا محراب ته لاړ، ځاے د سجدے د هغهٔ د اُوښکو نه پک د اُوبو نه شو۔

ش:۔ یعنی په جمات کښے بیا محراب ته لاړ او په یرغ اوجړل، معلومه شوه چه دا بادشاه ظاهری کالعدم او محتاج دے، او قدیم او مُستغنی بادشاه صرف باری تعالیٰ دے، د دغه بادشاه ازلی او ابدی نه طمعه سعادت دے، او د هغهٔ محتاج بادشاه نه چه صرف اِسمی بادشاه دے طمعه عذاب دے او بے عزتی ده او د زړه غم دے۔ عبدالرحمٰن بابا والئ

که دے طمعه د مخلوق د درې پریکړه ✧ بادشاهی د مُبارک شه که گدائے

که دِ طمعه د مخلوق د درې وکړه ✧ فقیری د مُبارک شه که بادشاهئے۔

○ چوں بخویش آمد ز غرقاب فنا۔ خوش زباں بگشاد در مدح و ثنا۔

ت:۔ هر کله چه په خود شُود غرق کیدو د فنا نه، خه جبهٔ بیرته کړه مدحه او صفت کښے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



یعنی مخکښ په سجده کښے بیخوده شو نو چه په خو دشو نو صفت ئے شروع کړو.

## کمائے کمینہ بخششت ملک جہاں ۔ من چگویم چوں تو میدانی نہاں

ت:- چه اے الله ګکه مهربانی ستا ملک دجهان دے که به څه وایم هر کله چه تا ته معلوم دے پټ شے۔

ش:- یعنی دلوے طاقت او دلوئے علم والہ ئے دا توسل دے په صفات دباری تعالیٰ سره، قل اللّٰهم مالك الملك تؤتی الملك من تشآء وتنزع الملك ممن تشاء۔ الخ (آل عمران ع۳) دا سے دعا غواړه چه اے الله مالك دبادشاهی ئے ورکوی هغه چاته چه ستا رضا شی، او اخلے بادشاهی د هغه چا نه چه ستا رضا شی، یعنی دومره لوئے بادشاه ئے نو حما مقصد پوره کړه، دویم توسل دے په خپل عجز سره ایاك نعبد، فاتحه ع۱ صرف ستا محتاجی کوم دریم توسل دے په خپلے وفاداری سره وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ (فاتحه ع۱) او صرف ستا نه امداد غواړو، څلورم توسل دے په اتباع دنوات فاضلو سره اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ فاتحه ع۱، که دوړوی خوړل وسیله دمړیدو ده نه وجود دپوړی بے د خوړلو نه دا وسایل قطی دی، یخو وسیله اختلافی ده که حرمت او برکت وغیره وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُوْنَ۔ شعرآء ع۵ او اووے ساحرانو په عزت دفرعون سره مونږ به ضرور غالب یو، البته دحرمت وغیره تاویل کیدے شی، او قول دعاقل بالغ به سمیږی په محمل صحیح باندے خو دے الفاظ په دعا کښے دویلو نقل په قرآن کریم یا په حدیث مبارک نشته۔ بله وسیله شرکیه ده مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى۔ (زمر ع۳) مونږه ددوی عبادت ځکه کوو چه مونږه د باری تعالیٰ قریب مرتبے ته ورسوی۔ په نیغه لار تله پکار دی نه په کږو وږو لارو باندے یعنی آدعیه د قرآن کریم او د حدیث مبارک متعلق دمومن کار دے نه هغه آدعیه چه پکښے تیل او اختلاف دے۔ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ۔ (الانعام ع۱۵۳)، دا قرآن ځمالارده برابر پدے روان شی او هر څوک په نرو نرو لارو باندے نو جدا به کړی تاسو دلارے د الله تعالیٰ نه۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ حال ماوئین طبیباں سنز بسر پیش لطف عامِ تو باشد بدر

ت:- حال حمّا او ددے طبیبانو تولو په مخ دمهربانئ عام ستا کښے دے بے کاره.

ش:- یعنی مونږه په تا اعتماد ونکړو بے شکه مونږه غلطی وکړه لیکن ستا دمهربانئ په مخکښ دا کناه څه ندے یعنی په خپلے مهربانئ سره مونږ ته معافی وکړے. دا هم توسل دے په صفت د مهربانئ د الله تعالیٰ سره . چه قطعی وسیله ده .

○ اے همیشه حاجت ما را پناه بار دیگر ما غلط کردیم راه

ت:- اے الله همیشه تا حمونږه حاجت پوره کړیدے ، مونږه بیا غلطی وکړه چه په غیر الله مو اعتماد وکړو.

ش:- دا پخپل کناه اقرار او ندامت دے اَلنَّدَمُ هُوَالتوبة -(حدیث) بنیما نتیا توبه ده. اَلتَّائِبُ حَبِیْبُ الرَّحْمٰن (حدیث) تائب د الله دوست دے - کله په انسان کښے کناه ندے بلکه کله خپل کناه کناه نه منل دی- کناه نه چه پاک دی هغه پیغمبران یا ملائك یا غیر ذی عقل مخلوق دے، البته د نبیانو عصمت کمال دے حکه اختیاری دے او عصمت د ملائکو یا نور غیر ذی عقل مخلوق کمال نه دے او نه مدار د ثواب دے. مدار د ثواب عصمت اختیاری دے.

○ لیک گفتی گرچه میدانم سرت - زود هم پیدا کنش بر ظاهرت

ت:- لیکن تا ویلیدی چه حه ګرچه معلوموم پټ ستا بیا هم زر ظاهر کړه پدې کښه

ش:- یعنی سره د معلومولو نه ما تاته خپل حاجات پیش کړه - پدے باری تعالیٰ خوشحالیږی.

○ چوں برآورد از میانِ جان خروش - اندر اندر بحر بخشایش بجوش

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- هرکله چه هغه دزړه نه چغه کړه نو راغے دریاب دبخښش په جوش کښے

○ درمیان گزیه خوالښ دربلود - دید در خواب اوکړ پیرے رو نمود

ت :- په جرأ کښے هغهٔ اوده شو، هغه وُلیدو په خوب کښے چه یو بودا شکاره شو

○ گفت اے شه مژده اجاجاتت رواست - گر غریبے آیدت فردا ز ماست

ت :- اووے (هغه بودا جانب دباری تعالیٰ نه) اے بادشاه مبارک شه حاجتونه دِ پوره شو، که یو مسافر راشی تاته صبا نو هغه به حُماد طرفه وی. یعنی دالله ﷻ طرفه

○ چونکه ایداو حکیم حاذق ست - صادقش دان کو امین و صادق ست

ت :- هرکله چه راشی هغه (ته پے یقین اوکړه چه) پوهه او هُنرمند دے، رشتینے هغه وکنړه حُکه هغه اعتمادی او صادق دے.

○ در علاجش سِحر مطلق را ببیں - در مزاجش قدرت حق را ببیں

ت :- په علاج د هغه کښے تاثیر کامل اُووینه، په مزاج د هغهٔ کښے قدرت د حق تعالیٰ وکنړه.

ش :- یعنی د هغه په علاج کښے ربانی طاقت دے.

○ خفته بود این خواب دید آگاه شد - گشته مملوکِ کنیزک شاه شد

ت :- اوده وو نو د خوب اُولیدهٔ نو ویښ شو، دوینځے غلام شوے وو نو بادشاه شو

ش :- یعنی دغم د عشق دو چے نه د غلامانو پشان ذلیل شوے وو، اوس د خوب دلیدو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دوجے نه دغمر نو نه آزاد شو، نو بادشاه شو۔

چوں رسید آں وعدہ گاہ و روز شد۔ آفتاب از شرق اختر سوز شد

ت:- هر کله چه ورسید وخت دوعدے او ورځ شوه او نور د مشرق نه ستوری وسو یعنی ختم کړه۔

بود اندر منظرہ شہ منتظر تا بہ بیند آنچہ نمودند سر بسر

ت:- او په لار کښے بادشاه منتظر چه وینی هغه چه هغه ښکاره کړے وو سر

ش:- یعنی بادشاه په لار کښے منتظر وو چه د ښکلی خوب تعبیر او وینی۔

دید شخصے کاملے پر مایہ۔ افتالے در میانِ سایہ

ت:- وے لیدو یو سړے کامل چک د پرځے نه نمر وو په مینځ د سورې کښے۔

میر رسید از دور مانند ہلال۔ نیست بود و ہست بر شکل خیال

ت:- ورسید دلرے نه پشان ده میاشتے عدم وو او موجود وو پشان د خیال

ش:- یعنی هغه بود د میاشتے پشان نږدے وو او ظاهر بدن د وجے نه عدم وو، او د کمال باطنی د وجے نه موجود وو نکه د خیال ظاهری نیشتے او قول تجویز و نه د دنیا د خیال نه روان دی۔

نیست وش باشد خیال آندر جہاں۔ تو جہانے بر خیالے بیں رواں

ت:- د عدم پشان دے خیال په جهان کښے، ته جهان خیال باندے او وینه روان!

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: دا انتقال دے پاره د بیان د عظمت د خیال، یعنی د خیال صورة حسی نیشتے او تول تجویز وتلہ د جهان په خیال روان دی یعنی سړے مخکښ خیال وکړی دیوکار بیا دغه کار کوی۔

بر خیالے صلح شاں و جنگ شاں ۔ وز خیالے فخر شاں و ننگ شاں

ت: د په خیال ده صلح ده خلقو او جنگ د خلقو، او د خیال نه دے فخر د دوی او شرم د دوی۔

ش: یعنی صلحه د خلقو او جنگ د خلقو او فخر د خلقو او شرم د خلقو تول د خیال نه وی یعنی مخکښ خیال وکړی بیا صلحه کوی د غسے نور کارونه دی

آں خیالاتیکه دام اولیاست ۔ عکس مہ رویان بستان خداست

ت:۔ هغه خیالات چه دام د اولیاؤ دی عکس د معشوقو د باغچے د خدائے وی۔

د تعین د څه خیال دے، چه هغه ربانی خیال څه دے نه دنیوی وساوس، یعنی د غه ربانی خیالات اولیاؤ د باری تعالیٰ تعلق ته رسوی۔ د غه خیالات د باری تعالیٰ د علوم فیوضات او عکس دی۔ چه دا د باری تعالیٰ د باغ د علم خائسته ډکی او معشوقے دی۔

فائده:۔ مولانا اطلاق د خدائے وکړو نو معلومه شوه چه اطلاق د خدائے په باری تعالیٰ جائز دے، مولانا بے دلیله خبره نه کوی، دے څه عالم متقی او کامل عارف دے، د غسے شیخ سعدیؒ او حافظ شیرازی د اطلاقات کړیدی۔ او اسماء د باری تعالیٰ په مذهب غیر منصور باندے توقیفی نه دی، بلکه هر اسم چه دلالت په عظمت کوی نو د هغهٗ اطلاق په باری تعالیٰ جائز دے او په مذهب منصور اسماء د باری تعالیٰ توقیفی دی یعنی د هغے اسم اطلاق به په باری تعالیٰ کیږی چه د هغهٗ نقل وی یا د هغه معنیٰ لکه لویه مهربانه، د معنیٰ د رحمٰن ۔ د غسے خدائے په اصل کښے خو دا دے یعنی واجب لذاته او د معنیٰ د واجب الوجود ده۔ او حاصل د معنیٰ د الله دے چه معبود دے ځکه چه په وجود کښے چاته محتاج نه دے بلکه پخپله موجود دے پخلاف د ممکن نه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چه د هغه وجود د الله تعالیٰ نه دے ،

○ آں خیالے را کہ شہ در خواب دید  در رخِ مہماں ہمے آمد پدید

ت:۔ هغه خیال چه بادشاه په خوب کښے لیدلے وو، هغه د دغه میلمه په مخ کښے ښکاره کیده ۔

ش:۔ دا عود دے قصے ته ۔

نورِ حق ظاہر بود اندر ولی ۔ نیک بیں باشی اگر اہل دلی ۔

ت:۔ نور د باری تعالیٰ ښکاره وو په ولی کښے، تاسو هم که لیدلے وی که عاقل او زړه بصیرت والا ئے ۔

ش:۔ دا انتقال دے دیته چه ولی پیژندے کیږی، د هغه خاص نور وی ۔

آں ولیٔ حق چو پیدا شد زدور ۔ از سرا پایش ہمے میریخت نور

ت:۔ د دغه ولی د حق تعالیٰ هر کله چه ظاهر شو د لرے نه، د سر او څپو نه ئے نور اړ تاویدو ۔

ش:۔ دا بیا قصے ته عود دے، اصلی مقصد د مولانا انتقال دے قصه ذریعه ده لکه او ګے د غلے دپاره

شہ بجائے حاجباں در پیش رفت  پیش آں مہمان غیب خویش رفت

ت:۔ بادشاه پخپله د نوکرانو مخے له لاړ، مخے د دغه مهمان غیبی خپل له لاړو ۔

ش:۔ یعنی د نوکرانو پخپله استقبال لره لاړو د اکرام دپاره، دا ډیر اکرام دے چه بادشاه پخپله استقبال لره حئ ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ضیف غیبی را چو استقبال کرد۔ چوں شکر گوئی کہ پیوست او بورد

ت:۔ هر کله چه د غیبي میلمه استقبال ئے اوکړو، نکه شکر چه یوځائے شی د کلاب سره۔

ش:۔ کل قند چه جوړ وی نو د کلاب پانړے او شکره یوځائے کړی

هر دو بحری آشنا اموخته۔ هر دو جاں بیدوختن بر دو ختہ

ت:۔ دواړه بحري ووّ لامبو دواړو ایزده کړیوه، د دواړو روح بے ډکنډلو نه ډکنډلے ووّ۔

ش:۔ یعنی دواړه د دریاب د معرفت ملګری، دواړو ته د معرفت لامبو معلومه وه د هغوی تعلق دینی ووّ نسبی نه ووّ۔

گفت معشوقم تو بودستی نہ آں۔ لیک کارلز کار خیزد در جہاں

ت:۔ بادشاه اووے معشوقه ځما ته ئے نه هغه، لیکن کار د کار نه جوړیږی په جهان کښے

اے مرا تو مصطفیٰ من چوں عمر۔ از برائے خدمتت بندم کمر

ت:۔ اے هغه انسان چه مالره ته پیشان د مصطفیٰ ئے اوځه پشان د عمرؓ یم د پاره د خدمت ستا ترم ملا ځپله۔

دا حکایت دے د مولانا د طرفه نه د غه بادشاه خو په مخکښے زمانه کښے ووّ، یعنی ته متبوع او ځه تابع یم۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# درخواستن توفیق رعایت آدب و خامت بے آدبی

ت :- غوختہ د توفیق د لحاظ د آدب، او بیان د نقصان د بے آدبئ ۔

ش :- دا انتقال ترغیب دے آدب تہ بادشاہ دخپل میلمہ آدب کړیوو ۔

ازخدا جوئیم توفیق ادب ۔ بے ادب محروم ماند از فضل رب

بانی شعر

ت :- دباری تعالیٰ نہ غواړو توفیق د آدب بے ادبہ محرومہ شو د فضل د رب نہ ۔

بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد ۔ بلکہ آتش در ہمہ آفاق زد

یو فی خذہ نہ خبر د خرابی

ت :- بے آدبہ یو اے خان لرہ بد نہ کړو ، بلکہ اورے پہ ټولو اطرافو کښے اولږوو ۔

ش :- یعنی نور خلق بہ بے ادبی شروع کړی نو عذاب ټولو تہ بہ راځی ۔

مائدہ از آسمان در میرسید ۔ بے شرا و بیع و بے گفت و شنید

ت :- طعام د آسمان نہ راتلو بے د خرید و فروخت نہ او بے د وینا او بے د اوریدو نہ

ش :- یعنی بے د طلب نہ د آسمان نہ طعام راتلو من وسلویٰ ۔ بقرہ رکوع ۷ ۔

در میان قوم موسیٰ چند کس ۔ بے آدب گفتند کو سیر و عدس

ت :- پہ مینځ د قوم د موسیٰ علیہ السلام کښے څو کسان وو بے ادبہ خبرے وغواړلو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چه اوګه اونسک کوم ځای دی

ش:یعنی مونږه اوګه اونسک خواږه دمن وسلوی پځای ۔ بقره ع۷

منقطع شد خوان و نان از آسمان ۔ ماند رنج زرع و بیل و داسمان

عم دفصل دبیلچه او داسونو.

ت:۔ ختم شو طعام او روټی د آسمان نه ، پاتے شو تکلیف د فصل او د بیلچے او د غاخور ۔

ش:۔ یعنی د زمینداری تکلیف شروع شو او تیار طعام ختم شو۔

باز عیسیٰؑ چوں شفاعت کرد حق ۔ خوان فرستاد و غنیمت بر طبق

موافق دسوال د عیسیٰ ع

ت:۔ بیا عیسیٰ علیه السلام چه سفارش اوکړو حق سبحانه تعالیٰ طعام را اولیږو اومفت موافق دسوال د عیسیٰ علیه السلام ۔

ش:۔ یعنی د غسے مفت هغه غوختے وو ۔

مائدہ از اسماں شد عائدہ چونکہ گفت اَنْزِلْ عَلَیْنَا مَائِدَۃً

دوباره شر

ت:۔ دستر خوان د آسمان نه دوباره شروع شو ، هرکله چه عیسیٰ ع اووے چه را اولیږه مونږ ته دستر خوان ۔ مائده ع۱۴

ش:۔ یعنی طعام راوسیکه مونږ ته ۔

باز گستاخاں ادب بگذاشتند ۔ چوں گدایاں زلہا برداشتند

ت:۔ بیا بے آدبو ادب پریخوده پشان د چرپانو ترکړے ئے کیخودے ډیره طاقونه کښے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کرد عیسیٰؑ لا بہ الیشاں راکہ ایں۔ دائیم ست وکم نگردد از زمیں

ت :۔ اوکړه عیسیٰ علیه السلام دویته په سره خبره چه همیشه دے دا طعام اوکم نه کرجیٔ د زمکے نه۔

ش :۔ یعنی ذخیره اندوزی څله کوی صبا بیا دا طعام راځی اودائم دے۔

بدگمانی کردن وحرص آوری کفر باشد پیش خواں مہتری

ت :۔ بدګمانی کول اوحرص کول کفر دے په مخ دطعام شاهی کښے۔

ش :۔ یعنی دا ذخیره اندوزی کفران نعمت دے، شکر دادے چه په اعتماد سره ئے وخوړے

زاں گدارویاں نادیدہ زآز ۔ آں دررحمت برالیشاں شد فراز

ت :۔ ددغه چرپانو نادیدو نه دغه دروازه درحمت ددوی دحرص دوجے نه پدوی بنده شوه۔

ش :۔ یعنی دکفران نعمت دوجے نه دغه طعام ختم شو، دغه پدوی عذاب وو دوجے دم ناشکرئ نه۔

من وسلوٰی زآسماں شد منقطع ۔ بعد زاں زاں خواں نشد کس منتفع

ت :۔ مَن اوسلوٰی د آسمان نه بند شو، بیاد دغه طعام نه څوک نفعمند نشو۔

ابر ناید از پئے منع زکات ۔ وز زنا افتد وبا اندر جہات

ت :۔ وریځ نه راځی دوجے دمنع کولو د زکوٰة نه او د زنا نه، راځی وبا په اطراف کښے دانتقال دے دیته چه دګناه دوجے نه عذاب راځی۔ مَآ اَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيكُمْ . شوری ع۳ هغه چه تاسو ته رسی څه مصیبت نو سبب ئے ستاسو دلا سو کړتہ دہ۔ وَمَا اَصَابَ مِن مُصِيبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ۔ تغابن علا ۔ مصیبة صرف د اللہ پحکم سره راځی ۔ معلومه شوه چه د مصیبة سبب د انسان بدعمل دے او مصیبة را وستونکے صرف اللہ تعالیٰ دے ۔

○ ہر چہ اید بر تو از ظلمات غیم ۔ آں ز بیباں کی و گستاخی ست غم

ت :۔ هر څه چه راځی په تا تکلیفونه دغم ، دغه د بے باکئ او بے شرمئ نه دی

○ ہر کہ بیباکی کند در راہ دوشت ۔ زہزن مرداں شد و نامرد اوست

ت :۔ هر څوک چه بیباکی کوی په لاره د دوست کښے ، نو رہزن د سړو دے او ناسړے دے

ش :۔ یعنی د باری تعالیٰ په احکامو کښے چه غلطی کوی نو دے ډاکو دے نور خلق خرابوی د د خاص غټ گناه بیان دے چه نور و خلقو ته دینی نقصان رسوی ۔

○ بُد ز گستاخی کسوف آفتاب ۔ شد غراز یلے ز جرأت رد باب

ت :۔ شو د گستاخی نه تندر د نور او شو عزازیل د گناه نه شرلے د دلبار الٰہی نه

بُد په اصل کښے بُود وو ، دا دبل گناه بیان دے ۔ یعنی دا دویم تخصیص دے ۔ مطلب دادے چه د گناه د دوجے نه عذاب راځی ، او گوره تندر تله او مردود والی د ابلیس تله ۔

○ ہر کہ گستاخی کند اندر طریق ۔ گردد اندر وادیٔ حیرت غریق

ت :۔ څوک چه بے شرمی کوی په لاره د دین کښے ، نو گرځی په گنده د تحیر کښے غرق ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش:- داد بیباکئ دمضمون اعاده ده، یعنی بے باکه آخر غرقیکی ۔

حال شاه و میهماں بر گو تمام ۔ زانکه پایانے ندارد ایں کلام

ت:- حال د بادشاه او د میلمه پوره کړه، ځکه چه اِنتهانه لری دا کلام ده دین۔

ملاقات بادشاه با طبیب الٰهی که در خوابش دیده بود و بشارت بقدوم او داده شد

ت:- ملاقات د بادشاه د طبیب اِلهی سره چه هغه په خوب کښے لیدلے وو، او زیږے په راتلو د هغهٔ ورکړے شوے وو۔

شه چو پیشش مهمانِ خویش رفت ۔ شاه بود و لیک پیشِ درویش رفت

ت:- بادشاه چه هغے د خپل میلمه ته لاړ، بادشاه وُو لیکن د پیر فقیر لاړ۔

دست بگشاد و کنارش گرفت ۔ همچو عشق اندر دل و جانش گرفت

ت:- لاسونه ئے او غوړول او هغهٔ ئے په غیږ کښے ونیوه پشان د عشق په زړه او په روح کښے ئے هغه ونیوو۔

دست و پیشانیش بوسید و گرفت ۔ وز مقام و راه پرسیدن گرفت

ت:- لاس او تندے د هغهٔ ښکلول شروع کړل، د مقام او دلارے نه ئے تپوس شروع کړو۔

ش:- یعنی څنګه راغلے او لار څنګه وه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



پرس پرساں میکشیدش تا بہ صدر۔ گفت گنجے یافتم اما بہ صبر

ت:۔ پہ تپوس تپوس سرہ ئے ھغہ بوتلو صدر مقام تہ، اوبی وے چہ ما خزانہ بیا مونده نیکن پہ صبر سرہ۔

صبر تلخ آمد ولیکن عاقبت میوہ شیریں وہد پر منفعت

ت:۔ صبر ترخ راغلید ے لیکن پہ انجام کښے میوہ خوږہ ورکوی د نفعے نہ ډکہ۔

ش:۔ دا ۱۱ نتقال دے ترغیب ورکوی صبر تہ۔ مخکښ د صبر بیان وو۔

گفت اے نور حق و دفع حرج معنی الصبر مفتاح الفرج

ت:۔ ھغہ اوویہ اے نور د حق سبحانہ او دفعہ کونکیہ د تکلیف او تہ مصداق دد ے حدیث ئے، چہ صبر کنجی د تکلیف دہ۔

ش:۔ دا بیا قصے تہ عود دے

اے لقائے تو جواب ہر سوال مشکل از تو حل شود بے قیل وقال

ت:۔ اے ھغہ کسہ چہ ملاقات ستا جواب دھر سوال دے، او مشکل ستا نہ ختمیږی بے شکہ۔

ش:۔ دا معنٰی د دے دہ چہ تہ دفعہ د خرچ ئے۔

ترجمان ہر چہ مارا در دل ست۔ دستگیر ہر چہ پایش در گل ست

ت:۔ بیانوی مونږ تہ ھر څہ حموږ پہ زړہ کښے، او امداد دھغہ چا کوے چہ د ھغہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چې په خټو کښے دی

ش:- اِلهام د اولیآءِ حق دے او غیر اختیاری دے پشان د کرامة د اولیآء یا د معجزے د انبیآء - یعنی په الهام سره حمونږه خبرے معلومے ، دا استغراق عرفی دے یعنی کومه خبره چه پیښه شی ، او امداد دهغه په اعتبار د اسباب ظاهره سره دے ، یعنی کرانے کرانے مسئلے بیانوی ، او بعض اوقات حمونږ د زړه خبرے هم کوی ، یعنی تهلوے عالم ئے او صاحب کرامة ولی ئے -

مَرحَبًا یَا مُجتَبٰے یَا مُرتَضٰے - اِن تَغَب جَاءَ القَضَا ضَاقَ الفَضَا

ت:- پخیر راغلے اے غوره ، اے پسندیده ، که ته غائب شوے نو حمامرک به راشی ، او فضا به ما باندے تنګه شی

ش:- دا بیان د شوق د ملاقات او اظهار غم د جدائ دے -

اَنتَ مَولَی القَومِ مَن لَّا یَشتَهِ - قَد رَدٰی کَلَّا لَئِن لَّم یَنتَهِ

یا تکذیبی

واړه دے وے دی اپنے خاوند نه -

ت:- ته مولی د قومے هغه څوک چه نه غواړی قدر ددهٔ هغه به مصداق دے ایت شی کَلَّا لَئِن لَّم یَنتَهِ لَنَسفَعًا بِالنَّاصِیَةِ الخ علق ع۱ دا سے خلاف نه دے پکار که هغه منع نه شو نو هغه به ئے راکاږم په اوچولی سره -

ش:- یعنی عذاب به ورله سخت وکړم -

چوں گذشت آں مجلس و خوان کرم - دستِ او بگرفت و بُرد اندر حرم

دستر خوان دسترخوان

ت:- هر کله چه ختم شو دغه مجلس او طعام د سخا لاس د هغه ونیوو او هغه ئے بوتلو دربار ته -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# بردن بادشاہ طبیب غیبی را بر سرِ بیمار

ت :- بوتلہ د بادشاہ طبیب غیبي لرہ څنګے د مریض تہ .

قصہ رنجور و رنجوری بخواند  بعد ازاں در پیش رنجورش نشاند

د مریض او د مرض ئے هغه تہ اوکړي  خو د بیمار سره کینوو

ت :- قصه د مریض او د مرض ئے بیان کړه ، بیائے په مخ د مریض کښے کینوو .

رنگ، رو و نبض و قارورہ بدید۔ ہم علامتش ہم اسبابش شنید

ت :- رنګ او مخ او نبض او شیشه د وړو بولوئے ولیده، هم علامے د مرض او اسباب د مرض ئے واوریده .

گفت ہر دارو کہ ایشاں کردہ اند۔ آں عمارت نیست ویراں کردہ اند

د خلقو کړي دي  د علاج نه  هغه

ت :- هغه اووے هر دارو چه دغه طبیبانو کړیدی هغه علاج ندے هغوی ورانے کړیدے .

بیخبر بود از حال درون۔ اَسْتَعِیْذُ اللّٰہِ مِمَّا یَفْتَرُوْنَ

ت :- بے خبره وو د دے د حال نه ، ا من غواړم د الله تعالیٰ نه د هغے دروغونه چه دوی جوړوی .

دید رنج و کشف شد بروے نہفت  لیک پنہاں کرد و با سلطاں نگفت

معلومه سوه  د ده هم خپلواری

ت :- معلوم ئے کړو تکلیف د جینئ او بشکاره شو پدہ پټ حال لیکن پناه ئے کړو او بادشاه ته ئے اونه وے .

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رنجش از صفرا و از سودا نبود۔ بوے ہر بیزم پدید آید زدود

ت:۔ تکلیف د هغے د سودا او د صفرا نه نه وو، بوے د هر بزکی بنکاره کیږی دلوږی نه۔

ش:۔ سودا صفرا، بلغم او وینه ددے څلورو اجزاو نه بدن د انسان مرکب دے، د هر څیز چه غلبه وی نو مرض پیدا کیږی او چه قول برابر وی نو انسان جوړ وی۔ او دا څلور اجزا متضاد دی نو ځکه جوند عارضی او مرګ اصلی دے

دید از زاریش کو زار دل ست۔ تن خوش است و او گرفتار دل ست

ت:۔ معلومه ئے کړه د دغه زاری نه چه د دغه زاری د زړه ده تنِ جوړ دے او گرفتار د زړه ده۔

عاشقی پیداست از زاری دل۔ نیست بیماری چو بیماری دل

ت:۔ عاشقی بنکاره کیږی د زاری د زړه نه، نیشتے بیماری پشان د بیماری د زړه۔

ش:۔ دا انتقال دے احوال د عشق بیانوی۔

علت عاشق ز علتها جداست۔ عشق اصطرلاب اسرار خداست

ت:۔ مرض د عاشق د نورو مرضونو نه جدا دے، عشق آله د رازونو د خدائے تعالیٰ ده۔

ش:۔ اصطرلاب یو آله ده د علم ریاضی، یعنی د عشق نه رازونه د معرفت الٰہی بنکاره کیږی

عاشقی گرزیں سر و گزراں سر ست۔ عاقبت ما را بداں شہ رہبر ست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- عاشقی که مجازی وی د دے طرف ، او که د دغے طرف حقیقی وی په اخیر کښے مونږ ته ره دغے بادشاه حقیقی ته رهبری کوی .

ش :- عشق حقیقی خو بے شکه رهبر دے او عشق مجازی پدے اعتبار سره رهبر دے چه په عشق مجازی کښے تعلقات د غیرالله کټ شی صرف تعلق د دغه یو معشوق پاتے شی دهغے تعلق چه ازاله او شی نو زړه به تعلق بالله حاصل شی - البته پدے عشق ظاهری کښے کامل یقین دے چه دا عاشق به چرے پدے وسیله کښے بند پاتے شی او په بدعملئ به کرفتار شی که نور ناروا د حیا د وجے نه شی کولے البته په بد نظر کښے به ضرور مبتلا وی العَیْنَانِ تَزْنِیَانِ (حدیث) ستر کے زنا کوی .

ہر چہ گویم عشق را شرح و بیان ۔ چوں بعشق آیم خجل باشم ازاں

ت :- هر څه چه وایم د عشق شرح او بیان ، هر کله چه عشق ته راشم نو شرمنده شم د هغه نه .

ش :- یعنی حمًا بیان د عشق حال پوره نشی بیانولے .

گرچہ تفسیر زبان روشنگر است ۔ لیک عشق بیزباں روشنتر است

ت :- اگرچه تفسیر د ډیر روښانه دے ، لیکن عشق بے زبانه ډیر روښانه دے

ش :- یکه د سړے په خوږ والے د بیان نه څه نه معلومیږی بلکه د خوږلو نه څه معلومیږی

چوں قلم اندر نوشتن میشتافت ۔ چوں بعشق آمد قلم بر خود شگافت

ت : هر کله چه قلم په لیکلو کښے منډه کړه ، هر کله چه عشق ته راغے نو قلم پخپله څیرے شو .

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش:- یعنی قلم نور څه څه لیکلے شی خو د عشق د بیان نه عاجز دے، عشق ذوقی شے دے
لکه د کعبین خوښ والے -

**چوں سخن در وصف ایں حالت رسید - ہم قلم بشکست و ہم کاغذ درید -**

ت:- هر کله چه خبره بیان د عشق ته ورسیده، نو هم قلم مات شو او هم کاغذ څیری شو

**عقل در شرحش چو خر در گل بخفت - شرح عشق و عاشقی ہم عشق گفت**

ت:- عقل په بیان د عشق کښے پشان د خر په خټه کښے اوښتو، شرح د عشق او د عاشقی
هم عشق وکړه -

ش:- دا د هغه زور مضمون اعاده ده چه عشق ذوقی شے دے -

**آفتاب آمد دلیل آفتاب - گر دلیلت باید از وے رو متاب**

ت:- نمر د رڼا دلیل دے نمر که ته دلیل غواړے نو د هغه نه مخ مه تاوه

**از وے ار سایہ نشانے میدہد - شمس ہر دم نورِ جانے میدہد**

ت:- د دے نمر نه که سوره نشانه ورکوی نو شمس حقیقی هر وخت نور د روح ورکوی

ش:- دا انتقال دے د شمس ظاهری نه شمس حقیقی ته چه باری تعالیٰ دے یعنی شمس
ظاهری خو په سوری سره معلومیږی لکه چه سوره د هغه ضد دے او ضد سره اشیاء
معلومیږی لکه خوښ په تړخ سره لیکن شمس حقیقی هر وخت نور د روح ورکوی
هغه لره ضد نیشته نو شمس ظاهری کالعدم شو په نزد د شمس حقیقی، نو کل مخلوق دغسے
دے -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سایہ خواب ارد ترا ہمچوں سمر ۔ چوں برآید شمس انشق القمر

ت :۔ سورے خوب راولی تالرہ پشان دقصود شپے، ھر کلہٗ راشی شمس حقیقی نوخرے شی سپوبنی ۔

ش :۔ دا د شمس ظاھری او د شمس حقیقی مقابلہ دہ یعنی شمس ظاھری غروب کوی نو تیارہ شی او خلقو لرہ خوب ورشی لکہ پہ قصو سرہ چہ خوب ورځی خلقولرہ او شمس حقیقی لرہ غروب نیشتے ۔ د ھغہ پہ تصور سرہ ممکنات د تصور نہ وځی، یعنی د شمس حقیقی پمقابلہ کښے کل ممکنات کالعدم دی ۔ لکہ د شمس ظاھری مخکښے سپوبنی ۔

خود غریبے در جہاں چوں شمس نیست ۔ شمس جان باقیست کورا امس نیست

ت :۔ یقیناً مسافر پہ جہان کښے پشان د نمر بل څوک نیشتے نمر د روح باقی دے ھغہ لرہ بیکاہ نیشتے ۔

د ھم د شمس ظاھری او د شمس حقیقی مقابلہ دہ ۔ یعنی شمس ظاھری متغیر متبدل لکہ مسافر ، او شمس حقیقی متغیر ندے بلکہ قدیم دے ۔ نو شمس ظاھری کالعدم دے پہ نسبت د شمس حقیقی ۔

شمس در خارج اگرچہ ہست فرد ۔ مثل او ہم میتواں تصویر کرد

ت :۔ نمر پہ خارج کښے اگر چہ یو دے، لیکن د مثل دده ھم تصور ممکن دے

ش :۔ نمر کلی منحصر فی فرد دے سرہ دا امکان د فرد آخر نہ یعنی امکان عقلی شتے چہ بل نمر دھم پیدا شی بخلاف د باری تعالیٰ نہ چہ د ھغہ سرہ بل فرد ممتنع عقلی دے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- لیکن هغه نمر که تابع د هغه شو

ش:- یعنی هغه بے مثل دے موجود دائمًا دے پخلاف دممکن نه -

**شمس تبریزی که نور مطلق ست - افتاب است وزانوار حق ست**

ت :- شمس الدین تبریزی چه کامل نور دے، نمر دے او دباری تعالیٰ دانوار نه دے

ش:- دا انتقال دے شمس الدّین صاحب ته چه د مولنا صاحب پیر دے یعنی داحمًا پیر دشمس ظاهری اود شمس حقیقی سره مشارکت اِسمی لری دے د شمس ظاهری نه کامل دے دده هدایت باقی دے او شمس ظاهر غروب قبلوی اود شمس حقیقی نه کم دے خوورده انوار او هدایات د شمس حقیقی نه دی - نو دے په نسبت د شمس حقیقی کالعدم دے -

**چوں حدیثِ روئے شمس الدین رسید - شمس چارم آسماں سر در کشید**

ت :- هر کله چه خبره د مخ د شمس الدین راغله نو نمر د څلورم آسمان سر پناه کړو -

ش:- یعنی د شمس الدین رنړا د شمس د څلورم آسمان نه پیره ده ، ځکه غروب قبلوی اوده هدایات باقی دی نو دے نمر سر پناه کړو د شرم نه -

فائده :- د نمر په څلورم آسمان کښے کیده عرفی خبره ده نه دینی -

**ایں نفس جاں دامنم برتافتہ ست - بوے پیراہاں یوسف یافتہ ست**

ت :- پدے وخت روح حمالمن نیولے ده، بوئ د قمیص دیوسفؑ نه ځے موندلے -

ش:- لکه چه یعقوب علیه السلام د قمیص دیوسف علیه السلام نه دیوسف علیه السلام

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مشتاق شو، دغسے د شمس الدین د ذکر نه دے د هغهٔ مشتاق شو، نو روح مولنا لره مجبور کوی چه ماته د پیر صاحب حال د هغه مسئله د وحدة الوجود بیان کړه۔

کز برائے حق صحبت سالہا۔ باز گوید مزے ازاں خوش حالہا

ت:۔ دپاره د صحبت د پیر و کلونو اُووایه لږ شان د دغه خه حال نه۔

تا زمین و آسمان خنداں شود۔ عقل و روح و دیدہ صد چنداں شود

ش:۔ چه زمکه او آسمان خوشحاله شی عقل او روح او ستر کے سل چنده روښانه شی۔

ش:۔ یعنی ران د مسئلے د وحدة الوجود اُووایه چه د زمکے او آسمان خلق خوشحاله شی په بیان د دے مسئلے سره، که یقین په الله تعالیٰ سرور دے، او یقین په مخلوق عذاب دے او حما عقل او روح او ستر کے به سل چنده منوّر ے شی، یعنی حما د یقین نه په باری تعالیٰ به په هر ہوش کښے زیادة راشی۔ داد توحید اثر دے۔

گفتم اے دور اوفتادہ از حبیب۔ ہمچو بیمار یکہ دور است از طبیب

ت:۔ ماورته اُووے چه لرے ارتاوه د دوست نه، پشان د هغے بیمار چه لرے وی د طبیب نه۔

لَا تُكَلِّفْنِي فَإِنِّي الْفَنَاءُ حَلَّتْ أَفْهَامِي فَلَا أُحْصِي ثَنَاءَ

ت:۔ مالره تکلیف مه راکوه خو بے خوده یم بے کاره دی حواس حما نو څه صفت د باری تعالیٰ نه شم کولے۔

ش:۔ مسئله د وحدة الوجود نشم بیانولے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کُلُّ شَیٍٔ قالَہٗ غَیرُ اللَّبِیقِ ۔ اِنْ تَکَلُّف اَوْ تَصَنُّع لَا یَلِیقْ

ت :۔ ہر شئی لرہ چہ وائی بے خودہ سرہ کہ دیر تکلیف کوی یا لاپے کوی نو مناسب نہ

ہرچہ میگوید موافق چوں نبود ۔ چو تکلّف نیک نا لایق نمود

ت :۔ ہر خہ چہ وائی دغہ بے خودہ چونکہ موافق نہ دی دموقعے سرہ نو ھغہ پشاد بناوت مناسب نہ دی ۔

من چگویم یک رگم ہشیار نیست ۔ شرحِ آں یارِ یکہ آنرا یار نیست

ت :۔ حُہ چہ خہ وایم حُما یو رگ پہ خود نہ دے ، بیان دھغہ یار چہ ھغہ لرہ شریک نیشتے ۔

خود ثنا گفتن زمن ترکِ ثناست ۔ کایں دلیل ہستی و ہستی خطاست

ت :۔ ثنا ویل حُما ترک د ثنا دے ، دا دلیل د ھستئ دے او ہستی خطا دہ ۔

ش :۔ یعنی صفت کول نو جوند دے کوی او جوند د غیر اللہ غلط دے ۔

شرحِ ایں ہجراں و ایں خونِ جگر ۔ ایں زماں بگذار تا وقتِ دگر

ت بیان د دے ھجران او د دے وینو د زړہ پدے وخت پریدہ بل وخت تہ ۔

قالَ اطْعَنِی فَاِنِّی جَائِعٌ ۔ فَلْتَعْجَلْ فَالْوَقْتُ سَیْفٌ قَاطِعٌ

ت :۔ اُووے روح چہ مالہ خوراک راکړہ (د بیان دمسئلے دتوضیح لپارہ حُہ وکے یم (مشتاق یم)

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تادی کوه وخت بنو توره غوځونکے ده۔

ش:۔ یعنی تیره تُوره چه څه غوځوی دغسے وخت ختمیږی، نومالړه تاریخ مه ډکوه تادی کوه وخت ختمیږی۔

صوفی ابن الوقت باشد اے رفیق ۔ نیست فردا گفتن از شرط طریق

ت:۔ صوفی دوخت پابندوی اے مګریه، نیشتے صباویل په شرط د طریقت کښے۔

ش:۔ ابن الوقت هغه صوفی دے چه دے مغلوب وی، واردات په ده غالب وی نو دے حال والئ، دته مجذوب او قلندر هم وائی۔ او ابوالوقت هغه صوفی دے چه دے د شرعے موافق چلیږی، دلته هغه صوفی مراد دے د ابن الوقت نه چه دوخت پابندوی دابله اصطلاح ده۔

صوفی ابن الحال باشد در مثال ۔ گرچه هر دو فارغ اند از ماه و سال

ت:۔ صوفی ته ابن الحال (یا ابن الوقت یا ابوالوقت) ویل مثال دے دواړه د میاشتے اود کال ته فارغ دی۔

ش:۔ یعنی دا اطلاقات مجازی دی، ذکر د واردات مراد ترینه وقت دے۔ ذکر د مظروف او مراد ترینه ظرف دے، نور واردات او صوفی دواړه دوخت پابند نه دی، یعنی د واردات معنیٰ عین وخت نه دے لکه د صوفی چه د وخت سره تعلق نه وی۔

تو مگر خود مرد صوفی نیستی ۔ نقد را از نسیه خیز دنیستی

ت:۔ مګر ته یقیناً سړے صوفی نه ئے، نقد ته د نسیا نه رسی نقصان۔

خوشتر آں باشد کہ سرِّ دلبراں ۔ گفتہ اید در حدیث دیگراں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :۔ ما روح تہ اُووے چہ پتہ خہ دے راز دیار تہ پہ ضمن دقصہ کښے غوڑ کیڈ (راز تہ)

ب ۔ خوشتر آں باشد کہ سر دلبراں ۔ گفتہ اید در حدیث دیگراں

ت :۔ خہ ھغہ وی چہ راز دمعشوقو اوویلے شی پہ خبرہ د نورو کښے ۔

ب ۔ گفت مکشوف و برہنہ بے غلول ۔ باز گو رنجم مدہ اے بوالفضول

ت :۔ روح اووے ظاھر اوبرینہ بے دخیانت نہ اووایہ (توحید) ما ھم خفہ کوہ اے بے فائدے سرہ یہ ۔

ش :۔ یعنی پتہ خبرہ کول خیانت دے اوبے فائدے خبرے دی ماتہ مسئلہ وحدۃ الوجود پہ ڈاکہ

ب ۔ باز گو اسرار و رمز مرسلین ۔ اشکارا بہ کہ پنہاں سیر دین

ت :۔ او وایہ راز ونہ د پیغمبرانو ، ظاھر غورہ دے نہ پت راز دین ۔

ش :۔ مدلول مطابقی د لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ دے نفی دمعبودیت دغیر اللہ او مدلول التزامی دے نفی دوجود دغیر اللہ نہ یعنی معبود ھغہ ذات وی چہ ھغہ حاجت روا مشکل کشا ، عالم الغیب دا بغیر د اللہ تعالیٰ نہ بل څوک نیشتے نو وجود دغیر اللہ عاجز کم علم کالعدم دے

ب ۔ پردہ بردار و برہنہ گو کہ من کیم ۔ من نگنجم با صنم در پیرہن

ت :۔ پردہ پورتہ کرہ او پہ ڈاکہ اُووایہ (مسئلہ توحید) چہ ځہ کنجائش نہ لرم دمعشوقے سرہ د قمیص نہ ۔

ش :۔ یعنی ضمنی خبرہ نہ غواړم بلکہ تصریح غواړم ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خبزہ او ہستالا

گفتم ار عریاں شود او در عیاں ۔ نے تو مانی نے کنارت نے میاں

ت :۔ ما ورتہ اُو وے کہ پہ ہیڅ کہ شی هغہ (مسئلہ دوحدۃ الوجود) په نظر کښے نونہ
به ته پاتے شے او نہ غیب ہ ستا او نہ مَلا ستا۔

ش :۔ یعنی دد ے راز د اظہار نہ تہ یا مثل ستایل سرے به لاندے باندے شی ، یعنی کمراہ به
شی دا مسئلہ به وہ نہ منی۔

ارزومیخواہ لیک اندازہ خواہ بر نتابد کوہ را یک برگ کاہ

لغت (لادخر ۔ ۱ یا ہیزو راتی)

ت :۔ ارزو اُو غواړہ خو پدا اندازہ او غواړہ ، طاقت نه لری غر لږه یوه پانړه دوخو۔

افتابے کز دے ایں عالم فروخت ۔ اندکے گر پیش اید جملہ سوخت

دیرا کہ

ت :۔ دمثر نه چه دا عالم رنړا دے لږ که مخے ته راشی نو هر څه به اُوسیزی ۔

بے حجابی اسیں کہ ہر جیوے سے آ شکارہ اور حجاب اسیں کہ صورت آ جو تک نہ یکھیں سیناں ،

تا نگردد خوں دِل جان جہاں ۔ لب بدوزد دید بر بنداید زماں

لگنوہ او ستر گی سبہ ی کړہ

تو اینہ کر حی دینہ نہ ړہ

ت :۔ چه او نه کړی وینے دزړہ اُهل دجهان ، شونډے بند کړہ او ستر گے پټے کړہ پدے ساعت کښے

پیش ازیں آشوب و خونریزی مجو ۔ پیش ازیں از شمس تبریزی مجو۔

او یکبی او دینہ تویول طلب کوہ

ت :۔ زیات دد ے نه شور او دِینه تویول مه طلب کوه ، پس ددینه مسئله د شمس الدین هم
طلب کوه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



پندرہ کولہ دی

ایں ندارد آخر از آغاز گو۔ رو تمام ایں حکایت باز گو

ت:۔ دا بحث آخر نه لګری دسر نه اوویله او لاړشه داقصه پوره کړه ۔

خلوت طلبیدن طبیب از بادشاه جهت دریافت مرض کنیزک

ت:۔ خلوت طلب کول د طبیب د بادشاه نه د پاره د مرض معلومولو د وینځې ۔

چو حکیم از ایں سخن آگاه شد۔ وز دروں ہمداستان شاه شد

موافق متفق وہمداستان شد

ت:۔ هر کله چه حکیم د دے خبرے نه خبر شو، او د زړه نه موافق د بادشاه شو۔

گفت اے شاخلوتی کن خانه را۔ دور کن ہم خویش و ہم بیگانه را

ت:۔ اووے حکیم اے بادشاه خالی کړه کور کره، لرې کړه هم خپلوان او هم پردولره ۔

کس ندارد گوش در دہلیزہا تا بپرسم از کنیزک چیزہا

ت:۔ چه څوک غوږ کیندی په مانړۍ کښے، چه تپوس اوکړم د وینځې نه د څیزونو۔

خانه خالی کرد شاه و شد بروں۔ تا بپرسد از کنیزک او فسوں

دبار یکو خبرو

ت:۔ کور خالی کړو بادشاه او لاړ بهر چه تپوس اوکړي حکیم د وینځې نه دبار یکو خبرو ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خانہ خالی کرد و یک دیار نہ جز طبیب و جز ہماں بیمار نہ

ت: کور ے خالی کړ و او یو ساکن پاتے نه شو بے د طبیب نه او بے د دغه مریض نه

بل څوک نه وو

نرم نرمک گفت شہر تو بجاست۔ کہ علاج اہل ہر شہرے جداست

ت:- په نرمئ نرمئ سره ئ او وے چه بنار ستا کوم دے. ځکه چه علاج د اُهل دهر بنار جدا وی۔

وندراں شہر از قرابت کیستت۔ خویشی و پیوستگی با چیستت

ت:- په دغه بنار کښے قرابت ستا د چا سره دے، دوستی او تعلق د د چا سره دے۔

دست بر نبضش نہاد و یک بیک۔ باز میپرسید از جور فلک

ت:- لاس ے په نبض ایښے وو، یو یو تپوس ے کوو د ظلم د آسمان نه۔

ش:- فائده:- جور فلک شاعرانه رسم دے مجاز عقلی دے اسناد راغلیدے غیر ماهو له ته، د اعتقادی خبره نده، ورنه نوړ مانے ته او فلک ته د ظلم نسبت شرعًا ناروا دے قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی یُؤْذِیْنِی ابْنُ آدم یَسُبُّ الدَّهْرَ وَاَنَا الدَّهْرُ۔ (حدیث قدسی)

باری تعالیٰ فرمائی تکلیف راکوی ماته بنی آدم کنځل کوی زمانے ته او زه زمانه یم۔ یعنی متصرف د زمانے صرف ځکه یم۔

چوں کسے را خار در پالیز خلد۔ پائے خود را بر سرِ زانو نہد

ت:- هر څه یو سړی لره غټه په خپه کښے لاړه شی خپه خپله په سرد زنګون کیدی۔

ش:- د انتقال دے دے جزئیے ته چه تکلیف جسمانی کړان دے نو عشق بنو بیا روحانی تکلیف دے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



واز سر سوزن ہمیجوید سرش ۔ ورنیا بد میکند بالب ترش

ت:۔ پہ سر د سَتنے طلب کوی سر د ھغے او که معلوم نه کړی ھغه نو په شونډو سره ھغه لمده کړی ۔

ش:۔ یعنی په توکانړو سره ئے معلومه وی ۔

خار در پا شد چنیں دشوار یاب ۔ خار در دل چون بود ہ واد جواب

ت:۔ غنه په خپه کښے دا سے سخته معلومه کړه ، غنه په زړه کښے څنګله ده جواب راکړه

ش:۔ دا انتقال مقصد دے ، یعنی واقعی د زړه مرض کران شے دے ۔

خار دِل راگر بدیدے ہر خسے ۔ کے غمانرا دست بودے بر کسے

ذلیل سری

ت:۔ غنه د زړه که معلومولے شوے هر ذلیل سړی نوکله به وه غلبه په هر چا باندے

ش:۔ دا انتقال دے دیته چه هر څوک تکلیف د زړه هر څوک نشی معلومولے ۔

کس بزیر دُم خر خارے نہد ۔ خر نداند دفع او بر مے جہد

ت:۔ یو سړے لاندے د لکئ دخره نه غنه کیدی خر نه پیژنی نړے کول دهغے نو توپونه وَهنی ۔

ش:۔ دا مثال دے چه یو کس مرض پیژنی نو هغه خه نقصان کوی د علاج پخائے ۔

خر ز بہر دفع خار از سوز و درد ۔ جفتہ مے انداخت صد جا زخم کرد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خر د پارہ د دفع د غنے د سوز او د درد نه لتے وښې نوسل ځایونه ے زخمی کړ

آں لکد کے دفع خار او کند ۔ عاقلے باید کہ بر مرکز تند

ت :- د غه لتے چرته دفع د غنے کولے شی ، عاقل مناسب دے چه ځائے د غنے معلوم کړی

بر جہد واں خار محکم تر کند ۔ عاقلے باید کہ خارے بر کند

ت :- تو پونه وهی او د غه غنه ښه محکمه کوی عاقل مناسب دے چه غنه اوباسی

آں حکیم خار چیں استاد بود ۔ دست میز د جا بجا ے از مود

ت :- د غه حکیم غنه وِیستو لکے او اُستاذ وو ، لاس ے وهو ځائے پځائے تجربه ے کوله

ش :- دا رجوع ده قصے ته حکیم عاقل وو مرض معلومه وو ، د هغه موافقِ علاج کوو ۔

زاں کنیزک بر طریق راستاں ۔ باز میپرسید حال واستاں

ت :- د د غه وینځے نه په طریقه د رشتینو تپوس کوو د حال د واقعے ۔

با حکیم او راز ہا میگفت فاش ۔ از مقام و خواجگاں و شہر تاش

ت :- حکیم ته هغے راز اُونه وے ظاهر د مقام نه او د مولا کانو نه او د کاونده یانو نه ۔

سوئے قصہ گفتنش میداد گوش ۔ سوئے نبض و جستنش میداد ہوش

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : په طرف د قصے ویلو دَه ایخے دوَ غوږ، پطرف د نبض او د حرکت د هغے خیال دوَ۔

تاکد نبض از نام کہ گردد جہاں۔ او بود مقصود جانش در جہاں

ت :۔ چه نبض د نوم د چا نه حرکت وکړي نو هغه به دوی مقصود د روح د هغے په جهان کښے۔

دوستان شہر خود را بر شمرد۔ بعد ازاں شہر دگر را نام برد

ت :۔ دوستان د بنار خپل ئے ور شمار کړل پس د هغے نه دبل بنار نوم واغستو

گفت چوں بیروں شدی از شہر خویش۔ در کدامیں شہر میبودی تو پیش

ت :۔ اُوو ے حکیم هر کله چه بهر شوے د بنار خپل نه نو په کوم بنار کښے وے ته مخکښ۔

ش :۔ مثلاً د شاپور نه میلمنے وے ته لاړے نو شاپور نه مخکښے کوم ځائے وے۔

نام شہرے گفت وزاں ہم در گذشت۔ رنگ رو و نبض او دیگر نگشت

ت :۔ نوم د بنار ئے واغستو او د هغے تیروته، رنګ د مخ او نبض د هغے بدل نه شو۔

خواجگان و شہر ہا را یک بیک۔ باز گفت از جا و از نان و نمک

ت :۔ مولا کان د بنارو نو یو یو ئې اُوو ے خپل د ځائے او د طعام قصه ئے وکړه۔

شہر شہر و خانہ خانہ قصہ کرد۔ نے رگش جنبید و نے رخ گشت زرد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :۔ بنار بنار او کور کور ئی بیان کړو ، نه ئے رګ حرکت وکړو او نه ئے مخ زیړ شو

نبض او بر حال خود بد بے گزند ۔ تا بپرسید از سمرقند چوقند

لغت د پښتو سره

ت :۔ نبض د هغے په خپل حال وو بے د تغیر نه تر دے چه تپوس وکړو د سمرقند نه پښتون وکور ے ۔

ش :۔ بد په اصل کښے بود وو ، او سمرقند د هغے د معشوق وطن وو ، نو کړه وه هغے ته ۔

آه سرد ے برکشید آں ماہرو ۔ آب از چشمش روان شد ہمچو جو

ت :۔ مخ اسویلے وکړو د غه خائسته مخے ، او به روانے شوے د ستر کو د هغے نه پښتو وله

گفت بازرگانم آنجا آورید ۔ خواجه زرگر دراں شہرم خرید

ت :۔ او وے هغے چه سوداګر د غه ځائے ته ځه راوستم مولیٰ زرګر واغسته مالونه

در خود داشت شش ماه و فروخت ۔ چوں بگفت ایں زآتش غم بر فروخت

ت :۔ خپل ځان سره ئے اوساتلم شپږ میاشتے بیا ئے خرڅه کړم ، هر کله چه دا خبره ئے وکړه نو د اوړ نه اړسوه ۔

نبض جست و روئے سرخش زرد شد ۔ کز سمرقندی زرگر فرد شد

ت :۔ نبض ئے حرکت وکړو او سور مخ ئے زیړ شو ، چه سمرقندی زرګر نه جدا شوه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چوں زر زنخورآں حکیم ایں راز یافت ۔ اصل آں دردِ بلا را باز یافت

ت :۔ ھرکلہ درنخور نہ دغہ حکیم راز معلوم کړو اوحقیقت ددغہ درد اوبلا ئے بیاھونده ۔

گفت کوئے او کدام است وگذر ۔ او سرپل گفت وکوئے غا تفر

ت :۔ حکیم اووے چہ محلہ ئے کومہ دہ او روډئے کوم ډے ، ھغے اووے چہ روډ سُرپل دے او محلہ ئے غاتفر دہ ۔

گفت آنکہ آں حکیم با صواب ۔ آں کنیزک را کہ رستی از عذاب

ت :۔ اُووے پدغہ وخت دغہ حکیم حقیقین دغہ وینځے تہ چہ خلاصہ شوے دعذاب نہ

گفت دانستم کہ رنجت چیست زود ۔ در علاجت سحرہا خواہم نمود

ت :۔ اُووے حکیم چہ ما تہ زر معلومہ شوہ چہ ستامرض څہ دے ، پہ علاج ستا کښے بہ مؤثر تدبیرونہ وکړم ، (تسلی ساتہ)

شاد باش و ایمن و فارغ کہ من ۔ آں کنم با تو کہ باراں با چمن

ت : خوشحالہ شہ او پہ اُمن شہ او بے سوچہ شہ حَہ بہ ھغہ وکړم لتاسرہ لکہ باران د باغ سرہ ۔

من غمِ تو میخورم تو غم مخور ۔ بر تو من مشفق ترم از صد پدر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :۔ څه ستا غم کوم ته غم مه کوه په تا څه مهربان یم زیات دسلو پلارانونه ۔

ہال وہال ایں راز را باکس مگوے ۔ گرچہ شاہ از تو کند بس جستجوے

ت :۔ خبردار خبردار ! دا زار چا ته مه وایه ، اگرچه بادشاه ستا نه کوی پیر طلب

تا توانی پیش کس مکشائے راز ۔ ہر کسے ایں در مکن زنہار باز

ت :۔ که ستا طاقت وی نو په مخ دچا کینے مه ښکاره کوه دا راز ، دا دروازه هیڅ چا ته مه بیرته کوه ۔

ش :۔ یعنی دا راز چا ته مه وایه ۔

چونکہ اسرارت نہاں در دل شود ۔ آں مرادت زود تر حاصل شود

ت :۔ هر کله چه راز و نه پټ په زړه کینے وی نو دغه مراد ستا به ډیر ژر حاصل شی

ش :۔ دا انتقال دے پته ولو د مراد ته لکه حکیم چه جینئ ته ویلی وُو چه حال مه وایه ۔

دانہ چوں اندر زمیں پنہاں شود ۔ بعد ازاں سرسبزی بستاں شود

ت :۔ دانه هر کله چه په زمکه کینے پټه شی ، نو پس دهغے نه سبزی د باغ شی ۔

ش :۔ دا مثال دے د پټوالی د راز یعنی راز چه پناه شی ، دا داسے دے لکه دانه چه پناه شی په زمکه کښے نو سبزی تر ینه جوړه شی او راز چه پناه شی نو کامیاب شی ۔ مَنْ کَتَمَ سِرَّہٗ حَصَلَ مُرَادَہٗ ۔ (حدیث) چا چه خپل راز پناه کړو نو مقصود به ئے حاصل شی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زر و نقرہ گر نبودندے نہاں ۔ پرورش کے یافتندے زیر کاں

ت :۔ سَرہ زر او سپین زر کہ نوے پتہ نو پروش بہ ئے کلہ موندلے وے لاندے دکان نہ

وعدہ ہاو لطفہا ئے آں حکیم ۔ کرد آں رنجور را ایمن ز بیم

ت :۔ وعدو او مھربانو دد غہ حکیم کرہ دغہ رنځورہ پہ اُمن دیرے تہ ۔

ش :۔ دا رجوع دہ قصے تہ ۔

وعدہا باشد حقیقی دلپذیر ۔ وعدہا باشد مجازی تا سہ گیر

ت :۔ وعدے حقیقی وی زرہ قبلولکے او وعدے مجازی وی زرہ خفہ کولکے ۔

ش :۔ دا انتقال دے حُسن دوعدے حقیقی او قبحہ دوعدے مجازی تہ ۔

وعدہ اہل کرم گنج رواں ۔ وعدہ نا اہل شد رنج رواں

ت :۔ وعدہ دسخیانو خزانہ دہ ہمیشہ، او وعدہ دنالایقو دہ تکلیف دروح ۔

ش :۔ گنج روان نہ مراد خزانہ دقارون ندہ کماقیل ھغہ خو ناکارہ خزانہ دہ ۔

وعدہا باید وفا کردن تمام ۔ ور نخواہی کرد باشی سرد و خام

ت :۔ دوعدو پورہ وفا مناسب ندہ او کہ نہ ئے پورہ کوے نو شے بہ یخ او کچہ ۔

ش :۔ سرد او خام نہ مراد کچہ دے، دا ترغیب دے وفا دوعدے تہ ۔ وَلَا تَعِدُهُ مُوعِدَةً فتخلفه ۔ (حدیث) د مسلمان سرہ وعدہ چہ وکړے نو خلاف ترینہ مہ کوہ ۔ غټہ وعدہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د مسلمان دایمان ده ۔ ده چه کلمه اُو ویله نوده وعده اوکړه د الله تعالیٰ سره داحکام

متلو۔ وعدکردن راوفاباشد بجاں ۔ تابہ بینی درقیامت فیض آں

ت:۔ وعدے لره وفامناسب ده په اخلاص سره چه ته اووینے په قیامت کښے ثواب د هغے۔

دریافتن آں طبیب الٰہی رنج کینرک راپہ شاہ وانمودن

ت:۔ معلومول ددغه طبیب الٰہی رنج ددغه وینځے او بادشاه ته حال ویل ۔

آں حکیم مہرباں چوں رازیافت ۔ صورتِ رنج کینزک بازیافت

ت:۔ دغه حکیم مهربان چه کله راز معلوم کړو اوحال دتکلیف دوینځے هغه معلوم کړو

بعدازاں برخاست عزمِ شاہ کرد ۔ شاہ رازاں شمہ آگاہ کرد

ت:۔ پس د هغے نه پورته شو اوقصدِ دبادشاه اوکړو، اوبادشاه لره د هغے نه لږ خبر کړو

شاگفت اکنوں بگو تدبیر چیست ۔ درچنیں غم موجب تاخیر چیست

ت:۔ بادشاه اووے اوس اُوایه تجویز څه دے، پداسے غم کښے سبب دتاخیر څه دے۔

گفت تدبیر آں بود کاں مرد را ۔ حاضر آریم ازپئے ایں درد را ۔

ت:۔ اُووے حکیم تدبیر دا دے چه دغه سړے حاضر کړو لپاره دے دَرد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قاصدے بفرست کا خبارش کند ۔ طالب ایں فضل و ایثارش کند

ت:۔ قاصد ئے اولیں و چه هغهٔ خبر کړی ، او هغهٔ طالب د دے فضل او د انعام (د بادشاه) کړی ۔

مرد زرگر را بخواں زاں شہر دور ۔ باز رو خلعت بدہ اورا غرور

ت:۔ زرکر سړے طلب کړو د دغه بنار لرینه ، په زړو او په انعام سره ئے هغهٔ دهوکه کړو ۔

ش:۔ دا دهوکه د اصلاح عالم دپاره ده ، ځکه د نیک بادشاه نه د مخلوق خدمت نه کیږی ۔

تا شود محبوبِ تو خوشدل بدو ۔ گرد اساں اینہمہ مشکل بدو

ت:۔ چه شی معشوقه ستا خوشحاله په هغه سره ، او به کړی آسان دا ټول مشکل په هغه سره ۔

چوں ببیند سیم و زر آں بینوا ۔ بہر زر گردد زخاں و ماں جدا ۔

ت:۔ هرکله چه اُو وینی سپین او سره زر نو دغه غریب به وکړی د خپل خاندان نه جدا ۔

زر خرد را والہ و شیدا کند ۔ خاصہ مفلس را کہ خوش رسوا کند

ت:۔ زر عقل لره حیران او عاشق کوی خاص کر مفلس لره خو خه شر موی ۔

ش:۔ دا انتقال دے چه دنیا سړے غرقوی ، او کوری زرکر ته د دنیا د وجے نه هلاک شو یو دنیا ذریعه ده د دین هغه د باری تعالیٰ فضل دے چه حلاله وی ۔ او بله دنیا صرف ذریعه د معاش ده نو که حرامه وی نو بیا زهر قاتل ده ، او که حلاله وی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو بیا هم پلیته ده ، دنیا د عیش ځائے نه دے د محنت ځائے دے .

○ زر اگرچه عقل مے آرد ولیک ۔ مرد عاقل بائید اورا نیک نیک

ت :۔ زر اګر چه عقل راوړی لیکن سړے عاقل ورڅه مناسب دے خه نیک

○ فرستادن بادشاه رسولاں بسمرقند در طلب آں زرگر

ت :۔ یېکل د بادشاه دوه استاذی سمرقند ته لپاره د طلب د دغه زرګر ۔

○ چونکه سلطاں از حکیم آنرا شنید ۔ پند اورا از دل و از جاں گزید

ت :۔ هر کله چه بادشاه د حکیم نه دغه خبره واوریده نو نصیحت د هغے په زړه

او په روح سره غوره کړه و ۔ یعنی قبول کړه و ۔

○ گفت فرمانِ ترا فرماں کنم هر چه گوئی آنچناں کمتر آں کنم .

ت :۔ بادشاه اوو ے په فرمان ستا حکم کوم ، هر چه وائے چه هغه وکړم نو هغه کوم

○ پس فرستاد آں طرف یکدو رسول ۔ حاذقاں و کافیاں و پس عدول

ت :۔ نو هغه اوو یېکل دغه طرف ته یو دوه قاصدان ، هوښیاران ، اوکاملان اوښه

عادلان ۔

○ تا سمرقند آمدند آں دو امیر ۔ پیش آں زرگر زشاہنشہ بشیر

ت :۔ چه سمرقند ته راغله هغه دوه افسران څنګه د دغه زرګر ته ، د بادشاه زیړ ورکړی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش:۔ شہنشاہ پہ اصل کښے شاہِ شاہان دے تخفیف پکښے قلب شوے دے، د حدیث نہ معلومیږی چہ دا نوم خہ ندے، البتہ پہ اضافت سرہ چہ د دنیا شہنشاہ یا د ضرورت مشرئ د وچے نہ، یا مولنا صاحب دغہ د نہی حدیث بہ حمل کړے وی پہ نہی تنزیہی، دا تاویل لکہ کووَ چہ قول د عاقل بالغ حمل شی پہ محمل صحیحہ باندے بلہ خبرہ دادہ چہ مولانا صاحب دکتاب نہ معصوم ندے او نہ ورتہ دھر شی علم شتہ دا حدیث دِ ورتہ معلوم نہ وی۔ دا قاصدان افسران ووَ، دَ اہتمام دوجے نہ بادشاہ لیږلی ووَ۔

○ کاکے لطیف استاد کامل معرفت۔ فاش اندر شہر ہا از لو صفت

ت:۔ چہ باریک بین اُستاذ او کامل معرفت والہ مشہور دے پہ بنارونو کښے ستا صفت۔

ش:۔ معرفت والہ یعنی شناخت والہ پکار د زرگری کښے باریک بین، یعنی د زرگری رازونہ ورتہ معلوم دی۔

○ نک فلاں شہ از برائے زرگری۔ اختیارت کرد زیرا مہتری

ت:۔ اوس فلانکی بادشاہ تہ دپارہ د زرگرئ غورہ کړے ئے ځکہ چہ تہ ماہر ئے۔

○ اینک ایں خلعت بگیر و زر و سیم۔ چوں بیائی خاص باشی و ندیم

ت:۔ فی الحال دا انعام واخلہ سرہ اوسپین زر، ھوکلہ چہ راشے نو د بادشاہ خاص سړے او ھمنشین بہ شے۔

○ مرد مال و خلعتِ بسیار دید۔ غرہ شد از شہر و فرزنداں برید

ت:۔ سړی مال او انعام دیر اولیدو نو د ھوکلہ شو او د بنار او د بچو نہ جدا شو۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ اندر آمد شادماں در راہ مرد بخیر کاں شاہ قصد جانش کرد

ت:- راغے په لاره کښے خوشحاله سړے، بے خبره وو چه دغے بادشاه قصد د روح د هغه کړیدے۔

ش:- یعنی د هغه د مرګ ارادهٔ کړیده۔

○ اسپ تازی برنشست و شاد و تاخت۔ خونبہائے خویش را خلعت شناخت

ت:- په تازی )س سورشو او په خوشحالئ سره ئے منډه کړه، قیمت د وینو خپلو هغه انعام او کنړه۔

ش:- یعنی بادشاه هغه لره مړ کوی او دے د انعام په طمعه دے۔

○ اے شدہ اندر سفر با صد رضا۔ خود بپائے خویش تا سوء القضا

ت:- اے روانه په سفر کښے په ډیرے رضا سره، پخپله پخپو خپلو په طرف د بدمرګ

○ در خیالش ملک و عز و سروری۔ گفت عزرائیل را، آرے بری

ت:- په خیال د هغه کښے بادشاهی او عزت او مشری وه، عزرائیل علیه السلام ورته اووے لاړشه او دا هر څه به ویسی۔

ش:- دا استهزا ده۔

○ چوں رسید از راہ آں مرد غریب۔ اندر آورد شش بہ پیش شہ طبیب

ت:- هر کله چه راورسید دلارینه دغه مسافر سړے، نو راوستو دلره مخے د بادشاه حکیم۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ پیش شاہنشاہ بردش خوش بناز۔ تا بسوزد بر سر شمع طراز

ت:۔ مخے دبادشاہ تہ ئے بوتلو خوشحالہ پہ ناز سرہ چہ وسیزی دے پہ سرو معشوقے د طراز ۔

○ شاہ دیدا و را و بس تعظیم کرد۔ مخزن زر را بدو تسلیم کرد

ت:۔ بادشاہ ھغہ لرہ ولیدو او د یر تعظیم د ھغہ وکړو، او خزانہ د زر وئے ھغتہ اُو سپارلہ

○ پس بفرمودش کہ برسازد زر۔ از سوار و طوق و خلخال و کمر

ت:۔ بیائے حکم وکړو ھغتہ چہ جوړہ وہ د زرو نہ بنکری او اُوکئی او پانزیب او کمر بند

○ ہم ز الواع اوانی بیعدد۔ کاپخناں در بزم شاہنشہ سزد

ت:۔ ھم د اقسامو دلُوخو نہ بے شمارہ، ھغہ چہ پہ مجلس د بادشاہ کښے مناسب وی۔

○ زر گرفت آں مرد و شد مشغول کار۔ بیخبر از حالت ایں کارزار

ت:۔ زر واغستہ د غہ سړی اُوشو مشغولہ پکار، خبر نہ وَو ھغہ د دے جنگ نہ ۔

○ پس حکیمش گفت کاے سلطانمہ۔ آں کنیزک را بایں خواجہ بدہ

ت:۔ بیا ووے حکیم ھغہ تہ چہ اے بادشاہ دسپوږمئی، د غہ وینځہ دے خواجہ تہ ورکړہ ۔

ش:۔ سلطانمہ یعنی علیجاہ، یا بادشاہ د وینځے، پہ نکاح سرہ دا وینځہ دلتہ ورکړہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ تا نیزک در وصالش خوش شود۔ آب وصلش دفع ایں آتش شود

ت:۔ چه وِینځه په وصال د هغه کښے خوشحاله شی، اُوبه دوصل د هغهٔ
دفعه ددے اُور شی۔
ش:۔ وصل د هغه چه پشان د اُوبو وَ۔ او عشق د هغے پشان اُور وَ۔

○ شه بدو بخشید آں مه روے را ۔ جفت کرد آں هر دو صحبت جوے را

ت:۔ بادشاه هغه ته اُو بخله دغه خائسته مخے۔ یو ځائے کړه هغهٔ دا دواړه طالبان
دوصال۔
ش:۔ یعنی څنګه چه وِینځه مینه وه نو دغسے زرګر هم مینه وَ هغه دضرورت دوے
نه داوِینځه خرڅه کړیوه لکه بادشاه چه د ضرورة د دے نه بیا زرګر ته ورکړه
په نکاح سره چه جینۍ جوړه شی، الاَعذار تُبِیحُ المَحْذُوْرَاتْ، عذرونه هرڅه کوی۔

○ مدت شش ماه میراندند کام۔ تا بصحت امد آں دختر تمام

ت:۔ شپږ میاشتے دوی مقصد خپل پوره کوو، چه جوړه شوه جینۍ کامله۔

○ بعد ازاں از بهر او شربت بساخت۔ تا بخورد و پیش دوختر میگداخت

ت:۔ روسته د هغے نلیاړه د هغهٔ ے شربت جوړ کړو، چه هغهٔ اُوسکو نوپه مخ
جینۍ کښے وِیلی شو۔
یعنی لږ لږ خواږیده، او رنګ ے خرابیدو او د جینۍ ترینه زړه صبر یدو

○ چوں زر بخوری جمال او نماند۔ جانِ دختر در وبالِ او نماند

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- هرکله چه د بیماری نه حُسن د هغهٔ ختم شو نو روح د جینئ په تکلیف د عشق کښے پاتے نه شو.

ش:- یعنی د جینئ زړه د هغه نه ټوریشوکله د هغهٔ حُسن د مرض دوجے نه ختم شو. د جینئ عشق صرف په شکل وو، چه شکل د هغهٔ بدموړه شو، نو عشق د جینئ هم ختم شو.

○ چونکه زشت و ناخوش و رخ زرد شد - اندک اندک در دل او سرد شد

ت :- هرکله چه بدموړه او بدصورته او مخ ے زیړ شو، لږ لږ په زړه د وینځه کښے دده شوق یخ شو، یعنی ختم شو،

○ عشقهائے کز پئے رنگے بود - عشق نبود عاقبت ننگے بود

ت : عشق چه دوجے د رنګ نه وی، عشق نه وی په آخیر کښے شرم وی.

ش: دا انتقال دے مذمت د عشق ظاهری بیانوی.

○ کاشکے آں ننگ بودے یکسرے - تا نرفتے بروے آں بد داوری

ت : افسوس که دغه شرم کامل وے نو نه به وے چلیدلے په هغهٔ دغه معامله

ش:- یعنی که د جینئ دغه عشق ظاهری کامل وے نو بیا به بادشاه دغه زرکن لفوظ ساته چه جینئ ور لپاره مړه نشی.

○ دشمن طاوس آمد پر او - اے بسا شه را بکشته فرّ او

ت :- د شمن د طاوس شو وزر د هغهٔ اے سړیه ډیر بادشاهانو لره مړه کړه د بدبے د هغه.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: دا انتقال دے چه حسن او عزت کله سبب دمرګ شی.

○ چوں زرگر از مرض بدحال شد ۔ در گدازش شخص او چوں نال شد

ت:۔ هر کله چه زرګر د مرض نه بدحاله شو، پخوا ریدو کښے وجود دهغه پشان د سر د قلم شو۔

ش: دا رجوع ده قصے ته۔

○ گفت من آں آہوم کز ناف من ۔ تر نخت آں صیاد خون صاف من

ت: اُووے هغه چه ځه هغه راموسکے یم چه د نوم دپاره، توئے کړه دغه صیاد وینه صافه ځما۔

ش: د راموسکی په نوم کښے وینه جمع کیږی هغه ډیره قیمتی وی، زرګر وائی دغسے دے بادشاه ځه د وینے دپاره مړ کړم۔

○ ایں من آں روباہِ صحرا کز کمیں ۔ سر برید ندم برائے پوستیں

ت:۔ اے سړیه ځه هغه کیدړیم د صحرا، چه د پناه ځاینه ځما سر غوڅ کړو دپاره د پوستن

ش:۔ د کیدړ یو قسم دے چه د هغه څرمن قیمتی وی، پوستین ترینه جوړیږی۔

○ ایں من آں پیلے کہ زخم پیلیاں ۔ ریخت خونم از برائے استخواں

ت:۔ اے سړیه ځه هغه هاتھی یم چه زخم د مالک، توئے کړه وینه ځما لپاره د هډوکی

ش: د هاتی هډوکے قیمتی وی خلق وائی چه هاتھی مړشی نو قیمتی شی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ انکہ کشتستم پئے مادون مَن ۔ مے نداند کہ نخشید خون مَن

ت :۔ هغه چاچه مالـره مړ کړو لپاره دهغهٔ چاچه حُما نه کم دے هغه ته نده معلومه چه حُما وینه نه وده کیږی ۔

ش:۔ یعنی حُما بدله به ضرور باری تعالیٰ واخلی، حکیم مالـره مړ کړو دبادشاه پاره هغه حُمانه لاندے دے هغه په وینځه عاشق دے، اوځه ځ محشوق یم ۔ تر آخره هغه زړکس د تکبر نه بس نه کړه، او په هغه ولی الله باندے اعتراض کوو ۔

"کوټ ۲۳ الاحد ۹۶" ۱۶ ذی الحجه ۱۳۱۶ھ "شاپور مسجد"

○ برمن ست امروز و فردا بروے است ۔ خون چوں من کس چنین ضائع است کے

ت :۔ په مادے نمبر نن او صبا په هغه دے وِینه حُما شاتنے دسړی کله ضائع کیږی

ت اګر چه دیوال غورځوی سُورے اوکد، واپس کیږی په طرف د هغه سورے بیا ۔

ش: دا انتقال دے چه دهرچا د عمل بدله ضرور رسی هغته ښه وی او که بد

○ ایں جہاں کوہ ست و فعل ما ندا ۔ سوئے ما آید نداہا را صدا

ت :۔ دا جهان غر دے اوکاں حُمونږه آواز دے په طرف حُمونږه راځی آواز لره انکاره

○ ایں بگفت و رفت در دم زیر خاک ۔ آں کنیزک شد ز درد و رنج پاک

ت: دائے اُوے او لاړو فی الحال خاورو ته، دغه وِینځه شوه د تکلیف او درد نه پاکه ۔ دا رجوع ده قصے ته، او قصه ختم شوه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ زانکہ عشق مردگاں پائیدہ نیست ۔ زانکہ مردہ سوئے ما آیندہ نیست

ت :۔ ځکہ چہ عشق د مړو ہمیشہ ندے ځکہ چہ مړی واپس مونږ تہ راتلونکی ندی

ش :۔ د جینئ عشق ځکہ زائیل شو چہ ھغہ پہ فانی شی باندے وَو ۔ دا انتقال دے دیتہ چہ عشق د فانی شی فانی وی ، او عشق د باقی ذات باقی وی ، نو ضرور عشق د مولیٰ اختیار کړئ او عشق د فانی پریدئ ۔

○ عشق زندہ در روان و در بصر ۔ ہر دمے باشد ز غنچہ تازہ تر

ت : عشق د جوندی پہ روح او پہ نظر کښے ، ھر ساعت وی ډیر نہ زیات تازہ

ش : یعنی د باری تعالیٰ عشق ډیر خہ باقی دے ، او د فانی عشق فانی دے ،

○ عشق آں زندہ گزیں کو باقی ہست ۔ وز شراب جانفزایت ساقی ست

ت :۔ عشق د ھغہ جوندی اختیار کړہ چہ ھغہ باقی دے ، ھغہ شراب د محبت تاتہ سکوی ۔ چہ د ھغے نہ روح ترقی مومی ۔

ش : دا عشق د حیّ قیوم عزّ اسمہٗ دے ۔

○ عشق آں بگزیں کہ جملہ انبیاء ۔ یافتند از عشق او کار و کیا

ت : عشق د ھغہٗ اختیار کړہ چہ تولو انبیاءؑ بیا موندو د عشق د ھغہ نہ عزت

ش : کار و کیا مجموعہ پہ معنیٰ د عزت دے ۔

○ تو مگو ما را بداں شہ بار نیست ۔ بر کریماں کار ہا دشوار نیست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: ته مه وایه چه مالړه د دغه بادشاه (دربار ته) رسیده نیشتے، د سخیانو سره محبت مشکل نه وی.

ش: یعنی باری تعالیٰ سخی دے چه ته لږ کار د محبت کوے نو په هغے ډیره بدله ملاویږی

## دربیان آنکه کشتن مرد زرگر بادشاه الهی بود نه بخیال باطل

ت: بیان د دے چه مرګ د دغه سړی زرګر په الهام د باری تعالیٰ سره وو نه په خیال باطل سره.

فائده: - په ادیان سابقو کښے تخصیص د شرعے جائز وو په الهام سره، اوس په شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم کښے دا سے تخصیص ناجائز دے.

○ ۴ کشتن آں مرد بر دست حکیم - نے پئے امید بود و نے بیم

ت: مرګ د دغه سړی په لاس د حکیم سره نه لپاره د اُمید وو او نه د ویرے نه

ش: یعنی د دغه حکیم د بادشاه نه طمعه نه وه او نه ئے د هغه نه یره وه، دا مرګ په الهام الٰهی سره وو.

○ افگندش از براے طبع شاه - تا نیا مد امر و الهام از اله

ت: د هغه لره امر نه کړو لپاره د طبیعت د بادشاه، تر څو چه نه وو راغلے حکیم او الهام د باری تعالیٰ نه.

ش: یعنی طبیب هله د مرګ وکړو چه الهام وشو دته.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ آں پسر را کش خضر ببرید حلق ۔ سرِّ آں را در نیابد عام خلق

ت: دھغہ هلک نه چه خضر علیه السلام سر غوڅ کړو، راز د هغې نشی معلومولے عام خلق ،

○ آنکه از حق یابد او وحی و خطاب ۔ هر چه فرماید بود عینِ صواب

ت: هغه څوک چه د حق تعالیٰ نه مومی وحی او خطاب، هر څه چه فرمائی هغه عین ثواب وی ۔

○ آنکه جاں بخشد اگر بکشد رواست ۔ نائب ست و دست او دستِ خداست

ت: هغه ذات سبحانه وتعالیٰ چه روح بخی نو که روح واخلی نو روا ده، نائب دے او په لاس دده کښے طاقت دباری تعالیٰ دے ۔

فائده: فعل دباری تعالیٰ بالسبب دے خو سبب ته محتاج ندے، یا فعل دباری تعالیٰ عندالسبب دے، اُور سیزل نشی کولے، سیزوکے اللہ ﷻ دے، انبیآء اولیآء نائبان دی په احکامو تشریعو کښے او په احکامو تکوینیو کښے اِنابت دے په طور د معجزے سره، د کار غیر اختیاری او غیر دائمی دے، دا دقیقه مسئله ده ۔

○ همچو اسماعیل به پیشش سر نهٔ ۔ شاد و خنداں پیش تیغش جاں بده

ت: پشان د اسمٰعیل علیه السلام په مخ د باری تعالیٰ کښے سر کیږده، خوشحاله او خندان په مخ د تیغ د هغه کښے روح ورکړه ۔ یعنی د باری تعالیٰ تابع شه ۔

○ تا بماند جانت خنداں تا اَبد ۔ همچو جانِ پاکِ احمد با احد صلی اللہ علیہ وسلم

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :- چه پاتے شی روح ستا خوشحاله همیشه پشان دپاک روح دنبي علیه السلام سره دباری تعالیٰ نه

ش:- یعنی که تابع شوے نو همیشه به خوشحاله ے لکه جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه خوشحاله دے په سبب د اتباع او د محبت د باری تعالیٰ۔

○ عاشقانِ جام فرح آنگه کشند۔ که بدستِ خویش خوماں شاں کشند

ت : عاشقانو جام د خوشحالی هله سکلے دے چه په لاس خپل سره خوبا نو هغوی لره مړه کړه ،

ش: یعنی معشوقے بل چاته نه کوری لکه مړه نو دا کمال دے ۔

○ شاه آں خود اَز پئے شهوت نکرد۔ تو رہا کن بدگمانی و نبرد

ت: بادشاه دغه قتل لپاره د خواهش ندے کړے ، تر پریده بدګمانی او مقابله

ش: دا بیا د بادشاه حال بیانوی یعنی هغه ولی وو د هغهٔ قتلول زړکر لره خواهشی نه وو

○ تو گماں کردی که کرد آلودگی ۔ در صفائے عشق کے ہلد پالودگی

ت: تر کمان کوے چه هغهٔ غلطی وکړه ، په صفائي کښے خیرے چرته پریدی ریاضت

یعنی بادشاه ریاضت والا وو او ریاضت گناه ختموی ، ریاضت په عبادت کښے حان کړول او خپل خواهشات ترک کول۔

فائده :- ریاضت مجموعه ترک الحظوظ او مذمومه ترک الحقوق لکه دزړه جے وغیره حق پریدی۔

○ بہر ان است ایں ریاضت دیں جفا۔ تا برارد کورہ از نقرہ جفا

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت :۔ لپاره دهغې دے دا ریاضت اودا تکلیف چه لرے کړې دکان د زرګر
د سپینو زرو نه خیرے ۔

ش: یعنی لکه څنګه چه په اور سره د زرو نه خیرے لرے کیږی، دغسے د نفس نه خیرے
لرے کیږی په ریاضت سره

○ بهر آنست امتحان نیک و بد ۔ تا بخوشد، بر سر آرو زر، ز بد

ت: دپاره دهغې دے امتحان د خو اودبدو، زر چه وجوشیږی او سرته راوړی زنګ

ش: یعنی د زرو امتحان په جوش سره دے دغسے د انسان امتحان په ریاضت سره دے
نوکوم سړے چه ریاضت وکړی نو د هغهٔ خیرے ختم شی نو دغه بادشاه هم ریاضت والا وو

○ بگذر از ظنِّ خطا اے بدگماں! اِنَّ بَعضَ الظَّنِّ اِثمٌ را بخواں

ت :۔ پریږده ګمان خطا اے بدګمانه، یقیناً بعض ګمان ګناه دے، دا ایته ولوله۔ حجرات ۱۲

○ گر نبودے کارش الہام اِلٰہ ۔ او سگے بودے درانندہ نہ شاہ

ت :۔ که نه وے کار د هغه په اِلهام د الله تعالیٰ سره نو هغهٔ به بیا سپے وو خو ونګ نه
بادشاه ۔

○ پاک بود از شہوت و حرص و ہوا ۔ نیک کرد او لیک نیکِ بدنما

ت : پاک وو د خواهش او د حرص او د هوا نه، خه ئے کړیدی لیکن شکل ئے بد وو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ گر خضر ذ بحر کشتی را شکست ۔ صد درستی در شکست خضر ہست

ت :۔ خضر علیہ السّلام په دریاب کښے کشتی ماتہ کړہ، نو شّل محکم والی په ماتو لو د خضر علیہ السلام کښے دی ۔

○ وہم موسٰی با ہمہ نور و ہنر ۔ شد ازاں محجوب تو بے پر مپر

ت : وَهم د موسیٰ علیہ السلام سرہ تول نور او هنر نه شو د هغه نه پناه، ته بے وَزرہ مہ الوزہ ۔

د موسیٰ علیہ السلام علم تشریعی وَو، او د خضر علیہ السلام علم تکوینی وَو ۔ د تشریعی علم بناء په اظهار ده لکه علم د قرآن او د حدیث او د فقہ ، او د علم تکوینی بنا په کتمان ده لکه ولایت او کرامة ، د علم ولایت اظهار کناه دے که چا دښکاره کړیدے نو هغه کذّاب یا مجذوب دے ، او د علم شریعت پټول کناه دے ، که چا پټ کړو بے د اذن شرعی نه نو هغهٔ په شیطن اَحْرَص وی او د اُور واکے به ورته لکیدلی وی په قیامت کښے ۔ (حدیث) قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلٰلَةٌ وَ لٰكِنِّي رَسُوْلٌ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۔ (اعراف ۶۱) اُووے نوح علیہ السلام چه اے حَما قومه نه یم گمراه لیکن حَه رسول د رب العٰلمین یم ۔ د شریعت او د طریقت بیان مخکښے شویدے ۔

○ آں گلِ سرخ است تو خوش مخواں ۔ مست عقلست او تو مجنونش مداں

ت : هغه گل سُور دے ته ورته وِینه مه وایه ، هَست د عقل دے ته ورته مجنون مه وایه ۔

ش :۔ یعنی که شکل ظاهری د هغه خه نه وی نو شکل باطنی د هغهٔ خه دے ۔ او جنون روحانی ته جنون جسمانی مه وایه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ گر بدے خون مسلماں کامِ او۔ کافرم! گر بر دے مَن نامِ او

ت: که وے قتل د مسلمان کار دهغه، نو ځه به کافر یم! که ما دهغه نوم اغستے وے۔

فائده:۔ دکافر نسبت خان ته یا بل مسلمان ته په قسم کښے جائز ندے، شاید دا مسئله به مولنا صاحب ته نه وی معلومه هر څه یوا ځے الله پاک ته معلوم دی۔

○ مے بلرزو عرش از مدح شقی۔ بدگماں گردو ز مدحش متقی

ت: رقیبزی عرش د صفت د شقی نه، بدگمان کرځی د صفت د شقی نه متقی سړے۔

ش: یعنی د شقی صفت چه وشی نو متقی بدگمانه شی چه د شقی د غه کار به چرته څه وی، نو مولا نا صاحب والی چه څه د شقی بادشاه صفت نه کوم یعنی د غه بادشاه څه وو۔

○ شاه بود و شاه بس آگاه بود۔ خاص بود خاصه الله بود۔

ت: بادشاه وو د ین علم والا وو، یو خاص انسان وو او دوست د الله تعالیٰ وو۔

○ آں کسے را کش چنیں شاہے کشد۔ سوئے تخت و بہترین جاہے کشد

ت: هغه سړی لره چه داسے بادشاه مرکړی نو هغه په طرف د تخت او بهتر ځائے ته بوځی۔

ش: یعنی د غه قتل د زرکر په الهام سره وو نو ضرور به د هغه پکښے نفعه وه۔

○ نیم جاں بستاند و صد جاں دہد۔ آنچہ در وہمت نیاید آں دہد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: فانی روح اخلی اوسل روحونه ورکوی، هغه انعام چه په خیال کښے نه راځی هغه ورکوی۔

○ قهر خاصے از برائے لطف عام ۔ شرع میدارد روا بگذار گام

ت: قهر په خاص لپاره د فائدے عامے، شرع روا کنړی غلط قدم مه پورته کوه۔

ش: مثلاً لار جوړیږی او یو سړے انکار وکړی نو هغته سزا ورکول شرعًا جائز دی پدیکښ د عامو خلقو فائده ده، د غسے د زړکړ قتل د عامو مسلمانانو د پاره فائده وه ځکه چه بادشاه عادل وو، د هغه د مرض د وجے نه عامو خلقو ته نقصان وو۔

○ گر ندیدے سود او در قهر او ۔ کے شدے آں لطف مطلق قهر جو

ت: که نه ئے لیدلے سود د هغه په قهر د هغه کښے نو کله به شوے وه هغه مهربانی کامله، قهر طلب کونکی۔

○ طفل میلرزد ز نیش احتجام ۔ مادر مشفق دراں غم شاد کام

ت: ورپوکے یږیږی د ستنے د رګ وهونکی نه، او مور مهربانه پدغه تکلیف خوشحاله وی

ش: ځکه پدغه علاج کښے د ورکی خیر دے اګرچه هغته پکښے تکلیف دے ظاهری۔

○ تو قیاس از خویش میگیری لیک ۔ دور دور افتادۂ بنگر تو نیک

ت: ته پخپل ځان قیاس کوے لیکن دیر لرے لاړے او کوره خنه۔

ش: یعنی ستا مرګ خو نا حقه دے لیکن د دغه حکیم کار خو په الهام سره وو۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ پیشتر آتا بگویم قصہ بوکریابی از بیانم حصہ

ت: مخے تہ راشہ چہ تاتہ او وایم یوقصہ شاید چہ تہ بہ بیاموے حمادیبیاں نہ حصہ

## حکایت مرد بقال وروغن ریختن طوطی

ت: قصہ دسړی دکاندار او تیل تویول د طوطی۔

قصہ اجمالی:۔ یو بقال طوطی او وَهو، نو دهغهٔ سرکنجے شو تو طوطی یو کنجے اولیدو نو طوطی ورته اُووے چه تاهم تیل توئے کړیدی چه حمّا پشان لینډا شوے ئے، قصه مقصود نده، دا مثال او عبرة دے چه د نیکانو کار ستاد کار پشان نده هغوی چه څه کوی نو بحکم د الله تعالیٰ سره کوی او ته په خواهش سره کوے

○ بود بقالے مراو را طوطیے ۔ خوشنوا و سبز و گویا طوطیے

ت: ووَ یو دکاندار دهغهٔ یو طوطی ووَ، خه آوان والہ اوشین خبرے کولے طوطی ووَ۔

○ بر دکاں بود سے نگہبانِ دکاں ۔ نکتہ گفتے با ہمہ سوداگراں

ت: په دکان کښے څوکیدار د دکان وو، خبرے باریکے ئے کولے د تولو سوداګرانو سره

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ درخطاب آدمی ناطق بدے ۔ درنوائے طوطیاں حاذق بدے

ت : په خبرو د سړو کښے کویاووَ ، او په خبرو د طوطیانو کښے پوهه ووَ ۔

○ خواجہ روزے سوئے خانہ رفتہ بود ۔ در دکاں طوطی نگہبانی نمود

ت : مالک یوه ورځ کور ته تلے ووَ ، په دکان کښے طوطی څوکیداری کوله

○ گربہ برجست ناگہ از دکان ۔ بہر موشے طوطیک از بیم جاں

ت : یوے پیشو توپ کړو ناڅاپه د سړد دکان نه ، لپاره د منډک نو طوطی دیرے

○ جست از صدر دکاں بہر گریخت ۔ شیشہائے روغنِ بادام ریخت

د دُوح نه

توے کړل

د سړد دکان نه

ت : توپ اوکړو داوّل د دکان نه دپاره د تیښتے ، نو شیشه د تیلو د بادامو ئے توے

○ از کرہ سوئے خانہ بیامد خواجہ اش ۔ بر دکاں نشست فارغ شاد و خوش

ت :۔ د طرفه دکور نه راغے مالک د هغهٔ ، دکان کښے کیناستو فارغ خوشحاله اوخه

○ دید پر روغن دکاں و جاش چرب ۔ بر سرش زد گشت طوطی کل ز ضرب

ګاڼے ځه ځه نو

ت :۔ هغه ولیدو چک د تیلو نه دکان اوخائے د هغهٔ غوړ وو نو په سر د هغهٔ ئے

غوزار وکړو نو طوطی شوچارا د وَهلونه ۔

ش :۔ یعنی طوطی د وَهلونه خفه شو او خبرے ئے بند کړے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ روز کے چند سے سخن کوتاہ کرو۔ مرد لقّال از ندامت آہ کرد

ت: څو ورځے هغهٔ خبرے بند کړے او دکاندار سړی د افسوس نه اسویلے کوو۔

○ ریش برمیکند و میگفت اے دریغ۔ کافتاب نعمتم شد زیر میغ

ت: کیږه ځے ویسته او هغهٔ وے چه اے ارمان چه نمرد نعمت مما شولاندے دور یځے نه

○ دست من بشکستہ بودے از زمان۔ چوزدم من برسر آں خوشنزبان

ت: لاس حما مات وے هغه وخت چه ما اوو خو سر د دغه خوش زبانی۔

○ ہدیہ ہا میداد ہر درویش را۔ تا بیابد نطق مرغ خویش را

ت: پالئ هغهٔ ورکولے هر فقیر ته، چه بیا مومی خبرے د مارغه خپل۔

○ بعد سہ روز و سہ شب حیران و زار۔ بر دکاں نشستہ بد نومید وار

ت: پس د دریو ورځو او دریو شپو نه خوار او ذلیل دکان کښے ناست وو نا اُمید

ش: یعنی د مارغه د خبرو اُمید ځے نه وو۔

○ با ہزاراں غصّہ و غم گشت جفت۔ کائے عجب ایں مرغ کے اید بگفت

ت: د زرګونو غصو او د غم سره یوځائے شوے وو، چه تعجب دے چه دا مارغه به کله خبرے اوکړی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ مینمود آں مرغ را ہر گوں شگفت ۔ وز تعجب لب بدنداں میگرفت

ت: ښکاره کول هغهٔ د غه مارغه ته هر قسم عجیبه څیز ونه، او په تعجب سره هغهٔ په غاښونو سره شونډې چیچلې ۔

ش: شونډې چیچل کنایه ده د افسوس او د ارمان نه ۔

○ دم بدم میگفت از ہر در سخن ۔ تا کہ باشد کاندر اید در سخن

ت: ساعت په ساعتِ وې هغه ته هر قسم خبرې، چې په خبرو کښې راشي هغهٔ طوطی

○ برامید انکہ مرغ اید بگفت ۔ چشم او را با صور مسکرد جفت

ت: په اُمید دې هغې چې مارغه خبرې اوکړي سترګې د هغهٔ د صورت ونوسره یوځای کولې

○ ناگہانے جولقے میگذشت ۔ با سر بیمو بسان طاس وطشت

ت: ناڅاپه یولیندۍ ترسره ډسرنه چې ویښته پې نه وو پشان د خاڼک او د تالی

ش: یعنی د خاڼک پشان د ویښتو نه خالی وو ۔

○ طوطی اندر گفت امد در زماں ۔ بانگ بر وے زد بگفتش در عیاں

ت: طوطی خبرې شروع کړې پدغه وخت کښې آوانِ اوکړو هغه ته، او په ډاګه ئې ورته اووې ۔

○ کز چہ اے کل باگلاں آمیختی ۔ تو مگر از شیشہ روغن ریختی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : ولے اے لیندلہ د لیندلہ کانو سرہ یو حائے شوے، مگر تاد بوتل نہ تیل توئے کر پیدی۔

○ از قیاسش خندہ آمد خلق را۔ کو چو خود پنداشت صاحب دلق را

ت : د قیاس دھغہ نہ خندا راغلہ خلقو تہ، دہ د خپل حان پشان وکنڑہ

○ کار پاکانرا قیاس از خود مگیر۔ گرچہ باشد در نوشتن شیر شیر

ت: کار د نیکانو پہ خپل حان مہ قیاس کوہ، شراو شیر پہ خط کښے یو شانتے دی

ش: یعنی پہ فارسی کښے دواړہ شیر دے۔

○ شیر آں باشد کہ مرد اورا خورد۔ شیر آں باشد کہ مردم را درد

ت:۔ پئی ھغہ دی چہ سړے ھغولرد خوری، او منزړے ھغہ دے چہ خلقولرہ خوری۔

○ جملہ عالم زیں سبب گمراہ شد۔ کم کسے زابدال حق آگاہ شد

ت: تول عالم د دے سبب نہ کمراہ شو، کم خلق د اولیاء د حق سبحانہ نہ خبردار شو۔

ش: یعنی چہ غلط قیاس کوی نو کمراہ کیږی۔ اولیاء ھم حکہ نہ پیژنی چہ دوی ھغوی لرہ پہ حان قیاس کوی، البتہ لږ خلق چہ د صحیح قیاس والہ دی ھغوی اولیاء اللہ لرہ پیژنی۔ ابدال ورتہ حکہ وائی چہ یو مرشی نو د ھغہ پہ ځائے بل مقرر شی۔ دویمہ د دعا کانے حوالہ دی یعنی د مسلمانانو دپارہ دعا کانے غواړی، دوی اکثر حان نہ پیژنی چہ ولی یم حان ورتہ عاجز سنکاری۔ دعا کانے چہ غواړی د مسلمانانو ھغتہ تکوینی ولی وائی۔ او چہ دعوۃ ورکوی ھغہ تہ ولی تشریعی وائی۔ ولی تشریعی بہتر دے دولی تکوینی نہ، نو تحقیق پکښے شتے خو ھغہ د عوام دپارہ مفید نہ دے او یقینی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هم دے - دا هم یقینی خبره ده چه متصرف او بادشاه او عالم الغیب بغیر د باری تعالیٰ نه بل څوک هیڅ کله نیشتے ، مشکل کشا صرف او صرف باری تعالیٰ دے او مجیب الدعوات هم صرف باری تعالیٰ دے ، مولانا صاحب خو د وحدة الوجود قائل دے ، دے خو د غیر الله وجود نه منی بیا ورله تصرفات ثابتول د کارسازی دا خبره خود مولانا صاحب نه په میلونو لرے ده -

○ اشقیا را دیده بینا نبود - نیک و بد در دیده شاں یکساں نمود

ت : بد بختو له ستر کے بینا ندی ، نیک او بد په ستر کو د دوی کښے یوشان ښکاری -

○ همسری با انبیا برداشتند - اولیا را همچو خود پندا شتند

ت : مقابله ئے دا نبیاء سره وکړه ، اولیاء ئے د ځان پشان او کنړل -

○ گفته اینک ما بشر ایشاں بشر - ما و ایشاں بسته خوابیم و خور

ت : اووے هغوی چه دوی سړی او مونږه هم سړی یو ، مونږه او دوئی محتاج د خوب او د خوراک یو -

ش : وقالوا مالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ یَاْکُلُ الطَّعَامَ الخ (فرقان ع ۱) دا څنګه رسول دے چه خوری طعام - یعنی مونږه طعام خورو او دے هم طعام خوری نو دے څنګه پیغمبر دے - فائده : معلومه شوه چه طعام خوړل د کمال باطنی سره ئے منافات نیشتے -

○ این ندانستند ایشاں از عمی - هست فرقے در میاں بے منتهی

ت : دوئی لره ئے او نه پته ند ړوند والی نه ، چه فرق په مینځ د دواړو کښے دیر دے -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ہر دو گوں زنبور خوردند از محل۔ لیک شد زاں نیش وزاں دیگر عسل

ت: دُوارہ قسمہ مچئی خوری دیوحائے نہ لیکن دیوے نہ لشہ او دبلے نہ کبین جور

○ ہر دو گوں آہو گیا خوردند و آب۔ زیں یکے سرگیں شد و زاں مشک ناب

ت: دوارہ ہوسو کیاہ خوړلہ او اوبہ، دیوے نہ غوشیان او دبل نہ خالص مشک پیدا شو۔

ش: د را موسکی غوټہ تر ینہ مراد دہ۔

○ ہر دو نے خوردند از یک ابخور۔ آں یکے خالی و آں پر از شکر

ت: دوارہ نلونہ خوری اوبہ دیوحائے نہ، هغہ یو خالی نل دے او بل ډک دے د شکر و منہ یعنی یو نل دے او بل ګنے دے د خوږ و نہ ډک۔

○ صد ہزاراں ایں چنیں اشباہ بیں۔ فرق شاں ہفتاد سالہ راہ بیں

ت: مثل زرہ دغسے امثال اوویئہ، فرق دَ دوی اوٴیا کالہ دلارے اوویئہ۔

○ ایں خورد کرد دیگرے زو جدا۔ واں خورد گردد ہمہ نور خدا

ت: دے خوری نو جور پیږی تر ینہ پلیتی، او هغہ خوری دهغِنہ نوُر دخدائے جوړ پیږی

ش: بدان خوراک خوُری د هغے نہ کندہ عقائد پیدا کیږی او نیکان خوراک خوُری او د هغے نہ صحیح عقائد پیدا کیږی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ایں خورد زاید ہمہ بخل و حسد واں خورد زاید ہمہ نور احد

ت: دے خوری لہ دینہ پیدا کیں ی بخل او کینہ، او ھغہ خوری د ھغے نہ پیدا کیں ی نور د خدائے تعالیٰ۔

ش: دا بیت د مخکنے بیت تفصیل دے۔ یعنی دبد سړی د غذا نہ د ھغہ جسم صحیح شی نو بد عمل بہ شروع کړی، او د نیک سړی د غذا نہ چہ جسم صحیح شی نو دے پے نیک عمل شروع کړی د نیکانو جوند د خہ عمل دپارہ دے او غذا ئے سبب دے۔ او د بدانو جوند صرف د خوراک دپارہ دے۔

○ ایں زمینِ پاک داں شورست و بد۔ ایں فرشتہ پاک و آں دیوست و دد

ت: دا زمکہ پاکہ دہ او ھغہ ترخہ دہ او بدہ دہ، دا فرشتہ پاکہ دہ او ھغہ شیطان دے او دیو دے۔

○ ہر دو صورت گر بہم ماند رواست۔ آب تلخ و آب شیریں را صفاست

ت: دوہ صورتونہ کہ یو بل سرہ مشابہ وی نو جائز دہ، ترخو او بو او خوږو او بولرہ صفائی دہ۔

○ جز کہ صاحب ذوق کہ شناسد بیاب او شناسد آب خوش از شورِ آب

ت: بے د صاحب ذوق نہ دے څوک پیژنی، معلوم کړہ، دے پیژنی خوږو او بو لرہ د ترخو او بونہ۔

○

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ جز کہ صاحب ذوق کہ شناسد طعوم ۔ شہد را نا خوردہ کے داند زموم

ت: بے دھ صاحب ذوق نہ څوک پیژنی مزے د کبین لرہ چہ نہ وی خوړلے، نو څوک معلولے شي د جاولے نہ۔

○ سحر را با معجزہ کردہ قیاس ۔ ہر دو را بر مکر بنہادہ اساس

ت: د سحر قیاس ئے اوکړو د معجزے سرہ د دواړو بُنیاد ئے یخو دو پہ مکر باندے

ش: سحر تر تب د اُمور غریبو دے پہ اسباب خفیو باندے بے د اِستمداد من اللہ دے نہ لکہ ریدیو چہ خبرے کوی پدیکښے اسباب پټ شتے ۔ او پہ معجزہ کښے اسباب نہ وی، د غسے پہ کرامۃ کښے اسباب نہ وی، کرامۃ پہ لاس د ولی تبکارہ کیږی او معجزہ پہ لاس د نبي دواړہ غیر اختیاری دی د کرامت بنا پہ کتمان دہ او د معجزے بنا پہ اظہار دہ ۔ کرامت یو حِسی دے یعنی خوارق اوبل کرامت معنوی دے یعنی اتباع د شرعے ھغہ مدار د کمال او اختیاری دے، د ھغہ اثر دے وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ۔ (یٰسٓ ع ۲۷) ارھاص د پیغمبر خوارق دی پخواد پیغمبرئ نہ اِعانت د عام مؤمن سرہ باری تعالیٰ ناشنا امداد کوی، خُذلان د مدّعی دنبوۃ پہ لاس تبکارہ کیږی خلاف د مدعا د ھغہ نہ، مثلاً ھغہ باران او غواړی او ئے نباسہ پے اُور اُوو ریږی ۔ تفصیل نشر المرجان کښے دے۔

○ ساحراں با موسیٰ از استیزہ را ۔ برگرفتہ چوں عصا اُو عصا

ت: ساحرانو د موسیٰ علیہ السلام د مقابلے د پارہ نیولے وے پشان د ہمساد ھغہ ہمساکانے

○ لعنۃ اللہ ایں عمل را در قفا ۔ رحمۃ اللہ آں عمل را در وفا۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : لعنت د اللہ تعالیٰ دے پدے عمل نہ رُوستہ ، رحمت د اللہ تعالیٰ دے د دغہ عمل پہ بدلہ کښے

ش د لعنۃ معنیٰ دہ حرمان ، پہ دنیا کښے لعنت حرمان دے د دین نہ ، او پہ آخرت کښے حرمان دے اُبدی د جنت نہ - دین جنت دے او کفر دوزخ دے .

## ○ کافراں اندر مرے بوزینہ طبع - افتے امد درون سینہ طبع

ت : کافران پمقابلہ د انبیآء کښے پشان د شادو کانو طبیعت لری ، آفت دے پہ سینہ کښے مُمر دکفر -

ش : یعنی پہ چا چہ ممر دکفر اُوتکی او خاتمہ ئے پہ کفر مقرر شی نو دوی د انبیآء مقابلہ شروع کړی او د هغوئ پیښی کوی لکہ شادو کان چہ پہ پیخو کښے مشہور دی خَتَمَ اللّٰہُ عَلٰی قُلُوْبِھِمْ الخ ، بقرہ ع ممر تکولے دے باری تعالیٰ پہ زړونو د دوی باندے - د ممر معنیٰ دہ سلب د اِستعداد د اَیمان ، پہ سبب د بدعمل سرہ ، یعنی سرہ بدعمل کوی نو تور داغ ئے پہ زړہ اُوتکی چہ دے توبہ کار شی نو دغہ داغ صفا شی ، او چہ توبہ اُونہ باسی او بل گناہ کوی بیا بل گناہ کوی او ندامت نہ کوی نو دہ نہ اِستعداد د ایمان او د نیک عمل باری تعالیٰ پہ قمر سرہ ختم کړی .

کَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰی قُلُوْبِھِمْ مَا کَانُوْا یَکْسِبُوْنَ (مطففین ع ۱) ، دا سے نہ دہ بلکہ زنگ راغلے دے پہ زړونو د دوی هغہ بدعمل چہ دوی کوی - د غسے چہ نیکی کوی نو بدئ اِستعداد تنہ باری تعالیٰ ختم کړی ، او د نیکئ تسلی راولی پہ زړہ دہ کښے .

وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوْبِھِمْ الخ کہف ع ۱ ما ممر د رحم او تکوی پہ زړونو د دوی . د دے پورہ تفصیل ما پہ نشر المرجان کښے لیکلے دے . شیخ

## ○ ہرچہ مردم میکند بوزینہ ہم - آں کند کز مرد بیند دمبدم

ت : هر څہ چہ سړی کوی نو شادو هم هغہ کوی ، چہ دسړو نہ وینی هر ساعت

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ او گماں بردہ کہ من کردم چو اُو۔ فرق را کے بیند آں استیزہ جو

ت : دے گمان کوی چہ ځه کوم پشان دده ، فرق لره چرته معلوموی دغه مقابله

○ ایں کونکے کند از امر واں بہر ستیز۔ بر سر استیزہ رویاں خاک بیز

ت : دے کوی په حکم د الله سره او هغه کوی دپاره د مقابلے، په سر د مقابله کونکو خاوره واچوه ۔

○ آں منافق با موافق در نماز از پئے استیزہ آید نے نیاز

ت : دغه منافق د موافق سره پمانځه کښے دے خو دے مقابلے دپاره راغلے دے نه دپاره د عاجزئ ۔

○ در نماز و روزہ و حج و زکوٰۃ ۔ با منافق مومناں در بردو مات

ت : په مانځه ، روژه ، ج او زکوٰة کښے د منافق سره مؤمنان په بری او په لری کښے دی ۔

ش : یعنی کله د مؤمن بره وی او کله لره په مقابله د منافق کښے ، خو مقصد د منافق صرف مقابله ده او مقصود د مؤمن رضائے الٰهی ده ۔

○ مومناں را برد باشد عاقبت ۔ با منافق مات اندر آخرت

ت : مؤمنانو لره بره وی په انجام کښے او د منافق لره دے په آخرة کښے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ گرچہ ہر دو بر سر یک بازی اند۔ لیک باہم مرغزی و رازی اند

ت: اګرچه دوی دواړه په سر دیوے لوبے کښے دی، لیکن یو تر بله یو مرغزی دے او بل رازی دے۔

○ ہر یکے سوئے مقامِ خود رود۔ ہر یکے بر وفقِ نامِ خود رَود

ت: هر یو به په طرف د مقام خپل ځی، هر یو به موافق د نوم خپل ځی۔

○ مومنش خوانیش جانش خوش شود۔ ور منافق تند و پر آتش شود

ت: که مؤمن ورته اُو وائے نو رُوح د هغه خوشحاله شی، او په منافق ویلو کښے قین او چک د اُوره شی۔

ش: یعنی په نوم د مؤمن کښے خه اُش دے او په نوم د منافق کښے بد اثر دے۔

○ نامِ آں محبوب از ذات ولیست۔ نامِ ایں منبوص ز افاتِ ولیست

ت: نوم د مؤمن محبوب د عمل د ذات د هغهٔ دے، نوم د منافق ناکاره د بد عمل د ده نه دے۔

○ میم و واو و میم و نوں تشریف نیست۔ لفظ مومن جز پے تعریف نیست

ت: میم واو او میم نون کمال نه دے، لفظ د مؤمن خو صرف د تعریف د پاره دے

ش: یعنی پدے لفظ سره تعریف وی چه دا مؤمن دے او کمال په عمل کښے دے، نکه یو لفظ د چوچۍ دے پدے لفظ سره څوک نه مړیږی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ گر منافق خوانیش ایں نام دوں ۔ ہمچو کژدم مے خلد در اندروں

مت: کہ منافق ورتہ اُووائی خوک دا نوم بد نو پشان دلرم چیچی زړہ دده۔

○ گر نہ آں نام اشتقاق دوزخ ست ۔ پس چرا در دے منافق دوزخ ست

مت: کہ دغہ نوم ددوزخ سرہ مناسب نہ وے نو بیا ولے پدہ کښے اثر د دوزخ دے

ش: یعنی نوم د منافق د دوزخ سرہ مناسب دے نو ځکہ پدہ کښے اثر د دوزخ دے۔

○ زشتی ایں نام بداز حرف نیست ۔ تلخی آں آب بحر از ظرف نیست

مت: ناکارہ والے ددے نوم د حروفونہ ندے لکہ تریخ والے د اُوبو دد ریاب د لوخی د وجے نہ ندے۔

ش: یعنی اوبہ د دریاب تروے وی نو دا د لوخی اثر نہ دے۔

○ حرف ظرف آمد در و معنی چو آب ۔ بحر معنی عِندَہٗ اُمُّ الکِتَاب

مت: حرف پشان دلوخی دے پدہ کښے معنیٰ پشان د اُوبو دہ، دریاب د معنیٰ ھغہ ذات سرہ دے چہ ھغہ سرہ لوح محفوظ دے۔

○ بحر تلخ و بحر شیریں ہمعناں ۔ درمیاں شاں برزخ لَّا یَبْغِیَانِ

مت: تریخ دریاب او خوک دریاب یو خائے دی، پہ منځ د دوی کښے پردہ دہ چہ یو بل کښے سرایت نشی کولے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: دغسے خه صفات او بد صفات دی لکه سخاوت خه دے او اسراف بد دے ۔
په مناسب ځائے کښے مال خرچ کول سخاوت دے او بے ځایه مال خرچ کول اسراف دے ۔

○ دانکه ایں ہر دو زیک اصلی رواں ۔ درگزر زیں ہر دو تا معنے آں

ت: پوهه شه چه دا دواړه دیو اصل نه روان دی تیر شه دے دواړه نه معنے د دوئ تر ۔

ش: یعنی خالق د خیر او د شر صرف باری تعالیٰ دے او انسان کا سب دے نو ته تصوّر او تعلق صرف د باری تعالیٰ شروع کړه ۔

○ زر قلب وزِ رِ نیکو در عیار ۔ بے محک ہرگز ندانی اعتبار

ت: کوته زَر او خه زَر په کړه کولو کښے بے د محک نه هیڅ کله اعتبار نه کړی

ش: ۔ محک د زرګرانو سره یو توره کټه ده کسوټی ورته وائی ۔ یعنی خه اخلاق او بد اخلاق د ربانی عالم نه معلومیږی ۔

○ ہر کرا در جاں خدا بنہد محک ۔ ہر یقیں را باز داند او ز شک

ت: هر چا لره چه روح کښے باری تعالیٰ کیدی محک نو هغه یقینی او شکی خبره

○ پیش بنی آنچه گفت اِستَفتِ قَلبَکَ مصطفیٰ ۔ آں کسے داند کہ پُر بود از وفا

ت: هغهٔ چه فرمایلے دی چه د خپل زړه نه تپوس اوکړه ، دا هغه سړے پیژنی چه چک وی د وفا نه ۔

ش: یعنی دیندار خلق خه او بد ښه پیژنی نه فاسقان ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ در دہانِ زندہ خاشاک اَرجہد۔ آنگہ آرامد کہ بیرونش نہد

ت: پہ خلہ دجوندی کیږے کہ خشاک راشی نو هلہ پہ آرام کیږی چہ بھر تلہ ئے اړتاؤ کړی

○ در ہزاری آراں لقمہ یک خاشاکِ خورد۔ چوں درآمد حِسّ زندہ پے برد

ت: پہ زرکونو منوړو کښے یو خشاک ورپرے کہ راشی، نو حِس دجوندی هغہ معلوموی۔

ش: یعنی اِدراک والہ سړے غلط شے معلومولے شی نہ فاسق چہ دمرپښتان دے۔

○ حس دنیا نردبان ایں جہاں۔ حِسّ عقبےٰ نردبانِ اسماں

ت: عِلم د دنیا سیړئ ددے جہان دہ، او علم د آخرۃ سیړئ د آسمان دہ۔

○ صحت ایں حس ز معموری تن۔ صحت اں حس ز تخریب

ت: صحت ددے ادراک ظاهری خلق طلب کوی د طبیب نہ، او صحت ددغہ علم باطنی خلق طلب کوی د ربانی عالم نہ۔

○ صحّت ایں حس ز معموری تن۔ صحّت اں حس ز تخریبِ بدن

ت: صحت ددے علم ظاهری د صحت د بدن نہ دے، صحت ددغہ علم باطنی د ریاضت د بدن نہ دے۔

○ شاہ جاں مر جسم را ویراں کند۔ بعد ویرانیش آباداں کند

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: باری تعالیٰ جسم لرہ روان کړي بعد دهغے نه ئے آباد کړي ۔

ش:۔ یعنی چه څوک ریاضت کوی نو باری تعالیٰ د هغه ظاهری جسم کمزورے کړی او روح د هغهٔ ترقی اوکړي ۔

○ اے خنک جانیکہ بہرِ عشق حال ۔ بذل کرد او خانماں و ملک و مال

ت: اے مخاطبه خه دے هغه رُوح چه دعشق د ذوق دپارہ، خرچ ئے کړہ خاندان او ملک او مال ۔

ش: یعنی دعشق د ذوق دپارہ ئے غټه قربانی وکړہ ۔

○ کرد ویراں خانہ بہرِ گنج زر وز ہماں گنجش کند معمور تر

ت، ورانه ئے کړہ خپله دِیره دپارہ د راویستو دخزانے د زَرو بیا ئے د درغه زَرونه خه آباده کړہ ۔

ش: یعنی د ریاضت نه روستو رُوحانی طاقت ئے خه زیات شی ۔

○ آب را ببرید و جو را پاک کرد ۔ بعد ازاں د جو رَواں کرد آ بخورد

ت: اُوبه ئے اُوچے کړے او وَله ئے پاکه کړہ، بیا رُوسته ئے په وله کښے روانے کړے اُوبه ۔

○ پوست را بشگافت پیکاں را کشید ۔ پوست تازہ بعد ازاں نوش بر دمید

ت: پوسکے ئے څیرے کړو او غشے ئے ترینه راخکو، پوسکے تازه رُوسته دهغه ځای نو کیده ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ قلعہ ویران کرد واز کافر ستند۔ بعد ازاں بر ساختش صد برج و سد

ت: قلعہ ئے ورانہ کړہ او د کافرنہ ئے قبضہ کړہ روستہ د هغے نہ ئے جوړے کړے په هغے سل او دیوالونہ۔

○ کہ چنیں بنماید و گہ ضد ایں۔ جز کہ حیرانی نباشد کارِ دیں

د ت: کلہ دا سے کوی او کلہ ضد ددے، بے د حیرانئ نہ ندے کار د دین۔

ش: یعنی کلہ په ریاضت سرہ کمال حاصلیږی او کلہ بے د ریاضت نہ هسے په فضل کامله سرہ معرفت د باری تعالیٰ حاصل شی۔

○ کار بیچوں را کہ کیفیت نہد۔ اینکہ گفتم ہم ضرور میدہد

ت: کار د بے د مثل اللہ تعالیٰ لرہ څوک کیفیت بیا نولے شی، دا چہ ما ویلیدی دا هم ضرورت دے۔

ش: یعنی باری تعالیٰ چہ چا لرہ معرفت ورکوی د دے څوک کیفیت نشی بیا نولے، په باری تعالیٰ څہ کار لازم ندے، دا ریاضت د معرفت دپارہ صرف سبب دے خو سبب تفضلی دے او دے سبب تہ څومرہ ضرورت دے، باری تعالیٰ په خپلو کارونو کښے اسباب تہ محتاج ندے۔

○ کاملاں کز سر تحقیق آگہند۔ بیخود و حیران و مست و والہ اند

ت: کاملان چہ د رازد تحقیق نہ خبر دی نو هغوی بے خودہ او حیران او مست او په فکر کښے دی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: یعنی کاملانُ ته پته ده چه سبب څه شے ندے اصل مؤثر صرف باری تعالیٰ دے نو په سبب کښے کله اګر غور حوی اوکله نه نو دد ے و جے نه کاملان متحیر دی

○ نے چنیں حیراں کہ پشتش سوئے اوست ۔ بل چنیں حیراں کہ غرق و مست زوست

ت: دا سے حیران نه دے چه شاۓ په طرف د هغه ده بلکه دا سے حیران دے چه غرق او مست د هغه دے ۔

ش: یعنی دکاملانو حیرت محمود دے چه ددے رُجوع دباری تعالیٰ په طرف ده اوحیرت مذمومه ندے چه ددوی شک دے چه دباری تعالیٰ د معرفت نه دوی منکر وی او دغیر اللہ سره ۓ تعلق وی اود هغُنه ۓ طمعه وی ۔ باری تعالیٰ دے حمونږه ټولونه د باری تعالیٰ د طمع نه پاک کړی

آمین یارب العٰلمین

○ ان یکے را روئے اوشد سوئے دوست ۔ ویں یکے را روئے او خود روئے اوست

ت: هغه یولره مخ په طرف د دوست دے ، او هغه بل ډله مخ یقیناً مخ د دوست دے

ش: پدیکښے د حیرت محموده دوه قسمه دی ۔ یو هغهٔ عارف دے چه د هغهٔ توجه ده خپل مولیٰ ته اوبل هغه عارف دے چه هغه د خپل ځان او د کل ماسوا اللہ نه خبر ندے ۔ دا معنیٰ نږه چه د هغه د باری سره اتحاد تام دے ، دا اتحاد زنادقه مټی ، نه مسلمانان ۔

○ روے ہر یک مے نگر میدار پاس ۔ بو کہ گردی تو زحدمت بو شناس

ت: مخ د هر یو اوویله اولحاظ کوه شاید چه ته بر اوکړے د خدمت د دویله معرفت والہ ۔

ش: ځکه د هر مجلس اثر وی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ دیدن دا ناعبادتِ ایں بود ۔ فتح ابواب سعادت ایں بود

ت: لیدل د عارف عبادت دے، بیرته کول د دروازو د سعادت دے

ش: یعنی د عارفانو لیدلو نه سړے عابد کړیَ او د سعادت دروازے ورته بیرته شی۔

اَللّٰہ — یا اللہ مدد — اَللّٰہ

# در فرق میان محقق و مدعی و محقق مُبطل

بیان دے په فرق کښے په مینځ د محقق او د مدّعی او د محقق او د مبطل کښے ۔

ش: یعنی یوحقیقی عارف دے اوبل مدعی دے او په حقیقت کښے عارف ندے ۔ پکار دہ چه سړے حقیقی عارف معلوم کړي او د هغه اتباع کوی ۔ مدعی او مبطل یو دے ۔

○ چوں بسے ابلیس آدم روئے ہست ۔ پس بہر دستے نشاید داد دست

ت: هر کله چه د ډیر ابلیسان د آدمؑ په شکل دی، نو هر لاس له لاس مه ورکوئ ۔

ش: یعنی په بیعت کښے احتیاط کوئ چه چرته مبطل سره بیعت او نشی ۔

○ زانکہ صیاد آورد بانگِ صفیر ۔ تا فریبد مرغ را آں مرغ گیر

ت: د دے وجے نه ښکاری کوی آواز د شپیلی، چه د هوکه کړي مارغه له د هغه ښکاری ۔

ش: یعنی ښکاری د مرغئ پښتان آواز وکړی نو مرغئ خیال وکړی چه دا مرغی ده

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو راشی پدے آواز پسے نو هغه ئے بنکار کړی دغسے مبذل خلق دی چه د صحیح پیرانو پشان خپل کار برابر کړی چه مریدان دهوکه کړی ۔

○ بشنود اں مرغ بانگِ جنس خویش ۔ از ہوا اید بیا بد دام و نیش

ت: واوری دغه مارغه آواز د جنس خپل نو د هوا نه راشی ذ بیا مومی دام او پشه ۔

○ حرف درویشاں بذ زد و مردوں ۔ تا نجواند بر سلیمے زاں فسوں

ت: خبرے د فقیرانُ پتوی رَذیل سړے چه اُووائی په مریض هغه منترے

ش: د منتر نه مراد د اثر خبرے دی ، یعنی د فقیرانو پشان د زهد خبرے کوی چه مریدان دهوکه کړی ، سلیم مار چیچلی ته او جوړ ته او لیونی ته وائی دلته مریض مراد دے ۔

○ کار مرداں روشنی و گرمی ست ۔ کار دوناں حیله و بے شرمی ست

ت: کار د عارفانو روشنی اوگرمی ده ، او کار د رذیلانو حیله او بے شرمی ده ۔

ش: د گرمئ نه مراد شوق دے ۔

○ شیر شپیں از برائے گد کنند ۔ بو مُسَیلَم را لقب احمدؐ کنند

ت: منذرے د وړو د پاره د خیرات غوختو جوړ وی ، مُسیلمه کذّاب ته لقب د احمدؐ ورکوی ۔

ش: خلق د وړو نه منذرے جوړ کړی نو خلق تماشے د پاره راجمع شی نو بیا زیره سوال کوی دا غلطه حیله ده ، مسیلمه کذاب ته لقب د احمدؐ ورکوی یعنی غلط سړی ته غه وائی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ بو مسیلم را لقب کذّاب ماند۔ مر محمدؐ را اولوالالباب ماند

ت: مسیلمه لره لقب کذّاب پاتے شو، او نبي علیه السلام لره لقب عاقل پاتے شو

○ آں شراب حق ختامش مشکناب۔ بادہ را ختمش بود گند و عذاب

ت: دغه شراب دحق سبحانه آخیر مشک خالص دی او شرابولره انجام وی کند او عذاب۔

ش: یعنی د باری تعالیٰ د معرفت د شرابو په انجام کښے کامیابی ده۔ او د شرابو انجام په دنیا کښے گند او په آخرة کښے عذاب دے۔

## داستانِ آں با دشاہ جہود کہ نصرانیاں را میکشت از تعصب

ت: قصه د هغه بادشاه یهودی چه نصرانیان ئے مړه کول د وجے د تعصب نه

ش: پدے قصه کښے د مکار پیر قصه ده چه وزیر د خان نه پیر جوړ کړے وو او نصرانیان ئے گمراه کړل، او په دنیا کښے هغوی هلاک شو او په آخرة کښے هغوئ عذاب ته لاړه، د غسے هغه باطل دے۔ او د حق انجام کامیابی ده فی الدّارَیْن، او د باطل انجام خُسران دے فی الدارین۔

○ بود شاہے در جہود اں ظلم ساز۔ دشمن عیسیٰ و نصرانی گداز

ت: وو بادشاه په یهودو کښے ظلم جوړ وکے، دشمن د عیسیٰ علیه السلام وو او نصرانیانو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لرہ ختمولکے ووَ۔

○ عہد عیسیٰ بود و نوبت آنِ او۔ جان موسیٰ او و موسیٰ جانِ او

ت: زمانہ د عیسیٰ علیہ السلام وہ دوران د هغه ووَ، عیسیٰ علیہ السلام رُوح د موسیٰ علیہ السلام ووَ، او موسیٰ علیہ السلام روح د عیسیٰ علیہ السلام ووَ۔

ش: یعنی د موسیٰ علیہ السلام او د عیسیٰ علیہ السلام دین اُصولاً یودے ګڼ چه په فرعیو مسئلو کښے ګڼ اختلاف شتے۔

فائدہ: یو اختلاف دے دا رَحمۃ دے او پدیکښے توسیع ده په اُمت باندے او بله تفرقه ده چه یو بل ته غلط نسبتونه کوی دا تفرقه غلطه ده۔

شاه احول کرد در راه خدا۔ آں دُو دمساز خدائی راحد

○ بادشاه کرل په لارے د خدائے تعالیٰ کښے هغه دواړه موافقو لرہ جدا

ش: یعنی هغه دواړه موافق ووَ نبو بادشاه کوک ووَ نو هغه دواړه ے جدا کړل

○ شاهِ احول کرد در راه خدا۔ روبروں آراز وثاق آں شیشه را

ت: اُووے اُستاذ کوک ته دننه راشه، لاړ شه بهر ته او راوړه د طاق نه دغه بوتل لرہ۔

ش: احول هغه چا ته ویلے کیږی چه یو شی ورته دوه ښکاری۔

○ چوں درون خانہ احول رفت نمود۔ شیشه پیش چشم او دو مینمود

ت: هر کله چه دننه احول لاړ و نه، شیشه په مخ د سترګو د هغه کښے دوه ښکاره شوه۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



گفت احول زاں دو شیشہ تا کدام ۔ پیش تو آرم بکن شرحے تمام

ت: اووے احول د دغہ دوو شیشونہ کومہ تالہ راوړم پورہ بیان ماتہ وکړہ۔

گفت استاد آں دو شیشہ نیست رو ۔ احولی بگذار و افزوں بیں مشو

ت: اووے استاذ دوہ شیشے نہ دی، لاړ شہ احولی مہ کوہ، او پیرمہ ووینہ

گفت اے استاد مرا طعنہ مزن ۔ گفت استا زان دو یک را بر شکن

ت: اووے هغہ اے استاذہ په ما طعن مہ کولہ ۔ اُووے استاذ د دغہ دوو نہ یوہ

چوں یکے بشکست ہر دو شد ز چشم ۔ مرد احول گرد واز میلان و خشم

ت: هر کلہ چہ یوہ ئے ماتہ کړہ نو دواړہ لاړے د سترګو نہ، سړے احول کرځی د میلان او د خشم نہ۔

ش: دغسے چہ دیو پیغمبر نہ خلاف کوی نو دا دتولو پیغمبرانو نہ خلاف دے۔ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۔ بقرہ ع۳۵ فرق نہ کوو په منځ د یو رسول کښے د رسولانو د اللہ تعالیٰ نہ، د غسے مجتهدین دی د هر مجتهد په مذهب عمل جائز دے د تولو مذهبونو عقیدہ یوہ دہ تفرقہ پکښے نشتہ، او فرعی اختلاف د احادیثو نہ او د قرآن نہ په اجتهاد سرہ معلوم شوے دے مثلاً ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ بقرہ ع۲۳۳ لفظ قرء مشترک دے په طهر او په حیض کښے، ددے اختلاف د مذاهب پیدا شو، نو لکه د هر مجتهد په اجتهاد باندے عمل جائز دے، دا سے اختلاف په صحابه کرامو کښے هم لاغلیدے د نبی علیه السلام په حضور کښے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ شیشہ یک بود و بحشمش دو نمود ۔ چوں شکست آں شیشہ را دیگر نبود

ت: شیشہ یوہ دہ او په ستر ګو دهغه کښے دوه ښکاره کیده ، هر کله چه هغه یوه ماته کړه نو بله هم ختم شوه ۔

○ خشم و شہوت مرد را احول کند ۔ زاستقامت روح را مبدل کند

ت: قهر او خواهش سړے احول کوی د استقامت نه روح لره بدلوی

○ چوں غرض آمد ہنر پوشیدہ شد ۔ صد حجاب از دل بسوے دیدہ شد

ت: هر کله چه غرض راشی نو هنر پټ شی ، سل پردے د زړه نه په طرف د ستر ګو جوړے شی ،

○ چوں دہد قاضی بدل رشوت قرار ۔ کے شناسد ظالم از مظلوم زار

ت: هر کله چه قاضی په زړه کښے رشوت لره ثبوت ورکړی ، نو چرته پیژنی ظالم د مظلوم عاجز نه ۔

○ شاہ از حقد جہود انہ چشاں ۔ گشت احول کالا ماں یا رب اماں

ت: بادشاه د کینے د یهودیت نه دومره احول کر حیدلے وو ، چه آمان تر ینه غواړم اے خدایه آمان ۔

○ صد ہزاراں مومن مظلوم گشت ۔ کہ پناہم دین موسیٰ را و لشت

ت: سل زره مظلوم مؤمنان هغه مړه کړه ، چه څه پناه د دین د موسیٰ یم او تکلیم د هغه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# حکایت وزیر بادشاہ و مکر او در تفریق ترسایاں

ت ، قصه د وزیر د بادشاه او مکر د هغهٔ په تفریق د عیسایانو کښے ۔

○ اووزیرے داشت رہزن عشوہ دہ۔ کو بر آب از مکر بر بستے گرہ

ت: دے وزیر لرہ داکووَ دھوکہ باز ، چه هغه به په اُوبود مکر نه جوړه ولے غوټے

○ گفت ترسایاں پناہ جاں کنند۔ دیں خود را از ملک پنہاں کنند

ت : اووے هغهٔ چه عیسائیان دخپل رُوح پناه کوی ، او دین خپل د بادشاه نه پټوی

○ با مِلک گفت اے شہ اسرار جو۔ کم کُش ایشانرا و دست از خوں بشو

ت: بادشاه ته هغه اُوے چه اے بادشاه راز طلب کونکیه ، کم مړه کوه دوی لرہ او لاس د وینو ځدوی نه اُخی وینځه ۔

○ کم کُش ایشانرا کہ کشتن سود نیست ۔ دیں ندارد بوئے مشک و عود نیست

ت: کم مړه کوه دوی لرہ چه مړه کولو کښے خیر نشتے ، دین نه لری او بوئے مُشک او عود نه دے ۔

○ سر پنہان ست اندر صدِ غلاف ۔ ظاہرش باطل ست و باطن بر خلاف

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: زار پت دے په تسلو غلا فونو کښے، ظاهر تاسره دے او باطن ئے خلاف دے

○ شاه گفتش پس بگو تدبیر چیست ـ چاره ایں مکر و ایں تزویر چیست

ت: بادشاه ورته اووے نوته اووایه بهتر علاج څه دے، ددے مکر او ددے دروغو

○ تا نماند در جهاں نصرانیئے ـ نے هویدا دین و نے پنهانئے

ت: چه پاتے نشی په جهان کښے یو نصرانی، نه ظاهر دین ددوی او نه پت ـ

○ گفت مر ا شه گوش و دستم را ببر ـ بینیم لبشگاف ولب از حکم مر

ت اووے هغه چه اے بادشاه غوږ ونه او لاس حما غوڅ کړه او پوزه مے څیرے کړه او شونډے هم په سخت حکم سره ـ

○ بعد ازاں در زیر دار اورمرا ـ تا بخواهد یک شفاعت گر مرا

دار

ت: بیا لاندے ددار نه راوله مالره، چه اوغواړی یو شفاعت کوونکے مالره ـ

○ بر منادی گاه کن ایں کار تو ـ بر سر رائے که باشد چار سو

ت: بیا ته داکار په ځائے داعلان کښے وکړه، په سر دلارے چه وی چوک ـ

○ آنگهم از خود بران تا شهر دور ـ تا در اندازم در ایشاں صد فتور

ت بیا ما د خپل څنګ نه وشړه لرے بنار ته، چه ور اوغږ زوم پدوی کښے سل نقصانه ـ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ چوں شود آں قوم از من دین پذیر۔ کار ایشاں سر بسر شوریدہ گیر

ت: هرکله چه شی دغه قوم حما نه دین قبلونکی، نو کار ددوی ټول اوکړ خوره برباد

○ درمیاں شاں فتنہ و شور افگنم کاہر من حیراں شود اندر فنم

ت: په مینځ ددوی کښے به دا سے فساد اوغورځوم، چه شیطٰن به حما په کار کښے حیران پاتے کیږی۔

ش: د آتش پرستو په عقیده کښے هرمن خالق د شر ته وائی، او خالق د خیر ته دوی یزدان وائی۔ د لته مراد د اهرمن نه شیطٰن دے۔

○ آنچه خواہم کرد با نصرانیاں۔ آں نمے اید کنوں اندر بیاں

ت: هغه چه غواړم نو هغه به وکړم د عیسایانو سره، هغه اوس نه راځی په بیان کښے۔

○ چوں شمارندم امین وراز داں۔ دام دیگر گوں نہم در پیش شاں

ت: هرکله چه ما اشماری امین او راز دان، نو بل دام به په مخکښ ددوی کیږدم

○ وز حیل بفریبم ایشاں را ہمہ۔ واندر ایشاں افگنم صد رمدمہ

ت: او په حیلو به دهوکه کړم دوی ټول، او په دوی کښے به اوغورځوم سل فریبونه

○ تا بدستِ خویش خون خویشتن۔ برزمیں ریزند کوتہ شد سخن

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: چه په لاس خپل به خپله وینه په ز مکه توئ کړي دا لنډه خبره ده.

○ تلبیس اندیشیدن وزیر با نصاری و مکر او

ت: همکر کول د وزیر د نصاریٰ وو او مکر د هغه.

ت: پس بگوئیم من پسر نصرانیم - اے خدائے رازداں میدانیم

چیدالشی کفرانی یم

ت بیا به حه اوایم چه حه نصرانی یم، اے خدا یه پټ معلوموکیه ته ما پیژنے

ش: یعنی حه به نصرانیانو ته اووایم چه نصرانی اوم نو بادشاه حمانه خبرشو نوماسره ئے داکار وکړو.

○ شاه واقف گشت از ایمان من - وز تعصب کرد قصد جان من

ت: بادشاه خبرشو د ایمان حمانه، نو د تعصب نه هغه حماد مرګ قصدوکړو

○ خواستم تا دین زشه پنهان کنم - آنچه دین اوست ظاهر آں کنم

ت: ما اراده اوکړه چه خپل دین د بادشاه نه پټ کړم، هغه چه دین دهغه دے ظاهر هغه کوم.

○ شاه بوئے برد از اسرار من - متهم شد پیش شه گفتار من

ت: بادشاه ران معلوم کړو د باطن حمانه، او متهم شوه په مخ د بادشاه کښے خبره حما.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



گفت گفتِ تو چناں در روغن ست ۔ از دلِ من تا دلِ تو روزن ست

ت: اُوو ے بادشاہ چہ خبرے ستا پشان د روڼی دی پہ غوږو کښے، حمّا دزړہ نہ ستا زړہ تہ دریچہ دہ۔

ش: یعنی ظاہر خبرے ستا د اسے دی کلہ ڼ و ڼی پہ غوږو کښے لیکن باطن دے خراب دے۔

من ازاں روزن بدیدم حال تو ۔ حال دیدم کے نیوشم قال تو

کے مشنوم

ت: ما د دغہ دریچے نہ اُولیدو حال ستا، حال ستا ما اُولیدو خو نہ اَورم ویناستا۔

گر نبودے جان عیسیٰ چارہ ام ۔ او جہودانہ بکردے پارہ ام

ت: کہ نہ وے روح د عیسیٰ علیہ السلام امداد ی حمّا، نو دغہ یہودی بہ مالړ ټکړے ټکړے کړے وے۔

ش: دا د شرک دعوۃ دے چہ عیسیٰ علیہ السلام حمّا حامی وائ، دا د وزیر مقصد ووچہ دوی مشرکان کړی۔

بہر عیسیٰ جاں سپارم سر دہم ۔ صد ہزاراں منّتش بر جاں نہم

ت: د پارہ د عیسیٰ علیہ السلام روح ورکوم او د سر قربانی پیش کوم، سل زرہ احسانونہ پہ حمّا کښ ہم۔

جاں دریغم نیست از عیسیٰ ولیک ۔ واقفم بر علم و دینش نیک نیک

ت: روح منعرفہ د عیسیٰ نہ، ګکہ خبیرم د دین د عیسیٰ علیہ السلام نہ خہ پوہیږم

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ حیف ہے ایدمرا کاں دینِ پاک ۔ درمیاں جاہلاں گردد ہلاک ۔

ت: افسوس را ځی مالره چه دا دین پاک به وکړ ځی په منځ د جاهلانو کښے هلاک۔

○ شکر یزداں را و عیسے را کہ ما ۔ گشتہ ایم ایں دین حق را رہنما

ت: شکر دے الله تعالیٰ لره او عیسیٰ علیه السلام لره چه مونږه ے کړ ځولی یو دے دین حق رښما۔

ش: پدیکښے هم دعوه د ے شرک ته چه شکر د دواړو ئے ثابت کړو یوځائے ۔

○ وز جہود و از جہوداں رستہ ایم ۔ تا بر تارایں میاں بربستہ ایم

ت: شکر دے چه د یهودی بادشاه او د یهودیانو نه خلاص شوم، او دا زینار مونږه په ملا کړو ۔

ش: یعنی پټ مونږه دا زِ زینار ترڅے دے ۔ دا د نصارو غلط زعم دے چه پدے مزی عیسیٰ علیه السلام تیزندی شویدے او هغه د اُمت خپل گناه په خپل سر اغستے دے ۔

○ دور دور عیسیٰ ست ایمرد ماں ۔ بشنوید اسرار کیش او بجاں

ت: زمانه ز مانه د عیسیٰ علیه السلام ده اے سړو نو واورئ را زونه د مذهب دهغه په اخلاص سره ۔

○ کایں شہیدین و ظالم بس عدوست ۔ مے نداند ہیچ دشمن راز دوست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: چه دا بادشاه بے دینه اوظالم دیر دشمن دے نه پیژنی هیڅ دشمن له
ددوست نه

○ ایں سخن میگفت با نصرانیاں ۔ لیک بودش دل بسوئے شہ کشاں

ت: دا سے خبرے کولے د نصرانیانو سره، لیکن د ده زړه د بادشاه په طرف راکولو
دوٗ۔

○ گفت شہ را کائے شہنشہ صبر کن ۔ تا من ایشاں را کنم از بیخ و بن

ت: اُووے ده بادشاه ته چه اے بادشاه صبر کوه چه څه ددوی اوکنم بنیاد
د ویخ نه۔

○ چوں شمارندم امین و مقتدا ۔ سر نہندم جملہ جویند راہتدا

ت: هرکله چه دوی ما آمین او مقتدا اوګڼې، نو سر د تسلیم به ماته
کیدی او طلب به کړې هدایت ځما نه۔

ش: نو پدغه وخت به څه دوی برباد کړم۔

○ چوں وزیر آں مکر را بر شہ شمرد ۔ از دلش اندیشہ را گلی ہبرد

ت: هرکله چه وزیر دغه مکر بادشاه ته شمار کړو، نو د زړه د بادشاه نه ئے فکر
قول ختم کړو۔

○ کرد باوے شاه آں کار یگہ گفت ۔ خلق حیراں ماند زاں راز نہفت

ت: اوکړو بادشاه د هغه سره هغه کار چه هغه ویلے وو، خلق حیران شود
د غه راز پټ نه۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ کرد در سوایش میان انجمن  تا کہ واقف شد ز حالش مرد و زن

ت: رسوائے کړو دہ لرہ پہ مینځ د مجلس کښے، چہ واقف شو د حال دده نه سړی او ښځے۔

○ راند او را جانبِ نصرانیاں  کرد در دعوت شروع او بعد ازاں

ت: وئے شړو هغه لرہ په طرف د نصرانیانو، نو هغه په دعوت شروع وکړه روسته ددینه۔

○ چوں چناں دیدند ترسایانش زار  مے شدند اندر غم او اشکبار

ت: هر کله چه داسے اولیدہ دہ لرہ عیسایانو عاجز، نو شو غم دده نه جړپدونکی۔

○ حال عالم اینچنین ست اے پسر  از حسد میخیز و اینہا سر بسر

ت: حال د عالم داسے دے چه اے بچیه! چه د حسد نه پیدا کیږی داسے قول کار ونه۔

ش: دا انتقال دے په یکښی د حسد اثر بیانوی۔

○ جمع آمدن نصاری با وزیر و راز گفتن ایشاں

ت: جمع کیدل د نصارا و د وزیر سره او راز وئیل د هغه دوئیته

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ صد ہزاراں مرد ترسا سوئے او۔ اندک اندک جمع شد در کوئے او

ت: سل زرہ عیسایان په طرف د هغهٔ جمع شو، ټک ټک په محله د هغه کښے۔

○ او بیاں میکرد با ایشاں براز۔ سر انگیئوں و زنار و نماز

ت: ده بیانولے هغوی ته باریکے مسئلے په خلوة کښے، مسئلے د انجیل او د زنار او د مانځه۔

○ او بیاں میکرد با ایشاں براز دایما اقوال و افعال مسیح

ت: ده بیانول هغوئ ته په فصاحت سره همیشه اقوال او افعال د عیسیٰ علیه السلام۔

○ او بظاہر واعظ احکام بود۔ لیک در باطن صید و دام بود

ت: دے په ظاهر کښے واعظ د احکامُ وو لیکن په باطن کښے صید د دام وو۔

ش: منکاری شپیلی وهی چه دام ته مارغان راشی۔ دا سه د ے ملک وو خلقے په فریب سره کفر ته راوسته۔

○ بہر ایں معنی صحابہ از رسول ملتمس بودند مکر نفس غول

ت: د پاره د د ے معنیٰ اصحابو د نبي علیه السلام نه تپوس کوو، د مکر د نفس چه هلاکوکے دے

○ کو چہ امیزد ذا غراض نہاں در عباد تنہا و در اخلاص جاں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: چه دے یوځای کوی پټ غرضونه ، په عباد تونو کښے او په اخلاص د روح کښے

فضل طاعت رانجستند از وعیب باطن راجستند که گو

ت: فضیلت د طاعت به ئے نه طلب کوو د هغه نه ، عیب پټ به ئے طلب کوو چه اووایه-

موبمو و ذرّه ذرّه مکر نفس ۔ میشناسید نه چوں گل از کرفس

کرفس یو سبزی دے

ت: ویخته په ویخته ذره ذره مکر د نفس به ئے پیجندو پشان ګل د کرفس نه ۔ کرفس یوه بد بویه کیاوه ، یعنی بد اوبنه به ئے جدا کول ، چه دبدونه ځان پاک کړی

حذیفہ نوم تړی صحابی دے

گفت زاں فصلے حذیفہ با حسن تا بداں شد وعظ و تذکیرش حسن

ت: بیانوکړے دو د افضل حذیفه حسن نه (نهالئه تر اتیره) چې بنکاره شی وعظ د دوی نه ډیر ښائسته

موشگافان صحابه جمله شاں خیره گشتند دراں وعظ و بیاں

ملیبه سنظه نکی

ت: ویخته خیرونکی اصحاب تول حیرانیده د دغه وعظ او بیان نه ۔

ش: ویخته خیرونکو نه مراد نکته شناس او باریک بین وه ۔

دل بدو دادند ترسایاں تمام ۔ خود چه باشد قوت تقلید عام

ت: زړه د ته ورکړو خواصو عیسایانو تولو ، نو عوامو تقلید کښے څه طاقت وے

ش: داعود دے قصے ته یعنی خواص تابع شو عوام خو درکنار ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ در درون سینہ مہرش کاشتند ۔ نائبِ عیسیٰ مسیحا داشتند

ت: په زړه کښے دننه دوی مینه د هغه اوکړله ، دوی دلره نائب د عیسی علیه السلام اوګڼړو ۔

○ اولبر دجال یک چشم لعین ۔ ایخدا فریاد رس نعم المعین

دے یه یوه سترګه دجال یوستر کے لعین ووَ

ت: دے په باطن کښے دجال یوستر کے لعین ووَ، اے خدایه مونږه امداد وکړه ته خه معین ئے ۔

○ صد هزاراں دام و دانه ست ایخدا ما چو مرغان حریص بے نوا

ت: سل زره دامونه او دانے دی اے خدایه ! مونږه پشان د مرغانو یو حریص او وږی یو۔

ش: دا انتقال دے بیان د مکر د شیطان ته په مناسبت د مکر دوزیر۔

○ دمبدم پابستهٔ دام نوایم هر یکے گر باز و سیمرغے شویم

ت: ساعت په ساعت مونږه پابند د نوی دَام یو، هر یو مونږه که باز یا سیمرغ

○ میر ہائی شوخ ہر دمے مارا و باز ۔ سوئے دامے میروئیم اے بے نیاز

ت: بچ کوی مونږه هر ساعت او مونږه بیا هم په طرف د دام اے بے پروا بادشاه !

○ ما درین انبار گندم میکنیم ۔ گندم جمع امده گم میکنیم

گم وده کښے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: مونږه پدے کوډی کښے غنم جمع کوو، او غنم جمع کړے شوو لږه ورکوو

ے مے بینید شتم آخر ما بہوش کایں خلل در کند مست از مکر موش

ت: آخر مونږه فکر کوو په هوش سره چه دا نقصان په غمو کښے د مکر د مشک نه

ے موش تا انبانِ ما حفرہ زدہ است واز قفش انبارِ ما ویراں شدہ است

ت: مشک کوډے حمونږه سوړے کړیدے دفن د هغه انبار حمونږه خراب

ے اول ایجاں دفع شر موش کن ۔ وانگہ اندر جمع گندم جوش کن

ت: اول اے روحه دفع د شر مشک وکړه، بیا په جمع کولو غمو کښے کوشش وکړه۔

ے بشنو از اخباراں صدر الصدور ۔لَا صَلٰوۃَ اِلَّا بِالْحُضُوْرِ

ت: واورئ د خبرو د هغه صدر د شاها نونه، چه مونځ نه کیږی بے د حضور نه

ش: لَا صَلٰوۃَ اِلَّا بِحُضُوْرِ الْقَلْبِ۔ (حدیث) مونځ نه کیږی مګر په حضور د قلب سره ۔ د ضرورت شعری دوجے نه په الفاظ کښے لږ فرق شوے دے ۔ خو نقل بالمعنیٰ په احادیث کښے جائز دے ۔ مولانا صاحب په انتقاد حضور سره انتقاد کمال وکړه دا یوه توجیه ده، بلکه داده چه د حضور نه مراد عقیده ده ۔ یعنی د اِیاکَ نعبدُ د عقیدے نه بغیر مونځ نه کیږی ۔ نو عقیده د توحید او سنة صافه شی نو هله به مونځ وشی د غسے هر عمل په عقیده موقوف دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ریزہ ریزہ صدق ہر روزہ چرا جمع مے ناید دریں انبار ما

ت: لږ لږ صدق هره ورځ ولے نه جمع کیږی په کوډی حمونږه کښے

○ بس ستارہ آتش از اہن جہید وین دل شوریدہ پذرفت وکشید

هغه ورځ

ت: ډیر بخری د اُور داُو سپینے نه والوتل، او دِے زړه پریشانه قبول کړه خان ته ئے راښکل۔

○ لیک در ظلمت یکے یوزدے نہاں مے نہد انگشت بر استارگاں

یوغل پټه دے

ت: لیکن په تیاره کښے یوغل پټ، کمدی کوتله پدغه بخرو۔

ش: یعنی مسلمان عمل کوی خو شیطٰن فریاد وغیره سره د غه اعمال خرابوی نوځکه د دغه عملونو اثر نه منکاره کیږی۔

○ میگشد استارگانرا ایک بیک تاکہ نفروزد چراغے بر فلک

ت: مړه کوی بخری یویو، چه روښانه نشی دیوه په آسمان کښے۔

ش: یعنی نیکی شیطٰن بربادوی چه اُثر دمعرفت په زړه کښے پیدا نشی، زړه پشان د آسمان دے پدے بیتونو کښے بیان خوف دے او په آئنده بیتونو کښے بیان درجا دے البته په دوران د حیات کښے خوف زیات مناسب دے چه مسلمان عمل شروع کړی، او په وخت د موت کښے رجا مناسب ده۔

○ چوں عنایاتت شود با ما مقیم کے بود ہیچے ازاں دز دلئیم

آلاوړے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: هرکله چه مهربانی ستاشی زاے مولیٰ، حمونږ سره ملګرے نوچرته به وی یره ددغه رذیل غل نه۔

○ گر هزاراں دام باشد هر قدم ـ چوں تو با مائی نباشد هیچ غم

ت: که په ندګو نو دامونه وی په هر قدم کښے لیکن چه ته زمونږ ملګرے ئی نو هیڅ غم نیشته۔

○ هر شبے از دام تن ارواح را ـ مے رهانی میکنی الواح را

ت: هر شبه ددام دتن نه روح لره بچ کوے اوما توے تختولره۔

ش: په خوب کښے حواس معطل شی نو روح په هغوی کښے تصرف نشی کولے۔ دے ته رهائی وائی په خوب کښے روح د حیات وی اود احساس کار ختم شی۔ او په موت کښے دواړه نه وی، نوځکه نبي علیه السلام خوب ته ګور د مړک ویلیدے، ګنه څنګه چه روح د تعلقات د بدن نه بچ کیږی په خوب کښے نو دغسے اے مولیٰ! حمونږه روح د تعلقات د دنیا نه بچ کړے۔

○ میر هزاران ارواح هر شب زیں قفس ـ فارغاں بے حاکم و محکوم کس

ت: خلاصه وی ارواح لره هره شپه ددے پنجرے نه، فارغ وی نه حاکم اونه محکوم دچا۔

○ شب ز زنداں بیخبر زندانیاں ـ شب ز دولت بیخبر سلطانیاں

ت: د شپے قیدیان بے خبره وی د قید نه، اود شپے بادشاهان بے خبره وی د دولت نه۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ فارغاں از حرص و اکساب و حصص ۔ مرغ وار از دام جستہ وز قفص

شکور کیږو او دنیا د برخو نہ

ت: اوزکار وی د حرص نہ اود شکور کیدو نہ (پہ دنیا د حرص نہ) او د برخو نہ (چہ حما حصہ دہ) د مارغہ پشان د دام نہ خلاص وی او د پنجرینہ

○ ترک روزا خر چو بازیں سپہر ہندے و شبہ را بہ تیغ افگندہ سر

ت: سپاھی د ورځ آخر پہ دا سر ہ ہندوستانی د شپے لرہ سر او غورځوی پہ تیغ سرہ ۔

ش: یعنی ورځ راشی او شپہ ختم شی، ورځ د سپاھی پشان د شپے چہ د ہندوستانی پہ شان تورہ دہ، سر اړتاؤ کړی ۔

○ میل ہر جانے بسوئے تن بود ہر تنے از روح البستن بود

ت: محبت د ھر روح پہ طرف د تن وی، ھر تن د روح نہ ډک شی ۔

○ از صفیرے باز دام اندر کشی ۔ جملہ را در دام در دا در کشی

ت: د شپیلی نہ بیا د وی پہ دام کښے داخل کړے ۔ تولو لرہ پہ درد تاک دام کښے داخل کړے ۔

ش: د شپیلی نہ مراد حکم الٰہی دے لکہ روح ئے مشابہ کړو د مارغہ سرہ ۔

○ چونکہ نور صبح سر بر زند کرکس زرین گردوں پر زند

ت: ھر کلہ چہ رنړا د صبا بنکارہ شی تہ پس د سرو د آسمان نہ راوالوزی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: د تلپس نه مراد نُور دے یعنی نور بنکاره شی۔

○ فَالِقُ الْاِصْبَاحِ اسرافیل وار۔ جملہ را در صورت آرد ڑاں دیار

ت: څیرونکے د صباد اسرافیل علیہ السلام پشان، تولولرہ ظاهری عالم ته راولے د دغه عالم نه۔

ش: یعنی د عالم مثال نه ئے عالم ظاهری ته راولے، یعنی خلق وِیخ شی۔

○ روحهائے منبسط را تن کند۔ ہر تنے را باز البستن کند

خواره

ت: خرَو روحونو لرہ په تن کښے د ننه کړي، هر تن لره بیا حامل کړي (د روح)

○ اسپ جانہا را کند عاری ززین۔ سِرِّ اَلنَّوْمُ اَخُ الْمَوْتِ است ایں

ت: اسپ د رُوحونو لره خالی کړي د زین نه، راز دے چه خوب رُور د مرګ دے دا دے۔

ش: رُوح چه په عالم مثال کښے کرځ کوي دا سے دے که چه په اَس زِین پروت وی او کرځ نوکله چه روح د عالم مثال نه عالم عنصری ته راشی نو کوبا د د نه زین لرے کړے شو، او طبیلے د جسم عنصری ته راوستے شو نو ځکه نبي علیه السلام فرمائی اَلنَّوْمُ اَخُ الْمَوْتِ۔ خوب رور د مرګ دے۔

○ لیک بہر انکہ روز آیند باز۔ بر نہد بر پائے تشاں بندِ دراز

ت: لیکن د پاره دے چه د ورځے راشی، بیا کیدی په خپو د وی کښے بند اوکد

ش: یعنی دا روح خو د شپے آزاد کرځ د علائقو د دنیا نه، لیکن د ورځے په بیا په تعلقات کښے اخته شی پخلاف د مرګ نه چه هغه کښے بیا دا روح واپس نه راځی بدن

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ تا کہ روزش وا کشد زاں مرغزار ۔ وز چرا گاہ اردش در زیر بار

ت: دا رسئ دده په خپے کښے ځکه ترلے ده) چه دے واپس راولی د دغه باغ د
(عالم مثال نه) لاندے د زبار ته (چه تعلقات د عالم ظاهری دی ۔

ش: بخلاف د مړی ته هلته بیا واپسی دنیا ته نیشتے ، بیا به په قیامت کښے ورته
اخروی زندگی حاصله شی ۔

○ کاش چوں اصحاب کہف آں روح را ۔ حفظ کردے یا چو کشتی نوح

ت: ارمان پشان د اصحاب کهف د غه روح لره باری تعالیٰ په خوب کښے سائلے و
یا دومره لکه کشتی چه نوح علیه السلام لره سائلے وو په اوبو کښے

ش: یعنی د اخوب نمه دپاسه درے سوه ۳۰۹ کلونه یا شپږ میاشتے وے ۔ یعنی دیره مده
اوده وے چه د دنیا د تعلقاتو نه بچ وے ۔

○ تا ازیں طوفان بیداری و ہوش ۔ وارہید از ایں ضمیر و چشم و گوش

طوفان د ویښ

ت: چه د دے آفت د بیدارئ او د هوش نه بچ شوے وے د زړه او ستر گے
او غوږ و نه ۔

ش: یعنی په خوب کښے سړے په آرام وی د دے تعلقاتو نه ۔

○ لے بسا اصحاب کہف اندر جہاں ۔ پہلوئے تو بیش تو ہست ایں زماں

ت: اے مخاطبه دیر اصحاب کهف په جهان کښے ستا په څنګ کښے ستا په مخکښ
دی پرے وخت کښے ۔

○ غار با تو یار با تو در سرود ۔ مہر بر چشمت و بر گوشت چه سود

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: کھف ستا په څنګ کښے دے او اصحاب ستا تاسره خبرے کوی، لیکن ستا په ستر کو او غوږونو مهر دے نو فائده نشته۔

ش: یعنی ته هغه نیکان نه وینے۔

○ بازواں کرچہ ہیست ایں روپوش ہا۔ ختم حق بر چشم ہا و گوش ہا

ت: معلومه کړه وله دی دا مخ پټول د نیکانو، د خلقو په ستر کو او غوږونو مهر دے

ش: چه دا اولیاء وله نه وینی، ددے سوال جواب د آئنده مثال معلومیږی یعنی خلیفه ته لیلیٰ خائسته نه ښکاریده لکه چه د مجنون ستر کے ورسره نه وے، دغسے د الله تعالیٰ دوستان عارفان نه پیژنی نو هغوی پټ نه دی بلکه تو

ت: نکی قابل نه دی

## سوال کردن خلیفہ از لیلےٰ و جواب او

"سوال کول د خلیفهٔ وقت د لیلیٰ نه او هغے جواب"

○ گفت لیلیٰ را خلیفہ کاں توئی کز تو مجنوں شد پریشاں و غوی

ت: اووے لیلیٰ ته خلیفه چه هغهٔ ته ئے چه شولتانه مجنون پریشانه او غلط

○ از دگر خوبان تو افزوں نیستی ۔ گفت خاموش چو تو مجنوں نیستی

ت: د نورو معشوقو نه ته زیاته نه ئے، اووے هغے چه چپ شه هر کله چه ته مجنون نه ئے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ دیدۂ مجنون اگر بودے ترا ہر دو عالم بیخطر بودے ترا

ت: ستر کے د مجنون که وے تالرہ نو دواړہ عالمه به بے عزته وے تالرہ.

ش: یعنی دواړہ عالمه به تاته حمًا په مقابله کښے هیڅ شے بیکاره کیدے.

○ باخودی تو لیک مجنون بیخودست ۔ در طریق عشق بیداری بدست

ت: ته پخوږ ئے لیکن مجنون بے خوده دے او په طریقه د عشق کښے بیداری بدہ

○ هر که بیدارست او در خواب تر ۔ هست بیداریش از خوابش بتر

ت: هر څوک چه بیدار وی نو هغهٔ په زیات خوب کښے دے، ده بیداری د هغهٔ د خوب نه ناکاره.

ش: دا انتقال دے دیته چه څوک غافل وی د معرفت الهی نه د هغه بیداری ناکاره ده او خوب ئے خه دے.

○ چون بحق بیدار نبود جانِ ما ۔ هست بیداری چو در بندان ما

ت: هر کله چه د باری تعالیٰ په تعلق کښے حمونږ روحونه بیدار نه دی حمونږه بیداری داسے ده لکه په قید کښے.

○ جان همه روز از لگد کوب خیال ۔ وز زیان و سود واز خوف زوال

ت: روح تولہ ورځ د لتے وهلو د خیال نه او د زیان نه، او د سود نه او د خوف د زوال نه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: روح تولہ ورځ دا خیالونہ کوی چہ سود دے وغیرہ نو دے وجے نہ وینی نو ترقی دھنہ ختم شی۔

○ نے صفا میماندش نے لطف وفر۔ نے بسوے اسمان راہ سفر

ت: نہ ئے صفائی پاتے شوہ او نہ پاکیزگی او نہ دبدبہ او نہ پہ طرف د آسمان لار د سفر۔ یعنی د درغہ غلط خیالونو وجے نہ خراب شو۔

○ خفتہ آں باشد کہ او از ہر خیال۔ دارد امید وکند با او مقال

ت:

ت: اوده هغه دے چہ د هر خیال (دنیوی نہ) اُمید لری او د درغہ خیال سرہ خبرے کوی۔

ش: د اللہ تعالیٰ دوستان د دنیا د تعلق نہ غافل وی او د اللہ تعالیٰ سرہ تعلق دے دوہ اوده نہ دی پہ غفلت کښے بلکہ اُوده هغهٔ خلق دی چہ د هغوئ دنیوی خیالات وی او د درغہ خیالاتو سرہ خبرے کوی

○ نے چنانکہ از خیال اید بحال۔ آں خیالش گردد او را صد وبال

ت: نہ دا سے خیال چہ د هغهٔ دہ تہ شوق (د اللہ تعالیٰ معرفت) راشی بلکہ د غہ خیال (دنیوی) کرځی د لرہ ټل تکلیفہ۔

ش: یعنی د باری تعالیٰ د معرفت د خیالونو نہ ذوق او شوق پیدا کیږی او د دنیوی خیالونو نہ تکلیفونہ پیدا کیږی۔

○ دیو را چوں حور بیند او بخواب۔ پس ز شہوت ریزد او با دیو آب

ت: دیولرہ پشان د حورے او وینی پہ خوب کښے، نو توئ کړی پہ شہوت د درغہ دیوس اُوبہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: یعنی اختلام ے اُوشی د اُهل دنیا خلقو خیالونه دا سے غلط وی او تکلیف وی او په ابتدا کښے نکه مزه وی۔

○ چونکه تخم انسان در شوره بر بخت۔ او بخویش امد خیال از وے گریخت

ت: هر کله چه تخم دانسانِ په خرابه زمکه کښے ارتاو کړو، نو دے په خودشو او خیال ترینه لاړ

○ ضعف سر بنید ازاں وتن پلید۔ آه ازاں نقشِ پدید ناپدید

ت: ضُعف دسر اُوبینی دهغه خیال نه او تن ئے کنده شی افسوس دے د دا سے نقش نه چه نیکاره دے (په خوب کښے) او پټ دے په (بیداری کښے)

○ مرغ بر بالا پران وسایه اش۔ میدود بر خاک پراں مرغ وش

ت: مارغه بره اَلوځی او سوریے دهغه زغلی په خاورو کښے دمارغه پشان۔

ش: دا ددنیوی باطل خیال بل مثال دے چه ددنیا خیال دا سے فانی دے نکه سوریے دمارغه۔ او اُخروی خیال دا سے باقی دے نکه مارغه۔

○ ابلهے صیادِ آں سایه شود۔ میدود چند انکه بے مایه شود

ت: یوکم عقل نیکاری ددغه سوری شی زغلی (وریښے) دومره چه سامان ختم شی۔

○ بے خبر کاں عکسِ آں مرغ ہواست۔ بے خبر کہ اصلِ آں سایه کجاست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: خبر نه دے چه دا سورے عکس د دغه مارغه دهوا دے او خبر نه دے چه اصل دے سورۍ کم ځائے دے۔

○ تیر انداز د لبوے سایه او۔ ترکشش خالی شود در جستجو

ت: غشی غورزوی په طرف د دغه سورۍ او جوئے خالی شوه (د غشونه) په طلب د دغه سورۍ کښے۔

○ ترکش عمرش تهی شد عمر رفت۔ از دویدن در شکار سایه تفت

ت: جوئے د عمر د هغه تشه شوه او عمر ئے ختم شو، د منډو نه په شکار د سورۍ کښے او سوځیدو۔

○ سایه یزداں چو باشد دایه اش۔ وارهاند از خیال سایه اش

ت: رحمة د باری تعالیٰ چه وی پروش کونکے د ده نو بیخ کوی ده لره د خیال د سورۍ نه۔

ش: یعنی د باری تعالیٰ یو ولی د سړی استاذ شی نو هغه ده لره د تعلقات د دنیا نه بیخ کوی۔

## در تحریص متابعت ولی مرشد

بیان دے په ترغیب د متابعت ولی مرشد کښے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ سایہ یزداں بود بندۂ خدا  مردۂ ایں عالم و زندۂ خدا

ت: رحمت دباری تعالیٰ دے بندہ د اللہ پاک، مړ دے (د تعلقات دے عالم نہ او جوند دے (په تعلقات د) باری تعالیٰ کښے۔

○ دامن او گیر زو تر بیگماں  تا رہی از آفت آخر زماں

ت: لمن د هغه ونیسه ډیر زر چه بچ شے د آفات د آخرے زمانے (د خلقونه)

○ کَیْفَ مَدَّ الظِّلَّ نقش اولیاست۔ کو دلیلِ نورِ خورشید خداست

ت: د کیف مَدَّ الظِّلَّ مصداق وجود د اولیآء دے، چه دغه ولی رښما د تعلقات د باری تعالیٰ دے۔

○ اندریں وادی مرو بے ایں دلیل۔ لَا اُحِبُّ الْآفِلِیْنَ گو چوں خلیل

ت: پدے میدان (د سلوک) کښے مه ځه بے دده دے رښما نه لَا اُحِبُّ الْآفِلِیْنَ انعام ۷۶ اُوایه د ابراهیم علیه السلام پشان۔

ش: یعنی ممکن ختمیدونکے دے دده محبت پریږده او محبت صرف د باری تعالیٰ اختیار کړه۔

○ روز سایہ آفتابے را بیاب  دامن شہ شمس تبریزی تباب

ت: لاړشه د سوری نه (مرشد کامل نه) آفتاب (د حق) لره معلوم کړه (د هغه معرفت حاصل کړه) د بادشاه شمس الدّین تبریزی لمن اُونیسه۔ د هغهٔ اتباع وکړه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ رہ ندانی جانب ایں سورو عمرس ۔ از ضیاء الحق حسام الدین بپرس

ت: لار تاتہ نہ نده معلومه دے دعوة او مجلس تہ نود ضیاء الحق حسام الدین نہ تپوس اوکړہ ۔

ش: کہ تاتہ د شمس الدین پیر صاحب څنګ تہ تلے کړان وی نو بیا د هغهٔ د خاص خلیفه ضیاء الحق تہ تپوس اوکړہ ۔ ضیاء الحق ئے لقب دے حسام الدین ئے نوم دے

○ ور حسد گیر دتزا در رہ گلو ۔ در حسد ابلیس را باشد غلو

ت: او که تالره کینه د مړئ نه نسی په لاره کښے، نو د حسد نه ابلیس لره مبالغه ده ۔

ش: یعنی که د حسد د وجے نه د هغه حضور تہ نه حئ نو حسد خو ابلیس کار دے ۔

○ کو زادم ننگ دارد از حسد باسعادت جنگ دارد از حسد

ت: د دے د آدم علیه السلام د سجدے نه شرم لری د حسد د وجے نه او د سعادت سره جنګ کوی د کینے د وجے نه ۔

ش: یعنی د کینے د سعادت سره مقابله ده ۔

○ عقبه زین صعب تر در راه نیست ۔ اے خنک آں کش حسد همراه نیست

ت: غونډئ د دینه بله سخته نشته په لاره کښے اے سړیه! خه دے هغه چه د هغه سره د اکینه ملګرے نه وی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ایں جسد خانہ حسد آمد بداں  کز حسد الودہ گردد خاندان

ت: دا جوسہ کور د حسد دے کان پوھہ کړہ، د حسد نہ خرابیږی ټول خاندان۔

ش: یعنی اکثر په سر وکینے د حسد د وجے نه هر څه خرابیږی۔

○ خانمانہا از حسد گردد خراب  بازِ شاہی از حسد گردد غراب

ت: خاندان د حسد نہ کرمئ خراب، باز شاهی د حسد نہ کرمئ کار څه۔

ش: یعنی کوم سړے چه کینه کوی دده همت بیکاره شی

○ گر جسد خانہ حسد باشد ولیک  آں جسد را پاک کرد اللہ نیک

ت: اګر چه جوسه د کینے کور دے، خو دغه جوسه د اولیأ باری تعالیٰ خړپاکه

○ یافت پاکی از جناب کبریا  جسم پُر از کبر و پُر حقد و ریا

ت: موند لے ده پاکی د دلبار دلوئے بادشاه نه، هغه جسم چه پک دئ د کبر او د کینے او د ریانه۔

○ طَهِّرَا بَیتِیَ بیان پاکی ست  گنج نورست ار طلسمش خاکی است

ت: طَهِّرَا بَیتِیَ بیان د دغه پاکئ دے، خزانه د نور ده اګر چه جوسه د خاوُرو ده

ش: صوفیائے کرام وائی طَهِّرَا بیان د زړه دے، مفسرین وائی دا بیان د بیت الله دے، او که څوک ئے زړه سره ګڼی نو دا تعریف دے۔ مولنا اشرف علی تھانوی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ما کلمه کوی چه دا آیت عبارت النص دے په بیت الله کښے او دلالة النص دے په زړه کښے، دغسے تحقیق دے په حدیث کښے. اِنَّ الْمَلَائِکَةَ لَا تَدْخُلُ بَیْتًا فِیْهِ کَلْبٌ اَوْ تَصْوِیْرٌ ؕ صوفیاء کرام فرمائی د بیت نه مراد زړه دے او محدثین فرمائی کور ترینه مراد دے او مولنا اشرف علی رحمه الله تعالیٰ فرمائی عبارة النص دے په کور کښے او دلالة النص دے په زړه کښے. فللّٰه درّه

○ چوں کُنی باے حَسَد مکر و حَسَد  زاں حَسَد دِل را سیاہی بہارسد

ت: هر کله چه کوے حسد سره دهغه چا نه چه حسد نه کوی نو دغه حسد نه زړه ته تور والے رسی.

○ خاک شو مردان حق را زیر پا  خاک بر سر کن حَسَد را همچو ما

ت: د خپو خاورے شه د سر و دباری تعالیٰ او خاورے په سر واچوه حسد لره نکه حمونږه پشان.

ش: یعنی مونږه حسد نه کوو نو ته هم حسد پریږده. بلکه د اولیاء د خپو خاورے شه.

## در بیان حسد کردن وزیر جہود

په بیان د حسد کولو د یهودی وزیر کښے.

دا عود دے قصے د وزیر ته.

○ آں وزیرک از حسد بودش نژاد۔  تا بباطل گوش و بینی باد داد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: دغه وزیر کوټی دحسد چه په باطله ځپل غوښ او پوزه بربادکړه.

○ برامید انکه از نیش حسد زهراو در جان مسکنیاں رسد

ت: په اُمید د هغې چه دلګښې دحسد نه زهر د هغه روح دعاجزانو ته

○ هر کسے کو از حسد بینی کند خویش را بے گوش و بے بینی کند

ت: هر سړے چه دحسد نه خپله پوزه غوڅه کړي، نو دے خپل ځان بے غوږه او بے پوزے کړی.

ش: دا انتقال دے دِیته چه دحسد ته سړے بے عزته شی.

○ بینی آں باشد که بوئے برد بوئے اورا جانبِ کوئے برد

ت: پوزه هغه ده چه بوئے معلومولے شی، او بوئی هغه دے چه سړے دربار دباری تعالیٰ ته بوځی.

ش: پوزه هغه ده چه پکښے احساس دحق وی، دغه دعزت پوزه ده چه دباری تعالیٰ دربار ته سړے ور رسوی او چه دا سے پوزه نه وی نو هغه بے پوزے دے.

○ هر که بویش نیست بے بینی بود بوئے آں بونیست کاں دینی بود

ت: څوک چه بوئی نشی معلومولے نو هغه بے پوزے دے، او بوئی هغه دے چه هغه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چونکہ بوے بردد شکرآں نہ کرد  کفر نعمت امد و بینیش خورد

ت: چاچہ دینی بوئی معلوم کړو اود هغے شکرئے ادا نہ کړو نو دا کفر دنعمت دے او پوزہ ددہ ذلیلہ دہ۔

ش: چاچہ یو دینی کار معلوم کړو، او یہ هغے عمل اونکړو نو دا کفران نعمت دے نو دے بہ ذلیل کیږی۔ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ (ابراهیم ع) کہ تاسو شکر ادا کړو نو ځکہ بہ ستاسو نعمت زیات کړم او کہ تاسو ناشکری کوی نو عذاب ځما سخت دے۔

شکر کن مر شاکراں را بندہ باش  پیش ایشاں مردہ شو پایندہ باش

ت: شکر ادا کړہ او شاکرانو لرہ بندہ شہ پہ مخ دوی کښے مړ شہ او تابعدار شہ

چوں وزیر از رہزنی مایہ مساز  خلق را تو بر میاور از نماز

ت: پشان د وزیر دپاکے سامان مہ تیارہ، او خلقو لرہ مہ واپس کوہ دعا نخہ نہ

یا اللہ غیر

فہم کردن حاذقان نصاریٰ مکر وزیر را

معلوم مول دعاقلانو نصاراؤ فریب د وزیر لرہ۔

دا عود دے قصے د وزیر مکار تہ۔

ناصح دین گشتہ آں کافر وزیر  کردہ او از مکر در نورینہ سیر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: ناصح د دین کړ حیدلے وو دغه کافر وزیر، هغه اچولے وه دمکر نه په حلوه کښے اوکه -

ش: یعنی هغهٔ په دین کښے بے دینی خلط کړے وه، دین حلوه ده او بے دینی اکلده -

○ ہر کہ صاحب ذوق بود از گفتِ او۔ لذتے میدید و تلخی جُفت او

ت: هر څوک چه عقل والا وو نو هغه د وزیر د وینا تر خوند معلوم وو سره د تریخ والی نه -

ش: یعنی د وزیر وینا د منافق وه، ظاهر دین وو پته پکښے بے دینی وه، دا خبره عوامو نشوه معلومولے، البته عقل والا خلقو دا منافقی معلومه کړه -

○ نکتہ ہا میگفت او آمیختہ۔ در جلاب و قند زہرے ریختہ

ت: خبرے کولے هغهٔ کړے وې، په جلاب اوکړه کښے هغه زهر اچولی وو -

ش: د منافقی خبرے ئے کولے او په دین کښے هغه بے دینی یو خائے کړے وه -

○ ہاں مشو مغرور زاں گفت نکو زانکہ دارد صد بدی در زیر او

ت: خبردار شه د دهوکے د دغه خو خبرو نه، ځکه چه لری شل بدئ د لاندے خپل نه -

ش: دا انتقال دے چه د منافق په خبرو چرے عمل اوکړے -

○ او چوں باشد زشت گفتش زشت دا ں۔ ہر چہ گوید مردہ آنرا نیست جاں

ت: هر کله چه سړے بدمُوړه وی نو خبرے دهغه هم بدمُوړه اوکړه، هر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه خبره چه مړه کوی هغې لره نو په هغې کښې رُوح نه وی ۔

ش: یعنی د منافق په خبرو کښې حُسن او اَثر نه وی دے د دین خبرے دبد غرض دپاره کوی ۔

گفت اِنسان پارۂ انساں بود  پارہ از ان یقین کہ ناں بود

ت: خبرہ د انسان د هغه نمونه ده، ټکړه د دوړې په رشتیا دوړې ده ۔

زاں علی فرمود نقل جاہلاں  بر مزاہل ہمچو سبزہ ست اے فلاں

ت: دے د چے نه علی کرم اللہ وجہہ فرمائی چه نقل د جاهلانو په ډیران سبزی ده اے فلانیه !

ش: یعنی د جاهلانو خبرے خرابے دی لکه سبزی د ډیران چه خرابه وی ۔

برچناں سبزہ ہر آنکو بر نشست ۔ بر نجاست بیشکے نبشتہ است

ت: پداسے سبزی باندے چه څوک کیناسته نو بے شکه په نجاست باندے ناست دے ۔

ش: دغسے د جاهلانو په خبرو عمل بے کاره دے ۔

بایدش خود را بشستن از حدث ۔ تا نمازِ فرض او نبود عبث

ت: مناسب دی هغه لره خپل ځان وِینځل د حدث نه چه مؤنځ فرض د هغه نشی عبث ۔

ظاہرش میگفت در رہ چست شو ۔ واز اثر میگفت ہاں را سست شو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: په ظاهر کښے وے چه په لاړے دیښ کښے چالاکه شئ او د اثر نه ئے وے روح
ته چه سُست شر

ش: په زبان حال سره ناصح ووَ، او په زبان حال سره منافق ووَ۔

○ ظاہر لقمہ گر اسپید ست ولو دست وجامہ مے سیاہ گردد ازو

ت: ظاهر د سپینو زَرو سپین دے او تازه دے، لیکن لاس او جامه تُوره
کړے ځئ دَده نه۔

ش: دا انتقال دے مثال بیا نوی د هغه خبرو چه ظاهرئے یو وی او باطن
ئے بل وی، دا اول مثال دے د سپینو زَرو چه سپین دی لیکن اثر ئے تور
دے چه په جامه اُونکی۔

○ آتش ارچہ سرخ روے ست از شرر۔ تو ز فعل او سیہ کاری نگر

ت: اُور اګر چه سور دے د بخرو نه، لیکن ته د هغه د فعل نه تور کار معلوم
کړه۔

ش: دا بل مثال دے د اُور چه سور دے او اثر ئے سکاره تور دی۔

○ برق اگرچہ نور آید در نظر۔ لیک ہست از خاصیت ذرد بصر

ت: برق اګر چه رنړا وِی په نظر کښے، لیکن دے د خاصیت نه غل وی د نظر۔

ش: دا دریم مثال دے چه برېښنا رنړا ده او نظر خرابوی، دغه وزیر په ظاهر
کښے ناصح ووَ او په باطن کښے غل ووَ۔

○ ہر کہ جز آگاہ و صاحب ذوق بود۔ گفت او در گردن او طوق بود

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: هر هغه سړے چه ذوق والہ اوعالم نہ ووَ، نو وینا د وزیر د هغه په غاړه لکه اُوکئ وه ۔

ش: یعنی غلطو خلقو د وزیر خبره منله لکه اُوکئ چه په غاړه وی د غسے د هغهٔ خبره دُویته منظوره وه ۔

○ مدّتِ شش سال در ہجرانِ شاہ ۔ شد وزیر اتباع عیسےٰ را پناہ

ت: شپږ کاله په هجران د بادشاه کښے شوے وو وزیر اتباع د عیسیٰؑ لره پناه ۔

ش: یعنی د هغوی پیشوا ووَ په دینی او دنیوی کار و نو کښے ۔

○ دین و دل را گل بدو بسپرد خلق ۔ پیش امرو نہی او مے مرد خلق

ت: دین او زړه لره قول د ته خلقو اُسپارل، په مخ د اُمر او د نہی د هغه کښے خلق مړ ووَ ۔

ش: یعنی د وزیر په اتباع کښے خلق حاضر مړ کولو ته تیار ووَ ۔

## پیغام شاہ پنہانی بسوئے وزیر پُر تزویر

پیغام د بادشاه پټ وزیر ته چه څوک ووَ د درغو نه ۔

○ درمیان شاہ و او پیغام ہا ۔ شاہ را پنہاں بدو آرام ہا

ت: په مینځ د بادشاه او د ده کښے پیغامونه ووَ، بادشاه لره پته پده تسلی وه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



آخر الامر از برائے آں مراد  تا دہد چوں خاک ایشاں را بباد

ت: په آخر کښے دپاره درے کار چه پیش کړی دوی لره پشان دخاورو بادته

پیش او نبوشت شہ کا مقبلم۔ وقت آمد زود فارغ کن دلم

ت: اُو لیکل بادشاه وزیر ته چه اے ماته منظوره! وخت راغے زر مے فارغ کړه (دغم نه)

ش: یعنی حما په زړه کښے چه کوم درد دے د نصاریٰ د کمراه کولو نو دهغے علاج زر اوکړه چه نصاریٰ کمراه کړے۔

زانتظارم دیدہ و دل بررہ ست۔ زیں غمم آزاد کن گر وقت ہست

ت: د انتظار نه حما ستر کے او زړه په لار دے دی، د دے غم نه ما فارغ کړه که وخت وی

گفت اینک اندراں کارم شہا۔ کا فگنم در دین عیسیٰ فتنہا

ت: اُووے هغه چه پدغه کار (د کمراه کولو د نصاریٰ) کښے یم اے بادشاه چه ځه به او غورځوم په دین د عیسیٰ علیه السلام کښے په ډیره فتنے۔

قوم عیسے را بداند زار و گیر  حاکماں دہ امیر و دو امیر

ت: قوم د عیسیٰ علیه السلام لره ووَ په انتظام کښے دولس حاکمان ددوی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ہر فریقے مر امیرے را تبع  بندہ گشتہ میر خود را از طمع

ت: ہرہ فریقه خپل امیر لره تابع وه دوجے د طمعے نه۔
ش: د دنیوی فائدے دوجے نه۔ هره فریقے د خپل امیر خبره منله، لوئے عذاب دے طمعه د مخلوق نه، او لوئے نعمت دے طمعه د خالق جَلَّ جَلَالُهٗ وَعَنَّ اِسْمُهٗ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُهٗ نه۔

○ ایں وہ داں دو امیر و قوم شاں۔ گشتہ بندہ آں وزیر بد نشاں

ت: دا دوه اوه هغه لښ امیران او دقوم دَدوی۔ تول کړ حَیدلی وو تابع د دغه وزیر بد نام۔
ش: یعنی د دغه غلط وزیر دوی تابع شوی وو۔

○ اعتماد جملہ بر گفتار او  اقتدائے جملہ بر رفتار او

ت: اعتماد د تولو وو په وینا د هغه او اِقتدا د تولو وه په رفتار د هغه

○ پیش او در وقت و ساعت ہر امیر۔ جاں بداد گر بد و گفتے کہ میر

ت: په هیڅ دده کښے فوراً هر وخت هر امیر به رُوح ورکوو، که ده به ورته اُوے چه مرشه۔
ش: یعنی که وزیر به اَمیر ته اُوے چه مرشه نو هغه به هغه مرکړو فی الحال۔

○ چوں زبوں کرد آں جہود کش حملہ را۔ فتنہ انگیخت از مکر و دہاں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : هرکله چه تابع کړه دے یهودی وزیر تولولره، نوفساد ے جوړ
کړ د مکر اودهوکے نه -

# تخلیط اوزیر دراحکام انجیل و مکرِ آں

کدوکول دوزیراحکامو د انجیل اوفریب دهغه

ساخت طومارے بنام ہریکے نقش ہر طومار دیگر مسلکے

ت : جوړے کړه کاغذونه پنوم دهریو سردار، نقش دهرکاغذ دبل نه بدل وو

○ حکمہاے ہریکے نوع دگر ایں خلاف آں زپایاں تابسر

ت : حکم دهر بل قسم وو، دے خلاف وو ذهغه بل نه د خپونه ترسره پوے

○ دریکے راہ ریاضت را وجوع ۔ رکن توبہ کردہ وشرط رجوع

ت : په یوکاغذ کښے لار دریاضت اودلوکے، رکن دتوبے ے مقرر کړے وو او
شرط درجوع الله تعالیٰ ته .

○ دریکے گفتہ ریاضت سود نیست اندریں رہ مخلصی جز جود نیست

ت : په یوکښے ویلی وو چه ریاضت بے فائدے دے پدے لار کښے مخلص صرف جود دے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دریگے گفتا کہ جوع وجود تو شرک باشد از تو تا معبودِ تو

ت: په یو کښے ویلی وو چه جوع او جُود ستا شرک دے ستا د معبود سره

جز توکّل جز کہ تسلیمِ تمام ۔ در غم و راحت ہمہ یکرست و دام

ت: بے د توکل نه او بے د تسلیم کامل نه په غم او په راحت کښے تول یکرا او دام دے۔

ش: مسئله: ریاضت په ابتدا د سلوک کښے او جود په انتها کښے خه دے۔ دا اسباب تفضلی دی د معرفت حاصلو دپاره، او دے ریاضت ته او جود ته مؤثر ویل شرک دے لیکن وزیر مکار ښو دا تفصیل نه کوی ځکه د ده مقصد ښو په دین کښے تفرق اچول دی۔

دریگے گفتہ کہ واجب خدمت ست ورنہ اندیشہ توکّل تہمت ست

ت: په یو کښے ویلی وو چه خدمت واجب دے او اندیشه د توکل ښو تهمت دے

ش: توکل خو تهمت دے په پیغمبر علیه السلام ځکه هغه ښو دا اطاعت حکم کړیدے

فائده: دا خبره د وزیر خه ده، دا لازمه نده چه د وزیر ټولے خبرے دِ غلطے وی لیکن مقصد د وزیر ښو تفرقه وه

مسئله: توکل لازم دے سره د کسب نه، توکل بے د کسب نه او کسب بے د توکل نه غلط دے وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ، (یوسف ع۷) یعقوب علیه السلام عالم وو د هغے احکامو چه ما ورته ښودلی وو لیکن زیات خلق نه پوهیږی۔ یعنی یعقوب علیه السلام علم والا وو چه توکل ئے هم وکړو او تدبیر ئے هم او ښودو خلقو حکمونه چه په مختلفو لارو حئ چه بد نظر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


بد نظر در باندے او نه نکی لیکن زیات خلق بے علمه دی یا توکل کری نو کسب نه کوی او یا کسب کوی نو توکل نه کوی، قَیِّدْ وَتَوَکَّلْ (حدیث) څاروے د او ترې بیائے الله تعالیٰ ته اُسپارہ - توکل او کسب دواړه حق دی او وزیر پکښے تضاد جوړ کړو د تفرقے د پارہ - اختلاف د اُمة رحمة دے او تفرقه عذاب دے -

○ در یکے گفتہ کہ امر و نہی ہاست ۔ بہر کردن نیست شرح عجز ماست

ت : په یو کښے ویلی وو چه اُمر او نہی دکو لو د پاره ندی د ا بیان د عجز حمونږه دے -

ش: یعنی د اُمر او د نہی نه مقصود حمونږه عجز دے چه مونږه عاجز یو او مقصود عمل په اوامرو او په نواهی ندے ، یعنی اداکول د اوامرُو او اجتناب د نواهی نه مقصود ندے -

○ تاکہ عجز خود بہ بینیم اندراں ۔ قدرت حق را بدانیم آں زماں

ت: د اچه عجز خپل اُوګورو پدغه وخت کښے او قدرت د باری تعالیٰ معلوم کړو پدغه وخت -

○ در یکے گفتا کہ عجز خود مُبیں ۔ کفر نعمت کردن ست آں عجز ہیں

ت : په یو کښے ویلی وو چه عجز خپل مه وینه کفران د نعمت دے د غه عجز خبردار

○ قدرت خود بیں کہ ایں قدرت از وست ۔ قدرتِ خود نعمتِ او داں کہ ہوست

ت: قدرت خپل معلوم کړه چه دا قدرت د هغهٔ دے قدرت خپل نعمت د هغه او گنړه چه واقعی د هغه دے -

د ماتوریدی یو مذهب دے چه مونږه مختار یو په افعالو کښے او په الله کښے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او خالق دا افعالو نه یو ، خالق دخیر او دشر الله تعالیٰ دے انسان ته چه ثواب او عذاب ملاویږی نو صرف په اراده سره ملاویږی ، په خیر باری تعالیٰ خوشحاله دے او په شر خفه دے ۔ او اشاعره وائی چه مونږه مختار یو په افعالو کښے او مضطر یو په اراده کښے ، او جبریه وائی چه مونږه مجبور یو محض پشان د قلم ۔ او معتزله وائی مونږه د خپلو افعالو اختیار یو خالقان او هم کاسبان یو البته افعال طبعیه لکه د زړه حرکت یا افعال اضطراریه لکه کوزن ، په دیکښے حمونږه اختیار نیشته پوره تفصیل او دلائلو د پاره نشر المرجان او کودئ

○ دریکے گفته کزیں دو در گذر ۔ بُت بود هر چه بگنجد در نظر

ت: په یو کښے ویلی وو چه دے دواړو نه تیر شه ، بت دے هغه شے چه حاییږی په نظر کښے ۔

ش: یعنی د قدرة او د عجز تصور مه کوه دا خو شغل د زړه دے پخپل الله سره ، دا خو د صوفیائے کرامو په مسلک کښے شرک دے ۔

○ دریکے گفته کہ عجز و قدرتت ۔ بگذر دو ز هر چه اندر فکرتت

ت: په یو کښے ویلی وو چه عجز ستا او قدرت ستا ختمیږی او هغه شے چه ستا په فکر کښے دے خویش در هر ملتے ۔ گشته هر قومے اسیر ذلتے

○ از هوائے

ت: ده خواهش خپل نه په هر مذهب کښے گرځیدلے دے هر قوم په قید ذلت کښے

مسئله: په دیکښے ځے دا عجز او قدرت به څان له ختم شی یعنی موټر باری تعالیٰ دے ته نه ځے ته خو صرف کاسب ځے لیکن وزیر مکار خو دا تفصیل نه کوی دده مقصد نبو تفرقه ده په نصارو کښے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ دریکے گفتہ مکش ایں شمع را۔ کایں نظر چوں شمع امد جمع را

ت: په یو کښے ویلی وو چه مه وجنه دے ړپوے لږ، چه دا نظارپشان د شمع دے جمع لږه۔

○ از نظر چوں بگذری واز خیال۔ گشتہ باشی نیم شب شمع وصال

ت: د نظر نه چه ه کله واوځئے او د سوچ نه نو سړه به کړے په نیمه شپه کښے شمعه د وصال۔

ش: یعنی سوچ خه ندے۔

مسئله: یو سوچ ممدوحه دے چه هغه فکر د آخرة او د مولیٰ دے۔ وَیَتَفَکَّرُونَ فِی خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ۔ (آل عمران ع ۱۹۱)۔ سوچ کوی په پیدائش د آسمانونو او د زمکے کښے، او بل سوچ مذموم دے چه دکنا هونو سوچ دے لیکن د زیږ خو افرق نه کوی، هغه فرق داخلوی په مذهب د نصارو کښے په فریب سره۔

○ دریکے گفتہ بکش با کے مدار۔ تا عوض بینی یکے را صد ہزار

ت: په یو کښے ویلی وو چه داخیال پریږده او پروا مه ساته ته به اُو وینے د یو خیال پځائے سل زره سوچونه۔

○ کہ ز کُشتن شمعِ جان افزوں شود۔ لَیلَیٰ از صبر چوں مجنوں شود

ت: چه دا سے سوچونو پریخود وسره به د روح زیات شی او ستا معشوقه به د صبر نه پتا عاشقه شی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## ترک دنیا ہر کہ کرد از زہد خویش ۔ پیش ایذد پیش او دنیا و بیش

ت: چاچہ پریخودہ د دنیا د زُھد خپل دوجے نہ، نو مخ تہ بہ راشی مخامخ دتہ دنیا اتہ دیرہ ۔

ش: دا خیال ترک کول چہ ترک کول ئے مناسب دی دا ھغہ دنیوی غلط خیال دے، ددے ترک نہ روح ترقی کوی او دنیا ورپسے راځی ، ځکنے دنیا معشوقہ وہ ، اُس بہ عاشقہ شی ، خو مراد ترک دنیا دے د زُھد دوجہ نہ ۔ دا نہ چہ ترک د دنیا د حصول دپارہ کوی ۔ وَرَھبانیۃ نِ ابْتَدَعُوھَا مَا کَتَبْنَاھَا عَلَیْھِمْ اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللّٰہِ فَمَا رَعَوْھَا حَقَّ رِعَایَتِھَا (حدید ع ۳) ملنکی ھغوی جوړہ کړہ (پہ ځائے د جہاد) ما پہ ھغوی دا ملنکی نہ وہ مقرر کړے لیکن دوی دغہ رھبانیۃ د رضا د باری تعالیٰ دپارہ جوړ کړو لیکن د ھغہ پورہ لحاظ ئے او نہ کړو ۔ یعنی ترک د دنیا دوئ ذریعہ د دنیا جوړہ کړہ ۔ دا سے زھد تہ منافقی وائی مدار د کمال اِخلاص دے ۔

## در یگے گفتہ کہ آپخت داد حق ۔ بر تو شیریں کرد در ایجاد حق

ت: پہ یوکښے ویلی وو چہ ھغہ شے چہ تالرہ حق تعالیٰ درکړیدے او پہ تا ئے خوښ کړیدے پہ پیدا کولو کښے باری تعالیٰ ۔

## بر تو آساں کرد و خوش آنرا بگیر ۔ خویشتن را در منگن در زحیر

ت: پہ تا ئے ھغہ آسان کړیدے او خوښ کړے دے ھغہ واخلہ او خپل ځان مہ غورځوہ پہ تکلیف کښے

ش: یعنی څہ چہ تا تہ ملا دیں ی ھغہ خُورہ او مستعملوہ ، دخِل او حُرمۃ پروا مہ ساتہ

مسئلہ : دا خبرہ خو بلکل غلطہ دہ سړے بہ ھغہ کار کوی چہ د شرع سرہ موافق وی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ در یکے گفتہ کہ بگزار آن خود ۔ کاں قبولِ طبع تو رَدّ ست و بد

ت: په یو کښے ویلی وو چه پریږده خپلو خیزونو لره چه دغه قبول د طبیعت رَد دے او بَد دے ۔

ش: مخکښے ویلی وو چه ستا هر شئ پتا حلال دے اوس وائی چه نه دغه خو ستا طبیعت دے اوخواهش دے خواهش خوبد دے ۔ دائے هم کړه ودِه خبره اوکړه

○ راہہائے مختلف اساں شدہ ست ۔ ہر یکے را ملتے چوں حاں شدہ ست

ت: لارے مختلف آسانِ شویدی په خلقو، هر یولره دین خپل پشان دروح خوښ دے ۔

ش: تو که خواهش د طبیعت خه دے نو دا تولے به خه وے او دا سے خوندہ بلکه حق خو یودے نو معلومه شوه چه خواهش خه ندے ۔

○ گر میسر کردنِ حق رہ بدے ۔ ہر جہودے وگبرازوآگہ شدے

ت: که آسان والے حق وے نو هر یهودی او کبر به لدے نه آگاه وے

ش: یعنی مدار د حق والی خواهش ندے ورنه نو هر یهودی او کبر کافر چه په خواهش روان دی نو دوی به د حق نه خبر وے دا سے خوندہ ۔

○ در یکے گفتہ میسر آں بوُد کہ حیات دِل غذائے جاں بود

ت: په یو کښے ویلی وو چه آسان هغه دے چه هغه حیات د زړه او غذا د روح وی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: یعنی خواهش د نفس حق نه دے بلکه چه رُوح اوزړه ځه اُوغواړی نو هغه حق دے۔

مسئله:- دا مذهب دمعتزلو دے چه مدار د ثواب اودعذاب په عقل دے چه عقل یوشے خوښ کړی نو په هغه کښے ثواب دے او چه خوښ ئے نه کړی نو په هغه کښے عذاب دے اهل السنة والجماعت وائی چه مدار د ثواب او د عذاب په امر د شارع سره دے یعنی په کوم شی چه شارع حکم وکړی نو په هغه کښے ثواب دے عقل ئے منی او که نه، او چه منع ترینه وکړی نو په هغه کښے عذاب دے۔

○ ہر کہ ذوقِ طبع باشد چوں گذشت۔ بر نیارد ہمچو شوہ ربیع وکشت

ت: هر شی کښے چه خواهش د طمع وی نو هغه شے چه ختم شی، تو نه راوړی فصل پشان د تړلے نه مکے۔

ش: یعنی د خواهش نه په اُمثیاُ خه اثر نه مرتب کیږی۔

○ جز پشیمانی نباشد ربیع اُو جز خسارت پیش نارد بیع اُو

ت: بے ندامت نه نه وی فصل د هغه، بے د تاوان نه نه وی بیعه د هغه۔

ش: یعنی کوم شی چه خواهش د نفس وی په هغه کښے فائده نه وی۔

○ آں مُیسّر بُود اندر عاقبت ۔ نام اُو باشد مُعسّر عاقبت

ت: د غه آسان نه وی په انجام کښے، نوم د هغه معسر وی په انجام کښے۔

○ تو مُعسّر از مُیسّر باز داں عاقبت بنگر جمالِ این و آں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: ته مشکل د آسان نه جدا کړه، انجام اوګوره جمال د دواړو۔

ش: دقول مضمون حاصل دادے چه اعتبار طبع له ندے بلکه اعتبار د عقل دے مسئله خوداده چه د عقل استبار هله دے چه د شرعے سره موافق وی علی کرم الله وجهه فرمائی که د عقل اعتبار وے نو مابه د موزے تلے مسح کولے لیکن ما نبی علیه السلام لیدلے دے چه هغوی ظاهر د موزے مسح کوی

○ دریکے گفته که استاد ے طلب ۔ عاقبت بینی نیابی در حسب

ت: په یوکتنه ویلی وو چه استاذ طلب کړه کامیابی نشے موندلے په ذاتی شرافت سره۔

○ عاقبت دیدند هر گوں اُمتے ۔ لاجرم گشتند اسیر زلتے

ت: کامیابی طلب کړه هرقسم اُمت (بے د اتباع نه) نو خا مخا شو قیدیان د زلت

○ عاقبت دیدن نباشد دست باف ۔ ورنه کے بودے زدیں ہا اختلاف

ت: حق معلوم نه دی آسان، کنه نو ولے به وے په دین کښے اختلاف۔

○ دریکے گفته که اُستا هم توئی ۔ زانکه اُستار اشناسا هم توئی

ت: په یوکتنه ویلی وو چه استاذ هم ته ئے ځکه چه استاذ لره پیژندونکے ته ئے۔

○ مرد باش و سخرۂ مرداں مشو ۔ رو سر خود گیر و سر گرداں مشو

ت: سړے شه تابع د نورو سړو هر کیږه، لاړشه او سرکردان کیږه هم۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## چشم بر سیرت بدار و از خلاف ۔ دور شو تا یابی از حق ایتلاف

ت: ستر کے په باطن خپل اولره اولرے شه د اتباع دغیر نه چه بیا موږه د باری تعالیٰ سره محبت ۔

ش: یعنی د غیر اتباع مه کوه پدیکښے کامیابی ده ، په اول کښے ویلی دی وجه اتباع کوه او دلته وائی چه اتباع مه کوه

مسئله: اتباع د غیر به کوے چه تا ته حق معلوم نه وی او که حق درته معلوم وی نو بیا په هغه حق عمل اوکړه او اُستاذ ته بیا څه حاجت دے فَاسْئَلُوا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ (نحل ۴۳) تپوس کوی د علماءِ نه که په خپله نه پوهیږئ ۔ وزیر خو دَجل کوی د تفرقے دپاره ۔

## دریکے گفتہ کہ ایں جملہ یکے ست ۔ ہر کہ او دو بیند احول مرد کے ست

ت: په یو کښے ویلی دی چه دا قول یو دی ، هر څوک چه دوه وینی هغه اُحول سړے دے ۔ یعنی یو ورته دوه ښکاری )

## دریکے گفتہ کہ صد یک چوں بود ۔ اینکہ اندیشہ مگر مجنوں بود

ت: په یو کښے ویلی دی چه مثل به یو څنګه شی ، چه دا فکر کوی هغه لیونے دے ۔

ش: قول اُشیاء متحد دی په درجه د وجود کلی کښے ، او متفرق دی په درجه د وجود شخصی سره ، هم دغسے قول اشیاءِ عدم دی وجود صرف د واجب الوجود دے یعنی وجود د ممکن په مقابله د واجب الوجود کښے کالعدم دے نن شتے صبا نشتے البته وجود د ممکن فی نفسه خو متحد دَ واجب الوجود سره نه دے بلکه فی نفسه دده وجود شتے اګر که نن شتے او صبا نشتے ، لیکن وزیر دجال خودَجل کوی او مرادِ تفرقه دَ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ہر یکے قولِ است ضدِّ یکدگر ۔ چوں یکے باشد بگو زہر و شکر

ت ؛ ھر یو قول ضد دبل دے څرنګ به یو شی زهر او شکر ے ته اُوایه!

ش: دده اقوالو مثال دا سے دے چه ضد والی کښے زهر او شکر ے ۔

○ در معانی اختلاف و در تصوّر ۔ روز و شب بین خار و گل سنگ و گهر

ت ؛ په معنیٰ دده اقوال کښے اختلاف دے او هم په صور تونو کښے لکه شپه او ورځ
او ازغے او گل، او کتله او ملغلره ۔

○ تا ز زہر و از شکر در نگذری کے تو از گلزار وحدت بو بری

ت ؛ چه د زهرو او د شکرو نه تیر نشی ، نو چرته به د دباغ د وحدة نه خوشبو حاصله
کړی ۔

ش؛ دا انتقال دے دیته چه د ممکنات مختلفو نه تعلق ختم کړه نو تاته به د توحید
مزه حاصله شی ۔ الله تعالیٰ دے همونږه نصیب کړی ۔ آمین

○ وحدت اندر وحدت ست ایں مثنوی ۔ از سمک رو تا سماک اے معنوی

ت: وحدت په وحدت کښے دے دا مثنوی کتاب، د هغی نه لاړشه د آسمان پورے اے
خه سړیه !

ش، یعنی د زمکے د خلقو تعلقات پریږه او د خالق او د آسمان سره تعلق جوړ کړه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## در بیان آنکہ اختلاف در صورت روش ست نہ در حقیقت راہ

په بیان د دے کښے چه اختلاف صرف په ظاهر کښے دے نه په حقیقی لارے کښے

ش: دا انتقال دے دیته چه اهل حق په درمیان کښے اختلاف صرف په ظاهر کښے دے نه په مقصد کښے مثلاً دځلورو مذاهبو مقصد د حق طلب دے اګرچه په ظاهر کښے صورةً اختلاف دے، او دا اختلاف رحمة دے او پدې کښے توسع ده۔

○ زیں نمط زیں نوع دہ طومار و دو۔ بر نوشت آں دینِ عیسےٰ را عدو

ت: پدے قسم او پدے طرز دولس کاغذات ځُو لیکل، هغهٔ چه د دین د عیسیٰؑ دشمن وو۔

ش: دا رجوع ده قصے د وزیر ته۔

○ او ز یکرنگی عیسےٰ بُو نداشت وز مزاجِ خمِ عیسےٰ خو نداشت

ت: ده د یو رنګ د عیسیٰؑ نه بوئے لرو، او د مزاج د خم د عیسیٰؑ نه ځُوئے لرو

د عیسیٰ علیه السلام یو خم وو چه په هغے کښے به ځے کپړه ورغورځولے نو چه د کپړے مالک به څه رنګ غوختو نو هغه رنګ به په کپړا باندے را اُوختو دا د هغهٔ معجزه وه، دا نظیر دے د خم نه مراد د لته خُم معنوی دے چه دین دے، د هغه اُثر دوے معجزے نه برعکس دے چه اتحاد دے په دین کښے، یعنی عقایدِ د قولِ پیغمبرانو یودی۔ دے وزیر د موسیٰ علیه السلام په اتباع کښے د عیسیٰ علیه السلام نه خلاف او دا ورته نوه معلومه چه د عیسیٰ علیه السلام او د موسیٰ علیه السلام دین یو دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ جامۂ صد رنگ ازاں خمّ صفا ۔ سادہ و یکرنگ گشتے چوں ضیا

ت : جامہ سل رنگہ بہ دغہ خم د صفائے نہ سادہ او یورنگ والہ کړ حیدہ پشان د رڼا ۔

ش: یعنی مختلف خلق په عقیده کښے به د عیسیٰ علیه السلام د هدایت نه ټول متحد شو په عقیده یعنی ټول به مسلمانان شو۔

○ نیست یکرنگی کزو خیزد ملال ۔ بل مثالِ ماہی و آب زلال

ت : نه دے دا سے یورنگ چه د هغه نه پیدا کیږی خفګان ، بلکه دا سے یورنګ لکه مچے او خونږے اوبه ۔

ش: مچے په اوبو کښے خوشحاله وی ، او مسلمان په دین کښے خوشحاله وی ۔ مسلمان د قرآن د اوریدو او لوستونه نه خفه کیږی ۔

○ گرچه در خشکی ہزاراں رنگہاست ۔ ماہیاں را با یکیست جنگہاست

ت: اګر چه په خشکئ کښے زر رنګونه دی ، لیکن ممولره د خشکئ سره جنګ نه دی ۔

ش: په دنیا کښے اګر چه قسما قسم خیزونه دی لیکن د عارفانو صرف د باری تعالیٰ سره تعلق وی ۔ دنیا ته هغوی نه ګوری لکه مچے چه د خشکئ نه تنګ دے ۔

○ کیست ماہی ہیچ دریا ؛ درمثل ۔ تا بداں ماند خدا عزّ و جلّ

ت : څه دے مچے او څه دے دریاب په مثال کښے چه د هغه سره مشابه وی باری تعالیٰ

ش: د مچی د عارف سره او د باری تعالیٰ د دریاب سره تشبیه صرف د وضاحت د پاره ده ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نور پدیکښے هیڅ مناسبت نشته. یا که تشبیه د نبي علیه السلام د شمس یا د قمر سره په حُسن کښے دا هم صرف د وضاحت دپاره دے ځکه د شمس رڼا او حسن مشهور دے او محسوس دے - اوس انتقال دے بیان د عظمت د باری تعالیٰ ته -

○ صد هزاران بحر و ماهی در وجود ۔ سجده آرد پیش آن دریاے جود

ت : سل زره دریابه او هغی په موجوداتُ کښے سجده کوی په ځ د دغه دریاب د جُود کښے -

○ چند باران عطا باراں بُده ۔ تا بداں آں بحر در افشاں شده

ت : څو بارانونه د عطاء اوشو نو ځکه په دغه دریاب کښے ملغلرے پیدا شوے -

○ چند خورشید کرم اَفروختہ ۔ تا کِرا ابرو بحر جود آموختہ

ت : څو ځله نُور د کرم د باری تعالیٰ رڼا شو چه دغه ور ځے او دریاب سخا شروع کړه

○ چند خورشید کرم تاباں بُده ۔ تا بداں آں ذرّہ سرگرداں شُده

ت : څو ځله نور د کرم اود سخا او ځلیدو، چه په دغه کرم سره دغه نور روان شو

○ پرتو ذاتش زده بر ماو طیں ۔ تا شُده دانه پذیرندهٔ زمین

ت : رڼا د باری تعالیٰ لږ یدله په اُوبو او په خاورو، چه زمکه دانه قبلو نکے او کړے -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ خاک امین و ہر چہ دروے کاشتی ۔ بے خیانت جنسِ آں برداشتی

ت: خاورے امینِ دی او ھر څه چه په لهغے کښے اوکړے بے دخیانت نه جنس دهغه حاصله وے ۔

○ ایں امانت زاں عنایت یافتہ ست ۔ کآفتاب عدل بر وے تافتہ ست

ت: دا امانت د دغه مهربانیٔ دباری تعالیٰ نه زمکے موندلے دے چه نمر د عدل په هغے ځلیدلے دے

ش: یعنی دباری تعالیٰ په مهربانیٔ سره زمکه په فصل کښے خیانت نه کوی ۔

○ تا نشانِ حق نیابد نو بہار ۔ خاک سر ہا را نسازد آشکار

ت: چه حکم دباری تعالیٰ بیا نه موسی سپرلے ، نو خاورے سرونه نشی ځکاره کولے

○ آں جواد یکہ جمادے را بداد ۔ ایں خبر ہا وی امانت وی سداد

ت: دا سے سخی دے چه هغه ورکړهٔ جماد لره دا سے جزونه اود دا امانت اود محکم والے

○ آں جماد از لطف چوں حال میشود ۔ ز مہر یہا از قہر پنہاں میشود

ت: د هغه جماد د مهربانیٔ د باری تعالیٰ نه پشاڼ د جان شی سخته یعنی د قهر د هغه نه پټه شی ۔

○ ال جمادے گشت از فضلش لطیف ۔ کُلُّ شَیْءٍ مِنْ ظَرِیْفٍ هُوَ ظَرِیْف

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ت: دغه جماد کښ حیدلے دے دهمربانیٔ د هغهٔ نه لطیف، هر شئ چه وی د ظریف نه هغه خه وی۔

○ هر جمادے راکند فضلش خبیر ۔ عاقلاں راکردہ قہرِ او ضربیر

ت: هر جماد لره کوی مهربانی د هغے خبردار، او عاقلان لره کړ حوی قهر د هغه راوندہ۔

○ جان و دل را طاقت ایں جوش نیست ۔ باکہ گویم در جہاں یک گوش نیست

ت: روح او زړه لره طاقت (دیرداشت) دے جوش نیشتے کوم چه پیدا شوے دبیان د د ت د باری تعالیٰ نه، چا ته بیان اوکړم په جهان کښے یو غوب نیشتے (چه دا بیان واوری)

ش: یعنی کله چه د باری تعالیٰ طاقت بیان شی نو زړه کښے جوش پیدا شو د معرفت د باری تعالیٰ۔ ولے دا بیان د طاقت د باری تعالیٰ چا ته اوکړم څوک نیشتے چه واوری۔

○ ہر کجا گوشے بدارد چشم گشت ۔ ہر کجا سنگے بدارد خشم گشت

ت: هر ځائے کښے چه غوب (قابل) وی نو د دغه قابلیت نه ستر که شی، او هر ځائے کښے چه کتهٔ وی (سخت زړه والے) نو د دغه فیضان نه مرمر شی۔

ش: یعنی د حق د اوریدو نه غیر قابل قابل شی او غیر قیمتی قیمتی شی۔

○ کیمیا سازے ست چه بود کیمیا ۔ معجزہ بخشے ست چه بود سیمیا

ت: کیمیا جوړوونکے دے نو کیمیا خهٔ شے دے، معجزه بخښونکے دے نو منتر او سحر خه شے دے۔

س: دا نوے قدرت د باری تعالیٰ بیان دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ایں ثنا گفتن زمن ترکِ ثناست  کایں دلیلِ ہستی و ہستی خطاست

ت: دا صفت ویل ځما ترک دثنا دے ځکه دا دلیل دہستئ دے او ہستی خطا دہ۔

ش: دا مسئله د وحدة الوجود ده یعنی صفت کول ځما ترک دصفت دے ځکه صفت خو وجود والا کوی او وجود دممکن منبو کالعدم دے۔

○ پیش ہست او بباید نیست بود  چیست ہستی پیش او کور و کبود

ت: په مخ دہستی د هغه کښے ځان نیست کول مناسب دی ځکه ہستی په مخ دهغه کښے بیکاره ده۔

○ گر بنودے کور از و بگداختے۔ گرمی خورشد را بشناختے

ت: که نه وے رښدہ نو د هغهٔ به ویلی شوے وے، او کر می د خورشید به ئے معلوم کړے وے۔

ش: یعنی که دا ہستی رښدہ نه وے نو د حق طاقت به ئے معلوم کړیوے او ځان به ئے عدم کښ لے وے۔

○ ور بنودے او کبود از تعزیز۔ کے فسردے ہمچو یخ ایں ناچیز

ت: که نه وے دا ہستی د ممکن بیکاره دغم د دنیا نه، نو کله به دا مضبوطه شوے وے پدے دنیا کښے پشان دیخ بند۔

ش: یعنی د زندکی د بیکار تو ب دلیل دادے چه دا انسان د دنیا په غم کښے دیخ بند پشان دلته مضبوط دے، او کله کله کمیږی پشان دیخ بند، او که دده تعلق وے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د باری تعالیٰ سرہ نوره به د دنیا دو جے نه غمجن نه وے او ورځ په ورځ به ده ترقی کوے۔

## بیان خسارت وزیر دریں خدعہ و مکر

په بیان د تاوان د وزیر کښے پد غه دھوکه او مکر کښے

### ہمچو شہ نادان و غافل بد وزیر۔ پنجہ میزد با قدیم و ناگزیر

ت: پشان د بادشاه نادان او غافل ووَ وزیر، چه مقابله کوله د هغه بادشاه سره چه د مخلوق مخلص د هغه نیشتے۔

ش: دا رجوع ده قصے د وزیر ته۔

### ناگزیر جملگاں حَیِّ قدیر ۔ لَا یَزَالُ وَلَمْ یَزَلْ فرد و بصیر

ت: ځائے د احتیاج د تولو دے زنده دے او قدرة والہ نه ورله ابتدا شتے او نه ورله انتها شتے یواځے دے او هر څه لید وکے دے۔

ش: دا انتقال دے بیان د لوئے قدرت د باری تعالیٰ او لوئے علم د باری تعالیٰ ته دا معنیٰ د عزیز او حکیم دے۔

### باچناں قادرِ خدائے کز عدم۔ صد چو عالم ہست گرداند بدم

ت: د دا سے قادر خدائے سره (مقابله څوک کولے شی) چه د عدم نه سل ددے پشان پیدا کولے شی، فی الحال۔

ش: دا د هغه د لوئے طاقت نمونه ده۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


○ صد چو عالم در نظر پیدا کند ۔ چونکہ چشمت را بخود بینا کند

ت: سل ددے عالم پشان بنکارہ کوی پہ نظر کښے ھرکلہ چہ ستر کے ستا بینا کړی پہ خپل ځان ۔

ش: یعنی چہ دچا تعلق د خپل مولیٰ سرہ پیدا شی نو ھغہٗ تہ د باری تعالیٰ طاقت دومرہ لوئے بنکاری چہ د دے عالم ظاھری نہ سوا سل نور عالمونہ د باری تعالیٰ د طاقت ھغتہٗ بنکارہ شی یعنی ھغتہٗ خپل مولیٰ دیر عظیم بنکارہ شی او ممکنات ورتہ عدم بنکارہ شی ۔

○ گر جہاں پیشت بزرگ و بے تنے ست ۔ پیش قدرت ذرہ میدان کے نیست

ت: اګر کہ جہان پہ مخ ستا کښے بزرګ او غیر واحد دے لیکن دا پہ مخ د قدرت د ھغہ کښے یو ذرہ د میدان نہ دہ ۔

ش: یعنی ممکن پہ مخ د واجب کښے کالعدم دے ۔

○ اے جہاں خود جنس جانہائے شما ست ۔ ہیں دویدالنسو کہ صحرائے شما ست

ت: دا جہان بنو قید خانہ د روحونو ستاسو دہ، خبردار منډہ کړئ ھغہ طرف تہ چہ صحرا ستاسو دے ۔

ش: یعنی د دنیا تعلقات پریدئ او د آخرت تعلق شروع کړئ چہ لوئے میدان دے او دنیا ستاسو نہ دہ، دنیا خو ستاسو نہ ۔ دنیا خو پاتے دہ ۔ یَقُوْلُ الْاِنْسَانُ مَالِیْ مَالِیْ ھَلْ لَکَ مِنْ مَالِکَ اِلَّا مَا اَکَلْتَ فَاَفْنَیْتَ اَوْ لَبِسْتَ فَاَبْلَیْتَ اَوْ تَصَدَّقْتَ فَاَمْضَیْتَ ۔ حدیث، بندہ وائی چہ زما مال دے زما مال دے نو خہ شے دمال ستا نہ مګر ھغہ چہ اوډے خوړو او ختم دِ کړو، یا دِ واغوستو او زوړ دکړو یا دخیرات کړو او خیرات د خراد نہ کړو ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ایں جہاں محدود آں خود بیحد ست ۔ نقش و صورت پیش آں معنی سد ست

ت: دا جهان محدود او هغه جهان بے حده دے نقش او صورة دده جهان په مخ د هغه کښے دیوال دے۔

ش: دا ترغیب دے عالم عقبیٰ ته او تعلق دده جهان د هغے مزونه مانع دے۔

○ صد ہزاراں نیزہ فرعون را ۔ در شکست آں موسے با یک عصا

ت: سل زره نیزو د فرعون لره ماتے کړے موسیٰ علیه السلام په یو عصا سره،

ش: دا بیان دے دده چه د دین په مقابله کښے د دنیا څه شے ندے۔

○ صد ہزاراں طب جالینوس بود ۔ پیش عیسیٰ ودمش افسوس بود

ت: سل زره طب د جالینوس وو هغه په مخ د عیسیٰ علیه السلام او د وینا د هغه کښے بیکاره وو۔

○ صد ہزاراں دفتر اشعار بود ۔ پیش حرف امیے اش عار بود

ت: سل زره کتابونه د اشعارو وو، هغه په مخ د حرف د اُمّی کښے شرم وو۔

ش: اُمّی د نبی علیه السلام لقب دے (اعراف ۱۵۷) یعنی منسوب بأُمّ القریٰ۔ د موسیٰ علیه السلام په زمانه کښے د سحر چرچه وه او د عیسیٰ علیه السلام په زمانه کښے د طب ترقی وه، او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے د فصاحت پیر زور وو، او د باری تعالیٰ قانون دے چه هر پیغمبر لره هغه معجزه ورکوی چه د هغه [illegible] نو لکه موسیٰ علیه السلام ته

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عصا، او عیسیٰ علیہ السلام ته قُم بِاِذْنِ اللّٰہ خطاب مړوته او نبی علیہ السلام
ته قرآن مجید ملاوَشو نو مقابلین ماجز شو۔

○ باچناں غالب خداوندے کسے ۔ چوں نمیرد گرنیا شد او خسے

ت: دداسے غالب اللہ پاک په څوک کښے که څوک ته مړکیږی نو هغه رذیل دے

ش: دمرک معنیٰ دادہ چه هغته حَان هیڅ نښکاره نشی او دباری تعالیٰ عبارت
شروع کړی په کمال سره۔

○ بس دلے چوں کوہ را انگیخت اُو ۔ مُرغ زیرک با دپا او یخت او

ت: دیر زړونه پښتانه دغږه باری تعالیٰ پورته کړه، مارغه اُو ښیار په دوو
خپو خداوند تعالیٰ زورپند کړو۔

ش: پخپل طاقت او عقل دے څوک غږه نشی۔ طاقتور قومونه باری تعالیٰ هلاک
کړه لکه عادیان او ثمودیان ۔ او پیر عاقلان گمراه شو لکه برصیصا او بلعم
بن باعورا۔ باغوان دباغ نه چاپیره په رسۍ کښے ډکی داخل کړی نو طوطیان
راشی پدغه ډکو کښی نود کی د ثقل د وجے کښته شی نو طوطی زورپند شی
او د ارتاویدو نه یریږی نو هغه دغه ډکے حمیت نیولے وی او زورپند وی نو
باغوان راشی او دغه طوطیان اونیسی۔

○ فہم وخاطر تیز کردن نیست راہ ۔ جز شکستہ مے نگیرد فضلِ شاہ

ت: فهم او خاطر تیزول لار ددین نده، بے دعاجزنه فضل دباری تعالیٰ په بل
چا نه کیږی۔

ش: یعنی کمال تواضع ده نه تکبر۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ اے بسا گنج اگنانِ گنج گاو  کاں خیال اندیش راشد ریش گاو

ت: اے سړیه! چې خزانے جمع کونکی دګنج ګاوَ پشان، دغه خیال کونکی دپاره شو دغه مالونه بے وقوفی۔

ش: ګنج ګاوَ یوه مشهوره خزانه ده، ریش ګاوَ معنیٰ ده بیوقوفه یعنی طالب ددنیا أحمق دے ګکه طالب ددین عاقل دے۔ طالب ددنیا هغه دے چه د دین هیڅ خیال ورسره نه وی بے ددنیا نه۔

○ گاو که بود تا تو ریش او شوی۔  خاک که بود تا حشیش او شوی

ت: غوایۀ څه دے چه ته د هغه کیږه کیږے، خاورے څه دی چه ته د هغے واخه کیږے۔

ش: یعنی د دنیا څه شی دے چه ته ورپسے دومره زغلے او دین دے پریخوده دے

○ ذرّه نقره چیست تا مفتوں شوی۔  چیست صورت تا چنیں مجنوں شوی

ت: سَره او سپین څه دی چه ته پرے عاشق ئے، او دنیا څه شئ دے چه ته پرے دومره مجنون ئے۔

○ ایں سرا و باغ تو زندانِ تُست۔  ملک و مال تو بلائے جانِ تُست

ت: دا سَرائے او باغ ځندان ستادے، ملک او مال ستا تکلیف د روح ستادے

○ آں جماعت را کہ ایزد مسخ کرد۔  آیت تصویر شاں را نسخ کرد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : د هغه جماعت حال یادکړه چه هغولره باری تعالیٰ مسخ کړه علامه د شکل دهغوی ے ورانه کړه -

ش: یعنی څوک چه د باری تعالیٰ نه خلاف کوی نو دغسے په دنیا کښے دهغوی شکلونه بدلیږی -

○ چوں زنے از کار بد شد روئے زرد۔ مسخ کرد اورا خدا و زہرہ کرد

ت : هره کله چه یوه بنځه د بدکاری نه او شرمیده نو مسخ کړه هغے لره خدائے تعالیٰ او زهره ستوری ے ترینه جوړ کړو

ش: د هاروت ماروت او زهره مشهوره قصه غلطه ده - د هاروت اوماروت دنیا ته راتلله د دے دپاره وو، چه د سحر اودمعجزے فرق خلقوته اوښائی پوره تفصیل ماپه نشرالمرجان سوره بقره ایت ۱۰۲ کښے لیکلے دے - مولانا صاحب صرف تمثیلاً بنا بر عرف عام د زُهره حال نقل کړیدے چه د بدعمل نه د انسان شکل بدلیږی -

○ عورتے را زُہرہ کردن مسخ بُود۔ خاک و گِل کشتن چہ باشد آنرا بنود

ت : بنځے لره زهره کول مسخ ده نو خاورے او خټے کیدہ به څنګه وی اے بلغی

ش: یعنی د بنځے نه ستوری جوړیدہ مسخه دُه - نو د دنیا په تعلق کښے قول خاورے کیدہ او قول تعلق د دنیا سره سائل او د دین د بادشاه نه تغافل خو په طریقه اُولیٰ سره مسخ دے، بلکه ناکاره دے داکار د مخکښ نه -

○ روح می پرّد سوئے عرش بریں۔ سوئے آب و گل شدی در اسفلیں

ت: روح اَلوزی په طرف د عرش برہ [illegible] ته په طرف د اوبو او خټو لاړے لاندے د اَسفلینُ نه -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ خویشتن را مسخ کردی زیں سفول ۔ زاں وجودیکہ بداں رشکِ عقول

ت : خان دِ مسخہ کړو د رَذالت نہ ، دھغہ وجود نہ چہ وَ غیرت دملائکو

○ پس بتر زیں مسخ کردن چوں بود ۔ پیشِ آں مسخ ایں بغایت دوں بود

ت : پس ناکارہ دے مسخ نہ بہ څنګہ وی، پمخ د ھغے مسخ کښے دا پیرہ ناکارہ دہ

ش: یعنی ستورے جوړ پدل مسخ دے او خاورے کیدل د ھغہ ناکارہ مسخ دے ۔

○ اسپ ہمت سوئے آخر تاختی ۔ آدمِ مسجود را انشناختی

ت : اَس دَ ھمت دے پہ طرف د آخر روان کړہ ، آدم علیہ السلام مسجود لرہ تا

او نہ پیژندو ۔

ش: یعنی اے انسانہ مسلمانہ تہ خو د آدم علیہ السلام خوے ئے او ھغہ خو پہ سبب

د عبادت سرہ د ملائکو مسجود وَ ، او تہ پہ طرف دکیپے لاړے او ارادہ دے

د خوراک دہ نو اسفل السافلین تہ لاړے ۔

○ آخر آدم زادۂ اے ناخلف ۔ چند پنداری تو لیستی را شرف

ت : تہ خو آخر د آدم علیہ السلام اولاد ئے ، نو څو بہ کښے پستی لرہ شرافت ،

○ گر جہاں پر برف گردد سر بسر ۔ تا بخور بگداز دش از یک نظر

ت : کہ جہان د واورے نہ ټول پک شی ، نو تاوَ دئس ھغہ ویلی کوی پہ یو نظر کښے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: سوال ، چه ما خو مخکښے ډیر کتا هونه کړیدی نو دا ئے جواب
دے چه دګناه مثال د واورے دے چه تمام جهان ټک کړی او دباری
تعالیٰ عزّ اسمهٗ وعظم شانه وجل جلاله د مغفرت مثال لکه نمر دے بلاکښیه
په یو ساعت کښے به واوره ختم کړی - یَارَبِّ لَكَ الْحَمْدُ "

○ ذرّهٔ او و وزرِ چوں او صد ہزار نیست گرداند خدا از یک شرار

ت : ګناه دده او ګناه پشان دده دمل زړو ، ورکه وی باری تعالیٰ په یو بخښی
سره -

ش: دویم سوال : چه حُما تعلقات د دنیا په ډیر زیات دی دا به څنګه ختم شی.
جواب : چه باری تعالیٰ به دغه تعلقات بلکه دده پشان مثل زړه نور هم
په یو بخښی د تعلق خپل سره ختم کړی د باری تعالیٰ د دربار نه نا امیده مه

○ کوہ عین آں تخییل را حکمت کند۔ عینِ ان زہراب را شربت کند

ت : عین دغه خیال به حکمت کړی ، او عین دغه زهر به شربت کړی -

ش: دریم سوال چه حُما تخیّلات فاسده دی - او څلورم سوال چه حُما سره علوم
باطله دی - جواب د تخیلا ت نه به باری تعالیٰ حکمت جوړ کړی ، او د علوم
باطلو نه به باری تعالیٰ صحیح علوم جوړ کړی -

○ در خرابی گنج پا پنہاں کند۔ خار را گل جسمہا را جاں کند

ت : په خرابی کښے خزانه پټه وی ، از غی لره ګل ، او جسم لره روح جوړه وی -
ش: پنځم سوال چه په ریاضت سره به حُما جسم بیکاره شی نو بیا به عمل نشم کولے
جواب ، په دغه ریاضت سره چه جسم خراب شی نو بیدغه خراب جسم کښے به

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



باری تعالیٰ کمال لرہ ترقی ورکړی لکه چه په خرابه زمکه کښه خزانه مدفون نه وی، او چه د ریاضت تکلیف برداشت کړے نو ستا جسم اګر که ظاهراً بدنما شی خو باطنی طور به د کمال نه پک شی لکه چه د آزغی نه کل اود د جسم نه به رُوح جوړ شی یعنی د جسمانی طاقت په خاتمه به روحانی طاقت پیدا کاره شی۔

○ آں گماں انگیز را ساز یقین ۔ مہر ہا رویاند از اسباب کہیں

ت: د دغه شکی خبرینه یقین جوړ وی، محبتونه پیدا کوی د اسبابو دکینے نه

○ پرورد در آتش ابراہیم را ۔ ایمنی روح ساز د بیم را

ت: پالی په اُور کښے ابراهیم علیه السلام لرہ، اُمن د روح جوړ وی بیے لرہ۔

ش: دالوئے طاقت د باری تعالیٰ بیانوی چه هر څه کولے شی۔

○ از سبب سازیش من سودائیم ۔ وز سبب سوزیش سوفسطائیم

ت: د سبب سازئ د هغهٔ سودائی یم او د سبب روانولو نه حیران یم۔

ش: سوفسطائی، د فلاسفو یو غلطه فریقه ده۔

○ در سبب سازیش سرگرداں شدم ۔ در سبب سوزیش ہم حیراں شدم

ت: په سبب سازی د هغهٔ کښے سرګردان یم، او په سبب سوزئ کښے هم حیران یم۔

ش: یعنی د چا وران اسباب جوړ وی او د چا جوړ اسباب ورانه وی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## مکر کردن وزیر و در خلوت نشستن و شور افگندن در قوم

ت : فریب دو وزیر او په خلوة کښے کیناسته او شور غورځول په قوم کښے -

○ چوں وزیر ما کرِ بد اعتقاد ۔ دین عیسیٰ را بدل کرد از فساد

ت : هر کله وزیر فریب کر بد اعتقاد ، دین د عیسیٰؑ لره بدل کړو د فساد نه

○ مکر دیگر آں وزیر از خود بہ بست ۔ وعظ را بگذاشت در خلوت نشست

ت : فریب بل هغه وزیر د خانه جوړ کړو ، وعظ هغهٔ پریخودو او دروازهٔ ئے بنده کړه -

○ در مریداں در فگند از شوق سوز ۔ بود در خلوت چہل پنجاہ روز

ت : په مریدانو کښے واقع شو د شوق نه درد ، ووَ په خلوت کښے څلویښت پنځوس ورځے -

○ خلق دیوانہ شدند از شوق او ۔ از فراقِ حال و قال و ذوق او

ت : خلق لیونے شو د شوق د هغهٔ ، د فراق او حال او وَینا او د خوند د هغهٔ

○ لابہ وزاری ہمے کردند واو ۔ از ریاضت گشتہ در خلوت دو تو

ت : خوشامدی کوله او زاری کوله خلقو ، او هغه د ریاضت نه کړ حیدلے ووَ په خلوت

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کښے دوچند۔

○ گفتہ بے تو مارا نیست نور۔ بے عصا کش چوں بود احوالِ کور

ت: هغوی اووے بے تا نه مونږه لره نیشتے رڼا، بے د عصا کش نه به څنګه وی احوال د پاند ه ۔

○ از سرِ اکرام واز بہرِ خدا۔ بیش ازیں از خود مکن مارا جدا

ت: د مهربانئ دوجے نه او د پاره د خدائے تعالیٰ ذیات لدیته مونږه د ځان نه مه جدا کوه ۔

○ ما چو طفلانیم و مارا دایہ تو۔ بر سرِ ما گستراں آں سایۂ تو

ت: مونږه پشان د وړو یو مونږ لره دایه ته ئے، نو په سر ځمونږه اوغوړه وه دغه سورے ته ۔

○ گفت جانم از محبّاں دور نیست۔ لیک بیروں آمدن دستور نیست

ت: هغهٔ اُو وے چه روح ځما د دوستانو نه لرے نه دے، لیکن بهر ته راوتل ځما د ستور نه دے ۔

ش: یعنی ځه ستا سو په طریقے د رُوحانیت سره تعاون کوم ۔ دا هم دوزیں فریب وو، او هغوی ته د شرک عقیده خو ده له، ځکه ما فوق الاسباب امداد خاصه خداوندی ده ۔

○ آں امیراں در شفاعت امدند ۔ واں مریداں در ضراعت امدند

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: دغه امیرانو سفارش شروع کړو، او هغه مریدانو عاجزی شروع کړه

○ کآنچه بدبختی ست مارا اے کریم۔ از دل و دین مانده ما بے تو تیمم

ت: چه دا څه بدبختی ده مونږ لره اے کریمه! چه مونږه بے لتانه دراحت دزړه نه او د هدایت نه محروم شو۔

○ تو بهانه مے کنی و ما ز درد میزنیم از سوز دل دمها سرد

ت: ته بهانه کوے او مونږه د درد نه کوو دسوز د زړه نه یخ اسویلی

○ ما بگفتارِ خوشت خو کرده ایم ۔ ما ز شیر حکمت تو خورده ایم.

ت: مونږ په خه ویناستا سره عادت یو، او مونږه پئ دعلم ستا خوږ لی دی

○ الله الله ایں جفا با ما مکن ۔ لطف کن امروز را فردا مکن

ت: الله تعالیٰ ته اوکړه دا ظلم په مونږه مه کوه، مهربانی اوکړه نن صبامه کوه۔

○ مے دهد دل مرترا کیں بیدلاں ۔ بے تو گر زندآخر از بے حاصلاں

ت: تاته ستا زړه دا اِذن کوی چه دا بے زړه خلق بے لتانه به آخر محرومه

○ جملہ ماهی مے طپند۔ آب را کم کشاز جُو بردار بند

ت: تول په اوچ به کښے پشان دمهو به قرار دیو، اُو به کهلاؤ کړه په وله کښے اوبند

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



پورته کړه .

○ ایکر چو نتو در زمانه نیست کس ۔ اللہ اللہ خلق را فریاد رس

ت: اے هغه ذاته چه ستا پشان په زمانه څوک نیشته ، الله ته وګوره او خلقو سره امداد وکړه -

ش: یعنی مونږ ته د دین خبرے وکړه -

۳۰ ذوالحجه ۱۴۱۶ شاه پور ، ۳۱ جولائی ۱۹۹۶ م کوٹ




## دفع کردن وزیر مریدان واتباع خودرا

دفع کول د وزیر مریدانو او اتباع لـــره .

○ گفت ہاں اے سخنگاں گفتگو ۔ وعظ وگفتار زبان وگوش جو

ت: اُووے هغه خبردار ! اے تابعدارانو د خبرو اود وعظ ، او خبرے دیے اود غوږ طلب کونکو .

ش: یعنی ستاسو صرف د خبرو سره کار دے او کمال خو عمل دے نو عمل شروع کړئ -

○ پنبۂ اندر گوش حس دو کنید ۔ بندِ حس از چشم خود بیروں کنید

ت: پُنبه په غوږ ظاهری ناکاره کښے کیدئ ، بند د ظاهری ستر کو د باطنی ادراک نه لرے کړئ -

ش: یعنی د ظاهر حواس د باطنی اِدراک د پاره رکاوټ دے د ا بند لرے کړئ -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ پُنبۂ اں گوش سر گوش سرست۔ تا نگردد ایں کرآں باطن کرست

ت: پُنبه ددے غوږ دباطن دغه غوږ دَسر دے، چه اونه کړی دا غوږ د سر کُنړ نو هغه باطنی غوږ کُنړ دے۔

ش: او اعلیٰ خو هغه باطنی دے۔

○ بیحس و بے گوش و بیفکرت شوید۔ تا خطابِ اِرجِعی را بشنوید

ت: بے حسه او بے غوږه او بے فکره شئ۔ چه خطاب دَ اِرجعی لره واوری۔

ش: یعنی ظاهری تعلقات د دنیا پریدئ نو ستاسو په تعلق د مولیٰ سره پیدا شی نو دا خطاب به واوری یٰاَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِی اِلٰی رَبِّكِ رَاضِیَةً مَّرْضِیَّةً (فجر ع۲۸) اے نفس مطمئنّه واپس شه رب خپل ته راضی به ئے او ستا نه به الله تعالیٰ راضی وی

فائده: (۱) نفس مطمئنه چه مقصود ځ دین وی۔ (۲) اماره: چه مقصود ئے صرف دنیا وی۔ (۳) لوّامه: چه په ګناه خفه وی او توبه او باسی۔ اول ته مطمئن علی الدین او ثانی ته مطمئن علی الدنیا وائی۔ مثلاً دیوسړی نه تکبیر اولیٰ لاړو اوددنیا یو شئ تر ینه هم ورک شو نو خفه په تکبیر اولیٰ پسے وی نو دے مطمئن علی الدین دے، او هغه شی پسے خفه مطمئن علی الدنیا دے۔

○ تا بگفت و گوے بیداری دری۔ تو ز گفتِ خواب کے بوے بری

ت: تر څو چه ته په خبرو اترو ظاهری کښے ئے، نو ته د خوب نه چرته اشنا ئے۔ کله چه بیدار حوب نشی لیدلے، نو د غسے د دنیا د تعلق سره د باری تعالیٰ تعلق مشکل دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ سَیرِ بیرونی ست فعل و قول ما۔ سَیرِ باطن ہست بالائے سما

ت : ظاهری سیل حمونږه قول او فعل دے ، باطنی سیل دپاسه د آسمان نه لوړ

○ حسِ خشکی دید کز خشکی بزاد۔ موسیِ جاں پائے در دریا نہاد

ت : ظاهری حُسن خاورے وینیٔ حکه دخاورے نه پیدا دے، موسیٰؑ د روح خپے په دریاب کښے کیښودے۔

○ سَیرِ جسمِ خشک بر خشکی فتاد۔ سیرِ جاں پا در دل دریا نہاد

ت : رفتار د وچ جسم په خاورو واقع دے، رفتار د روح خپے په زړه د دریاب کښے کیښودے۔

○ چونکہ عمر اندر رہِ خشکی گذشت۔ گاہ کوہ و گاہ صحرا گاہ دشت

ت : چونکه عمر په خُشکۍ کښے تیر شو، کله غر او کله صحرا او کله بیابان دے۔

○ آبِ حیواں را کجا خواہی تو یافت۔ موجِ دریا را کجا خواہی شگافت

ت : آب حیوٰة لره به چرته بیا مومی، چې د دریاب لره به کله څیرے کړے۔

○ موجِ خاکی فہم و وہم و فکرِ ماست۔ موجِ آبی محو و سکرست و فناست

ت : چې د خاورو فهم او وَهم او فکر حمونږه دے، چې د اُوبو محوه کیدل نشه او فنا دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ تادریں فکری ازاں سکری تو دُور۔ تادریں مستی ازاں جامی نفور

ت: تر څو چه پدے فکر (ظاهری) کښے ئے نو د دغه نشے (د معرفت) نه به لرے ئے، تر څو چه پدے مستئ کښے ئے نو د دغه شراب نه به لرے ئے۔

○ گفتگوے ظاہرامد چوں غبار۔ مدتے خاموش کُن ہیں ہوشدار

ت: ظاهری خبرے لکه دُوړه دی، څه زمانه چپ شه بیا خیال اوکړه باطنی امداد ته۔

## مکرّر کردن مریداں کہ خلوت را شکن

تاکید کول د مریدا نو چه خلوه پریږده۔

○ جملہ گفتند اے حکیم رحمہ جو۔ ایں فریب و ایں جفا با ما مگو

ت: ټولو اُووے چه اے حکیم! نقصان طلب کونکیه، دا فریب او دا د ظلم خبرے مکوه مونږ ته۔

○ ما اسیر ایم تا کے ایں فریب۔ بیدل و جانیم تا کے ایں عتیب

ت: مونږ ه قیدیان یو تر څو به دا فریب کوے، مونږ ه بے زړه او بے روحه یو تر څو به دا زور نه وی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ چوں پذیرفتی تو ما را از ابتدا ۔ مرحمت کن ہمچنیں تا انتہا

ت : هر کله چه تا مونږه غوره کړو اول ، نو د غسے مهربانی کوه تر آخیره پورے ۔

○ ضعف و عجز و فقر ما دانستۂ ۔ درد ما را هم دوا دانستۂ

ت : ضعف حمونږه او عجز و فقر حمونږه درته معلوم دے ، حمونږه د درد دارو درته معلوم دی ۔

○ چار پا را قدر طاقت بار نہ ۔ بر ضعیفاں قدر قوت کار نہ

ت : د چارپایه په طاقت سره بار په هغه کړه ، په عاجزانو د طاقت موافق کار مقرر کړه ۔

○ دانه هر مرغ اندازهٔ ولیت ۔ طعمهٔ هر مرغ انجیرے کے است

ت : دانه د هر مارغه اندازه د هغه ده ، خوراک د هر مارغه انجیر نه دے

○ طفل را گر نان دهی بر جاے شیر ۔ طفل مسکیں را زاں نان مردہ گیر

ت : بچی لره که د وډی ورکړې پرځائے د پیو ، نو بچے عاجز د دغه وډی نه مړ فرض کړه ۔

○ چونکه دندانها برارد بعد ازاں ۔ هم بخود گردد دلش جویائے ناں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: هر کلمه چه غاښونه ئے اوشی د هغے نه روسته، نو پخپله زړه د هغه طلب کوی ډوډی لړه ۔

○ مُرغ پرنارسته چوں پراں شود ۔ لُقمۂ ہر گربۂ دراں شود

ت: مارغه چه وزړے نوی شوی نو هغه وَالوَحیٰ، نو نورې د هغے پیشو ماتو نکے شی ۔

○ چوں برارد پر بسیّد داو بخود ۔ بے تکلّف بے صفیرِ نیک وبد

ت: هرکله چه اوشی وزر د هغه نو الوحیٰ هغه بے د تکلف نه، اوبے د آواز دخه اود بد نه ۔

○ دیو را نطقِ تو خامش مے کند ۔ گوشِ ما را گفتِ تو ہوش مے کند

ت: شیطٰن لړه خبرے ستا چپ کوی، غوږ حَمونږ لړه وینا ستا پخوډ کوی ۔

ش: وزیر ویلی وو چه چپ شئ نو مریدانو اووے چه حَمونږ شیطٰن ستا په وینا سره به چپ شی، وزیر ویلی وو چه باطنی غوږ بیدار کړئ، نو مریدانو اُووے چه حَمونږ باطنی غوږ به هم ستا په وینا سره پخوډ شی ۔

○ گوشِ ما ہوش ست چوں گویا توئی ۔ خشک ما بحر ست چوں دریا توئی

ت: غوږ حَمونږ ه په خوډ دے هرکله چه ته خبرے ئے، وچو به حَمونږ دریاب دے هرکله چه دریاب ته ئے ۔

غوږ حَمونږ ه په خوډ دے دا د هغه دریم جواب تتمه ده ۔ درئیم وزیر ویلی وو چه خُشکی ظاهره ناکاره ده، او دریاب د معرفت خه دے نو مریدان وائی چه حَمونږ ه خشکی به ستا په وینا سره دریاب د معرفت وکړی ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ باتو ما را خاک بہتر از فلک ۔ اے سماک از تو منور تا سمک

ت : سرہ ستانہ مونږ لرہ خاورے غورہ دی د آسمان نہ اے هغه ذاته چه ستا منور دے ، آسمان تر هم پورے ۔

ش، خلورم وزیر ویلی وو چه میل باطنی دے لپاسه د آسمان نه ۔ نو مریدان وائی چه ستا په رفاقت کښے خاورے بهتر دی د آسمان نه، ستا آسمان اوزمکه منوره ده ۔

○ بے تو ما را بر فلک تاریکی ست باتو اے مہ ایں زمیں ناری کی ست

ت : بغیر ستانه مونږ لرہ په آسمان کښے تیاره ده ، سره ستانه دا زمکه کله تیاره ده اے میاشتے ۔

○ یا مہ روئے تو شب ناری کے ست ۔ روز را بے نور تو تاریکی ست

ت : سره د خائسته مخ ستانه شپه تیاره کله ده، او ورځ بے د رڼا ستانه تیاره ده ۔

○ با تو بر خاک از فلک بردیم دست ۔ با سما ما بے تو چوں خاکیم پیست

ت : سره ستانه په زمکه مونږ د آسمان نه برے کړیدے ، او په آسمان کښے ستانه مونږ پشان د خاورو کتله یو ۔

ش: یعنی سره ستانه کتله مرتبه بره ده او بے ستانه بره مرتبه کتله ده ۔

○ صورت رفعت بود افلاک را ۔ معنی رفعت رواں پاک را

ت : ظاهری رفعت دے آسمانونو دے ۔ معنوی رفعت دے روح پاک لره ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ صورت رفعت برائے جسمہا ست ۔ جسمہا در پیش معنی اسمہا ست

ت: ظاهر رفعت جسمونو لره دے، جسمونه په مخ د معنیٰ کښے صرف نومونه دی۔

○ اللہ اللہ یک نظر بر ما فگن ۔ لَا تُقْنِطْنَا فَقَدْ كَمَالَ الْحُزْنُ

ت: الله ته اوکوره یو نظر مونږ ته وکړه، مونږ مه نا اُمیده کوه یقیناً اوکد شو غم حمونږ ه۔

## جواب گفتن وزیر کہ خلوت را نمے شکنم

جواب دوزیر چه خلوت نه پریږدم

○ گفت حجتہائے خود کوتہ کنید ۔ پند را در جان و در دل رہ کنید

ت: هغه اووے د لیلونه خپل ختم کړئ، نصیحت لره په روح او په زړه کښے لار ورکړئ۔

○ گر امینم متہم نبود امین ۔ گر بگویم اسماں را من زمین

ت: که حه امین یم نو مُتهم نه وی امین، که اُو وایم آسمان ته زمکه۔

○ گر کمالم با کمال انکار چیست ۔ ور نیم ایں زحمت و آزار چیست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت : که کمال داریم نو ولے سره دکمال حمانه انکار کوی ، او که نه یم کمال دار نو دا زحمت او تکلیف ولے دے -

○ من نخواہم شد ازیں خلوت بروں ۔ زانکہ مشغولم باحوالِ دروں

ت : حکه نه غواړم دے خلوت نه بهر کیده ، ځکه چه حکه مشغول یم په باطنی احوال سره -

مش: دا سم د وزیر کمراهی ده ځکه منبع د ولایت کتمان ده ۔ او متکاره کولکے ئے یا مجذوب یا کاذب دے ۔ او مبنیٰ د شریعت په اظهار ده پټولکے ئے شیطان اخرص دے او داوُر واګے به ورته ګلیدلے وی د شریعت مثال دے د دکان د خرڅ سامان او ولایت مثال د نقد مال دے وَلٰكِنَّ رَسُولٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ (اعراف ع۶) لیکن حکه رسول د رب العلمین یم -

## اعتراض کردن مریداں از خلوت وزیر باردگر

اعتراض کول د مریدانو په خلوت د وزیر دوباره -

○ جملہ گفتند اے وزیر انکار نیست ۔ گفتِ ما چوں گفتۂ اغیار نیست

ت : ټولو اووے اے وزیر حمونږ انکار نشته ، وینا حمونږه پشان د وینا د پردو نده -

○ اشک دیدہ ست از فراقِ تو دواں ۔ آہ آہ ست از میانِ جاں رواں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: او شپکے د ستر کو ستاد جدائے نه روانے ، افسوس دے د مینځ دروح نه بنکاره۔

○ طفل باد ایۂ نہ آشتیز دولیک ۔ گریۂ او گرچہ نہ بداند نہ نیک

ت: بچے د دائی سره جنگ نه کوی ، او جاړی اگر چه بد اوخه نه پیجنی ۔

○ ماچو چنگیم و تو زخمہ میزنی ۔ زارِی از مانے تو زاری مے کنی

ت: مونږ ه پشان د چنگ یو او وهونکے ته ئے ، زاری مونږ نه نده ته زاری کوے۔

ش: دا انتقال دے مسئلے دوحدۃ الوجود ته ، چه مرکزی مضمون دے کتاب دے او د تول تصوف مغز دے ۔ یعنی خالق د خیر او د شر صرف باری تعالیٰ دے او انسان صرف کاسب او ارادہ کونکے دے ده ته ثواب او عذاب ملاویږی په ارادہ سره ، او باری تعالیٰ په خیر خوښ دے او په شر خفه دے ، مثلاً دروازه تکول مثال د ارادے دے ۔او دروازه بیرته کول بلاتشبیه بنکاره خبره ده چه مسجد ته یو مسړے حئ نو مجبور نه دے د غسے که گناه پسے حئ نو هم مجبور ندے ۔

○ ماچو تائیم و تو اور مازلتست ۔ ماچو کوہیم و صدا در مازلتست

ت: مونږ ه پشان د شپیلئ یو او آواز په مونږ کښے لتانه دے ، مونږ ه پشان دغره یو او انکاز ه په مونږ ه کښے ستانه ده ۔

○ ماچوں شطرنجیم اندر بردو مات ۔ بردو مانِ مازلتست اخوش صفات

ت: مونږ ه پشان د شطرنج یو په فیل پاس کښے ، فیل پاس ستانه دی اے خه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



صفاتو والا -

ش: برد ، پاس کیدہ ، مات : فیل کیدہ ۔

○ ماکہ باشیم اے تو مارا جان جاں ۔ تاکہ ما باشیم باتو در مساں

ت : مونږ ہ څه یو اے (لویه بادشاه) ته ځمونږ ه روح د روح ئے چه مونږ ه به موجود شوستا په مقابله کښے ۔

ش: یعنی وجود د ممکن په مقابله د واجب الوجود کښے کالعدم دے یعنی نن شتے او صبا نیشتے ۔

○ ماعدمہائے ہستی ہائے ما تو وجودِ مُطلقی فانی نما

ت: مونږ ه عدم یو (په ظاهر کښے) ہستی ځمونږ ه ښکاره ده ته کامل وجود ئے (د کوتې په نظر کښے) فانی ښکاره ے ۔

ش: یعنی مونږ ه په حقیقت کښے عدم یو، وجود ځمونږ ه صرف ظاهری دے او ستاسو وجود حقیقی دے ۔ نو کم عقل خلق د دے حقیقت نه ناواقف دے ۔

○ ماہمہ شیراں ولے شیرِ عَلَم حملہ ما از باد باشد دمبدم !

ت : مونږ ه ټول منزری یو لیکن منزری د جهنډے یو، حمله ځمونږ ه د هوا نه ده ساعت په ساعت ۔

○ حملہ ما پیدا و ناپیداست باد آنکہ ناپیداست ہرگز گم مباد

ت: حمله ځمونږ ه ښکاره وه او ښکاره ندے باد ، هر هغه ذات چه ښکاره ندے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هیڅ کله دے د هغه تصور) ورک نه وی۔

○ بادِ ما و بودِ ما از دادِ تُست هستی ما جمله از ایجادِ تُست

ت: دنیا حَمونږه او وجود حَمونږ ستا مهربانی ده، وجود حَمونږه د تولو ستا ایجاد دے۔

○ لذّتِ هستی نمودی نیست را۔ عاشق خود کرده بودی نیست را

ت: خوند دوجود نښکاره کړے دے عدم ته، عاشق دے پخپل ځان کړ ځوله دے عدم لره۔

○ لذّتِ انعامِ خود را وا مگیر ۔ نقل و باده و جامِ خود را وا مگیر

ت: خوند دمهربانئ خپلے دے حَمونږ نه مه واپس کوه، میوه او شراب او جام خپل مه واپس کوه۔

○ ور بگیری کیست حست وجو کُند نقش با نقاش چون نیرو کند

ت: اوکه واخلے نو څوک دے چه طلب اوکړی، نقش به د نقّاش سره څنګه مقابله اوکړی۔

○ مُنگر اندر ما مکُن در ما نظر۔ اندر اکرامِ و سخائے خود نگر

ت: مه کوره مونږ ته او مه کوه مونږ ته نظر، په کرم او په سخا خپلے نظر وکړه

ش: دا مقام درجا دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ مانبودیم وتقاضا مانبود ۔ لطف تو ناگفتہ ما مے شنود

ت: مونږه نه وو او ځمونږه سوال نه وو، مهربانی ستا ناویلے سوال ځمونږه اوریدو۔

ش: یعنی ځمونږه چه څه ته حاجت وو هغه تا مونږ لره تیار کړه بے سوال ځمونږه

○ نقش باشد پیش نقاش وقلم ۔ عاجز ولبتہ چو کودک در شکم

ت: نقش وی په مخ د نقاش او د قلم دهغه کښے عاجز او ترلے لکه هلک په کیږه کښے۔

ش: د انو سل دے په عجز سره او په لوے قدرت د باری تعالیٰ سره یعنی مخلوق عاجز دے او ته لوے قدرت والے ئے، طاقت والے له مناسب دی چه څه کوی د عاجز سره۔

○ پیش قدرت خلقِ جملہ بارگہ ۔ عاجز آں چوں پیش سوزن کارگہ

ت: په مخ د قدرت ستا کښے ټول مخلوق په دلبار ستا کښے عاجزان دی لکه په مخ د ستنے کښے کیږه د نقش۔

ش: یعنی د کیږے خیل واک نه وی په مخ د ستنے کښے

○ گاہ نقشِ دیو وگہ آدم کند ۔ گاہ نقش شادی وگہ غم کند

ت: کله نقش د بنی آدم او کله د پیړی کوی، کله نقش د خوشحالئ او کله د غم کوی۔

○ دست نے تا دست جنباند بدفع ۔ نطق نے تا دم زند از ضر و نفع

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ت: طاقتِ نیشتے چه لاس ورڅوی په دفع کولو سره، خبره نیشتے چه اعتراض اوکړی په ضرر اوپه نفع د هغه باندے۔

ش: یعنی چه څه کوی نو باری تعالیٰ کوی، اوچه څه کوی نوځه کوی، دا ترغیب دے رضا په قضا ته۔

## لوز قرآں باز خواں تفسیر بیت۔ گفت ایزد ما رَمَیتَ اِذ رَمَیتَ

ت: ته دقرآن نه معلوم کړه تفصیل ددے بیت، ویلی دی باری تعالیٰ مَا رَمَیتَ اِذ رَمَیتَ ۔" انفال ع ۱"

نه رسولے تا شکے سترګو دکفارو ته کله چه تا غورځولے، یعنی په غورځولو د شکو کښے په طرف دکفارو کاسب وے اوپه رسولو د شکو کښے سترګو دکفارو ته نه کاسب او نه خالق وے، اوپه غورځولو کښے صرف کاسب وے اوخالق نه وے، نو معلومه شوه چه انسان صرف کاسب دے۔

## گر بر انیم تیر آں کے زماست۔ ما کمان و تیر اندازش خداست

ت: که غوڑاں کړو غشے نو هغه کله حمونږ نه دے، مونږه نکه لنډے یو او غشے ارتاوَهُو نکے صرف الله تعالیٰ دے۔

ش: نکه چه کمان آله دے مونږ د غسے یو، تشبیه صرف په خلق کښے ده، یعنی لنډه خالقه نده نکه چه مونږه خالقان نه یو، په تشبیه کښے مناسبت په قولو صفاتو کښے لازم ندے، په لنډے کښے کسب نیشتے، اوپه مونږ کښے کسب او اراده شته۔

## ایں نہ جبر ایں معنیِ جباری ست۔ ذکرِ جباری بری از زاری ست

ت: دا جبر نه دے دا معنیٰ د جبّاری ده، ذکر د جباری پاک دے د عاجزی نه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: د انسان نه پیدا کول د اشیآء دا جبر مذموم ندے چه انسان پشان دآلے شی

نو دا معنیٰ شوه چه خالق صرف باری تعالیٰ دے، او انسان په افعال اختیار دیو کښے کاسب دے نه خالق، او دا جبر د جبرِ مذموم نه پاک دے، نو جبر مذموم چه د انسان ارادہ هم نه وی، او جبر محمود چه ارادہ ئے وی او خالق وی۔

## ○ زاری ماشد دلیل اضطرار خجلت ماشد دلیلِ اختیار

ت: زاری مونږ دلیل د عاجزئ دے، او شرم هم مونږ دلیل د اختیار دے

ش: انسان مختار دے په درجه د ارادہ کښے، او دلیلِ شرم دے دگناه نه که دده ارادہ نه وے نو دے به ولے شرمیږه دگناه نه، بلکه سړے نه شرمیږی د حرکت د رعشے نه، او انسان عاجز دے په درجه د خلق کښے دلیل ئے زاری ده، نو که دے خالق وے نو بیا ولے زاری کوی خپل مولیٰ ته۔

## ○ گر نبودے اختیار ایں شرم چیست؟ ور دریغ و خجلت و ازرم چیست

ت: که نه وے اختیار نو دا شرم ولے دے او دا افسوس او ندامت او صلح ولے ده۔

ش: که د انسان اختیار نه وے نو دے په گناه ولے شرمیږی او افسوس ولے کوی، او خپیمانه ولے دے او د جنگ نه روسته صلحه ولے کوی، دگونډ لاس نه چه چا ته تکلیف اورسی بے اختیاره، د هغه نه خوک ندامت کوی او نه افسوس او نه صلح کوی۔

## ○ زجر استاداں بشاگرداں چراست۔ خاطر از تدبیر باگرداں چراست

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: زورنه د اُستاذ انو شاګرد انو ته ولے دے، اوزړونه د تدبیر وتوته ولے په چکر کښے دی۔

ش: دا نجرګ دلیل د اختیار دے د شاګرد پدغه فعل کښے۔

○ ورتو گوئی غافل ست از جبرِ اُو۔ ماہ حق پنہاں شد اندر ابر او

ت: که ته او وائے چه انسان د خپل جبر نه غافل دے، میاشت د حق پته ده په وریځے د هغے کښے۔

ش: یعنی انسان مجبور دے خو دے ترینه خبر ندے، لکه په وریځه کښے میاشت چه پناه شی، د غسے د غه حقه خبره د غفلت د وجے نه پته شوے ده۔

○ ہست ایں را خوش جواب ار بشنوی۔ بگذری از کفر و بر دیں بگروی

ت: دے لره خه جواب که ته اَورے، د کفر نه به لاړ شے او د دین معتقد به شے۔

ش: یعنی د جبریو د عقیدے نه به لاړ شے او د صحیح عقیدے به تابع شے۔

○ حیرت وزاری کہ در بیماری است۔ وقت بیماری ہمہ بیداری ست

ت: حیران والے او جړا چه په بیماری کښے ده، نو وخت د بیداری نبو تول وخت د زاری دے۔

ش: یعنی په وخت د بیماری کښے خو غفلت نه وی، نو بیا چه انسان جړاکوی په بیماری کښے پخپل کناه نو معلومه شوه چه دے مختار دے،

○ آں زماں کہ میشوی بیمار تو۔ میکنی از جسم استغفار تو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: پلہ کومہ زمانہ کښے چہ بیمار شے نۃ، نو کوے دجرم نہ استغفار للہ

○ مے نماید بر تو زشتی گنہ  میکنی نیت کہ باز آیم برہ

ت: بیکارہ کیږی تاتہ نقصان دکناہ، او کوے نیت چہ پلہ لاړے بہ سم

○ عہد و پیماں میکنی کہ بعد ازیں۔ جز کہ طاعت نبودم کارِ گزیں

ت: لوظ او وعدہ کوی چہ پس د دینہ بے د طاعت نہ بہ یل کار غوره نه وی

○ پس یقین گشت آنکہ بیماری ترا۔ مے بہ بخشد ہوش و بیداری ترا

ت: پس یقین دے چہ بیماری تالرہ بخی ہوش او بیداری۔

○ پس بداں ایں اصل را اصل جو۔ ہر کرا درد ست او بر دست بو

ت: پس معلوم کړہ دا قانون اے حقیقت طلب کونکیہ، چالرہ چہ درد وی نو هغه مقصد حاصلولے شی۔

ش: د ا ا انتقال دے چہ د عشق د اللہ تعالیٰ نہ مقاصد حاصلیږی۔

○ ہر کہ او بیدار تر پر درد تر  ہر کہ او آگاہ تر رخ زرد تر

ت: هر څوک چہ بیدار وی دے نو هغه د درد نه ډک دے، هر څوک چہ خه خبر دے نو د هغه مخ زیړ دے۔

○ گر ز جبرش آگہی زاریت کو۔ جنبش زنجیر جباریت کو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: که دجبر د هغه نه خبرئ نو زاری ولے کوے، او پقول د زنځیر د
جبر د هغه کوم دے .

ش: دا رجوع ده دے ته چه انسان مجبور محض نه دے بلکه اراده ورلره شته

○ بستہ در زنجیر زادی چوں کند ۔ چوب اشکستہ عادی چوں کند

ت: ترڅو په زنځیر کښے سخا څنګه کوی، لږ کے مات څنګه ستن کړئ .

○ کے اسیر حبس آزادی کند ۔ کے گرفتار بلا شادی کند

ت: چرته قیدی آزادی کولے شی ، چرته گرفتار د بلا خوشحالی کولے شی .

○ در تو مے بینی کہ پایت بستہ اند ۔ بر تو سرہنگان شہ بنشستہ اند

ت: او که وینے چه چپے ستا تړلی دی ، او پتا نوکران د بادشاه ناست دی

○ پس تو سرہنگی مکن با عاجزاں ۔ زانکہ نبود طبع و خوے عاجزاں

ت: بیا ته افسری مه کوه د عاجزانو سره ، ځکه دا خوئ ندے د عاجزانو .

○ چوں تو جبر او نمے بینی گمو ۔ در ہمے بینی نشان دید کو

ت: هرکله چه ته جبر د الله نه وینے نو بیا مه وایه ، او که وینے نو څه
ستا لیدو جبر لره څه ده .

○ در ہر آں کار یکہ میل استت بداں ۔ قدرت خود را ہمے بینی عیاں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: هر کار کښے چه میلان وینے هغته، نو قدر خپل وینے هغه کښے ښکاره.

ش: سوم کار چه ستا خوخ وی نو ته وائے دا کار ما کړیدے، او چه غلطی اوشی ستا نه نو ته وائے دا به د خدائے خوخه وه۔

○ انبیا در کار دنیا جہد نند کافراں در کار عقبےٰ جہد نند

ش: مثلاً کله انسان لره باری تعالیٰ په اور سره سیزی او کله ئے نه سیزی لکه ابراهیم علیه السلام۔ نو کار د باری تعالیٰ بالسبب دے خو سبب ته محتاج ندے۔ کله په اور سیزل کوی او کله بے اوره سیزل کوی۔ کله اور شتے او سیزل پے نه کوی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ واں سَبَبہا کانبیا رارہبرست ۔ آں سببہا زیں سببہا برترست

ت : دغہ اسباب حقیقی رهبری کوی دانبیآء ، دغہ اسباب حقیقی دے اسباب ظاهر یو نه برہ دی ۔

ش: یعنی انبیآء مؤثر حقیقی ته کوی حکه چه مؤثر حقیقی خو الله تعالیٰ دے اِذْ یَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۔ توبه ۴۰ ، نبی علیه السلام باری تعالیٰ ته کتل نه سبب ته ۔

○ ایں سبب را محرم آمد عقل ما واں سَبَبہا راست محرم انبیا

ت : دے سبب ظاهری نه واقف دے عقل حمونږه ۔ او دغه اسباب باطنیو نه واقف دی انبیآء ۔

○ ایں سبب چه بود ؟ تبازی گورسن ۔ اندریں چه ایں رسن آمد بفن

ت: (سوال) سبب څه شے دے "جواب" په عربی کښے سبب رسی ته وائی پدے کوهی (د دنیا کښے) دا سبب راغلیدے (پکښے دهولی سره) په تدبیر دیو ذات سره ،

○ گردشِ چرخ ایں رسن را علّت ست ۔ چرخِ گرداں را ندیدن زلّت ست

ت: کر دش د آسمان دے رسئ علت دے ، او آسمان کر زونکی لره نه لیدل ذلت دے ۔

ش: په دنیا کښے اسباب پیدا کیږی د حرکت د آسمان نه ۔ او حرکت د آسمان باری تعالیٰ پیدا کړیدے مثلاً فصل غټیږی په مرور د زمانے سره او زمانه کر خوی باری تعالیٰ ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ایں رَہنمائے سببہا در جہاں ۔ ہاں و ہاں زیں چرخ سرگرداں مداں

ت: دا رسیٔ اسباب دی په جهان کښے ، لیکن خبردار! چه حرکت د آسمان ددے اسبابو دپاره علت نه دے ۔

ش: یعنی حرکت د زمانے علت ندے بلکه سبب دے او خالق دهر شی صرف اوصرف باری تعالیٰ دے ۔

○ تا نمانی صفر و سرگرداں چو چرخ ۔ تا نہ سوزی نو زبے مغزی چو مرخ

ت: چه پاتے نشی خالی او سرگردان په شان د آسمان، او چه او نه سوزئ د بے عقلئ نه پشان داُونے دمرخ ۔

ش: یعنی که د آسمان حرکت دے مؤثر او کنړه نو غرق به شے ۔

○ باد و آتش میشوند از امر حق ۔ ہر دو سر مست امد نداز خمرِ حق

ت: باد او اُور موجودین ی په حکم د الله پاک سره ، دواړه مست کړی د شرابو د محبت د الله پاک نه ۔

ش: یعنی وجود د دواړو او انقیاد د دواړو په حکم د الله پاک سره دے، خو انقیاد ددوی غیر اختیاری دے مدار د ثواب ندے ۔

○ آب حلم و آتش خشم اے پسر ۔ ہم ز حق بینی چو بکشائی نظر

ت: اوبه د صبر او اُور د قهر اے بچیه ! هم د الله پاک نه وکنړه که سوچ وکړے

ش: یعنی د هر فعل خالق باری تعالیٰ دے او د فعل اختیاری کاسب انسان دے ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



گر نبودے واقف از حق جان باد ۔ فرق چوں کردے میانِ قوم عاد

ت: کہ نہ وے واقف د اللہ پاک نہ رُوح دباد، نو فرق بہ ئے څنګہ کړے وے
پہ قوم د عاد کښے (د بل قوم نہ)

---

## قصّہ ہلاک کردن باد قوم ہود علیہ السلام را

قصہ د هلاکولو د باد قوم د هود علیہ السلام لرہ ۔

ہود گردِ مومناں خطے کشید ۔ نرم میشد باد کانجا میرسید

ت: هود علیہ السلام چا پیرہ د مؤمنانو نہ، خط راخکو، نرم کیدہ بہ کلہ
چہ دغہ ځائے تہ بہ ورسیدو۔

ہر کہ بیرون بود زاں خط جملہ را ۔ پارہ پارہ میشکست اندر ہوا

ت: هر څوک چہ بہر وو د دغہ خط نہ نو هغوئ تولو لرہ ئے ټکړے ټکړے مات
کړو پہ هوا کښے۔

خاکِ قارُوں را چو فرماں در رسید ۔ بازرو تختش بقعرِ خود کشید

ت: خاورو د قارون تہ کلہ چہ فرمان ورسیدو، نو سمدہ د زرو او د تخت تہ کیږے
خپلے تہ ئے را ښکو دو۔

قصہ:- یوے بدکارہ ښځے تہ قارون پیسے ورکړے چہ پہ موسیٰ علیہ السلام

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تمت اوګلوه ، موسیٰ علیه السلام دهغے نه تپوس اوکړو نوهغے صاف اقرار وکړو چه تمت ما خکه ګلوے دے چه ماله قارون مال رکړے نو موسیٰ علیه السلام باری تعالیٰ ته سوال وکړو په سجده کښے چه اے الله که حُه ستا حق پیغمبریم نوحما دپاره قهر وکړه نوباری تعالیٰ هغه لره اختیار ورکړو ، نوموسیٰ علیه السلام زمکے ته حکم وکړو چه وےنیسه نو چه کله زمکے دے وُنیوَ نو ده موسیٰ علیه السلام ته اووے چه ته خکه ما هلاکوے چه حما میراث واخلے ، نوموسیٰ علیه السلام اُووے چه دده مال ددده په سر دلئ کړئ ۔

○ آب وگل چوں از دم عیسیٰ پرید ۔ بال وپر مکتسا دو مرغے شد پدید

ت: اُوبه اوخاورے چه کله دعیسیٰ علیه السلام دپوکی نه وخریدے ، نو وزرے اوغوړولے اوبیرتهٔ کړے اومارغه شو ښکارهٔ ۔

ش: یعنی خاورے دباری تعالیٰ په حکم سره مارغه شو کله چه عیسیٰ علیه السلام په کښے پوکے وکړو ، عیسیٰ علیه السلام دخپے نه مارغه جوړ کړو او په هغه کښے پوکے وکړو نوهغه مارغه شو ، معجزه بلا اختیارهٔ دپیغمبر علیه السلام په لاس ښکارهٔ کیږی ۔

○ از دہانت چوں برآید حمدِ حق ۔ مُرغ جنّت سازدش ربُّ الفلق

ت: د خُلے ستا نه هرکله چه راشی حمد د الله پاک ، مارغه دجنت ترینه جوړوی الله پاک ۔

○ ہست تسبیحت بجائے آب وگل ۔ مُرغِ جنّت شُد ز نفخ صدق دل

ت: ستا تسبیح هم پشان د اُوبو او د خاورو دے ، مارغه دجنت ترینه جوړوی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



باری تعالیٰ دَصدق دزړہ د پوکی نہ۔

ش: یعنی دصداقت دوجے نہ د تسبیح نہ باری تعالیٰ مارغہ جوړوی دجنت۔

○ کوہِ طُور از نورِ موسےٰ شد برقص ۔ صوفیِ کامل شد درشت اُو لقص

ت: کوہ طور د نُور د موسیٰ علیہ السلام نہ پہ کڑا شو، صوفی کامل ترینہ جوړشو اوخلاص شو دنقصان نہ۔

○ چہ عجب گر گوہ صوفی شد عزیز ۔ جسمِ موسےٰ از کُلُوخے بود نیز

ت: څہ عجیبہ دہ کہ دغرتہ صوفی جوړشو، معزز جسم دموسیٰ علیہ السلام د خاورو نہ وو۔

لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ — اللّٰہُ اَکبَر — مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰہ

## طنز و انکار کردن بادشاہِ جہود نصیحت ناصحاں را

زُورونہ کول د بادشاہ یہودی نصیحت د ناصحانو تہ۔

○ ایں عجائب دید آں شاہ جہود ۔ جز کہ طنز و جز کہ انکارش نبود

ت: دا عجائب ولیدہ دغہ بادشاہ یہودی، نوبے دزورنے نہ اوبے دانکار نہ بلکہ خبرہ ورسرہ نہ وہ۔

ش: یعنی پکار نبو داوہ چہ دہ کلہ دا عجیبہ خبرہ لیدلے وے اودے مسلمان شوے وے لیکن پہ دہ مہر د قہر د اللہ تعالیٰ کلیدلے وو نو دہ خہ انکار

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



شروع کړو او زورنه ئے شروع کړه ناصحانو ته۔

○ ناصحاں گفتند از حد مگذراں  مرکب استیزہ را چنداں مراں

ت: ناصحانو اووے ظالمانو ته چه دحد نه مه اوړئ او اس د مقابلے دحق سره دومره مه زغلوئ۔

ش: یعنی نوره مقابله پریدئ دحق سره۔

○ بگذر از کشتن مکن ایں فعلِ بد ۔ بعد ازیں آتش مزن در جانِ خود

ت: بس کړه قتلول مه کوه دا ناکاره کار لدینه روسته، اور مه ګلوه خپل ځان ته۔

ش: یعنی دبل چا سره بد د خپل ځان سره بد دی۔

○ ناصحاں را دست بست و بند کرد ۔ ظلم را پیوند در پیوند کرد

ت: ناصحانو لره ئے لاسونه وترل او قید کړه او ظلم ئے ورسره وکړو پیوند په پیوند، یعنی دیر ظلم ئے ورسره وکړو۔

○ بانگ آمد کارچوں اینجا رسید ۔ پائے دارائے سک! کہ قہر ما رسید

ت: هر کله چه کار دظلم ئے حد ته ورسیدو، نو غیبی آواز راغے، چه اے سپیه او دریزه قهر خدا (د الله پاک) دوو رسیدو۔

○ بعد ازاں آتش چہل گز بر فروخت ۔ حلقہ گشت و آں یہود انرا بسوخت

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: پس دهغے نه اُور څلویښت کزه دنګ بل شو، او حلقه شو او دغه یهودیانِ وسیزل۔

ش: دغه په هغوی د الله پاک قهر وو۔

○ اصلِ ایشاں بود ز آتش زابتدا۔ سوئے اصلِ خویش رفتند انتہا

ت: اصل د دوی د اُور نه وو په اول کښے نو په طرف د اُصل خپل لاړه په انتهار کښے۔

ش: یعنی د بد عمل د وجے نه دوی دوزخ ته لاړه۔

○ ہم ز آتش زادہ بودند آں فریق۔ جز وہا را سوئے گُل باشد طریق

ت: هم د اُور نه پیدا وو دغه خلق، جز لره په طرف دګُل لار وی۔

ش: یعنی دوی د شیطان کار کوو، او شیطان ناری دے، نو دوی د اُور اُجزا شو نو د اُور په طرف لاړه۔ بد عمل اُور دے او نیک عمل جنت دے، نو نیکان به هم په خپل طرف جنت ته ځی۔

○ ہم ز آتش زادہ بودند آں خساں۔ حرف میبر اند ند از نار و دخاں

ت: هم د اُور نه پیدا وو دغه رذیلان، نو هغوی خبرے کولے د اُور او دلُوګی۔

○ آتشے بودند مومن سوز و بس۔ سوخت خود را آتش ایشاں چو خس

ت: دوی اُور وو مومنان سوځوونکی، نو دوی لره اُوسو اُور د دوی پشاد خشاک

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: څوک چه بل ته کومی کنی نو پخپله پکښے اړتا وینی۔

○ آنکه او بودہ ست اُمّہ ہا وَبیہ ۔ ہاویہ آمد مرا ورا زاویہ

ت: هغه څوک چه وی مور د هغه هاویه، نو هلویه شوه د هغه دپاره زاویه۔

○ مادر فرزند جویاے وے ست۔ اصلہا مر فرعہا را در پے ست

ت: مور د خپل بچی طلب کوی، او وِیخونه د خپلو خانکو طلب کوی۔

ش: نو دغسے دوزخ به د دوز خیانو تلاش کوی۔

○ آب اندر حوض گر زندانی ست۔ باد لشفش میکند کارکانی ست

ت: اُوبه په حوض کښے بند دی، باد هغه اُوچوی دا کافی اُثر دے۔

ش: یعنی د اُوبو اصل بخار دے د بخار نه باران وریږی، نو دا اُوبه بخار کیږی خپل اصل ته ځی، نو دغسے د بد عمل انسان اصل دوزخ دے لکه چه دے دوزخی کار کوی نو لکه خپل اُصل ته ځی۔

○ میرہاند مے برد تا معدنش۔ اندک اندک تا نہ بینی بردنش

ت ہوا اُوبولره د حوض نه اوباسی او خپلے کُږے ته ئے په دمه دمه وړی ته به نه وینے د غه وَړل د ہوا اُوبولره۔

ش: یعنی ہوا اوبه د حوض نه وچه وی په بخار سره۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ وِیں نفس جانہاے مارا ہمچناں۔ اندک اندک دزود از حبسِ جہاں

ت: دغسے دا نفس حمونږه روح لره کک کک دقید د جهان نه پتوی

ش: یعنی کک کک عمر خلاصیږی آخر به روح پرواز اوکړی د بدن نه۔

○ تا اِلَیْہِ یَصْعَدُ الطَّیِّبُ الْکَلِمُ ۔ صَاعِدًا مِّنَّا اِلٰی حَیْثُ عَلِمَ

ت: د الله تعالیٰ دربار ته خیجی خه خبرے، پوره ته حی حمونږ نه هغه خائے ته چه الله تعالیٰ ته معلوم دے۔

ش: یعنی هر شی خپل جنس ته مائل کیږی نو دغسے سپے خبرے هم مقام مقدس ته خیجی یعنی باری تعالیٰ خه اِعمال قبلوی۔

○ تَرْتَقِیْ اَنْفَاسُنَا بِالْاِتِّقَا ۔ مُنْتَحًا مِّنَّا اِلٰی دَارِ الْبَقَا

ت: حمونږه خبرے د تقویٰ د وجے نه خیجی، په طور د تخفے حمونږ د طرف نه دار د بقیٰ ته۔

ش: یعنی چه څوک تقویٰ کوی نو د هغه خه عمل قبلیږی۔

○ ثُمَّ یَاْتِیْنَا مُکَافَاتُ الْمَقَالِ ۔ ضِعْفَ ذٰلِکَ رَحْمَۃً مِّنْ ذِی الْجَلَالِ

ت: بیا راحی مونږ ته بدله د سپو خبرو، دوچند حمونږ د عمل نه دا مهربانی ده د الله پاک۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ ثُمَّ يُلْجِئُنَا إِلَىٰ امْتِثَالِهَا كَيْ يَنَالُ الْعَبْدُ مِمَّا نَالَهَا

ت: بیا دغه ثوابونه د نیک عمل مونږ لره مجبور کوی په دغسے نیک اعمالو باندے، دپاره ددے چه حاصل کړی بنده هغه ثواب چه ده مخکښے حاصل کړیدے۔

ش: نیک عمل بنده لره په نیک عمل باندے باعث کوی دغسے بدی ده۔

○ هٰكَذَا تَعْرُجُ وَ تَنْزِلُ دَائِمًا ۔ ذَا فَلَا نَالَتْ عَلَيْهِ قَائِمًا

ت: دغسے نیکی خیجی او ثوابونه نازلیږی دا نزول او صعود ہمیشه قائم دے۔

ش: یعنی ثواب حاصلیدل، او نیکی قبلیدل دا قانون ہمیشه دے۔

○ پارسی گویم یعنی ایں کشش ۔ زانطرف آمد کہ آمد ایں چشش

ت: فارسی وائم (ددے نکتے دپاره) یعنی دا کشش (د نیکیۍ او د بدلے) هغه طرف ته وی چه کوم طرف ته ددده طبیعت وی۔

ش: یعنی نیکی او بدیۍ ته مائل کیده خوددده طبیعت وی ددے دوه صورته دی یا دا ددده خوی اصلی وی یا دیو نیک انسان د صحبت ته ده ته دا کمال حاصل شوے دے۔

○ چشم ہر قومے بسوئے ماندہ است ۔ کانطرف بگروز ذوقے زندہ است

ت: ستر کے د هر قوم هغه طرف ته تکیدلی دی کوم طرف کښے چه ده یوه ورځ خوند حاصل کړے دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: یعنی نیکانو په نیکئ کښے او بدانو په بدی کښے خوند مونډلے دے۔

○ ذوقِ جنس از جنس خود باشد یقیں ذوق جُز واز کُلِ خود باشد بیں

ت: ذوق د جنس دخپل جنس سره وی په رشتیا، مزه د جز د کل سره وی داخبره معلومه کړه،

○ یا مگر آں قابلِ جنسی بوُد ۔ چوں بدو پیوست جنسِ اُو شود

ت: یا هغه شے قابل د جنسیت وی چه دده سره یوځائے شی نو دده جنس شی

ش: یعنی یا بالفعل جنس وی یا بالقوه۔

○ ہمچو آب نان کہ جنس ما نبوُد ۔ گشت جنس ما واندر ما فزُود

ت: لکه اُوبه او ډوډی چه جنس حَمونږه نه وو نو وکړ حَید و جنس حَمونږه او حَمونږه جسم ترینه زیات شو۔

ش: انسان چه ډوډی اُوخوری نو دهغے نه غوښه جوړه شی او دانسان د جسم کمے ترینه پوره شی۔

○ نقشِ جنسیّت ندارد آب و نان زاعتبارِ آخر آنرا جنس داں

ت: اُوبه. او ډوډی بنو بالفعل حَمونږه جنس ندے بنو بالقوه هغه جنس اوکړه۔

○ ورز غیرِ جنس باشد ذوقِ ما آں مگر مانند باشد جنس را

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: که دغیر جنس سره حمونږه تعلق پیدا شی نو دغه شے په حمونږ د جنس سره مشابه وی۔

آنکه مانند ست باشد عاریت۔ عاریت باقی نماند عاقبت

ت: کوم شے چه مشابه وی نو هغه عارضی دے او عارضی شے باقی نه پاتے کیږی په انجام کښے۔

ش: یعنی اصلی شے باقی وی او عارضی شے فانی وی، روسته بیت کښے د دے مثال دے۔

مرغ را گر ذوق آید از صفیر۔ چونکه جنس خود نیابد شد نفیر

ت: مارغه لره ښو خوند راشی د شپیلی (د ښکاری) نه، هر کله چه هغه جنس خپل بیا نه موی نو هغته نفرت حاصل شی (د دغه شپیلی نه۔

تشنه را گر ذوق آید از سراب۔ چون رسد در وے گریزد جوید آب

ت: تکی لره خو مزه راځی د لیدلو د شکوکل نه نو هر کله چه هغته اورسی نو دهغنه تخنی او طلب کوی اوبه۔

ش: شکوکل دلرے نه پشان د اوبو ښکاری د سړی ورته میلان اوشی د تندے نه نو چه ورشی نو د هغے نه بیا تخنی او اوبه طلب کوی۔

مفلساں گر خوش شوند از زر قلب۔ لیک آں رسوا شود در دار ضرب

ت: مفلسان که خو شحالیږی د کوټه زروته، لیکن دغه بیکاره شی په کور

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د کَرہ کونکی کښے۔

ش: دا درے مثالہ شو، شپیلئ ، سراب ، کوتہ زَر چہ د مشابہت د وجے نہ پے خلق خوشحالہ شی او بیا ترینہ نفرت کوی۔

تا زرِ اندوویت از رہ نگفند  تا خیالِ کژ ترا چہ نگفند

ت: خبردار! چہ جَراو دزَرو دِ تالرہ دلار ینہ (ددین نہ) اَرتاو نہ کړی

خبردار! چہ غلط خیال تالرہ کوھی تہ ارتاوَ نہ کړی۔

ش: یعنی د ھغہ چا نہ خَان اوساتہ چہ شکل د ھغہ ددین وی او پہ معنیٰ کښے بے دینہ وی، د ھغے خلقو تعلق بہ تالرہ کمراہ کړی۔

فائدہ: تر دے خَائے پورے د مثنوئ ترجمہ ترتیب وار دہ ، د احصہ درسی دہ ، اوس بہ اِنتخاب کوم د مثنوی نہ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصّہ سلطان محمود غزنوی رحمۃ اللہ علیہ

یوہ شپه سلطان محمود جامه بدل کړه، د رعیت ګډائی هغه کوله ناڅاپه دغلویو ټولے دَه ولیدو هغوی دده نه تپوس اوکړو چه ته څوک ئے، پادشاه ورته اُووے حَه ستاسو ملګرے یم، نوهر یو خپل هنر بَیانوو، نو یو اُووے چه حَه دسپو په خبرو پوهیږم، بل اووے چه حَه یوسړے په تُوره شپه کښے اُو وِینم نو هغه دورے پیژنم، دریم اووے چه حَه په دیوال کښے کنده په اسانئ سره کوے شم، څلورم اووے چه حَه په بُوئے سره معلوموے شم چه خزانه په کوم ځائے کښے ده، کله مجنون چه بے د چاد خوږے نه قبر د لیلیٰ معلوم کړے وو۔

ہمچو مجنوں بوکنم ہر خاک را  خاک لیلیٰ را بیابم بے خطا

ت: پښتان د مجنون چه بُوئے کړم خاوُرو لره، نو قبر د لیلیٰ معلوموم بے شکه۔

پنځم اُووے چه حَه په آسانئ سره مکان ته اَورپیدلے شم، نو پادشاه اُووے:

مجرمان را چوں بجلاّد اں دہند۔ چوں بجنبد ریش من ایشاں رہند

ت: مجرمانو لره چه جلاد ته حواله کړی، نو کله چه کیږه حَما اُوخوزی نو قتل بچ شی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## ○ قوم گفتندش کہ قطب ماتوئی ۔ روز محنت ہا خلاص ماتوئی

ت: قوم اُووے چہ مشر حمونږ ہ خوتہ ئے پہ وخت د تکلیف کښے بچاؤ حمونږہ تہ ئے ۔

نو ټول د بادشاہ بنکلے پسے روان شو، پہ لارے سې غپل نو هغہ ملګرې اُووے چہ سپے وائ چہ بادشاہ دغلوسرہ دے لیکن دے خبرو تہ غلو توجہ او نکړہ د حرص د وجے نہ ۔

## ○ صد حجاب از دل بسوئے دیدہ شد ۔ چوں غرض آمد ہنر پوشیدہ شد

ت: سل حجابہ د ستر کونہ پہ طرف د زړہ لاړ شی (یعنی سړے بے عقلہ شی) ہر کلہ چہ غرض راشی نو هنر پټ شی ۔

یو اُووے چہ د بادشاہ خزانہ دلتہ دہ، نو هغہ بل مکان تہ واوُخت او هغہ بل کنړ او کړو او خزانہ دوی جمع کړہ او تقسیم ئے کړہ بادشاہ دغہ ټول غلہ معلوم کړہ او جلاد تہ ئے حوالہ کړل نو هغہ یو اُووے چہ تاسو فرمائیلی ووَ، چہ حَہ کسیرہ اُوخوږوم نو قید یان د مرګ نہ بچ کیږی نو هغہ وعدہ پورہ کړہ، نو بادشاہ هغہ ټول معاف کړل ۔

فوائد: (۱) کوم سړے چہ جرائم کوی نو هغہ د بادشاہ خزانہ لوټ کوی او بادشاہ ورسرہ دے ۔ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۔ اللہ پاک ستا سرہ دے (بالعلم) چرتہ چہ تاسوئے ۔ نو پہ دنیا کښے ښو باری تعالیٰ پردہ پوشی کوی نو مخکښے د قیامت نہ توبہ مناسب دہ ۔

۲۔ پہ قیامت کښے د دنیا هنرونہ نہ پکاریږی ۔

## ○ ہر یکے خاصیتے خود وانمود ۔ ایں ہنرہا جملہ بدبختی فزود

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: هر یو خپل خاصیت بنکارہ کړو لیکن دے خاصیتونو بدبختی بنکارہ کړہ

۲:- یو هنر نه پکار یږی بے لدینه چه انسان خپل مولی اُو پیژنی او دهغه طاقت معلوم کړی نو دا هُنر قابل اِنعام دے په قیامت کښے۔

○ جز مگر خاصیتے آں خوش حواس۔ کہ لبش بود چشم او سلطان شناس

ت: بے د هغے خاصیت د هغۂ خوش حواسی نه چه د شپے د هغه سترګو بادشاه لره پیژندلے وی۔

ش: صرف دغه خاصیت پکار شو چه هغه سړی بادشاه لره پیژندلے وو د شپے، نو دغسے چه په ظلمت د دنیا کښے یو انسان باری تعالیٰ او پیژنی او دهغه لوئے طاقت او لوئے علم معلوم کړی او د خپل گناه نه تائب شی نو دغه خاصیت پکار راځی، افسوس چه مونږه سره دعلم نه گناهونه کوو او اَرْحَمُ الرّٰاحمین رابانده عالِم دے۔

اے اللہ تعالیٰ مونږ لره ما حول د نیکئ تیار کړہ او

عادل بادشاہ په مونږ مقرر کړہ په خپل رحم سره

چه نیکی په مونږه په زور کوی او د بدو مونږه په

زور منعه کوی یا مولیٰ مونږ سره د رحم معامله

وکړہ او مونږ سره عدل مه کوه۔

۱۲ مین ثم ۱۲ مین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# ذکر
# د حضرت جعفر طیار رضی اللہ تعالیٰ عنہ

ده ته طیار ځکه وائی چه په غزا کښے دده لاسونه کفار غوڅ کړي وو نو باری تعالیٰ ورله څانګونه ورکړه

## روبهے راکه باشد شیر پشت . بشکند کله پلنګان را بمشت

ت: که کیدر لره وی د منزری امداد، نو ما توی چیتا منزری لره سر په موتي سره .

یعنی د چا سره چه د باری تعالیٰ امداد وی نو هغه د لویو طاقتونو سره مقابله کوی جعفر رضی الله عنه په قلعه حمله اوکړه تول خلق اویریده او دروازے ئے بندے کړے، بادشاه مشوره اوکړه چه څه اوکړو، وزیر ورته اووے چه شکست خپل تسلیم کړه، بادشاه اووے چه ددومره طاقت سره ولے شکست تسلیم کړم اودے یو سړے دے، وزیر اووے چه یو نه دے ددے سره د باری تعالیٰ امداد دے - د یو ستوری دنمس نه پټ شی، د یو منن کان د پیشونه یریږی د یوے بزے د شرمخ نه یریږی، د یو فکرونه د خوب نه ختم شی، د حیوانات د منزی نه یریږی - یا مولیٰ دغسے جمعیت قلب مونږ ته نصیب کړے، دا جمعیت یوفطری دے اوبل وهبی دے، جمعیت وهبی په تقویٰ ملاویږی دا د باری تعالیٰ مونږ ته نصیب کړی .

آمین ثم آمین یا رب العلمین .

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

دے بادشاہ ووَ ، او په عشق مجازی کښے مبتلا ووَ ۔ او خه شاعر او خاسته جوان ووَ ، کله چه حقیقی عشق د باری تعالیٰ ورته ملاوَ شو ، نو بادشاهی هغه پریخوده او د شپے روان شو

دست در دیوانگی باید زدن ۔ زیں خرد جاہل ہمی باید شدن

ت: لاس لیونتوب ته رسول مناسب دی د دے عقل (ظاهری) نه جاهل کیدل مناسب دی ۔

ش: یعنی کوم عقل چه اِنسان د باری تعالیٰ محبت ته نه رسوی نود دهغنه جهل ښه دے ۔ بادشاه دخپل حکومت نه بهر شو ، اوتبوک ته ورسیدو ، هلته ئے مزدوری کوله د خپلے کمزارے دپاره ۔ او مخ ئے پټ ووَ ، چه دے څوک او نه پیژنی ، هوا راغله د دے نه ئے پرده پورته کړه نو مخ ئے ښکاره شو ، چه د پیر خاسته او بارعبه ووَ ، دا خبره بادشاه ته ورسیده هغه راغے د دے دا احوالو معلومولو دپاره چه چرے جاسوس نه وی ، دے سره ئے خبرے وکړے نو دے هم ورسره د عشق حقیقی خبرے وکړے په هغه هم اثر وَشو او دواړه روان شو ۔ مولنا فرمائی چه عشق د غسے پیر ظالم نه کړی دی ۔ یعنی ظاهراً ظالم وی او باطناً خو کمال وی ۔

باری تعالیٰ دے د تعلق باللہ حمونږ ه هم نصیب کړی امین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# حکایت حضرت سلطان شاہ ابراہیم بن ادھم

دے یوہ شپه اوده وو په قصر شا هی کښے نو د خپو کشاں ئے واوړ یدو، نو وے وے چه څوک ئے هغوی اُووے چه مونږه دلته خپل ورک شوی اُوښان کوو، نو بادشاه ورته اووے چه تعجب دے دلته اوښان کوری، نو هغوی اووے چه پیر تعجب دے چه د الله تعالیٰ محبت پیدے مزو کښے ته کوے نو په ابراهیم باندے اَثر وُشو او بادشاهی دبلخ هغه پریخوده ۔

## پس بگفتندش که تو بر تخت شاه ۔ چوں همی جوئی ملاقات از اِله

ت: نو هغوی ورته اُووے چه ته په تخت د بادشاه څنګه طلب کوے ملاقات د الله تعالیٰ ۔

## ملک را برہم زن ادھم وار زود ۔ تا بیابی ہمچو او ملک خلود

ت: بادشاهی پریدئ د ابراهیم بن اُدهم پشان زر، چه بیا مومئ پشان د هغه همیشه بادشاهی ۔

ش: ابراهیم ابن اُدهمؒ د بلخ بادشاهی پریخوده او د نیشاپور په صحرا کښے مشغول ذکر شو عاشقانه ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ نعرہ مستانہ خوش می ایدم  تا ابد جاناں چنیں می بایدم

ت: مستانہ نعرہ ماتہ خوخیږی ، چہ همیشه جانان مالرہ مناسب دے

○ جز بہ ذکر خویش مشغولم مکن  از کرم از عشق معزولم مکن

ت: بے دخپل ذکر نہ پہ بل شی ما مَہ مشغوله کوہ ، او دکرم نہ مادَ عشق نہ مہ معزوله کوہ ۔

○ جان قربت دیدہ رادوری مدہ ۔ یار شب را روز مہجوری مدہ

ت: هغه روح چه ستا تقرب هغه حاصل کړے دے نو اے مولیٰ! هغه مہ لرے کوہ د خَان نہ ، او هغه یار د شپے دورے دخَان نہ مہ لرے کوہ

○ ذکر حق آمد غذا ایں روح را  مرہم آمد ایں دل مجروح را

ت: ذکر د باری تعالیٰ غذا د روح دہ او مرهم دے ، دے زړہ زخمی لرہ

○ کشتی بہ از ہزاراں زندگی  سلطنت ہا مردۂ ایں بندگی

ت: د باری تعالیٰ په محبت کښے مړ کیږہ دے د هزار زندګو نہ او بادشاهی قربان دہ ستا د غلامیٔ نہ اے مولیٰ حَمونږہ ۔

○ گر بہ بینی یک نفس حسن ودود ۔ اندر آتش افگنی جان ودود

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: که اُو وینی یو ساعت حسن د الله پاک محبت واله، نو اُور ته به اوغو رحوی خپل رُوح او لوکی ته۔

○ گر ببینی کرّ و فر قرب را ۔ جیفه بینی بعد ازیں شرب را

ت: که اُو وینی دبدبه د قرب الٰهی، نو مرداره به اُو وینی پس لدینه هَـزو دَ دنیا لـره۔

○ ملک دنیا تن پرستاں را حلال ۔ ما غلام عشق و ملک لازوال

ت: ملک د دنیا تن پالو تکو لره دِ مبارک شی، مونږه بنو غلامان د عشق یو او دَ دا سے بادشاهئ یُو چه نه ختمیږی۔

○ قصر جزے نیست ویران کن بدن ۔ گنج در ویرانی است اے میرمن

ت: بنکله د دنیا څه شے نه دے ویران کړه بدن خپل (یعنی ریاضت وکړه) خزانه په ورانو لو د بدن کښے ده اے حماسر داره!

○ آه را جز آسماں ہمدم نبود ۔ راز را غیر خدا محرم نبود

ت: د ابراهیم آسویلے برآه راست آسمان ته رَسیدو، او دده راز صرف باری تعالیٰ اَوریدو، یعنی بل چاته ئے فریاد نه کوو۔

○ خوشتر از ہر دو جہاں آنجا بود ۔ کہ مرا با تو سر و سودا بود

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: د دواړو جهانو نه خه هغه ځائے دے چه مالګه ستاسره ران اوتصور وی

○ نام اوچو برزبانم می رود ۔ ہر بُن مواز سیل جُوئے شود

ت: نوم د هغهٔ چه په جبه ځما راشی، نو هر سُورے د ویښتو د کبین واله شی۔

○ چیست دنیا؛ از خدا غافل بدن۔ نے قماش و نقره و فرزند و زن

ت: دنیا څه ده د باری تعالیٰ نه غافل کیدے، نه سامان او سپین زر او ښځه۔

ش: یعنی نقصان د باری تعالیٰ نه غفلت دے نه د دنیا سامان۔

○ آب در کشتی ہلاک کشتی است ۔ آب اندر زیر کشتی پشتی است

ت: اُوبه په کشتی کښے هلاکت دے د کشتی، او اُوبه لاندے د کشتی نه نجات دے۔

ش: یعنی کوم مال چه د باری تعالیٰ د تعلق سبب شی نو نجات دے او که د غفلت سبب شی نو هلاکت دے۔

○ دلق خود می دوخت ال سلطان جال ۔ یک امیرے آمد آنجا ناگہاں

ت: کن خپل کمنډه د غه بادشاه د روح، چه نا څاپه یو امیر راغے د غه ځائے ته نو هغه په زړه کښے په طور د مسخرے اووے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ترک کردہ ملک ہفت اقلیم را ۔ میزند بر ولق سوزن چوگدا

ت: دنیا دَہ پریخے دہ او بادشاھی دوۂ اقلیمولرہ، اوکندی پہ ستہ کَن پشان د فقیر۔
نو ابراھیم تہ پہ کشف سرہ دَدہ تحقیر معلوم شو نو ھغہ خپلہ ستن دریاب تہ اوغورخَولہ بیائے باری تعالیٰ تہ درخواست وکړو چہ مولیٰ خَما ستن ماتہ راکړہ۔

صد ہزاراں ماھئے لٹھیے ۔ سوزن زرّیں بھر ماھئے

ت: سل زرہ ھمی د باری تعالیٰ، ستنہ دزّرو دھر ھمی پہ شوندو کښے وی۔

سر برآور دنداز دریائے حق ۔ کہ بگیرا ے شیخ سوزنہائے حق

ت: سر ھغو شکارہ کړہ د دریاب حق نہ۔ چہ واخلہ اے شیخہ ستنے د خدائے تعالیٰ لرہ۔

از مودم عقل دور اندیش را بعد ازیں دیوانہ سازم خویش را

ت: ما از میینت اوکړو د عقل د فکر کونکی، پس لدینہ بہ خَان لیونے کړم۔
ش: پہ عقل کار نہ کیږی بے د فضل الٰھی نہ، نو حَلہ بہ صرف د باری تعالیٰ نہ د ھر کار طمعہ کوم۔

یا اللہ مدد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# حکایت حضرت پیر چنگی رحمۃ اللہ علیہ

د عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کښے یو چنگی وو، هغه به چنگ وَخو، آوان ئے ښه وو خلقو به د هغهٔ سره محبت کوو نو چه کله بوډا شو او رنگ او آوان ئے بدشو نو خلق د هغهٔ نه متنفر شو اود ے وګے شو شو نوده افسوس اوکړو چه دا سے بے وفا خلق وَو چه حَما اوس تپوس نه کوی نو باری تعالیٰ ته ئے فریاد شروع کړو چه اے مولیٰ! خلقو حَه پریخودم نو ته ما مه پریږده، پدے زاری کښے د مدینے منورے قبرستان ته ورسیدو. او هلته ئے زاری شروع کړه خپل مولیٰ ته چه مولیٰ حَه نن ستا مهمان یم، په جرا جرا کښے اوده شو، او هلته عمر رضی اللہ عنہ خوب وُلیدو د باری تعالیٰ د طرفه" چه لاړ شه قبرستان ته او د بیت المال نه حَما میلمه لره څه وِیسه، عمر رضی اللہ عنہ د بیت المال نه څه ضروری څیزونه وِیوړه هغه پیر چنگی لره، پیر چنگی ته چه د عمر رضی اللہ عنہ نه سامان اوښتل اورسیدو

پیر لرزاں گشت چوں ایں را شنید  دست می خایید و بر خود می تپید

ت: پیر ورپیدو چه کله هغه دا بشارت وَاوریدو لاسونه هغه چیچل او پخپله دیرے ته ورپیدو۔

بانگ می زد کا خدائے بے نظیر  بس کہ از شرم آب شد بے چارہ پیر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: آوان ئے وکړو چه اے خدایه بے مثله مهربانه، چه شرم نه اوبه شوداعاجز بوړا۔

ش: چه حکه څومره کنهکاریم او اے مولیٰ ته څومره مهربان ئے۔

○ چوں بسے بگریست واز حد رفت درد ۔ چنگ را زد بر زمین و خرده کرد

ت: هر کله چه هغه پیر وجرړ اود حد نه زیات شو درد د هغهٔ نوهغهٔ چنگ لره په زمکه اوغورځوو اومات ئے کړو۔

○ گفت اے بودہ حجابم از الٰہ ۔ اے مرا تو راہ زن از شاہراہ

ت: پیر اووے اے چنگه ته زما حجاب وے د الله تعالیٰ نه او ته زما پاکو وے د شاهراه نه۔

ش: یعنی ته زما دکمراهئ سبب وے، دعمر رضی الله عنه په صحبت سره دغه پیر چنگی یولوئے ولی شو۔

فوائد: ۱: دنیا خلق بے وفا دی۔ ۲: لوئے وفادار باری تعالیٰ دے۔

۳: په توبے سره باری تعالیٰ کنا هونه معاف کوی، ربی څوک چه باری تعالیٰ ته اوجاړی نو د باری تعالیٰ رحمت په جوش کښے راځی۔

اے مولیٰ دغسے په مونږه هم مهربان شه ۔۔

مونږ سره صرف ستا د مهربانئ وسیله ده

او غټ کنهکاران یو خو مولیٰ کافران نه یو

مولیٰ مونږه معاف کړه

آمین

یا رب العلمین۔

یا الله مدد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام






یوشپونکے پہ باری تعالیٰ باندے عاشق وو، هغهٔ دخپل مولیٰ سره دعشق خبرے کولے

گربمینم خانہ ات رامن دوام ۔ روغن وشیر بیادم صبح شام

ت: که ستاکور اُو وینم نوځه به ہمیشه غوږی او پئ راوړم سحر اُوبکاۂ

ورترا بیماری اید بہ بیش من ترا غمخوار باشم بچو خویش

ت: اوکه ته ناجوړه شے نوځه به ستا غم خورکی کوم پشان دخپل ۔

دست بوسم بالم پایہ آت ۔ وقت خواب آمد برویم جایہ ات

ت: لاس ستا به ښکلوم اوستا خپے به مَښ م اُوپه وخت دخوب کښے به ستا خائے پاکوم ۔

نو موسیٰ علیہ السلام پدغه خائے تیر یدو او دهغهٔ خبرے ئے واوریدے نو هغته ئے غصه اوکړه چه باری تعالیٰ بتوسپے ندے چه دے کارونه ئے حاجت پیخ شی، نوشپونکی اووے چه خما توبه ده

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بیا به دا سے خبرے نه کوم. نو کله چه موسیٰ علیه السلام دالله
راز له لاړو کوه طور ته نو باری تعالیٰ ورته اُووے چه حُما بنده
دے وَلے حُما نه جدا کړو۔

## تو برائے وصل کردن آمدی ۔ نے برائے فصل کردن آمدی

ت: ته خو دپاره د وصل راغلے ئے نه دپاره د فصل راغلے یَ ۔
نو موسیٰ علیه السلام هغته اُووے چه خپلے خبرے کوه نو هغهٔ
اُووے چه ناروا دی نو حُکه ئے کله کولے شم
فائده: موسیٰ علیه السلام په اصلاح باندے شرعًا مجبور وو، او د
باری تعالیٰ مقصد طریقه د تعلیم خو دل وو، چه په دا سے طریقے سره
اصلاح پکار ده چه نا اُمیدی پیدا نشی، مثلاً هغته دا سے ویل
پکار وو چه جړ د ډیره خه ده شاباش: خو دجړا طریقه داده
چه اے مولیٰ ماته د خپل محبت اُو بنایه او یا مولیٰ ماته ستاد
خدمت طریقه اوبنایه، او یا مولیٰ ماته صحیح هدایت اوکړه چه ته
راته خوشحاله شے ۔ او دا مقصد نه دے چه موسیٰ علیه السلام هغهٔ
منع کړو کویا هغه غلطی اوکړه نَعُوذُ بِاللهِ مِنهُ ، نو جاهلانو
صوفیولره موقعه د اعتراض نیشتے په علمآءِ حق باندے چه طریقت
د شریعت نه جدا دے، بلکه شریعت علم د قرآن او طریقت عمل
بالقرآن او معرفت وصول الی معرفت الله او حقیقت بیان مصداق
د بیان د قرآن کریم دے ۔ کوم طریقت چه د قرآن کریم نه خلاف وی
دغه طریقه د شیطان ده ۔ نَعُوذُ بِاللهِ مِنهما ،،

الله تعالیٰ د مونږ ته هدایت وَرکړی
امین ثم امین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


# قصہ د لقمان علیہ السلام

لقمان علیہ السلام دچا نوکر وَو، دخوش خوئے دوجے نہ مالک په دہ پیر مہربان وَو، یوہ ورځ خربوزہ چا راوړہ نو مالک لقمان علیہ السلام لرہ طلب کړو او د خربوزے پرے ئے دہ لرہ ورکولے، او دہ په مزے مزے سرہ خوړے - آخری پرہ مالک اُو خوړہ هغه ډیرہ ترخه وہ، د لقمانؑ نہ ئے تپوس اوکړو چه تا داترخه خربوزہ څنګه په خوند خوړہ هغه ورته اووے چه د تیرو نعمتونو په خوند مے داترخه خربوزہ خوړہ۔

لذت دست شکر بخش تو داشت ۔ اندریں بطیخ تلخی کے گذاشت

ت: خوند دلاس شکرہ بخوګے چه تالرو، نو پدے خربوزہ کښے هغه ترخ والے ختم کړو۔

فائدہ: دغسے دباری تعالیٰ ډیرے مہربانیَ دی توکله چه تکلیف راشی نو سړے به جَزعه فزعه نه کوی بلکه صبر به کوی، بلکه پدے سختیَ به شکر ادا کوی، هر تکلیف دانسان دَعمل بدله دہ او هره خوشحالی د باری تعالیٰ مہربانی دہ بلاعوضه، علت د نجاة صرف باری تعالیٰ دے اوعمل سبب تفضّلی دے نو هر تکلیف دانسان عمل دے اوګناه پے معاف کیږی او درجات پے عالی کیږی اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا - یقیناً د سختی سرہ آسانی دہ - الله تعالیٰ دے همونږہ نصیب کړی -

آمین ثم آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د زاهد دغره

یو زاهد د باری تعالیٰ سره عهد وکړو چه خه به د تمام علائق نه خان بچ کوم او ستا عبادت به کوم او هغه میوه به خورم چه د خان نه اوریجی ۔ د باری تعالیٰ امتحان وو باد بند شو او میوه نه اړتاویده او په زاهد نوکه غالبه شوه نو ده خپل لوظ مات کړو او وئنے ته اوختو، پدغه غره کښے غله وو، د هغوی په سر حکومت ته جاسوسی وشوه فوج راغے نو هغوئ غله بیا نه مونده البته دا زاهد ئے ونیوو او بنے لاس او کسه خپه ئے ترینه پرے کړه یو سړی اوو ے دغه سپایانو ته چه تاسو بنوبے گناه یوغټ ولی ته تکلیف ورسوو سپاهیان خفه شو او د زاهد نه هغوئ معافی طلب کړه ، ده ورته اووے چه دا خما دے لوظی ثمره ده تاسو ته گناه نیشته ۔

من شکستم حرمت ایمان او ۔ پس نمنیم بر دو دستان او

ت: ما مات کړو عزت د قسم د هغهٔ ، نو قسم خما ختم کړه لاس او خپه خما ۔

مخلصاں ہستند دائیم در خطر ۔ امتحانہا ہست در رہ اے پسر

ت: مخلصان وی ہمیشه په خطر کښے ، امتحانونه دی په لاره د دین کښے اے بچیه !

ش: خطرهٔ علامه د مقبولیت ده او ریاؤ تکبر علامه د قهر د باری تعالیٰ ده ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فائدہ: ۱: دا سے غیر شرعی نذر کول غلط دی مثلاً چه ځه به خوراک نه خورم - ۲: په خپل طاقت باندے بروسه هم غلطه ده بلکه په هر کار کښے انشاءَ الله ویل پکار دی.

○ ذرۂ سایہ عنایت بہتر است . از ہزاراں کوشش طاعت پرست

ت: لږ سورے د مهربانی د باری تعالیٰ غوره دے د هزار کوششونو د طاعت کونکی نه -

○ درایں راہ حق عجز و مسکنیت . بہ از طاعت خویشتن بینیت

ت: پدے لارے د باری تعالیٰ کښے عجز او خواری غوره ده د طاعت اود خود بینئ نه -

ش: نو هر وخت دا درخواست په عجز سره مناسب دے چه اے مولیٰ بے کاره یم هیڅ عمل مے نیشتے صرف مؤمن یم اوستا د رحمت په طمعه یم ، ستا د رحمت نه نا امیدی کفن دے - نو اے مولیٰ ما خپل خان ته مه پریږده - او خما هر حال د خپل مرضئ موافق کړه بخپل کرم او فضل سره یا مولیٰ دا کار تا ته آسان دے خما د حال سره مناسب ئے دے او صرف ستا د کرم سره لائق دے نو اے مولیٰ ما سره خما مناسب کار مه کوه بلکه د خپلے مهربانئ سره موافق عنایت خما سره اوفرمایه -

آمین یا رَبَّ العٰلمین وَلَا اَرْبِنِی بِآمین حَتّٰی اَضُمَّ اِلَیْهِ اَلْفَ اَلْفَ آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام





## قصہ د حضرت بلال رضی اللہ عنہٗ

دے د اُمیہ بن خلف مریٔ وو، هغه دتله پیر تکلیف رسوؤ
نو ابوبکر صدیق رضی اللہ عنه دتله اُووے چه خپل اسلام
د د نه پټه وه بلال رضی اللہ عنه اووے چه خه تا ما ته خه
نصیحت اوکړو، لیکن جوش د ایمان اوعشق دمولیٰ ده لره
په اظهار د اَحد اَحد مجبور کولو نو هغه کافر بیا قسما قسم
عذابونه ورله ورکول۔

خنجرش چو سوئے خود راغب بدید ۔ سر نہادن آں زماں واجب بدید

ت: خنجر د عشق د معشوق کله خپل طرف ته راغب ولیدو، نو پدغه
وخت دهٔ سر ایخودہ واجب اولیده ۔

نعرہ مستانہ خوش می آیدم ۔ تا ابد جاناں چنیں می بایدم

ت: مستانه آوان مالره خوند راکوی تر قیامة پورے دا د عشق
آوازونه به اوباسم اے حما معشوق!

بازپندش داد باز او توبہ کرد ۔ عشق آمد توبۂ او را بخورد

ت: ابوبکر رضی اللہ عنه ورته بیا نصیحت وکړو نو بلالؓ اووے چه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چه حما توبه ده بیا به الله الله په دا که نه وایم لیکن جوش دعشق دده توبه ماته کړه

○ تن بیش زخم خاراں جہود . جان او مست وخراب آں ودود

ت: تن د بلالؓ په مخ د زخم د آزغی د دغه یهودی مالک وو، او روح دده مست او خراب وو په مخ دعشق د باری تعالیٰ کښے .

○ خوش سمی آید مرا اواز او . واں خدایا گفتن وآں راز او

ت: خه ټکی په ما آواز د هغهٔ او د غه خدائے ویل او جړ د هغهٔ .

ش: باری تعالیٰ فرمائی چه د دعا په قبلولو کښے تاخیر کله دے چه چه ما ته دا دعا کول او خدائے وَیل خه معلومیږی نو معلومه شوه چه کله تاخیر د دعا علامه د مقبولیت وی نو سړے دے تا دِی نه کوی په دعا کښے .

○ نالهٔ مومن همی داریم دوست . گو تضرّع کن که ایں اعزاز اوست

ت: جړ د مومن خه کنړم گویا تضرع کول اعزاز د مومن دے .

○ عشق از اول چرا خونی بود . تا گریزد هر که بیرونی بود

ت: عشق د اول نه ځکه د تکلیف بنکاری چه پرے دے ترینه او تښتی .

ش: نو ابوبکر رضی الله عنه د بلال رضی الله عنه حال نبی علیه السلام ته پیش کړو ، نو نبی علیه السلام او فرمائیل چه څه تدبیر پکار دے ، نو ابوبکر رضی الله عنه او فرمائیل چه ځه به ئے واخلم .

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو نبي علیه السلام اوفرمائیل چه خه ده کُله ستا سره شریک یم په اغستو د بلال کښے ، ده خپل مرغۍ سپین رنګ والا یهودی چه نوم ئے شطاس وو ورکړو او بلال رضی الله عنه ئے واغستو

○ تن سپید و دل سیه هیچش مگیر ۔ در عوض ده سیاه و دل منیر

ت: سپین تن او تور زړه والا واخله په عوض د تور بدن او رنړا زړه کښے ۔

نبي علیه السلام اوفرمائیل چه ابوبکر خه سودا دِ اوکړه کافر دِ ورکړو او مسلمان دِ واغستو ۔

○ مصطفیٰ ام اش در کنار خود کشید ۔ کس چه داند لذتے کو را چشید

ت: نبي علیه السلام بلال رضی الله عنه په خپله غیږه کښے او نیوو چا ته څه معلومه ده چه بلال رضی الله عنه ته به څومره مزه حاصله شوے وی ۔

یا الله هو نبي ته هم دا مزه راکړه پخپل فضل سره
آمین یا ربّ العٰلمین ط

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د سلطان محمود او د آیاز

سلطان محمود غزنوی یوه قیمتی ملغلره یوشاهی امیر ته ورکړه چه ددے څومره قیمت دے هغه اووے چه درے ملغلرے قیمت نه پوره کیږی نو بادشاه اووے چه دا ماته کړه نو هغه اووے که دبادشاه د خزانے نقصان نشم کولے نو بادشاه هغته انعام ورکړو دوفاداری دوجے نه ، دغسے کار پتهٔ شپیته امیرانو وکړو او تولو انعامونه دوفاداریٔ حاصل کړه ، نو بیا بادشاه دغه ملغلره آیاز ته ورکړه چه ددے څومره قیمت دے نو هغه اووے چه ددے قیمت په بیان کښے نه راځی ، نو بادشاه اووے چه دا ماته کړه نو آیاز زر هغه زرے زرے کړه ، نو خلقو شور جوړ کړو چه دا څومره نمک حرامی ده چه دبادشاه د خزانے تاوان ئے وکړو -

○ گفت آیاز اے مہتران نامور ۔ امر شہ بہتر بقیمت یا گہر

ت: آیاز اووے چه اے سردارانو نامورو ، حکم دبادشاه غوره ده په قیمت کښے یا ملغلره -

○ من ز شہ بری نگردانم بصر ۔ من چو مشرک روے نارم در گہر

ت: که دبادشاه نه نظر خپل نه اړوم ، که د مشرک پشان ملغلرے ته مخ نه کوم -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ش: یعنی دبادشاہ سرہ ملغلرہ نہ شریکوم دبادشاہ دحکم پہ مقابلہ کښے ملغلرہ مے پکار ندہ۔

○ گوہرامرشتابود اے ناکساں . جملہ بشکستید گوہر رامیاں

ت: ملغلرہ دحکم دبادشاہ تاسو تولو ماتہ کړہ نا اہلو!

○ چوں آیاز ایں راز برصحرا فگند . جملہ ارکاں خوار گشتند ونژند

ت: ھرکلہ چہ آیاز داخبرہ بیکارہ کړہ نو تول ارکان ذلیل شوا و خوارشو۔

فائدہ: پہ قصہ کښے تنبیہ دہ چہ حکم فوق الآدب دے۔ دغسے انسان لرہ قتلول پہ جماد کښے پہ حکم دباری تعالیٰ سرہ دی اگرچہ انسان قیمتی دے او دغسے خواہشات پہ حکم دباری تعالیٰ سرہ ترک کول پکار دی۔ اگرچہ خواہشات قیمتی شئے دے، خو دا قیمتی خواہشات بہ انسان پریدی او ذباری تعالیٰ پہ حکم بہ عمل کوی۔

اللہ تعالیٰ دے دا مجاھدہ حمونږ نصیب کړی۔

آمین یا رب العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د ذوالنون مصریؒ

ده د عشق دیاری تعالیٰ دوجے نه بے خوده خبرے کولے نو خلقو دے مجنون او کتړو او قیدے کړو، د ده دوستان راغلل جیل ته د ده تپوس له، نو ده ګټے پورته کړے او بد کولے شروع کړل دوستانِ او تختیده، نو ده اووے چه داځنګه دوستان دی چه دومره زړ او تختیده۔

کے گراں گیرد زرنج دوست دوست ۔ رنج مغز دوستی او اچو پوست

ت: کله کناره کوی دوست د تکلیف د دوست نه، تکلیف خو مغز دے او دوستی خو پوستکے دے

ش: یعنی اصلی مقصد د دوستیٔ خو تکلیف برداشت کول دی۔

دوست ہمچو زر بلا چوں آتش است ۔ زر خالص در دل آتش خوش است

ت: دوست پیشان د زړو دے او تکلیف اُور دے، خالص زړ په مینځ د اُور کښے خوشحاله وی۔ هلته د زړو کمال ښکاره شی نو رغسے په تکلیف کښے د دولت کمال ښکاره شی۔

تو بیک زخمے گریزانی ز عشق ۔ تو بجز نامے نمی دانی ز عشق

ت: ته په یو زخم سره تښتے د عشق نه، ته بے د نوم د عشق نه بل شے نه پیژنے۔ الله تعالیٰ دِ مونږ ته کمال حاصل کړي، امین یارب العٰلمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام






پہ یوہ وینځہ عاشق شوے وو، پیر صاحب وینځے تہ جُلاب ورکړہ باندے د پیس یو مرید

نو هغہ یو ډنګہ شوہ ، نو مرید ترینہ مخ واړوو ، پیر صاحب ورتہ اووے چہ د دے جینئ نہ څہ کم شوی دی چہ تا ترینہ مخ وَاړوَ ، د دینہ چہ کم شویدے هغہ شئے د دے ګنګی دہ

نرگس چشم خماری، ہمچو جاں . آخر اعمش ہیں و آب از وے چکاں

ت: ستر ګے د نرګس پشان د رُوح خائسته دی، لیکن آخر هغہ چُوبنے اوکوړہ او اُوبہ بہ ترینہ څاڅی۔

ش: یعنی د دنیا حُسن د غسے فانی شے دے او دین باقی دے ۔

کودکے از حسن شد مولائے خلق . بعد پیری شد خرف رسوائے خلق

پیری

ت: هلک د حسن دوجے نہ د خلقو مولیٰ وی لیکن پس د پیرئ نہ شی بد شکل او رسوا د خلقو شی۔

روز دیدی طلعت خورشید خوب . مرگ او را یاد کن وقت غروب

ت: د ورځے د اولیدو شکل د ټمر خائسته، لیکن مرګ د هغہ یاد کړہ چہ وخت د غروب کښے ۔ د غسے د دنیا حُسن فانی دے او د دین حُسن باقی دے یا مولیٰ مونږ لرہ باقی سعادت نصیب اوفرمایا، امین یارب العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د ابوالحسن خرقانی

یو طالب د لرینه د ده ملاقات له راغے ډیر په شوق سره - دے
کور نه وو ، د ده د بی بی نه ئے تپوس وکړو ، هغهٔ ډیره بدخویه
وه - هغے خپل خاوند ته ډیرے بد ے ردے اُوویلے - ده باہر تپوس
اوکړو چا ورته اووے چه هغه لرګو له تلے ، ځنګل ته روان شو
مخے له حضرت صاحب راغے په منزدی سو وو - او د لرګو کیډے
ئے هم په منزدی بار وو - هغه دے طالب علم ته اُووے

گر نہ صبرم می کشیدے بار زن ۔ کے کشیدے شہر نریگار من

ت: که ما صبر نه کولے د غه ښځه بدخویه ته ، نو کله به بار وړے دے
منزدی د بیګار حُما -
ش: یعنی که ما د صبر بار نه وړے نو دے منزدی به هم حُما بار نه
وړے -

بار آں ابلہ کشیم و صد چو او ۔ نے ز عشق رنگ و نے سودائے او

ت: بار د د غه اَیله راکا ښ م او د سلو د دے پشان ، نه د عشق رنګ او نه
د خیال د دینه -
ش: بلکه صرف د باری تعالیٰ د پاره نو ځکه دا کمال مے نصیب شو - نو معلومه
شوه چه سفتو تیرو لو سره کمالات حاصلیږی مولیٰ دِ حَمونږه
نصیب کړی - آمین ثم آمین یا رب العلمین و یا اکرم الاکرمین و
یا ارحم الراحمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د حضرت عمر رضی الله عنه او د قاصد روم

د قیصر روم سفیر سره د پالو مدینې منورې ته راغې تپوس ئې وکړو چه د بادشاه صاحب بنکله کومه ده دوی ورته جواب ورکړو۔

قوم گفتندش کہ او را قصر نیست ۔ مر عمرؓ را قصر جان روشنے ست

ت: قوم اووے هغته چه د هغه بنکله نیشته او د عمرؓ بنکله د هغهٔ روښانه روح دے۔ او امیر المؤمنین به تاته په قبرستان کښے ملاویږی، نو په قبرستان کښے ده هغهٔ اولیدو په خاورو کښے پروت ووَ نو په ده رعب راغے۔

گفت با خود من شہاں را دیده ام ۔ پیش سلطاناں پنہ بگذیده ام

ت: ده اووے دځان سره چه ما نور بادشاهان لیدلے دی او په هغه بادشاهانو کښے مے پناه اغستے ده۔

از شہانم ہیبت و ترسم نبود ہیبت ایں مرد ہوشم را ربود

ت: د بادشاهانو نه مالره یره نه وه، هیبت د دے سړي حما هوش ختم کړو۔

بے سلاح ایں مرد خفتہ بر زمیں ۔ من بہفت اندام لرزاں چیست ایں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: بے د وسلے نه دا سړے اُودهٔ دے په زمکه، او حما اوٹه اندامونه رپیږی دا وے۔

ش: یعنی حما دا قول یدن ددنه یریږی داځه وجه ده۔

## هیبت حق است ایں از خلق نیست ۔ هیبت ایں مرد صاحب دلق نیست

ت: دا هیبت د حق دے دا هیبت د خلقو ندے او دا هیبت د دے کَن والہ ندے۔

ش: یعنی ده لره دَبد به باری تعالیٰ ورکړیده ځکه دے د باری تعالیٰ نه یریږی۔

نوعمر رضی اللہ عنه دده په یره اُو ریږید و سره وِیخ شو، او دے ځان ته نزدے کړو نو دے مسلمان شو او پیغام د بادشاه ئے هغته اورسوؤ۔

## هر که ترسد از حق و تقوای گزید ۔ ترسد از وے جن و انس و هر که دید

ت: څوک چه یریږی د باری تعالیٰ نه او تقویٰ کوی نو یریږی د هغه نه پیریان او انسانان او هر څوک چه دے وینی۔

فائده: دا خبره صافه معلومه شوه چه حقیقی عزت د باری تعالیٰ په تعلق کښے دے، د نیوی عزتونه فانی دی۔ د دنیا اقتدار والہ بادشاه دے، یعنی دده اقتدار په باد روان دے نن یا صبا به ختم شی په خلاف د دیندار نه چه هغه شاه دے د هغه عزت نه ختمیږی۔ نبی علیه السلام فرمائی مَنْ اِعْتَزَّ بِاللّٰهِ اَعَزَّهُ اللّٰه وَمَنْ اِعْتَزَّ بِالْعَبِیْدِ اَذَلَّهُ اللّٰهُ، څوک چه عزت د باری تعالیٰ نه غواړی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



یعنی د هغه حکم منی نو هغه لره به باری تعالیٰ معزز کړی. او
څوک چه خان معزز کړی په مخلوق سره یعنی د انسان لحاظ
کوی خلاف د شرع نه نو دغه سړی به باری تعالیٰ ذلیل کوی
اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ - (حجرات ع۱۳) معزز ستاسو
هغه دے چه د باری تعالیٰ نه یره کوی -

یا اَللّٰه

د تقویٰ حمکونکی نصیب کړے آمین

یا رَبَّ العٰلَمِین ط

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د تاج د سُلیمان علیه السلام

یو حَل سلیمان علیه السلام تاج په سر کیخودو نو په شیشه کښے هغهٔ اوکتل نو هغهٔ کوبڑ ووَ بیائے سم کړو نو هغهٔ بیا کوبڑ وو، نو بیائے سم کړو نو بیا هم کوبڑ ووَ، نو سلیمان علیه السلام توبه وکړه شو نو تاج هم سم شو۔

فائدہ: پیغمبران علیهم السلام معصوم دی البته اِجتهادی غلطی ترینه کیږی او په هغے زُورنه هم کیږی۔ حسناتُ الاَبرار سیِّئات المُقَرَبِیْنَ۔

## خاک و باد و آب و آتش بندۂ اند۔ با من و تو مردہ باحق زندہ اند

ن: خاورے اوباد او اوبه او اُور بندیان دی، حُما اوستاسره څه مره دی خو دباری تعالیٰ په نزد جوندی دی۔

ش: دا جواب دے د دے سوال چه تاج څوبے عقله شے دے نو څنګه کوبڑ شو، اوبیا په توبے د سلیمان علیهم السلام سره څنګه سم شو۔ حاصل د جواب دا دے چه دا بے عقله او بے روحه څیزونه حُمونږ په نسبت مره او بے عقله دی د باری تعالیٰ په نزد جوندی دی یعنی د باری تعالیٰ په حکم چلیږی۔ معلومه شوه چه قول سعادتونه د باری تعالیٰ په حکم منلو کښے دی۔

اللّٰه پاک دے دا سعادت حُمونږ ه نصیب کړی، آمین یا ربّ العٰلمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د هغه سړی چه هغه نوم د نبی علیه السلام په توقه په کږه خوله اغستو خوله ئے کږه شوه۔

آں دہن کژ کرد از تسخر بخواند  نام احمدؐ را دہانش کژ بماند

ت: هغه سړی خوله کږه که کړه په توقه سره، او وے لوستو نوم د احمدؐ نو خوله د هغه کږه شوه۔

باز آمد کائے محمدؐ عفو کن  اے ترا الطاف علم من لدن

ت: بیا راغے چه اے محمد صلی الله علیه وسلم معافی وکړه چه تا ته مهربانی د علم الٰهی حاصله ده۔

چوں خدا خواہد کہ پردہ کس درد  میلش اندر طعنۂ پاکاں زند

ت: هر کله چه خدائے تعالیٰ اوغواړی چه پرده د چا څرې کړي نو د هغهٔ میلان طعن د پاکانو ته کړي۔ یعنی په پاکانو الزمونه لګوی

ور خدا خواہد کہ پوشد عیب کس  کم زند در عیب معیوباں نفس

ت: او که خدائے تعالیٰ غواړی چه پټ کړي عیب دیوسړي، نو کیے خبرے کوی د عیب د معیوبانو نه۔

یعنی په معیوبانو هم عیب نه لګوی پاکان خو درکاں۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


اے خنک چشمیکہ آں گریاں اوست ۔ وے ہمایوں دل کہ آں بریاں اوست

ت: اے سړیه! خه ستر ګے هغه دی چه مولیٰ ته جاړی، او مبارک هغهٔ زړه دے چه دوست د هغهٔ دے۔
یعنی د باری تعالیٰ حکم منلو ته په شوق کښے دے۔

از پئے ہر گریہ آخر خندہ ایست ۔ مرد آخر بیں مبارک بندہ ایست

ت: روسته د هرے جړا نه خندا ده، سړے آخر لیدو ته مبارک بنده دے

ہر کجا آب رواں سبزہ بوُد ۔ ہر کجا اشک رواں رحمت شود

ت: په هر ځائے کښے چه اُوبه روانے وی نو هلته سبزی کیږی او په هر ځائے کښے چه اوښکے روانے وی نو هلته رحمت د باری تعالیٰ وی۔

مر رحمت فرمود سیّد عفو کرد ۔ چوں ز جرأت توبہ کرد آں روئے زرد

ت: مهر بانی وکړه نبی علیه السلام او عفوه ئے ورته اوکړه، هر کله چه د جرأت نه توبه اوکړه د غه سړی چه مخ د هغهٔ زیړ شوے وو د شرم نه۔

رحم خواہی رحم کن بر اشکبار ۔ رحم خواہی بر ضعیفاں رحمت آر

ت: که رحم د باری تعالیٰ غواړے نو رحم وکړه په هغهٔ چا چه د هغه اوښکے بهیږی د غم د وجے نه۔ او که رحم د باری تعالیٰ غواړے نو په عاجزانو رحم

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وکړه۔

ش: یعنی څوک چه په عاجزانو ترس کوی نو باری تعالیٰ په هغه ترس کوی او څوک چه په عاجزانو ترس نه کوی نو باری تعالیٰ په هغه ترس نه کوی ، د قصے نه معلومه شوه چه څوک په خپل کناه نادم شی ،نو باری تعالیٰ ورته معافی کوی او غرق هغه دے چه په خپل کناه نادم نه شی۔ خدائے تعالیٰ دځمونږه په زړونو کښے نرمی عنایت وفرمائی آمین یارب العٰلمین ثم آمین یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصہ د ملغلرے چہ د شپے رنړا کوی او بحری غوا

دریابی غوا د دریاب نه ملغلرہ را اوباسی او په چراګاه کښے هغه کیږی او د هغے په رنړا کښے د شپے نرګس او نیلوفر وغیره خوشبویه ګیاه زړوخوری نو د دریابی غوا غوښیان عنبر وی نو یو تاجر په وړه کښے پټ کمینی او پدغه ملغلرہ خپے ارتاوے کړی نو چراګاه تیاره شی نو غوا واپس راشی، خو ملغلرہ په خټو کښے پټه وی او سړے خو په وړه کښے وی نو دا غوا زر دریاب ته اوځی - نو مولانا په طور د انتقال وائی چه د غوا د غذا نه عنبر جوړیږی. نو د باری تعالیٰ د طاعت نه به ضرور د انسان دخلے نه خوشبویه کلام د دین راوځی

هر که باشد قوت او نور جلال ... چون نزاید از لبش سحر حلال

ت: هغه څوک چه وی روزی د هغه نور د باری تعالیٰ نو څنګه به پیدا نشی د هغه د شونډو نه حلال سحر۔

ش: یعنی څوک چه د باری تعالیٰ اطاعت کوی نو د هغه دخولے نه به بااثره کلام خارجیږی۔

مولانا فرمائی د څنګه ابلیس چه د آدم علیه السلام خاکی جسم ولیدو نو د هغه کمال ورته بنکاره نشو ګڼلے چه د غوا نه ملغلرہ پټه شوے وه، نو ځکه ده د سجدے نه انکار وکړو چه څه خه یم چه ناری یم او دے خو خاکی دے او ابلیس ته دا پته او نه ګڼیده چه خاکی دے، خو د پیغمبرئ جوهر ورسره هم شتے، او په خاورو کښے د هغه روح د ایمان نه ډک دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اھبطوا افگند جاں را در بدن۔ "تا بگل پنہاں بود در عدن

ت: حکم الٰہی اِھبطوا د آدم علیہ السلام روح مبارک لرہ پہ جوسہ خاکی کینے واچوَ او پہ ختو کینے ملغلرہ د عدن پتہ شوہ۔

اے رفیقاں زیں مقیل وزاں منقال۔ اتقوا انّ الھوٰی حیض الرجال

ت: اے ملگرو د آرام نہ او د بے فائدے خبرونہ خان پیچ کړئ خواھش نفس خو حیض د رجال دے۔

ش: یعنی آرام او بے فائدے خبرے مہ کوئ خواہش خو دا سے ناکارہ شے دے لکہ حیض د رجال۔ بلکہ د باری تعالیٰ د معرفت حاصلولو کوشش وکړی۔

کاں ابلیس از متن طین کورو کرست۔ گاؤ کے داند کہ در گل گوہرست

ت: دغہ ابلیس د منیَ د خټے نہ پوہند او کُنہ دے، غوایہ څہ خبر دے چہ پہ خټہ کینے کوھر دے۔

فائدہ: پدغہ شکل احمقان د باری تعالیٰ دوستان نہ پیژنی حکہ د ھغوی ظاھری حال خو خہ نہ وی۔

القصہ: نو دغہ سړے راکون شی او ملغلرہ واخلی۔ نو دغسے د اھل اللہ نہ استفادہ مناسب دہ او ھغوی معلومول پکار دی لکہ مجنون تہ چا اووے لیلیٰ وفات شوہ ھغہ راغے د لیلیٰ قبرئ معلوم کړو پہ بوئ سرہ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ہمچو مجنوں بو کنم ہر خاک را ۔ تا بیابم خاک لیلیٰ بے خطا

ت: پشان د مجنون به خاورے بویه وُم چه معلوم کړم قبر د لیلیٰ۔
نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یوسفر کښے اوفرمائیل اصحابوته
چه یمن د طرف نه د باری تعالیٰ خوشبوئ معلومو م - په یمن کښے اویس
قرنیؓ اوسیدو، د مور په خدمت سره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم
د ملاقات نه محرومه شوے ووَ ، حدیث شریف کښے دی اِنّی
لاجدِ رِیح الرَّحمٰنِ من قِبل الیمن - څه موم خوشبوئ د رحمٰن
د جانب د یمن نه ، اوس هم نیکان د باری تعالیٰ د دوستانو نه
اِستفاده کوی، او عار اوشرم نه کوی -

اے عدوئے شرم واندیشہ بیا ۔ کہ دریدم پردۂ شرم و حیا

ت: اے عشقه چه د شرم او د خیال دشمنئے حُما څنګے ته راشه
ما د شرم او د حیا پرده څړے کړے ده۔
ش: یعنی د باری تعالیٰ په اطاعت کښے شرم نه کوم -
یا مولیٰ د غسے مونږه هم لَا یَخَافُونَ لَومَةَ لَائِمٍ جوړ
کړه په خپل فضل اوکرم سره
آمین ثم آمین
یاربّ العلمین



MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د صبر د موسیٰ علیه السلام



د موسیٰ علیه السلام بیزه او تختیده نو موسیٰ علیه السلام هغه
هغې پسې روان شو چه هغه ستړې شوه نو موسیٰ علیه السلام هغه
وینوه ، نو په ځائے دو هلوئے هغه چا پې کوله ، او دائے ورته وے
چه اے بزے په ما خودے ترس را نغے نو په ځان هم ترس نه
کوے -

با ملائیک گفت یزداں آں زماں . کہ نبوت را ہمی زیبد فلاں

ت : ملائکو ته اُووے باری تعالیٰ په دغه وخت چه نبوة لره مناسب دے
موسیٰ علیه السلام -

مصطفےٰ فرمود خود کہ ہر نبی . کرد چوپانیش بر نایاصبی

ت : مصطفےٰ فرمائیلی دی چه هر نبي شپونکی توب کړے دے پخوا د نبوت نه
په وخت دهبا کښے -

تا شود پیدا وقار و صبر شاں . کرد شاں پیش از نبوت حق شباں

ت : چه شی پیدا وقار او صبر د دوی ، نو کړه دوی لره باری تعالیٰ پخوا د
نبوت نه شپونکیان -

گفت سائل ہم تو نیز اے پہلواں . گفت من ہم بودہ ام دہرے شباں

ت : اووے یو سائیل چه تا هم (بزے څره ولی دی) اے سردارہ : نبي علیه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



السلام اوفرمائیل حَه هم ووم یوه زمانه شپونکے ۔

لاجرم حقش دہد چو پایئے ۔ برفراز چرخ مہ روحانیئے

خو ممخواه باری تعالیٰ ورکوی نبي علیه السلام ته روحانی شپونکی توب دپاسه د آسمان د میاشتے نه ۔

ش: یعنی مقام د ارشاد ورته عنایت فرمائیَ ۔

یامولیٰ مونږ له ددین د خدمت موقعه راکړه ۔ آمین ثم آمین یا رَبَّ العٰلمین ۔

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د صفورا علیها السلام چه د موسیٰ علیه السلام بی بی وه -

د موسیٰ علیه السلام په مخ مبارک باندے دا سے تجلی وه چه هغه ته به چا اوکتل نو ستر سے به ئے ړندے شوے ، نو هغه دباری تعالیٰ نه د حجاب سوال اوکړو چه خلقو ته تکلیف نه وی نو ارشاد وشو چه د هغے کمبل نه پرده جوړه کړه چه په هغے کښے تا د باری تعالیٰ سره راز کړے وو په کوهِ طور کښے ، بل هیڅ شے تحمّل د انوار دباری تعالیٰ نشی کولے - د باری تعالیٰ د دوستانو زړونه دباری تعالیٰ د انوارُ برداشت کولے شی - معنیٰ د حدیث قدسی ده -

کہ نگنجیدم در افلاک وخلا ۔ در عقول و در نفوس باعلا

ت: نه خائیکم په آسمانونو کښے او په فضا کښے او په عقلونو کښے او نه په نفسونو لویو کښے -

در دل مومن بگنجیدم چو ضیف ۔ بے زچون و بے چگونہ و بے کیف

ت: په زړه د مؤمن کښے خائیکم پشان د میلمه بلاچون او بلاچگونه او بے کیفه -

بے چنیں آئینہ ایں خوبی مَن ۔ بر نتابد نے زمین و نے زمَن

ت: بے دے آئینے نه دا کمال خما طاقت نه لری نه ز مکه اونه زمانه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو صفورا رضی اللہ عنہا دعشق نه په یوه ستر که موسیٰ علیه السلام
ته اوکتل نو هغه ړنده شوه ، بیائے په بله ستر که اوکتل نو هغه هم
ړنده شوه۔

○ ہمچناں مرد مجاھد ناں دہد ۔ چوں بروز دلنور طاعت جاں دہد

ت: دغسے سړے مجاهد چوپړ ورکوی نو هرکله چه ړنړا شی نمس
د طاعت نو بیا جان ورکوی د باری تعالیٰ د رضا دپاره۔

ش: د صفورا علیها السلام نه چا تپوس وکړو د هغے د ستر کو متعلق
نو هغے اووے چه ارمان حمائل زړه ستر کے وے چه ما قربان
کړے وے د موسیٰ علیه السلام په محبت کښے

○ گفت حسرت میخورم که صد ہزار ۔ دیدہ بودے تا ہمی کردم نثار

ت: هغے اووے چه حمائل زړه ستر کے وے چه ما قربان کړے
وے افسوس کوم۔
یعنی که نور د ستر کو هے لاړو خو د موسیٰ علیه السلام محبت
حما په زړه کښے دے۔ نو باری تعالیٰ هغے لره ستر کے جوړے کړے۔

یا اللہ موږ ته هدایت
وکړه۔ آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## قصه د دوستئ د منږک او د چیندخے

دیو منږک او د چیندخے دوستی وه د ملاقات په وخت به دوی په ډیرے خبرے کولے د دوستئ پخوانئ پخوانئ۔

جوش نطق از دل نشان دوستی است ۔۔ بستگی نطق از بے الفتی است

ت: جوش د خبرو د زړه نه علامه د دوستی ده، او بند والے د خبرو د بے الفتئ علامه ده۔

ش: یعنی چا سره چه په ډیرے خبرے څوک کوی دا علامه د محبت ده۔ او چه خبرے ورسره نه کوی دا د بے الفتئ دلیل دے، نو ځکه منږک او چیندخے په ډیرے خبرے کولے چه د هغوی محبت وو۔

دل که دلبر دید کے ماند ترش ۔ بلبلے گل دید کے ماند خمش

ت: کوم زړه چه معشوقه ولیده نو چرته تُرش رُو کرځی، بلبل چه گل ولیدو نو چرته چپ کیدے شی۔

ش: د غسے څوک چه د باری تعالیٰ تعلق حاصل کړی نو هغه ضرور د دین خبرے کوی۔

یا چوں با یار خود بنشستہ شد ۔ صد ہزاراں لوح دل دانستہ شد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: یار چه د یار سره ناست وی، نو په لکھو نو تختیٔ د زړه ورته معلومے شی۔

ش: یعنی چا ته چه تعلق باالله حاصل شی نو دهغهٔ زبان کھولاو شی د دین متعلق۔

## لوح محفوظ است پیشانی یار۔ راز کونین نمایداشکار

ت: تختیٔ محفوظه ده تندے دَیار، د دواړو جهانو راز پښکاره کوی۔

ش: یعنی الله والوسره چه کینے نو تاته به د دین اَسرار پښکاره کیږی۔

## ہادی راہ ست یار اندر قدوم۔ مُصطفےٰ زیں گفت اصحابی نجوم

ت: ہادی دلارے وی په سلوک کښے الله والہ، نو حکه نبي علیه السلام فرمائی چه اصحاب حَما پشان د ستورو دی۔ په هدایت کښے

ش: دا انتقال دے د دوستیٔ دمنږک اود چیندخے نه دباری تعلق دوستیٔ ته۔ اوس بیا رجوع کوی اصلی قصے ته مقصود نبوانتقال دے نکه په سوداګری کښے مقصود نرخ وی نه تَله او اُوسکے منږک چیندخے ته اووے چه حکه ستا په فِراق خفه کیږم او کله کله په ملاقات باندے نه صبر کیږم، نو دا سے پکار ده چه حَما ستا په درمیان کښے یومنزے اُوتړے شی چه کله حکه ملاقات له راځم نو دغه منزے به اوخوزوم نو ته به بهر راشے د اُوبونه پدے تد بیر عمل وشو، نو بیا پس منږک لږه اُوتختو او چیندخه ورسره هم هلاکه شوه۔

فائده: چه دنالائقو سره څوک مشکر تیا کوی نو دغسے به هلاکیږی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو چه د نیکانو سره تعلق ساتی نو هغه به د عذاب نه بچ کیږی نبی علیه السلام فرمائی: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ، سړی به د هغه چا سره مَلګرے وی چه د چا سره محبت لری۔ نو صحابه کرام پدے اعلان وپیر خوشحاله شو حکه چه دهغوی تعلق د باری تعالیٰ سره اود نبی علیه السلام سره وؤ۔ خبیث د خبیثانو سره او پاکان د پاکانو سره تعلق لری۔

باری تعالیٰ دے حمونږه تعلق د نیکانو سره نصیب کړی آمین یا رَبَّ العٰلمین، ویا اَرْحَمَ الرّٰحمین۔

یا اللہ مدد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د طوطی او د دکاندار

نوټ: قصه د طوطی او د دکاندار په تفصیل سره په دفتر اول کښے ذکر شوے ده

فائده: مولانا صاحب مثالونه پیش کوی چه د ظاهری صورت د اتحاد نه معنوی اتحاد لازم ندے۔

(۱) مچی دکبین او د ډنډارے دواړه کلونه خوری د مچی نه کبین اود ډنډارے نه لاشه زهریله پیدا کیږی۔

(۲) راموسکے او سحرانئ بیزه دواړه واخه خوری د راموسکی نه مشک اود سحرانئ بیزے نه غوښیان پیدا کیږی۔

(۳) کښے اونل دواړه دیوځائے نه نم راکاږی په کښی کښے خوږ رس جمع کیږی اونل تشش ولاړ دے

(٤) فاسق اونیک دواړه دیوځائے نه غذا خوری د فاسق نه گناه اونیک نه نیکی پیدا کیږی۔

(۵) خوږے اوبه اوترخے اوبه دواړه یوشانتے دی په صورت کښے نه په خوند کښے۔

(٦) شادو اوانسان: شادو دماغه پیښے کوی اوانسان مونږ کوی۔

(۷) جادو او معجزه: په جادو کښے اسباب وی او معجزه د باری تعالیٰ د طاقت عجیبه نمونه ده۔

(۸) مؤمن اومنافق: د مؤمن عقیده صافه ده او د منافق عقیده گنده ده۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

باری تعالیٰ د عزرائیل علیه السلام نه تپوس ارکړو چه ستا ډیر ترس کسانو کښے چه کوم تا وجلی دی - نو ده اووے چه په هر چا مے ترس راغلے دے خو ډیر ترس مے په هغهٔ چا راغلے وو چه ما ستا په حکم جهان مات کړو. او ټول خلق غرق شو صرف یوه ښځه سره د بچی نه پاتے شوه په یو تخته، نو ستا په حکم ما دغه مور مړه کړه، نو حما پدغه شیر خوار بچی ډیر ترس اوشو، نو باری تعالیٰ ورته اووے چه د دغه بچی قصه واوره ما دغه بچے پدغه تخته یوځنګل ته اورسوو، هلته تخته اونخته - پدغه ځنګل کښے منزرئ لنګه شوے وه ما هغے ته حکم وکړو چه دے بچی له پئ ورکوه، نو هغے ده له پئ ورکول نو دے غټ شو، د غه ځنګل مے د ده دپاره تروتازه کړو ده به قسم قسم میوے خوړے او قسم قسم ګلونه به ئے بویه ول، او جناتُ ده ته سیق وے، او آداب ښائی ئے ورته خو دل - حما په حکم سره دغسے ما دایوب علیه السلام په بدن کښے د چینجو پرورش کوو

دادمن ایوب را مهر پدر . بهر مهمانی کرمان بے ضرر

ت: ما ورکړیوو ایوبؑ ته صحبت د پلار پشان دپاره د میلمستوب د چینجو بے ضرر نه -

ش: یعنی ایوب علیه السلام د چینجو سره د بچو پشان محبت کوو.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ مادراں را مہر من اموختم ۔ چوں بوُد شمعے کہ من افروختم

ت: میاندوتہ ما محبت خرد لے دے (د بچو خپلوسرہ) څنګہ بہ وی
دیوہ چہ ھغہ ما یلہ کړے وی۔
الغرض دغہ بچے ما پہ ھرقسم نازُنوسرہ اوپالو ۔ نوچہ کلہ لوئے
شو او حکومت ورلہ ما ورکړو نو کافرشو او د خدایتوب دعوہ
ھنہ وکړہ اوحما د خلیل سرہ دشمنی ھغہ شروع کړہ اوھغہ
ئے اور تہ واچوو نوما پہ ھغہ دغہ اُور ګلزار کړو اونمرود
مے ھلاک کړو دیو ما شی دلا سہ۔

○ گرگ درندہ است نفس بدتقیں ۔ چہ بہانہ می نہی بر ہر قریں

ت: بدنفس پہ ربنتیاسرہ شرمخ خیرو نکے دے، نو تہ ولے الزامونہ
ګڼوے پہ ملګرو۔

○ زیں سبب می گویم اے بندہ فقیر ۔ سلسلہ از گردن سگ وا مگیر

ت: لدے وجے نہ ځہ وایُم چہ اے بندہ فقیرہ! زنځیر دځت دسپی
نہ مہ واپس کوہ۔
ش: یعنی پہ نفس چرے اعتماد مہ کوہ بلکہ پدہ ریاضت کوہ۔
یا اللہ مونږ د نفس د دھوکو نہ اوساتہ
آمین یا ربّ العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه دعقل د لقمان علیه السلام

مریانوډ مولیٰ د لقمان علیه السلام میوے د باغ اوخوړے بیائے تحمت اوکووَ پده باندے نو ده اووے خپل مولیٰ ته چه په دوی سره مکرمے کړے اوبه اُوسکوه ډیرے ډیرے بیا دوی د بنکار دپاره په منډو منډو بوځه نوراز به بنکاره شی ۔ نو مولیٰ داسے کار اوکړو نو دوی تولو قے وکړو او په قی کښے تازه میوے بنکاره شوے بے د لقمان نه، نو دوی شرمنده شو خپل مولیٰ ته او لقمان پاک ثابت شو۔

فائده: چه د لقمان ؑ د حکمت دا حال دے نو حکمت د باری تعالیٰ به څنګه وی۔

جملہ دانایاں ہمی گفتند یقیں ۔ ہست دانا رحمۃ اللعالمیں

ت: تولو دانایانو دا سے وَیلیدی چه دَ انا رحمت دے د پاره د عالَم۔

باری تعالیٰ د مونږ لره صحیح عقل راکړي

پخپل فضل اوکرم سره

آمین یا رب العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

یوسړے مانځه له تلونو مونځ ترینه شوے وُو نوده آه اوکړو د دردِ دل نه، نو هلته یونیک انسان رنړا ولیدله چه عرش ته اُورسیده نو په دې یافت سره معلومه شوه چه دا د آه د یوسړي نه پیدا شویده۔

## گفت آه و درد ازاں آمد بروں۔ آه او میدا واز دِل بوئے خوں

ت: هغهٔ اووے آه او درد د هغئه بهر شو، او آه ورکوؤ دزړه نه بوئ دوِینو۔

نودے تیک سړی دے بل ته اووے چه حماد جماعت مونځ واخله او مالره خپل آه راکړه هغهٔ اووے چه بنه، نو هغه خوب اولیدو

## شب بخواب اندر بگفتش ہاتفے۔ کہ خریدی آب حیوان و شفے

ت: د شپے په خوب کښے ده ته چا اووے په هاتف سره چه تا واغستو آب حیوة او شفیٰ۔

## حرمت ایں اختیار و ایں دخول۔ شد نماز جملۂ خلقاں قبول

ت: په حرمت دے تبادلے او ددے غم سره ټول مونځونه د ټولو خلقو پدے وخت کښے قبول شو۔

فائده: په گناه سره چا ته کوز کتل غلط دی، هغه به توبه ویستی وی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مرکب تو بہ عجایب مرکب است ۔ تا فلک تازو بہ یک لحظہ زپست

ت: مرکب د تو بے عجیبہ مرکب دے چہ آسمان تہ رسی پہ یو ساعت سرہ دزمکے نہ ۔

۲: پہ کوتاہی سرہ تو یہ عجیبہ توبہ دہ ۔ التَّائِبُ حَبِیْبُ الرَّحْمٰن (حدیث) تائب د باری تعالیٰ دوست دے ۔

۳: معلومہ شوہ چہ پہ اماستی سرہ مونږ د پیر بھتر دے ۔ باری تعالیٰ دے مونږ لرہ د تو بے توفیق راکړی او باری تعالیٰ د مونږ ہ د گناہ نہ اوساتی او گه اوشی نو ځکه چه معصوم ښو نه یو نو بیا د باری تعالیٰ مونږ لرہ زړ د آہ او د درد دِل توفیق را کړی او مونږ تہ د باری تعالیٰ گنا ھگار حقیر نہ ښکارہ کوی ۔ البتہ گناہ د باری تعالیٰ مونږ تہ بدہ ښکارہ کړی ۔ پہ گناہ خفه کیدل او ندامت او پہ حسنات خوشحالی دایمان علامہ دہ نو پہ نیکو نہ خوشحالیدہ او پہ بدو نہ خفگان علامہ دکفر دہ ۔

باری تعالیٰ د مونږ ہ د گناہ نہ اوساتی آمین ۔ او پہ خپلو حسنات د باری تعالیٰ مونږ ہ خوشحاله کړی ۔

آمین یاربّ العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

یو هاتی په تیاره کمره کښے وو. او څکښے چا نه وو لیدلے، نو په
په تیاره کمره کښے د هر سړی چه به په کوم ځائے لاس اوکلیده
نو هغه به د هغے تشبیه ورکوله، د چا لاس چه په غوږ اوکلیدو
نو هغه اووے چه دا هاتی دپنکهے پشان دے او دبل کس لاس
په مَلا اوکلیدو نو هغهٔ اُووے چه نهٔ پشان د تختے دے، او
دبل لاس په خپو کلیدلے وو نو هغهٔ وے چه نا پشان د ستنے دے
او دبل لاس په خرتم کلیدلے وو نو هغهٔ اووے چه نا پشان
درسیٔ د جمان دے. مولانا فرمائی:

درکف هر کس اگر شمعے بدے ۔ اختلاف از گفت شاں بیروں شدے

ت: په لاس د هر کس کښے که شمعه وے نو اختلاف به په وینا دوو
کښے ختم شوے وے۔

فائده:۔ د غسے د خلقو اختلاف خمیرې په قرآن مجید سره نه په عقلو
نو سره۔ عقل نا بینا دے او نا بینا هدایت نشی کولے۔ او قرآن
بینا دے۔ نو عقل ثواب او عذاب دیوکار نشی معلومولے، بے د نقل
نه۔ یا الله تعالی مونږ ددین تابع کړے پخپل فضل او کرم
سره۔ آمین یا ربّ العٰلمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## قصه دکچه خیال دمچ

یوځ متیازے کړے وے په هغے کښے یوڈ کے بهیدو په هغے مچ ناست وو او مزه ئے اغسته چه دا دریاب دے او دا ډ کے په کښے جهاز دے نو هغهٔ په نورو مچانو فخر کوو چه ستاسو سره جهاز نیشتے۔

گفت من دریاو کشتی خواندهٔ آم۔ مدتے در فکر آں می ماندهٔ ام

ت: هغه اووے چه ما دریاب او د کشتئ حال لوستے وو، او پدیرهٔ زماند هغے په فکر کښے اوم۔ او س ما هغه دریاب او کشتئ معلوم کړه

صاحب تاویل باطل چوں مگس ۔ وہم او بول خر و لقمہ برخس

ت: د باطل تاویل واله پشان د مچ دے دا وهم د هغهٔ بول دخر او د خس دے۔

گر مگس تاویل بگذار و زرائے۔ آں مگس را بخت گرداند همائے

ت: که مچ تاویل درائے پریدی نو دغه مچ لره به بخت هما مارغه اوکړی۔

ش: نسبت مچ ته جهاز دے، د غسے د دنیا متاع بے قدره ده او دنیادار نادیده دے پشان د مچ چه په دنیا فخر کوی۔ باری تعالیٰ د مونږه د حق تابع کړی۔ آمین یارب العلمین ویا ارحم الراحمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

یو څرمن پخونکے د عطّار یا نور په بازار روان وو، نو بے خبره شو خلقو ئے علاج کوو نو په خبر نه شو د هغهٔ رور راغے او د کنگئ اوچه سوتهٔ ئے د هغهٔ په پوزه کیخوده نو هغه په خبر شو حکه د هغه د دِماغ سره بد بویهٔ شے مناسب وو نه عطر۔

اند کے سرگین سگ در استین ۔ خلق را بشگافت و آمد باچنین

ت: لږه کنگی د سپي په لستونړی کښے واغسته، او خلق ئے جدا کړه او راغے سره د دغه کنگئ نه۔

سر بگوشش برد همچو راز گو ۔ پس نهاده چرک بر بینی او

ت: سړے غوږ د هغه ته وِیوړو پشان د راز ویونکی نو هغه دغه کنگی کیخوده په پوزه د هغهٔ باندے۔ نو هغه زر په خبر شو۔

ش: نو د غسے کنده خلق کنده خیز و نو سره اشناوی۔ او نیک خلق د خوشیز و نو سره اشناوی، نو باری تعالیٰ د مونږه د دین سره عادت کړی او د بے دینئ نه دِ باری تعالیٰ مونږه بچ کړی آمین یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د شهزاده چه سحر پے شوے وو۔

یو بادشاه خپل حوی لره شهزادګی وادګ کړه ، خو شهزاده په یوه بوډۍ مین وو ، نو د شهزاده د خپلے بی بی سره تعلق نه وو نو بی د هغهٔ نه کیدل ، بادشاه دیر غمجن وو او پیر علاجونه ئے اوکړل او د عشق د شهزاده نه خبر نه وو ، نو بادشاه پیر خیراتونه ، نفلونه او زاری وکړے نو غیبی نیک انسان بنکاره شو او قبرستان ته ئے بادشاه بوتلو هلته د شهزاده په ویښتو کښے دغه بوډۍ سحر کړے وو ، نو هغه دغه سحر مات کړو نو شهزاده په خوښ شو او خپله بنځه ورته ښه بنکاره شوه او د بوډۍ نه بچ شو ۔

فائده : بوډۍ د دنیا ده او د دنیا محبت جادو دے او خائسته بی بی دین دے ۔ د نیک انسان په علاج سره هغهٔ د دنیا نه بچ شو ۔ یا الله مونږ ته دین خائسته بنکاره کړے او مونږه په دین مین کړے او د غلط ویناء نه مونږه اوساتے ۔

آمین یا رب العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



گشت حیران آں مبارز زیں عمل ۔ وز نمودن عفو و رحم بے محل

ت، حیران شو دغه مقابل ددہ، ددے عمل نه اود بے محل عفوے
اود رحم نه۔

گفت بر من تیغ تیز افراشتی ۔ از چه افگندی مرا بگذاشتی

ت: هغه اووے چه په ما دِے تیغ تیز کړو راپورته کړو، دغه وجے تاهنه
ارتاو کړو اوحه دِ پریخودم

در محل قهر این رحمت ز چیست ۔ از دہا را دست دادن راکیست

ت: په محل دقهر کښے دا رحمت وَلے دے، په بنامار دے غلبه پیدا مونډ
نو ولے دِ پریخودو۔

گفت من تیغ از پئے حق میزنم ۔ بندۂ حقم نه مامور تنم

ت: هغهٔ اُووے چه حَه تیغ د اللہ تعالیٰ د پاره وهم، بنده د اللہ
تعالیٰ یم، او نه مأمور د تن خپل یم۔

شیر حقم نیستم شیر ہوا ۔ فعل من بر دین من باشد گوا

ت: شیر د حق د اللہ تعالیٰ یم، او نه شیر د خواهش خپل یم حمًا کار
په دین حمًا باندے گواه دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ چوں خیواند اختی بر روئے من ۔ نفس جنبید و تبہ شد خوئے من

ت: هر کله چه تا تو کانړے واچولے په مخ حما باندے نو مالړه غصه راغله او حما حال بدل شو۔

○ نیم بہر حق شد و نیمے ہوا ۔ شرکت اندر کار حق نبود روا

ت: نیم کار حما د پاره د خدائے تعالیٰ شو او نیم د خواہش شو او شرکت په کار د خدائے تعالیٰ کښے ندے روا۔

○ گفت من تخم جفا می کاشتم ۔ من ترا نوع دگر پنداشتم

ت: هغهٔ اُو وے چه ما تُخم د ظلم کړلو خکه ما تالړهٔ بل قسم (ظالم) ګڼړلو۔

ش: لیکن اُوس نښو خبرهٔ بل شانتے شوه ته خو عادل ئے۔

○ تیغ حلم او ز آہن تیز تر ۔ بل صد لشکر ظفر انگیز تر

ت: تیغ د صبر د هغهٔ د اُو سپنے نه چیر تیرهٔ وو۔ بلکه د ټلو لښکرو نه چیر یرهٔ کولے وو۔

فائدہ: د اخلاص غټ اثر معلومیږی ۔ یو سړے نیکی کوی په ریا سره نو الله عذاب دے۔ باری تعالیٰ صورتو نو ته نه ګوری بلکه زړو نو ته ګوری ۔ د زړهٔ اثر په زړهٔ کیږی ۔ او د خولے اثر صرف په غوږ کیږی ۔ کوم دعوهٔ چه د زړهٔ نه پیدا شی نو دغه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مؤثر دے، او دغه دعوة د انبیآء دے او صرف دخولے دعوت کښے اثر نه وی۔ نو دعلی کریم الله وجمله د اخلاص نه کافر دشمن مسلمان شو۔

خداوند تعالیٰ دِ حمونږ ه اِخلاص نصیب کړی پخپل فضل او کرم سره آمین

یا ربّ العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قصه د دوکاندار او د طوطی

## محبوس

یو دکاندار ہند وستان ته تجارت له تلو۔ د خپلو نوکرانو او د دوستانو نه ئے تپوس اوکړو چه تاسو له څه راوړم نو هر سړی خپل مقصد اووے، نو هغه د طوطی نه تپوس اوکړو چه پخپره کښے بند وو، چه تاله څه راوړم نو هغه ورته اووے چه کله د طوطیانو په سیل تیروئے نو هغوئ ته حمًا سلام وایه او بیا ورته دا پیغام حمًا عرض کړه

○ کاں فلاں طوطی کہ مشتاق شماست۔ از قضائے آسمان در حبس ماست

ت: چه فلانکے طوطی چه مشتاق ستاسو دے۔ په حکم د باری تعالیٰ سره په قید حمونږ کښے دے۔

○ گفت می شاید کہ من در اشتیاق۔ جاں دہم اینجا بمیرم در فراق

ت: هغه اووے چه څنګه مناسب ده چه څه په شوق کښے مرم د لته د فراق نه۔

○ ایں روا باشد کہ من در بند سخت۔ گہ شما بر سبزہ گاہے بر درخت

ت: دا روا ده چه څه په بند سخت کښے یم، او تاسو کله په سبزه کښے اوکله په وَنه کښے ئے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اینچنیں باشد وفا دوستاں ۔ من دریں حبس و شمار بوستاں

ت: دا سے وی وفا د دوستانو چه حکه دلته په قید کښے یم او تاسو په باغ کښے یئ۔

یاد یاراں یار را میمول بُود ۔ خاصه کاں لیلیٰ وایں مجنون بُود

ت: یاد دیارانو یار لره مبارک وی، خاصکر چه دا لیلیٰ او هغهٔ مجنون وی۔

سوداگر د طوطی پیغام ورسوَ طوطیانو ته نو یو طوطی مړ شو او ارتاو شو نو سوداگر خفه شو نو تاجر چه واپس کورته راغے نو طوطی ته ئے دغه قصه اوکړه نو دا طوطی هم مړ شو۔

گفت گفتم آں شکایتہائے تو ۔ باگروہ طوطیاں ہمتائے تو

ت: هغهٔ اووے چه ما اُووے دغه کلے ستا ټولے طوطیانو ته چه ستا مثل وَ۔

آں یکے طوطی زدردت بوے برد ۔ زہرہ اش بدرید ولرزید و بمرد

ت: دغه یو طوطی د درد ستا خبر شو نو زړه د هغهٔ څړے شو او مړ شو

چوشنید آں مرغ کاں طوطی چه کرد ۔ ہم بلرزید و فتاد و گشت سرد

ت: هر کله چه واوُریده دغه طوطی چه هغه طوطی څه کار وکړو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو هغه اوریږیدو او ارتاؤ شو او بخ شو۔
نو سود اکر په جرګه شواوئ وے ۔

○ اے دریغا مرغ خوش آواز من۔ آے دریغا ہمدم و ہمراز من

ت: افسوس چه مارغه خوش آوازے حمًا افسوس مکړے او
راڼ دار حمًا۔
یعنی دا سے خه طوطی حمًا مړ شو

○ بعد ازانش از قفص بیروں فگند۔ طوطیک پرید تا شاخ بلند

ت: دَ دینه روسته ئے هغهٔ د پنجرے نه بهر ارتاؤ کړو، نو طوطی
والوتو دګ خاخ ته۔
ش: طوطی اُووے چه هغه طوطی ماته سبق راکړو چه حان مړ کړه
نو د بند نه به خلاص شے ۔

○ الوداع اے خواجہ رفتم در وطن۔ ہم شوے آزاد روزے ہمچو من

ت: رخصت اے مالکه حُه لاړم خپل وطن ته، ته به هم یوه ورځ
حمًا پشان آزاد شے (د تعلقات نه)

○ خواجہ گفتش فی امان اللہ برو۔ مر مرا اکنوں نمودی راہ نو

ت: مالک ورته اووے چه په آمان د الله سره، حُه ماته د اوس
او خو دله نوے لار (د سلوک)

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## جان من کمتر ز طوطی کے بُود۔ جاں چنیں باید کہ نیکو پے بُود

ت: روح حکما کم د طوطی نه چرته دے رُوح هم داسے پکاردے چه نیکی معلومه کړی۔

فائدہ: کوم سړے د دنیا د غلط تعلقات نه بچ کیدہ غواړی نو دا په سره نه کیږی بلکه په تواضع سره کیږی چه حتان فنا فی الله کړے دیو نیک مرد په صحبت سره او په تواضع سره تعلیم شروع کړی نو د تعلقاتو د پنجرے د دنیا نه به اوځی یعنی دنیا شتے اوکه نیشتے خو دده تعلق به صرف دمولی سره شی چه اصلی مقصد دے د انسان۔

باری تعالیٰ دِ دا تعلق حمونږه نصیب کړی آمین

یارب العلمین

وَلَا اَرضیٰ بِاَمین حَتّٰے اَضُمَّ اَلْفَ اَلْفَ

آمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د رومیانو اودچنیانو په نقاشۍ کښے

یو بادشاه مکان تیارولو نوچنیان او رومیان راغله د مکان جوړولو دپاره، بادشاه اووے چه تاسو خپل خپل نقش تیار کړئ چه د چا نقش مزیدار ووَ نوهغه به مالـړه مکان جوړوی، نوچنیانو په پرده کښے نقش تیار کړو، دوی پرے فن کښے ماهر ووَ - او رومیانو د هغوئ مخامخ دیوال بلکل صاف جوړوکړو دشیشے پشان نو چه کله پرده پورته شوه نوبادشاه حیران ووَ، دواړه نقشونه یوشانتے ووَ، او د رومیانو نقش خه تازه ووَ۔

○ رومیاں آں صوفیا نند اے پسر۔ بے تکرار و کتاب و بے ہنر

ت: رومیان هغهٔ صوفیان دی اے بچیه! چه بے دتکرار او بے دکتاب او بے د هُنر نه دی۔

○ لیک صیقل کردہ اند آں سینہا۔ پاک زآز و حرص و بخل و کینہا ئے

ت: لیکن دوی خپله سینه پاکه کړے ده د طمع او د حرص او د بخل او د کینے نه۔

فائده: صوفیائے کرام تخلیه مخکښے کښړی د تحلیے نه یعنی خان مخکښے بچ کوی دکنا هونو نه نو تخلیه بیا خودبخود اثر کوی په زړو نوکښے، باری تعالیٰ دے موږ ته دکنا هونو نه اُوساتی، آمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د صادق توبے د حضرت نصوحا

نصوحا یو سړے وو په شکل د زنانه په شاهی دربار کښے، د شاهی زنانو د لمبولو دپاره مقرر وو، نو ده به د زنانو د لمبولو په وخت مزه حا صلوله توبه به ئے کوله او بیا به ئے ماتوله، بیا ئے دیو نیک سړی نه د توبے د غوختلو درخواست اوکړو، نو هغه ورته دُعا اوکړه د اخلاص - نو دا سے سبب باری تعالیٰ جوړ کړو د توبے د ده دپاره چه شاهی دربار کښے ملغلره ورکه شوه - تالاشی شروع شوه

○ بانگ آمد که همه عریال شوید . هر که هستید از عجوز و از لوید

ت: اعلان اوشو چه ټول برینده شئ، هر څوک چه وی که بوډی وی او که حوانه -

○ آں نصوح از ترس شد در خلوتے . روئے زرد و لب کبود از خشیتے

ت: د غه نصوح دیرے نه خلوة ته لاړ، مخ ئے زیړ شو او شونډے د هغهٔ شئے شوے دیر ینه -

○ پیش چشم خویش او می دید مرگ . سخت می لرزید او مانند برگ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: په مخ دستر کو خپلو کښے هغهٔ ولیدو مرک، ډیرو ورپیدو پشان دپانړے۔

○ گفت یارب بارہا برگشتہ ام . توبہا وعہدہا بشکستہ ام

ت: هغهٔ اووے اے ربه! په یو وار ے کمراه شوے یم توبے او لوظونه ما مات کړی دی۔

○ اے خدا آں کن کہ از تو می سزد . کہ زہر سوراخ مارم می گزد

ت: اے خدایه هغه کار اوکړه چه ستاسره مناسب دے، چه د هر سُوری نه مِ مار چیچي۔ تلاش کوونکی اُووے۔

○ جملہ را جستیم پیش آں ناصح . گشت بیہوش آں زماں پیر مدرُوح

ت: ټول مے اوکتل ته اُوس راشه اے نصوحه! نو بے خود شو پدغه وخت او روح ئے لاړ،

ش: رُوح د احساس لاړو او رُوح د حیوٰة خو باقی وو۔

○ بانگ آمد ناگہاں کہ رفت بیم . شد پدید آں گم شدہ در یتیم

ت: آواز اوشو نا څاپه چه یره ختم شوه منکاره شوه دغه بے مثله ملغلره ودکه شوے۔

○ آں نصوح رفتہ بازآمد بخویش . دیدہ چشمش تا بش صد روزہ بیش

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ت: دغه نصوح بے خوده په خود شوه نظر دستر کو ددہ اوخلیدو زیات سُل ورځے۔

ش: یعنی ډیر خوشحاله شو

○ بدگماں بودیم ماراکن حلال . لحم توخوردیم اندر قیل وقال

ت: بدگمانه ووَ مونږ په تا نو مونږه معاف کړه ، (ته خو بے گناه وے) مونږه متاغوښے خوړلی دی په غیبت سره۔

○ گفت بد فضل خدائے داد گر۔ ورنہ زانچہ گفتہ شد ہستم بتر

ت: هغهٔ اُووے چه دباری تعالیٰ فضل ووَ ، اے مهربانه خلقو، ورنه نو حه خوړلی ناکاره اوم دهغه تمتو نو نه چه په ما پسے ویلے شوی ووُ۔ د بادشاه لُور ورته اُووے چه ما اولمبوه نوده اووے

○ گفت زوردست من بیکار شد ۔ ویں نصوح تو کنوں بیمار شد

ت،

ت: هغهٔ اووے چه لاس حمًا بیکاره شوے دے دا نصوح ستاوس ناجوړه دے۔

○ توبہ کردم حقیقت باخدا ۔ نشکنم تا جاں شود از تن جدا

ت: حمًا توبه ده حقیقی د الله سره حه بیا توبه نه ماتوم ترمرګه پورے

فائده: د الله والونه دعا غوختل ذریعه د نجاة ده ۲ په حالت د اضطرار کښے توبه او زاری باری قبلوی۔ ۳ که ډیر گناه سړے اوکړی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خو چه په اِخلاص سره توبه وباسي نو باری تعالیٰ ورته
معافی کوی ، باری تعالیٰ دِ مونږ ته هم معافی اوکړی
آمین یا رب العٰلمین

○

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## مکالمہ دیھودی دعلی کرم اللہ وجہہ سرہ

○ گفت خود را اندر فگن ہیں زبام۔ اعتمادے کن بحفظ حق تمام

ت: یھودی اُووے علیؓ تہ چہ خپل ځان ارتاؤ کړہ دبلیٰ نہ او اعتماد او کړہ پہ حفاظت دباری تعالیٰ باندے۔

○ تا یقین گردد مرا ایقان تو ۔ واعتقاد خوب ما برہان تو

ت: چہ یقین را شی ځما پہ یقین ستاسرہ او خہ اعتقاد ستاځما برھان شی۔

ش: یعنی ستا خہ یقین پہ ځما د یقین اود ایمان سبب شی۔ علی رضی اللہ عنہ جواب ورکړو۔

○ کے رسد سر بندہ را کو با خدا ۔ از بائش پیش آرد زابتلا

ت: چرتہ مناسب دہ بندہ لرہ چہ امتحان کوی پہ باری تعالیٰ۔

○ بندہ را کے زہرہ باشد اے فضول۔ امتحان حق کند اے بیخ کول

ت: دبندہ چرتہ طاقت شتے، اے پاکلہ چہ امتحان کوی پہ باری تعالیٰ اے احمقہ!

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



آں خدا رامی رسد کو امتحان ۔ پیش آرد ہر دمے پایندگاں

ت: دغه خدائے لره مناسب ده چه هغه امتحان کوی هر ساعت په بند یانو باندے۔

وسوسه ایں امتحان چوں آیدت ۔ بخت بدواں کا مدو گردن زدست

ت: وسوسه ددے امتحان که راشی لاس ته ستا نوډا بدبختی اوګنړه او هلاکت اوګنړه۔

سجدہ گہہ راتر کن از اشک رواں ۔ کائے خدایا وارہانم زیں گماں

ت: خائے د سجدے لوندکړه د اوښکو جاریوونه، چه اے خدایه ما بچ کړه ددے بدګمان نه۔

اوکه په توبه او زاړئ سره د اخیال ختم نشو نوډا شیطانی وَسوسه ده ددے وجود نقصان ندے بلکه دا شیطانی شئے دے۔ دے جواب ته ئے هم حاجت نشته بلکه دے سپے دے غالپی، او درے وَسوسے وجود ښه دے، ځکه شیطان نور څه نشی کولے نو صرف وسوسه اچوی۔

خدائے تعالیٰ دے مونږ که د شیطانی وساوس نه
او د تولو معاصیو نه بچ کړی په
خپل فضل او کرم سره
آمین یا ربّ العٰلمین
و یا
آرحم الرّاحمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د کفتکو د حضرت معاویه رضی الله عنه سره د اِبلیس علیه اللعنة نه



یو ځلے حضرت معاویه رضی الله عنه په خپل کور کښے آرام کولو، چه یوسړی ده لږه بیدار کړو، او هغه سړے پټ شو، نو دده خطره پیدا شوه، نو ده آواز او کړو چه څوک ےَ هغه اووے چه ابلیس یم نو هغه اووے چه زه دِ وے بیدار کړم هغه اووے چه دمانځه وخت قریب دے۔ نو ځکه مے ویښ کړے، هغه ورته اووے چه دا ستا مقصد نشی کیدے ابلیس ورته اووے۔

○ گفت ما اول فرشته بوده ایم ۔ راه طاعت را بجاں پیموده ایم

ت: هغه اووے څه اَول ملائکه ووم، لار د طاعت مِ په اخلاص سره قطعه کوله۔

○ پیشۂ اول کجا از دل رود ۔ مهر اول کے ز دل زائل شود

ت: اوّل کسب کله دزړه نه څی، محبت اوّل کله دزړه نه ختمیږی۔

○ نیکواں را رہنمائی میکنم ۔ مرداں را پیشوائی می کنم

ت: د نیکانو رهنمائی کوم (نیکی ته) اود بدانو پیشوائی کوم (په بدۍ کښے)

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



○ گر ترا بیدار کردم بہر دیں . خوئے اصل من ہمیں است و ہمیں

ت: کہ تالرہ م بیدار کړو د پارہ د دین ،نو د عجیبہ خبرہ نہ دہ) دا حمَا اصلی خُوئے دے

○ گفت امیر اے راہزن حجت مگو . مر ترا رہ نیست در من رہ مجو

ت: امیر المؤمنین ورتہ اووے اے ډاکو دلیل مہ وایہ ستا دالارنڈہ ماتہ لار مہ بنایہ۔

ابلیس ورتہ اووے کہ ستانہ مونځ قضا شی نو تہ بہ آہ او کړے د دغہ آہ قیمت دمانځہ نہ زیات دے نو ما ځکہ تالرہ بیدار کړو

○ آں تاسُف آں فغاں وآں نیاز . در گذشتے از دو صد رکوت نماز

ت: دغہ افسوس او دغہ غم او دغہ عاجزی زیاتہ دہ د دوو سوو رکعتو دمانځہ نہ .

○ من ترا بیدار کردم از نہیب . تا نسوزاند چناں آہ عجیب

ت: ما تالرہ بیدار کړو دیرے نہ چہ او نہ سیزی مالرہ دغہ آہ عجیبہ

○ گفت اکنوں راست گفتی صادقی . از تو ایں آید تو ایں را لایقی

ت: ھغہ اووے چہ اوس دِ رښتیا اُووے او تہ پدیکښے صادق ئے او ستانہ ھم دا کار کیږی او تہ د دے ھم لائق ئے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فائدہ: معلومہ شوہ چہ شیطٰن تہ دتوبے اودجرأ نہ پیر غم رسی
دا غم د طاعت دغم نہ پیر دے اودباری تعالیٰ رَحمت ھم
دا سے توبے والہ تہ متوجہ کیږی - نبي علیہ السلام فرمائی
تائب دباری تعالیٰ حبیب دے - اوفرمائی چہ قول بنی آدم
گناھکاران دی اوغورہ گناھکار توبہ کار دے ، اوباری
تعالیٰ پہ توبہ پیر خوشحالیږی ، باری تعالیٰ دے مونږ کہ اول
وگناہ نہ اوساتی اوکہ گناہ اوشی
نو بیا دِ باری تعالیٰ مونږ
لرہ د توبے توفیق
راکړی
آمین
یارب العٰلمین ط

یا اللہ مدد

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قصه د نحوی اود کشتی بان

یو نحوی په کشتئ کښے سور وو، هغه د کشتی بان نه تپوس وکړو چه د نحوے نه خبرے هغه اووے چه نه، هغهٔ ورته اووے چه نیم عمر دِ تباه شو، نوکله چه کشتئ د دریاب منځ ته لاړه او هوا مخالفه راغله او کشتئ په غرقیدو شوه نو هغه ورته اووے چه مولانا په لامبو پوهیږے هغهٔ اووے چه نه، نو هغهٔ او وے چه ستا ټول عمر تباه شو، د لته اوس نحوه نه پکاریږی د لته صحوه پکاریږی یعنی تعلق بالله سره به در ته امداد ملاؤ شی۔

محومی باید نه نحو اینجا بدال ۔ گر تو نحوی بے خطر ہ در آب راں

ت: صحوه کیده مناسب دی، اوس دلته نحوه پکار نه راځی، نوکه ته صحوه یئ نو بے خطره په اوبو کښے روان شه۔

فائده: د باری تعالیٰ په لاره کښے فَنا فِی اللہ کیده مناسب دی یعنی خان ته نه کتل او تکبر او عجب ختول کامیابی ده، په بے فائده قیل وقال سره چرے نجات نشته، یعنی دنیوی تدابیر پکار نه راځی نو اے مولیٰ مونږ ته د نجاة لار اوښایه او نجاه په لاړے مونږ روان کړه بخپل فضل او کرم سره۔ آمین یا ربّ العٰلمین

ویا اَرحم الرّاحمین وَیا اکرم الاکرمین

بفضلك وَکَرمِك وَعظیمِ

سُلطانِك۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصہ دِ انکار د فلسفی د قدرتِ الٰہی نہ

(الله)

یو فلسفی دا آیت واوریدو اِن اَصبح ماؤکم غورًا فمن یأتیکم بماءٍ معینٍ۔ (ملک ع۳) کہ شی اُوبہ ستاسو اُوچے نو څوک بہ را اُوباسی تاسو تہ اُوبہ جاری ، نو هغہ اُووے چہ څہ بہ ئے راوبلے سم پہ آلات سرہ یعنی کوھے بہ اوکنم نو اُوبہ بہ روانے شی۔

○ آب را در غورہا پنہاں کنم ۔ چشمہا را خشک و خشکستاں کنم

ت: اُوبہ بہ پہ جورہ کښے پټے کړم، او چینو لرہ بہ اُوچے کړم۔

○ شب بخفت و دید اَدیک شیر مرد ۔ زد طپانچہ ہر دو چشمش کور کرد

ت: د شپے هغہ اُودہ شو او یو چاق سړی دے پہ څپیړہ اُووھوا دواړہ سترگے د هغہ ړندے شوے۔

○ گفت زیں در چشمۂ چشم اے شقی ۔ باتبر نورے بیارار صادقی

ت: هغہ ورتہ اُووے دے دواړہ چینو د سترگو نہ پہ تبر سرہ نور راوله کہ تہ ړِ شتینے ئے۔

○ گر بنالیدے و مستغفر شدے ۔ نور رفتہ از کرم ظاہر شدے

ت: کہ تہ او جاړے او ښښنہ او غواړے نو نور د سترگو بہ بیا ښکارہ شی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لیک استغفار ہم در دست نیست۔ ذوق توبہ نقل ہر سر مست نیست

ن، لیکن استغفار ھم دھ چا توفیق ندے، خوندد توبے دھ چا میوہ ندہ۔

یا اللہ مونږ لرہ توفیق د توبے

"آمین"..... راکړہ ..... آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د حکیم جالینوس

## قصه

حکیم جالینوس مُنکرو ته اُووے چه فلانیَ دوائی مالره راوړئ هغوی اُووے چه دغه دوائی بشُود لیونو ده، نو هغهٔ اووے چه حمَا په حَان د جنون شک دے حکه فلانکی لِیونی ماته کتل او خوشحاله وو۔

○ ساعتے در روئے من خوش بنگرید۔ چشمکم زد استینے بر درید

ت: هغه یوساعت ماته کتل په خوشحالی سره، او ما ته ئے سترګے وهلے او دستونړے هغه څیرے کړو۔

○ گر نہ جنسیّت بدے در من ازو۔ کے رُوخ آوردے بمن آن زشت رو

ت: که د هغهٔ حمَا سره جنسیت نه وے نو کله به هغه بدمورهٔ مخ والاماته مخ کړے وِے

○ کے پرد مرغے بجز با جنس خود۔ صحبت ناجنس گورست و لحد

ت: چرته الوزی مارغه به د جنس خپل نه صحبت دنَاجنس قبر او لحد دے۔

○ در عجب ماندم بجستم حال شاں۔ تا چه قدر مشترک یابم نشاں

ت: مُنکرو اُووے، مونږه تعجب او کړو، مونږه د هغوی حال طلب کړو چه دده دواړو څه قدر مشترک دے۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ش: چه په هغے سره لیونے حکیم صاحب ته کوری۔

چوں شدم نزدیک من حیراں و دنگ۔ خود بدیدم ہر دو آں بود نہ لنگ

ت: هرکله چه تردے شوم نو ځه حیران شوم چه ما دوارپه کب اوديده۔

فائده: معلومه شوه چه د نیک انسان سره تعلق خوشحالی ده او د بد انو سره تعلق غم دے

باری تعالیٰ دِ حمونږه د نیکانو سره تعلق

نصیب کړی آمین

یا ربّ العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه د عیادت د نبي علیه السلام دیو صحابي رضی الله عنه -

نبي علیه السلام د یو صحابي تپوس له لاړو هغه وین ناجوړ وو، نو نبي علیه السلام ترینه تپوس وکړو چه ته څنګه دُعا کوے نو هغه اُووے چه ځه وایم چه اے مولیٰ ځمانه ځما دکنا هونو بدله په دنیا کښے واخله نبي علیه السلام اوفرمائیل سبحان الله ته ددے طاقت نه لرے، داوَایه چه رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنیا حسنةً وَفِي الاٰخرةِ حَسنةً وقِنا عذابَ النّارِ، چه اے مولیٰ مونږ لره په دواړو جهانه خوشحالی راکړه - نو هغه جوړشو.

○ گفت بیماری مرا ایں بخت داد ۔ کامدایں سلطان برمن بامداد

ت : هغه اُووے چه بیماریٔ ماته دا بخت راکړو، چه راځے دا بادشاه ځما کره سحر

○ من همی گویم که یارب آں عذاب ۔ هم دریں عالم بران برمن شتاب

ت : ځه وایم چه اے مولیٰ هغه عذاب د آخرة په عالم د دنیا کښے پما راوله زر -

○ تو چه طاقت داری ای مور سقیم ۔ که نهد بر تو چناں کوه عظیم

ت : ته څه طاقت لرے اے عاجزه میزیه! چه کیدی پتا باری تعالیٰ دغه لوے غر دکنا کړ -

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَۃً ۔ اٰتِنَا فِی الْاٰخِرَۃِ حَسَنَۃً۔

ژ: راکړه مونږ لره په دنیا کښے خوشحالی، او په آخرۃ کښے خوشحالی۔

فائده: د خیر او د عافیت سوال مناسب دے او د مولیٰ نه طمعه پکار ده۔ باری تعالیٰ د هغو ښکنا هونه معاف کړی۔

آمین یا ربّ العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام





# قصه د بازشاهی او د بوډی

د بادشاه باز د بوډۍ کره لاړو نو هغې ترینه وزرې، مخکه او پنجې غوڅې کړې بادشاه ته چه باز ملاوُ شو نو هغه بیکاره شوے ووَ، نو بادشاه اعلان وکړو چه څوک دنا اَهلو کره ځی نو دهغه به دا حال وی۔

○ بازمی مالید پر بر دست شاه ۔ بے زبان می گفت من کردم گناه

ت: باز مَکو وَزل په لاس د بادشاه بے زبانه هغه وے چه اے شاه ما ګناه کړیده۔

○ باز گفت اے شه پشیماں می شوم۔ توبه کردم نو مسلماں می شود

ت: باز اووے اے بادشاه پښیمانه یم، ما توبه کړے ده نوے مسلمان شوم

○ هرکه با جاہل بوُد همراز باز ۔ آں رسد با اوکه با آں شاهباز

ت: هر څوک چه د جاهل سره همراز شی، نو هغه نقصان رسی لکه د غه شاهی باز ته۔

فائده: پکار ده چه انسان د صحیح ربانی پیر سره بیعت کوی نه د

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


دنیا پرست بدعتی سړه ، خټه د خوشبوئ سړه خوشبویه شی ، او خوشبوئ دکندګئ سړه کنده شی ، نو دغسے ناکاره سړے د نیک په صحبت کښے خه شی او نیک سړے د بدانو په صحبت کښے بد شی -

○ صحبت صالح تو صالح کند ۔ صحبت طالح ترا طالح کند

ت: صحبت د نیکانو به تاله نیک کړی او صحبت د بدانو به تا له بد کړی -

باری تعالیٰ دِمونږ ته صحبت د نیکانو
نصیب کړی - آمین
یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# قصه دبان او د کوونکیانو

باز د کوونکیانو څنګل ته راغے نو کوونکیانو بدګمانی وکړه چه دا باز
همونږ نه دا وطن اخله باز ورته اووے چه بدګمانی پریدئ څه د
بادشاه په منګل ناست یم بیا به واپس څم۔

○ من نخواہم بود ایں جامی روم ۔ سوئے شاہنشاہ راجع می شوم

ت: څه نه غواړم اوسیده دلته څه څم په طرف د بادشاه واپس کیږم

○ ایں خراب آباد در چشم شماست ۔ ورنه ما را ساعد شہباز جاست

ت: دا خرابه زمکه آباده په سترګو ستاسو کښے ده اوما لره بنو څائے د بادشاه
منګل ده۔

○ خانہائے ما بگیر داو بہ مکر ۔ برکند ما را بسالوسی ز کر

ت: کوونکیانو اووے چه دے همونږ نه کورونه اخلی په فریب سره، اومونږ نه
اوبلاسی په چالاکئ سره د خپلو جالونه۔

○ پاسبان من عنایات وی ست ۔ ہر کجا کہ من روم شہ در پئے ست

ت: باز اووے حفاظت کونکے همامهربانی د شاه ده، هر چرته چه څم
نو بادشاه همامخوږ کوی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بازم ودرمن شود حیراں ہما۔ چغد کہ بود تا بداند سرّ ما

ن، څه باز یم او حمّا په حق کښے ہُما مار غه حیران دے کوونکے څه دے چه معلوم کړی راز حمّا۔

فائدہ: کلمه دنیا دار و ته الله والہ غلط بنکارہ شی، باری تعالی دِ مونږ ته نیکان منه بنکارہ کړی او دهغوی اتباع دِ باری تعالیٰ حمونږ ته نصیب کړی آمین

یا

رب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## حکایت د طاؤس اود حکیم

یو طاؤس خپلے وزرے او وینلے یو حکیم ترینہ پہ تعجب سرہ ټپوس وکړو چہ ولے دا خائستہ وزرے اُوبا سے ھغہ اووے چہ ما تہ پیر تکلیف ددے وزرو نہ دے

○ آں نمی بینی کہ ہر سو صد بلا ۔ سوئے من آید پئے ایں بالہا

ت: ھغہ نہ وینے چہ دھر طرف نہ پہ طرف حما راځی سلّ بلا کانے ددے وزرو دوجے نہ۔

○ اے بسا صیاد بے رحمت مدام ۔ بہر ایں پرہا نہد ہر سوئے دام

ت: اے سرپہ! پیر کړتہ بنکاری بے رحمتہ، ہمیشہ ددے وزرو دوجے نہ کړی دام ہمیشہ۔

○ نزد من جاں بہتر از بال و پرست ۔ جاں بماند باقی و تن ابتراست

ت: پہ نزد حما روح بہتر دے دوزرو نہ، روح باقی دے او تن فنا دے۔

فائدہ: اللہ والہ خلق شہرت خپل خمڑی دپارہ د حفاظت د روح او د ایمان، البتہ کہ باری تعالیٰ چالرہ شہرت ورکوی د دین پہ خدمت کښے نو دا خو بل سعادت دے، خو سړے بہ د دین خدمت ذریعہ د شہرت نہ کړی، بہر حال پہ سادګئ او عدم ریا کښے سلامتیادہ د دوارو جہانو او پہ ریا کښے خسران دے د دوارو جہانو یا مولیٰ موږ د ریا نہ بچ کړے پخپل کرم سرہ آمین یا ارحم الراحمین و یا اکرم الاکرمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قصه دانس بن مالك

رضی الله عنه۔

دانس بن مالک رضی الله کړه میلمانه راغله ، دسترخوان خیرن وو
نو خپلې خدمتګارې ته اووې چه دابل تنور ته واچوه ، میلمانه حیران
وو ، چه خدمتګارې دسترخوان روغ جوړ اوصاف دتنور راباندې کړو۔

○ قوم گفتند اے صحابی عزیز۔ چوں نسوزید و منقی گشت نیز

ت : قوم اووې چه اے صحابي معززه ! ولے دا نه سیزی تنور اوپاک هم شو

○ گفت زانکه مصطفٰے دست و دہاں۔ بس بمالید اندریں دستار خواں

ت : هغه اووې ځکه چه نبي علیه السلام لاس او خوله پاکه کړیده پدے رومال

○ اے دِل ترسندہ از نار و عذاب ۔ با چناں دست و لے کن اقتراب

ت : اے زړه پریکونکیه داور دعذاب نه دا سے لاس اوخولے ته نزدے شه
یعنی دنبي علیه السلام اتباع وکړه ۔

○ چوں جماد ے راچنیں تشریف داد۔ جان عاشق راچہا خواہد کشاد

ت : هرکله چه جماد لره نبي علیه السلام دا شرافت ورکړو نو ژوندے عاشق
لره به خه لاړے د نجاة کهلاو کړی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


فائدہ: دسترخوان ته دقرب حسی نه څومره شرافت حاصل شو
دقرب معنویه چه اتباع ده څومره کرامت به حاصل شی
باری تعالیٰ دے مونږ لره شرافت د اتباع
د نبي علیه السلام نصیب
کړی پخپل فضل او
کرم سره
آمین
یا ربَّ العٰلمینَ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


## قصه دغل په زمانه د عمر رضی اللہ عنه کښے

یو غل په زمانه د عمر رضی الله عنه کښے غلا وکړه نو هغه جلاد ته حواله کړو چه لاس ترینه کټ کړو نو هغه معافی اوغوښته -

○ بانگ زد آں دزد کے میر دیار ۔ اولین بارست جرمم درگذار

ت: آوان اوکړو د هغه غل چه امیر د ملک دا اول جرم دے نو ماته معافی وکړه۔

گفت عمر حاش للہ کہ خدا ۔ بار اول قہر نارد در جزا

ت: اووے عمر رضؓ چه پناه غواړم د الله تعالیٰ نه، چه په اول ځل قهر نه کوی خدائے تعالیٰ

○ بارہا پوشد پئے اظہار فضل ۔ باز گیرد از پئے اظہار عدل

ت: د پروارے پرده اچوی د فضل د وجے نه. بیائے نیسی د عدل د وجے نه.

○ تا کہ ایں ہر دو صفت ظاہر شود ۔ آں مبشر گردد ایں منذر شود

ت: چه دا دواړه صفتونه ښکاره شی، د هغه صفت د فضل مبشر دے او د غه صفت د عدل منذر دے۔

فائده: معلومه شوه چه یو انسان گناه کوی او باری تعالیٰ په پرده اچوی نو دے د مطمئن کیږی نه بلکه د صفت د عدل نه دے ویریږی حقه دا ده چه ایمان دے او رجا ته ولاړ چه خپل عمل ته کوری نو ویره پکار ده او چه د باری تعالیٰ فضل ته کوری نو طمعه پکار ده یعنی عدل او طمعه رحم دمه باری تعالیٰ د مونږ سره د رحم معامله وکړی پخپل فضل سره آمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د موسیٰ علیه السلام او عیادت د مریض

موسیٰ علیه السلام ته باری تعالیٰ ﷻ اوفرمائیل چه څه ناجوړه وم خو تاحمًا تپوس ندے کړے موسیٰ علیه السلام اوفرمائیل :

گفت سبحانا تو پاکی از زیاں ۔ ایں چه رمز ست ایں بگو یا رب بیاں

چه اے پاکه بادشاه پاک ئے د نقصان نه ، داڅه رمز دے دا ماته بیان کړه چه ته څنګه ناجوړه ئے ۔

گفت ارے بندہ خاص گزیں ۔ گشت رنجور او مسلم نیکش ببیں

ت : باری تعالیٰ اوفرمائیل چه آو حمًا خاص بنده چه منتخب دے هغه بیمار شوید ے هغه څه یم څه اووینه ۔

ہست معذورش معذوری من ۔ ہست رنجوریش رنجوری من

ت : ده معذوری د هغهٔ معذوری حمًا ، ده رنځوری د هغهٔ رنځوری حمًا ۔

درعیادت رفتن تو فائدست فائدہ آں باز بالتو عایدست

ت : په تپوس د مریض کښے ستا فائده ده د هغه فائده تا ته واپس کیږی ۔

فائده : معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د دوستانو خدمت د باری تعالیٰ خدمت دے خدائے تعالیٰ دے حمو نږه د الله تعالیٰ د دوستانو خدمت نصیب کړي ۔

آمین یا رب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د وَنے د آب حیوٰة

چا اووے مزاقًا چه په هندوستان کښے یو ه اُونه ده چه دهغے میوه څوک اوخوری نو بیا به نه مری داخبره یو بادشاه ته ورسیده هغه یدغه وخت پسے یو قاصد اونیکو، نو دغه ونه معلومه نه شوه بلکه پدے قاصد پوے خلقو توقے کولے آخیر دَته چا اووے د لته یو عالم ربانی شته۔

○ بود شیخے عالمے قطبے کریم ۔ اندرآں منزل کہ ایں شد ندیم

ت: او یو عالم مرکزی کریم په هغه ځائے کښے چه دا نا اُمیده شوے وو۔

○ رفت پیش شیخ با چشم پر آب ۔ اشک می بارید مانند سحاب

ت: لاړو هغے دد غه عالم ته او ستړکے دهغهٔ د او بنکو نه ډکے وے اوښکے ے بهیدلے پشان د وریځے۔

○ سالہا جستم ندیدم زو نشان ۔ جز کہ طنز و تسخر ایں خوشاں

ت: اوئے وے چه دیر کاله م طلب کړه دغه ونه د حیوة ما اونه لیده دهغے نخه بے د مسخرے د دے توقو کوونکو نه۔

○ شیخ خندید و بگفتش اے سلیم ۔ ایں درخت علم باشد اے علیم

ت: عالم او خندل او هغتهٔ ے اووے چه اے سلیم دغه ونه علم دے اے علیم

فائده:۔ علم نه مراد هغه علم دے چه مسلمان د الله تعالیٰ دربار ته رسوی او دنیوی علوم وته خو صنعت اوحرفت وغیره وائی نو په علم سره بقاده او په جهل سره فنا ده نو ځکه باری تعالیٰ فرما ئی چه جهل اولاد مه قتلوهٔ یعنی په بے علمی سره، خدائے تعالیٰ دمونږ لره نافع علم راکړی۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



یا حیّ

## قصه دعزرائیل علیہ السلام چه هغه سره یو کتلی وو

یا قیّوم

د سلیمان علیه السلام دربار ته یو سړے په یره راغے او عرض ئے وکړو چه ماته عزرائیل علیه السلام کتلی دی نو ډیر په یره کښے یم، نو هغه اوږے چه څه غواړے نو دغه سړی اووه چه ما هند وستان ته اوړسوه. نو باد دے هند وستان ته اوړسوَ، بله ورځ د عزرائیل علیه السلام سره د سلیمان علیه السلام ملاقات اوشو، نو ارشاد ورته اوشو چه ولے انسان یره وے هغهٔ اووے

کہ مرا فرمود حق کامروز جاں۔ جان او را تو بہند وستاں ستاں

ت: چه ماته خدائے تعالیٰ حکم وکړو چه تن معلومه کړه چه روح دده په هند وستان کښے قبض کړه

دیدمش اینجا و بس حیران شدم۔ در تفکر رفتہ سرگردان شدم

ت: دے مِ د لته اولیدو او ډیر حیران شوم او په فکر سرګردان شوم

چوں بامر حق بہند وستان شدم۔ دیدمش آنجا و جانش بستدم

ت: هرکله چه په حکم د باری تعالیٰ سره هندوستان ته لاړم نو هغهٔ مِ هلته اولیدو او په دغه ځائے مِ دهغه روح قبض کړو۔

تو ہمہ کار جہاں را ہمچنیں ۔ کُن قیاس و چشم بکشادو ببیں

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ت: ته قول کارونه د جهان دغسے قیاس کړه، اوستر سے دِ کهلاوکړه
او اوکوړه۔

○ ازکه بگریزیم ازحق ایں محال۔ ازکه برتابیم ازحق ایں وبال

ت: دچا نه تهتو! دخدائے تعالیٰ نه داخو محاله ده، دچا نه خفه یو؟
دخدائے تعالیٰ نه داخو وَبال دے۔ داد قصے فائده ده"
یا الله مونږ ه په تقدیر راضی کړے
آمین
یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د تکی په سر د دیوال او د هغه خه تدبیر

یو تکے د دیوال په سر ناست وو او یوه یوه کتله هغه اوبو ته ارتاوو له او د غه آواز په ده ښه ټکیدو۔

○ برلب جو بود دیوار بلند . بر سر دیوار تشنه دردمند

ت: په غار کے د وے یو دیوال وو دتک او په سر د دیوال تکے وو خفه۔ او بو ورته اووے چه اوے ما په کتو وے تاته پکښے څه فائده ده هغه اووے

○ فائده اول سماع بانگ آب . گو بود مرتشنگاں راچوں رباب

ت: اوله فائده داده چه آواز داوبو تکی لره داسے دے لکه آواز د رباب۔

○ پستی دیوار قربے می شود . فصل او درمان وصلے میشود

ت: چت والے د دیوال قرب دے اوبو ته او جدائے د دیوال علاج د وصل داوبو دے۔

دغسے قرب الهی یوخوښ درياب دے او خواهشات د نفس د دے اوبو ته مانع دی نو سالک چه خپل خواهش ټک ټک پریدی نو باری تعالیٰ نزدے کیږی نو دیو ربانی پیر په صحبت کښے دریاضت دے شروع کړی او د هغه په هدایاتو دے عمل شروع کړی نو خواهشات به ختمیږی تر دے چه تول خواهشات به ختم شی نو دانسان جوند بیا داسے شی لکه د جنت جوند، بے د دوړې نه به مور شی او بے د فوج نه به بادشاه شی او بے د مال نه به مالدار شی، یا مولیٰ مونږ لره بے د کړاوونه دا قرب حاصل کړه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


## قصه د رابنکلو د منبرک مهار د اوخ لره

یو منبرک د اوخ مهار او نیوو او روان شو او اوخ هم ورپسے روان شو د هغه بے وقوفی معلومه کړه مخ له ډیرے اوبه راغلے

○ موش آنجا ایستا دو خشک گشت ۔ گفت اشتر اے رفیق کو دوشت

ت: منبرک دغه خائے کینے اودریدو او یخ شو، اوخ اووے اے ملګریه دغرہ او دسم۔

○ ایں توقف چیست و حیرانی چرا ۔ پا نبه مردانه اندر جو در آ

ت: دا اودریدلے اوله ئے او حیرانه اوله ئے، خپے کیده د سړو پشان او وله ته کوز شه ۔

○ گفت توبه کردم از بهر خدا ۔ بگذراں زیں آب مہلک مرمرا

ت: منبرک اووے چه حما توبه ده د ریږی نه، ما د دے اوبو نه پوره باسه

○ تو رعیت باش چوں سلطاں نۂ خود مراں چو مرد کشتیباں نۂ

ت: اوخ اووے هغهٔ ته، ته حما رعیت شته چه بادشاه نه ئے، مه چلوونکے چه کشتۍ بان نه ئے ۔ یعنی تکبر د مشرۍ مه کوه او تابع شه ۔

فائده: د دے قصے نه معلومه شوه چه تکبر غلط شے دے او د شرم سبب دے ۔ مَن تواضع لِلّٰهِ رَفعهُ اللّٰهُ (حدیث) څوک چه تواضع کوی د الله د پاره نو الله ورله مرتبه ورکوی ۔ مَن تکبّر وضعهُ اللّٰهُ ۔ څوک چه تکبر کی خپله لره باری تعالیٰ ذلیل کوی، یا مولیٰ مونږه د تکبر نه اوساته

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه د قتل د بچي د هاتھی او د هغے انجام

په سفر کښے مشکر ی اوکی شو نو د هاتھی بچے هغوی اولیدو۔ د هغه د بنکار ارادہ اوکړہ ۔ یو عاقل ورته اووے چه د دے بنکار نه کاں۔ بچ کړئ هاتھی چه راشی نو تاسو به مړه کړی نو د دو نو پانړے اوخوړئ که زندگی ستاسو خوخه وی اوددے بنکار نه بچ شئ۔ هغوی دلوړے د شدّت نه د هغے عاقل خبره او نه منله او بچي ئے کباب کړه، او اُوده شو، او عاقل سړے اُوښے یو طرفته اُوده شو، د دَو نو پهپانړو هغه کذاره اوکړه، هاتھی راغے او په بوئے سره ئے د غه بنکار کونکی معلوم کړل او مړه ئے کړل، د هغوی د خولو نه د بچي د غوښو بوئے هاتھی معلوم کړو او عاقل ئے پر یخودو۔

○ تو همی خسپی و بوئے آں حرام ۔ میزند بر آسمان سبز فام

ت: ته هم د غسے اُوده کیږے او بُوئے د حرام موخیجی آسمان شین ته۔

○ بوئے کبر و بوئے حرص و بوئے آز ۔ در سخن گفتن بیاید چوں پیاز

ت: بوئے د تکبر او بُوئے د حرص او بوئے د طمع په خبرو کښے معلومیږی پشان د پیاز۔

فائدہ: داد قصے مقصد دے۔ اے مولیٰ! مونږ د نارواؤ نه بچ کړے آمین ثم آمین

یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

○ گرنداری تودم خوش در دُعا ۔ رو دُعا مینخواه زا خوان صفا

ت: که ته نه لرے خبرے پښے په دعا کښے ، نو دعا او غواړه د رونړو د صفا نه
ش: یعنی که خپله دعا ښه نه لرے نو د نورو نیکانو نه دعا وغواړه چه ته
دعا وکړه موسیٰ علیه السلام ته وحیٔ راغله چه ما نه په داسے خولے
دعا غواړه چه هغے خطا نه وی کړے ۔

○ گفت موسیٰ امن ندارم آں دہاں ۔ گفت مارا از دہاں عیب خواں

ت: اووے موسیٰ علیه السلام چه حماسره داسے خُله نیشته ، اووے باری ته
چه ما له د دبل چا په خله اوبله

○ از دہان خویشتن را پاک کن ۔ روح خود را چابک و چالاک کن

ت: د خلے د غیرنه تاکله کناه کړیدے ، نو د غیر د خلے نه ما وُبله چه اے اِلٰه
اَسْرَعُ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ اِجَابَةً دَعْوَةُ الْاَخِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ ۔ حدیث ، زر قبلیدونکے
دعا د رُور غائب د ه (مشکوٰة ص۱۹۶) ۔ پدے دعا کښے اخلاص وی ۔ پدیکښے تنبیه د ه
موسیٰ علیه السلام ته چه د اُمت د پاره دعا کوه نیز هر داعی ته هدایت د ے ۔ اودا
حیله محمود ه ده د قبول د دعا د پاره ۔ کله چه انسان دبل د پاره دعا غواړی
نو ملائک آمین وائی چه د دے په مثل د تالره هم باری تعالیٰ درکړی ۔

باری تعالیٰ دے مونږ لره اِخلاص راکړی
آمین ۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## چه حمونږه الله ویل دا لبیک دباری تعالیٰ دے

○ آں یکے اللہ می گفتے شبے۔ تا کہ شیریں گردواز ذکرش لبے

ت: هغهٔ سړی الله یادوو یوه شپه چه خونږه شی دذکر نه خله دده نو شیطان ورته اووے چه چپ شه تانه خو دباری تعالیٰ د طرفه لبیک نه راځی نو صوفی چپ شو او اُوده شو نو په خوب کښے ورته چا اووے چه ولے چپ شوے نو ده اُووے چه حما ذکر ندے قبول ځکه چه ماته هیڅ جواب نه راځی۔

○ گفت آں اللہ تو لبیک ماست۔ وآں نیاز وسوز و درد ت پیک ماست

ت: اووے (دباری تعالیٰ د طرفه) چه د غه الله ویل لبیک حمادغے اودغه عاجزی اوسوز او درد ستا قاصد حمادے۔

یعنی انسان ارادہ وکړی نو باری تعالیٰ ورله توفیق ورکړی نو دے الله اووائی۔

○ جان جاہل زبن دعا جزو ورنیست۔ زانکہ یارب گفتنش دستور نیست

ت: روح دجاهل ددے عاجزی نه لرے دے ځکه چه یا رب ویل دده دستور ندے

فائدہ: دا لوئے بشارت دے ذاکر ته، ځکه کله چه دے الله وائی نو مخکښے ددہ مقبولیت وشی روسته دے الله وائی، یا مولیٰ مونږه دخپل ذکر دپاره واخله، ذکر دا چه ده ته خپل مولیٰ یادشی چه صرف او صرف هرڅه کوتکے باری تعالیٰ دے مخلوق عاجز دے یا الله مونږه ذاکرین کړه۔ آمین ثم آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## قصه د محبت د مجنون سپي دکوځي دیلی سره۔

یوځل مجنون د لیلیٰ دکلی سپي سره محبت کوو نو چا ورته اووے اے پاکل دا څه کوے

○ گفت مجنون تو ہمہ نقشی وتن ۔ اندرآ بنگر تو از چشمان من

ت: مجنون ورته اووے ته خو قول حرف نقش اوتن ئے راشه نظر اوکړه حما په سترګو۔ یعنی ته عاشق نه ئے راشه دے سپي ته د عاشق په نظر وګوره۔

○ کایں طلسم لبتہ مولیست ایں ۔ پاسبان کوچہ لیلیست ایں

ت: دا سپے خو حما مولیٰ پیدا کړیدے اوبل د لیلیٰ دکوٹے څوکیدار دے یعنی حما د محبت دوه سره دوه سببه دی یودے مخلوق دالله دے اوبل څوکیدار د لیلیٰ دے

○ آں سگے کو گشت در کویش مقیم ۔ خاکپایش بہ ز شیران عظیم

ت: هغه سپے چه په کوڅه د لیلیٰ کښے مقیم دے د هغه د خپو خاورے غوره دی د لوئے منزدی نه۔

د فائده د قصے دا ده یعنی یو کس د باری تعالیٰ د دین خادم دے اگرچه عملئے هم نیک نه دے اورنګ ئے هم خه نه دے اوخوئے ئے هم خه نه دے خو د باری تعالیٰ د دین د خدمت دوے نه د غټو غټو خلقو نه بهتر دے ، هغه غټ خلق چه د دین خدمت نه کوی نو هغوئی له د امامانو او مؤذنانو او داعیانو او حاجیانو او د عربو خه خیال پکار دے۔ یا مولیٰ مونږ ته باآدب کړے۔ آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصه
## د لیلیٰ او خلیفه د بغداد

○ گفت لیلیٰ را خلیفه کاں توئی ۔ کز تو مجنون شد پریشان و غوی

ت: اُووے لیلیٰ ته خلیفه چه هغه تاسئ چه ستا نه مجنون پریشان او پاگل شو۔

○ از دگر خوباں تو افزوں نیستی ۔ گفت خامش چوں تو مجنوں نیستی

ت: د نورو معشوقونه ته خو زیاته نه ئے، هغے ورته اُووے چپ شه ته خو مجنون نه ئے۔

○ دیدهٔ مجنون اگر بودے ترا ۔ ہر دو عالم بے خطر بودے تر

ت: ستر کے د مجنون که تا لره وے نو دواړو جهانونو خیال به تاسره نه وے

○ با خودی نو لیک مجنوں بیخودست ۔ در طریق عشق بیداری بدست

ت په خود ئے ته لیکن مجنون بے خوده دے، او په لار ے د عشق کښے بیداری ناکاره دے۔ فائده:۔ معلومه شوه چه د مولیٰ سره محبت دا کامیابی ده۔ د ے د مقصد نه ے چه د خیلو بچو او بی بی سره به محبت او پرورش نه کوے بلکه مقصد دا ے چه کوے نو مخکښے د اخلاص ارادہ وکړه چه د دوی پرورش حُکمه کوم چه حماد خالق مخلوق دے۔ په ډیر شکل د دین د تولو څخه اهمه سره محبت پکار دے۔ د اهغه خوښ کوی چه د دین طلبگار وی۔

یا مولیٰ همونږ ته د دین د خدام سره محبت نصیب کړے
آمین یا رب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قصه
## د مجنون اَو نوم د لیلیٰ د لیکلو

گفت اے مجنون شیدا چیست ایں۔ می نویسی نامہ بہر کیست ایں

ت: یوسړی اُووے اے مجنون پاکلہ داڅه لیکے داخط دچا په نوم دے

گفت مشق نام لیلےٰ میکنم ۔ خاطر خود را تسلی میدہم

ت: هغهٔ اووے چه مشق دنوم د لیلیٰ کوم اوزړه خپل لره تسلی ورکوم

عشق مولیٰ کے کم از لیلےٰ بود۔ گوئے گشتن بہر او اولیٰ بود

ت: عشق دباری تعالیٰ چرته کم دے د لیلیٰ نه ، په دوسو کیده دباری الله خه دی۔ یعنی دباری تعالیٰ حکم منل او په تقدیر رضا کیدل غوره خبره ده۔ دا دقصے مقصد دے یعنی دباری تعالیٰ عشق د مخلوق نه زیات پکار دے ، انسان که خائسته وی نو د احسن باری تعالیٰ پیدا کړیدے او که مالدار وی نو ددے هم خالق باری تعالیٰ دے۔ او عزت مندوی نو عزت تول باری تعالیٰ سره دے ، نو عشق او تعلق صرف دباری تعالیٰ پکار دے۔ د هغهٔ طمعه جنت دے او د غیر نه طمعه دوزخ دے ۔

اے مولیٰ مونږه د غیر الله د طمعے نه

محفوظ کړه

آمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



یا رحمٰن — قصه د توحید د موسیٰ علیه السلام — یا رحیم

باری تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته اووے چه ما تا لره غوره کړیده موسیٰ علیه السلام اووے چه ولے؛

○ گفت چو طفلی به پیش والده ۔ وقت فهرش دست هم بروے زده

ت: باری تعالیٰ اوفرمائیل چه ته پشان د بچی ئے په څه د مور کښے چه هغے دغه بچے په قهر وهلے وی - یعنی ته ځما نه نه جدا کیږے اګر چه څه قهر وکړی پتا

○ مادرش گر سیلیے بروے زند ۔ هم بما در آید و بروے تبسم

ت: مور که څپیړے په هغه اووهی، نو دے بیا هم د مور څنګ ته ځی ۔

○ از کسے یاری نخواهد غیر او ۔ اوست جمله شر او و خیر او

ت: د هیڅ چا نه مدد ته غواړی بے د مور نه دا مور دده د شر او د خیر دده ده ۔

○ خاطر تو هم ز ما در خیر و شر ۔ التفاتش نیست جاهاے دگر

ت: زړه ستا هم التفات نه لری په خیر او شر کښے بے زما نه بل چا ته ۔

○ غیر من پشت چو سنگست و کلوخ ۔ گر صبی و گر جوان و گر شیوخ

ت: غیر ځما نه په څه ستا کښے پشان د کتو او د لوتو دی، که وارځ دی او که خوانان

فائده: تعلق بالله د دواړو جهانونو د کامیابئ سبب دے ۔ الله تعالیٰ د حمو نږ ه نصیب کړی

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


## قصه د دعوة د سلیمان علیه السلام بلقیس ته

○ خیز بلقیسا بیاؤ ملک بیں  برلب دریائے یزداں درچیں

ت: پاخهٔ اے بلقیس راشه او ملک د الله تعالیٰ اُووینه او په غاړه د دریاب دباری تعالیٰ ملغلرے تولے کړه۔

○ خواہرانت ساکن چرخ سنی ۔ تو بمرداری چه سلطانی کنی

ت: خوبیندے ستا رچه مسلمانانے شویدی) اُوسی په دنګ آسمان کښے، ته په مردارکه دنیا کښے ئے، نو دا څه بادشاہی ده۔

ش: یعنی ستا خوبیندو ته په اسلام سره لویهٔ مرتبه حاصله شوکه اوته په مردارکه دنیا کښے ئے نو دا څه بادشاهی ده۔

○ خیز بلقیسا بیا دولت نگر ۔ جاوداں از دولت ملبر بخور

ت: پاخه اے بلقیس دا دولت (اسلام) اُووینه ہمیشه د دولت حمانه فائده حاصل کړه۔ یعنی په اسلام کښے د دواړو جهانو فائده ده۔

فائده: دنیا بے د دین نه مردارکه ده او سره د دین نه کامیابی ده۔

باری تعالیٰ دِ موږ لره دواړه جهانه راکړی۔ امین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام






موسیٰ علیہ السلام فرعون ته اُووے چه مسلمان شه نو تالره به الله تعم انعاموته درکړی (۱) تندرستی ۔ ۲: دنیا بادشاهی ۔ ۳: د اخرة بادشاهی ۴: ځوانی ، ۵: د مړی خواښی نوده اُووے چه حه د اهلیئے سره مشوره کوم ، هغے ورته اُووے :

○ الله الله زود لفروش و بخر ۔ قطرهٔ دُجر پر گوهر ببر

ت : د الله دپاره ندخپل کفر خرڅ کړه او ایمان پے واخله ، خاخکے ورکړه او دریاب د ملغلرو واخله ۔

نو هامان ورته اُووے چه ته بنو خدائے ئے نو حه د انشم برداشت کړے چه حما خدائے به دبل چا عبد او غلام شی ، نو ما مخکښ مړ کړه چه ستا د توهین اونه وینم ۔ دے موسیٰ ؑ خو مړه ستا توهین وکړو دے توهین نه بنو اُور بهتر دے ۔ نو فرعون د هامان دوجے نه د دغه کامیابئ نه محرومه شو ۔

○ این تکبر زهر قاتل دان کے اهست ۔ از مے پرزهر آں گشت کبیج و مست

ت : دا تکبر زهر قاتل او کنړه چه د شرابو نه چه زهر پکښے دی د غه هامان پاسل شو ۔

فائده : د تکبر انجام خسران دے او د تواضع انجام کامیابی ده ۔

باری تعالیٰ دِ مونږ ته کامیاب کړی

آمین

یارب العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قصه د مجنون او د ناڅې د هغه

مجنون په اُوښه سور وُو د لیلیٰ طرف ته روان وُو۔ نو د عشق د وجې نه بے خوده شو نو ملګرو ئے دلاس نه اوختو نو اُوښه کور ته واپس شوه د بې د وجې نه ، مجنون چه په خود شو نو بیا ئے اُوښه واپس روانه کړه ۔ نو بیا د غسے معامله اُوشوه په دریم حل مجنون د اوښې نه توپ کړو چه پیاده حَم نو د هغه پښې ماته شوه نو هغه ئے اوترله او په ډډه روان شو۔

○ پائے را بر لبت گفتا گوشوم ۔ ور خم چوگانش غلطاں می روم

ت: خپه ئے اوترله او هغه اُووے چه حُه په دُوسویم او په لاتې د عشق د لیلیٰ په اَوُختوسره حَم۔

○ عشق مولیٰ کے کم از لیلی بُوَد ۔ گوئے گشتن بہر او اولیٰ بُوَد

ت: عشق د باری تعالیٰ چرته کم دے د عشق د لیلیٰ نه په دُوسو کښې د الله تعالیٰ د پاره مناسب دے۔

ش: دا د قصے مقصد دے یعنی د مخلوق عشق نه مناسب پکار عشق د هغه لوئے بادشاه دے چه د لوئے طاقت او د لوئے علم والا دے او د ډیر حسن والا دے۔ یا مولیٰ مونږه خپل طرف ته واپس کړه ۔

آمین یا ربّ العٰلمین۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قصه د هغه سړی چه هغه دورځ
ډیوه بله کړے وه



یو سړی دورځ ډیوه بله کړ یوه او کرځیدو چا ورته اووے اے پاکلہ
دورځ ولے ډیوه بلوے هغهٔ اووے چه حکه سړی کورم ،نوده ورته
اووے چه دسړو نه شو بازار پک دے هغهٔ ورته اووے ۔

○ ایں نہ مردانند ایں ہا صورت اند ۔ مردۂ نانند وکشتہ شہوتند

ت : دا سړی ندی دا صرف صورتونه دی دا مړه د ډوډو او دشهوت دی ۔

○ ایں کرمی بینی خلاف ادم اند نیستند ادم خلاف ادم اند

ت : دا چه وینے دوی خلاف دانسان نهدی ،دوی سړی ندی صرف شکلے
دسړو دے ۔

○ ادمی را ادمیت لازم ست ۔ عود را گر بو نبا شد ہیزم ست

ت: سړی سره سړی توب لازم دے عُودلره که خوشبوئی نه وی نو هغهٔ لرګے
دے ۔

○ ادمیت لحم وشحم وپوست نیست ۔ ادمیت جز رضائے دوست نیست

ت: سړی توب صرف غوښتے او آوان او پوستکے ندے ، سړی توب صرف رضا
دباری تعالیٰ دے ۔

○ گر بصورت ادمی انساں بدے ۔ احمدؐ و بوجہل ہم یکساں شدے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


ن: صرف په ظاهر که سړے انسان کیدے شوے نو احمدؐ او
ابوجهل به یوشان وے۔
داسے نبوُ نده۔ نو اے مولیٰ حمونږ ه سیرت د انسان کړه
تحکمه چه تا حمونږ ه شکل د انسان
کړے دے امین
یارب العلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## قصہ د هغہ غلام چہ د مسجد نہ راوَ تو د مولیٰ پہ بلنہ

سنقر نوم غلام جماعت تہ لاړو، څہ ساعت بعد مولیٰ ورتہ آواز اوکړو۔

رفت سنقر میر بر دکاں نشست ۔ منتظر از بادۂ پندار مست

ت : لاړو سنقر او مولیٰ د هغہ پہ دکان کښے ناست وَو پہ انتظار کښے د شرابو د تکبر نہ هغہ مست وَو۔

چوں امام و قوم بیروں آمدند ۔ از نماز و وردہا فارغ شدند

ت : هرکلہ چہ امام او قوم بہر راغلہ د مانځہ نہ او د درود نہ فارغ شو مولیٰ ورتہ آواز اوکړو چہ وَلے بہر تہ نہ راځے چہ حصار شوے ۔

گفت آنکہ بستہ استت از بروں ۔ بستہ است او ہم مرا از اندروں

ت : هغۂ اُووے هغۂ ذات چہ تالرہ هغۂ بند کړیدے بہر د مسجد نہ نو هغہ مالرہ پہ مسجد کښے بند کړیدے ۔

ماہیاں را بحر نگذارد بروں ۔ خاکیاں را بحر نگذارد دروں

ت: هغو لرہ دریاب بہر نہ پریدی او خاکیانو لرہ دریاب دننہ نہ پریدی۔

فائدہ: پہ چا کښے چہ اِثابت وی نو باری تعالیٰ هغوی لرہ د نیکئ توفیق ورکوی او پہ چا کښے چہ اثابت نہ وی نو هغوئ لرہ باری تعالیٰ د نیکئ توفیق نہ ورکوی ۔ یا مولیٰ مونږہ د نیکئ نہ مہ محرومہ کوہ۔ آمین

یا رَبَّ العٰلمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


## قصہ چہ عیسیٰ علیہ السلام د احمق نہ تختیدو

یو خل عیسیٰ علیہ السلام تختید و چا ورتہ اووے چہ چرتہ ځے۔

○ گفت از احمق گریزانم برو ۔ می رہانم خویش را بندم مشو

ت: ھغہ اووے چہ د احمق نہ زغلم خپل ځان ترنہ بچ کوم تہ ځما فکر

○ گفت آخر آں مسیحانہ توئی ۔ کہ شود کور و کر از تو مستوی

ت: ھغہ اووے تہ خو آخر مسیح ئے چہ روند او کو نرستا پہ دعا سرہ جو رپنی۔ تو دا احمق یہ ھم جوړ شی دده علاج او کړہ۔

○ گفت رنج احمقی قہر خداست ۔ رنج کوری نیست قہر آں ابتلاست

ت: ھغہ اووے چہ رنج د احمقئ د اللہ پاک قہر دے او رنج د روندوالی قہر ندے بلکہ امتحان دے۔

○ ز احمقاں بگریز چوں عیسیٰ گریخت ۔ صحبت احمق بسے خونہا بریخت

ت: دا احمقانو نہ لرے شہ لکہ عیسیٰؑ، صحبت د احمقانو ډیر قتلونہ او کړل

فائدہ: د دا قصے مقصد دے احمق بے دینہ تہ وائی چہ ځان عاقل کنړی، دے قابل اصلاح نہ وی نو دده نہ لرے کیدل مناسب دی

یا مولیٰ مونږ ہ د احمقئ نہ اوساتے۔ آمین یا ربّ العٰلمین۔

ویا ارحم الرّاحمین

MAKTABA TUL ISHAAT.COM مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## قصه

## ددو میاشتو د بچی چه دنبی ﷺ په حضور کښه خبرے کړے وے

یو کافر ے نبی ﷺ ددوو میاشتو بچے دنبی علیه السلام څخه تکه راوستو امتحان دپاره نو هغه هلک اووے

○ گفت کودک سلم الله علیک . یارسول الله قد جئنا الیک

ت: اووے هغه هلک چه سلام د الله پاک دِ وی پتا یارسول الله مونږه ستا حضور ته راغلو.

○ ماورش از خشم گفتش هس خموش ـ کیت افگند ایں شهادت را بگوش

ت: مور ورته اووے د قهرۂ چه چپ شه چا تاته په غوږ کښے دا شهادة اووے

○ گفت کو گفتا کر بالائے سرت . می نه بینی کُن ببالا منظرت

ت: هغه اووے چه هغے ذات وَیلیدی چه دپاسه د سَر ستانه دے ته خو پورته نظر وکړه ـ

○ ایستاده بر سر تو جبرئیل . مر مرا گشته بصد گونه دلیل

ت: ولاړ دے په سر ستا جبرائیلؑ، حُما دپاره مَسّل دلیله سره حَیدلی دی ـ په (اسلام)

○ گفت می بینی تو گفتا که بلے . بر سرت تابان چو بدر کامِلے

ت: هغه اووے ته و یے زر اُووایه چه آو، په سر ستا حُلیدو نکے ملک دے پشان دیدر کامل ـ

